د افغانستان اسلامي امارت
د لـــوړو زده کـــړو وزارت
د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیاتو پوهنځی
د فقه او قانون ماسټرۍ پروګرام

# کتاب الجوهرة النيرة (کتاب الطهارة تر باب التيمم پورې پښتو ژباړه، تحقيق او تخريج)

(د ماسټرۍ درجې څېړنیز بحث)

څېړونکی: حمد الله (رحیمي)

لارښود استاد: دکتورمصباح الله (عبدالباقي)

کال: 1401 هـ. ش. 1444. هـ. ق

د افغانستان اسلامي امارت
د لـــــوړو زده کـــــړو وزارت
د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیاتو پوهنځی
د فقه او قانون ماسټرۍ پروګرام

# کتاب الجوهرة النیرة (کتاب الطهارة تر باب التیمم پورې پښتو ژباړه، تحقیق او تخریج)

(د ماسټرۍ درجې څېړنیز بحث)

څېړونکی: حمد الله (رحیمي)
لارښود استاذ: دکتورمصباح الله (عبدالباقي)

کال: ۱۴۰۲ هـ. ش. ۱٤٤٤. هـ. ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

علمي معاونيت

د فوق ليسانس برنامو آمريت

د شرعيات اوقانون پوهنځی

د فقهي او قانون ماستری برنامه

---

# تـــصديق پـــانـــه

ښاغلی ( حمدالله ) د ( رحيم الله ) زوی د ID: SH-MSF-S1401- 926 نمبر لرونکی، د فقهي او قانون د ( لسمی ) دوري محصل، خپله د ماستری مرحلی رساله چې عنوان يې دی:

(کتاب الجوهرة النيرة کتاب الطهارة تر باب التيم پوری پښتو ژباړه، تحقيق او تخريج)

په ۲۶ / ۱۲ /۱۴۰۴ هـ ل نېټه برياليتوب سره دفاع کړه او د حـــکم پلاوي د ارزوني پر بنسټ د ۹۲ (نمرو په عدد) دوه نوي (نمرو په حروفو) وړ وګرځېد، له الله تعالی څخه ورته د لازياتي بريا غوښتونکي يو.

د حکم پلاوي غړي :

| لاسليک | مسئوليت | داستاذ نوم | شماره |
|---|---|---|---|
| [signature] | د حکم پلاوي غړی | استاد وزير محمد سعيدی | ۱ |
| [signature] | د حکم پلاوي غړی | سر محقق سيد حبيب شاکر | ۲ |
| [signature] | لارښود او د حکم پلاوي مشر | دکتور مصباح الله عبدالباقی | ۳ |

د فوق ليسانس برنامو آمر.................... علمي مرستيال ....................

## ډالۍ

خپله دغه هڅه:

- هغه مجاهد ولس ته چې د تاریخ په اوږدو کې یې د کفارو نظامي، فکري، او استعماري دسیسې او توطئې په خپل ایماني غیرت او همت سره شنډې کړي دي او هغوی ته یې تل غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی دی.
- خپلې ګرانې مور جانې، مرحوم پلار،مشر ورور، دکورنۍ غړو، او ټولو هغو دوستانو او ملګرو ته چې زما په فکري او علمي روزنه کې یې نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کړي دي.
- ټولو هغو محترمو استاذانو ته چې په بېلا بېلو تحصیلي دورو کې یې له ما سره هر اړخیزه مرسته کړې ده او په ټول توان یې زما په روزلو کې هر اړخیزې هلې ځلې کړې دي.
- ټولو هغو مؤمنانو ته چې د الهی احکامو او نبوی (ﷺ) هدایاتو او د هغه د ژوند د عدالت بیلګې مطابق خپل ژوند ته دوام ورکوي.

په ډېره مینه او اخلاص ډالۍ کوم.

حمدالله رحیمي

## مننليك

لومړی د الله جل جلاله حمد او شکر اداء کوم چې مونږ ته یې د دې با ارزښته موضوع د څیړنې توفیق راکړ.

په دوهم قدم کې د سلام پوهنتون د محترمې رهبری، ټولو مهربانه استادانو او کار کوونکو څخه مننه کوم چې شپه او ورځ یې د هېواد د زامنو د روزنې او پالنې په موخه خپلو مادي او معنوي هڅو ته دوام ورکړی، په ځانګړې توګه زمونږ ګران استاذ ډاکټر صاحب مصباح الله عبدالباقي چې په ډېر ورین تندي یې زما د څیړنې اشراف او لارښوونه منلې ده، او له خپلو با ارزښته علمي او منهجي لارښونو او ارشاداتو څخه یې برخمن کړی یم.

د خپلو ملګرو، ټولګیوالو، همزولو او همغږو نه مننه کوم چې د دوی ترڅنګ مې ډېر څه زده کړي، دوی ته ښه ژوند غواړم .

په آخر کې له خپلې محترمې کورنۍ څخه د زړه له کومې مننداوی یم چې په پوره اخلاص او صداقت سره یې همیشه زما مادي او معنوي ملاتړ کړی الله تعالی دې د دوی په علم، نېك عمل او عمرونو کې برکت واچوي او د دین، هیواد، او هیوادوالو لپاره دې الله جل جلاله د خدمت مصدر وګرځوي.

یوازې په الفاظو سره زه د استاذانو او مشرانو حق نشم اداء کولی؛ بلکې د ټولو هڅو، مرستو دنیوي او اخروي بدله یې د الله جل جلاله له درباره څخه ورته غوښتونکی یم.

حمدالله (رحیمي)

## لنډیز

کتاب الطهارة د فقهي علومو له مهمو او بنسټیزو ابوابو څخه دی، ځکه د عباداتو د صحت اساس پرې ولاړ دی. په «الجوهرة النيرة» کې له کتاب الطهارة څخه تر باب التیمم پورې د طهارت ټول هغه احکام بیان شوي دي چې یو مسلمان یې د ورځني ژوند او عباداتو په ترسره کولو کې اړتیا لري.

د الجوهرة النيرة د کتاب الطهارة له پیله تر باب التیمم پورې دا څېړنه د طهارت احکام په ژور، منظم او ډول بیانوي. په دې اثر کې یوازې د حنفي مذهب مسائل نه دي څېړل شوي، بلکې د څلورو مذاهبو د امامانو؛ لکه د امام شافعي، امام مالک او امام احمد بن حنبل رحمهم الله د مذاهبو اقوال هم له دلایلو سره راټول شوي، څو د اختلاف او اتفاق موارد په علمي اسلوب روښانه شي.

په دې لیکنه کې د اوداسه فرضونه، سنتونه او نواقض، د غسل ډولونه او موجبات، د اوبو اقسام او د هغوی د طهارت احکام، او همدارنګه د څاګانو د پاکولو مسائل په منظم ترتیب بیان شوي دي. هره مسئله د قرآن کریم د آیتونو او د نبوي احادیثو په رڼا کې څېړل شوې، د احادیثو د سند او دلالت بحث پکې شوی، او د فقهاوو د استنباط طریقه په روښانه ډول څرګنده شوې ده.

د دې څېړنې په ترڅ کې د هغو مؤلفینو او تصـــنیفاتو څخه چې په الجوهرة النيرة کتاب کې د کتاب الطهارت څخه تر باب التیمم پورې یې په متن کې نوم ذکر شوي وي په لمنلیک کې یې بشپړ معرفت یې ذکر شوی.

همدارنګه هغه فقهي قواعد چې په متن کې ورته اشاره شوې په لمنلیک کې یې تخریج شوی ده څو لمنلیک هم علمي ژورتیا ولري او هم د لوستونکي لپاره روښانه وي.

په ټوله کې، دا څېړنه د طهارت باب په فقهي، حدیثي او قاعدوي چوکاټ کې په جامع او منظم ډول وړاندې کوي، چې د لوړو زده کړو د علمي معیارونو سره سم مستند، تحقیقي او ژور علمي کار بلل کېدای شي

## د عنوانونو فهرست

د تحقيق عمومي مطالب ........................................................................ و

د مسئلی بيان ........................................................................ و

د احاديثو د ژباړې او تخريج اړتيا او اهميت: ........................................................................ و

د تحقيق ضرورت او لرغونتوب: ........................................................................ ز

سريزه ........................................................................ ۱

د څېړنې اهميت ........................................................................ ۱

د څېړنې د انتخاب لاملونه ........................................................................ ۳

د څېړنې پوښتنې ........................................................................ ٤

اصلي څېړنيزه پوښتنه: ........................................................................ ٤

فرعي څېړنيزې پوښتنې: ........................................................................ ٤

د څيړنې کړنلاره او طريقه: ........................................................................ ٤

د څيړنی اهداف: ........................................................................ ٥

د څېړنې ستونزه ........................................................................ ٥

د څيړنې خطه: ........................................................................ ٦

د طهارت کتاب ........................................................................ ۷

د طهارت فرضونه(د اوداسه فرضونه) ........................................................................ ۱٦

د طهارت سنتونه(د اوداسه سنتونه) ........................................................................ ۲٤

دطهارت مستحبات(د اوداسه مستحبات) ........................................................................ ۳٥

د اوداسه ماتوونکي شيان ........................................................................ ٤۱

د غسل فرضونه ........................................................................ ٥٤

د غسل ډولونه ................................................................................................. ۵۵
د غسل سنتونه ............................................................................................... ۵۶
هغه شیان چې غسل واجبوي ......................................................................... ۶۱
سنت غسلونه: ................................................................................................ ۶۷
هغه اوبه چې په هغو سره پاکوالی (طهارت) حاصلیږي ................................. ۶۸
د ځاه ګانو پاکول کله چې په کې نجاست ولویږي ....................................... ۹۴
د سؤر (د پاتې شونو خوړو او اوبو) حکمونه ............................................... ۱۰۵
پایله ....................................................................................................... ۱۱۵
وړاندیزونه ................................................................................................ ۱۱۶
د آیاتونو فهرست ........................................................................................ ۱۱۷
د احادیثو فهرست ........................................................................................ ۱۱۸
د أعلامو فهرست......................................................................................... ۱۲۰
مصادر او مراجع .......................................................................................... ۱۲۲
Abstract .................................................................................................... ۱۳۳

## د تحقیق عمومې مطالب

### د مسئلی بیان:

هغه موضــوع چې زما د لیکنې اســاسي محور تشــکیلوي،ژ باړه،تحقیق او تخریج د الجوهرة النيرة د کتاب د طهارة(پاکوالي)برخه تر باب التیمم پورې ده،او دې ته په پام سره چې په دې کې د احادیثو د ژباړې او تفسير مسأله هم ده او دا هم په پام کې نیول شــوې ده چې ددې کتاب مســائل د احادیثو ژباړه او تفســیر ته بیا کتنه شــوې چې څېرنه کې د الجوهرة النيرة د کتاب د متن ژباړه هم شــامله ده،د فقهې د اصــطلاحاتو تفســیر چې په شریعت کې د هغوی لغوي او محاوروي معنا بیانوي او تخریج د هغو احادیثو او آثارو چې د الجوهرة النيرة په کتاب کې ورڅخه د دلیل او مبنی مسـأله په حیث ورڅخه اسـتفاده شـوې ده چې نوموړی حدیث باید له هغه ځای څخه چې تخریج شوی معلوم شي او صحت او عدم صحت یې هم معلوم شي او همدا ډول قواعد او ضوابط د فقهې هم باید تخریج شي.

### د احادیثو د ژباړې او تخریج اړتیا او اهمیت:

هر مســئله په خپل ذات کې بدون له فایدې څخه نه وي،د الجوهرة النيرة کتاب چې د قدوري شرحه ده او په عربي باندې لیکل شوې ده او د افغانستان اکثره خلک په عربي ژبې باندې په سمه توګه نه پوهیږي،نو ما هم بهتره وګڼله چې د الجوهرة النيرة کتاب چې د ســلام پوهنتون لخوا د پروژې په شــکل ژباړه او تخریج د احادیثو یې په پام کې نیول شوی و،زه هم خپله حصه په کې واخلم او پښتو ژبې ته یې ژباړه او تخریج د احادیثو چې د کتاب الطهارة(البته تر باب التیمم) پورې وکړم،ځکه کتاب الطهارة داســې برخه چې په عباداتو پورې اړونده ده او موږ او تاســې په ځلرویشتو ساعتونو کې باید پاکوالی مراعت کړو؛ځکه پاکوالی د ایمان یوه برخه ده او هم کتاب الطهارة په دا سې احکامو باندې مشتمله ده چې الله تعالی ورباندې امر کړی ده،نو ددې ژباړې او تخریج په وا سطه کولای شو چې په نوموړو مســائلو باندې د حنفي فقهې او همدارنګه د نورو فقهي مذاهبو باندې په ســم ډول ځان پوه کړو او په خپل ژوند کې یې عملي کړو ترڅو مو چې دا سبب د کامیابي د دنیا او آخرت وګرځي.

**د تحقیق ضرورت او لرغونتوب:**

له ډیرې څیړنې څخه وروسته دا معلومیږي چې د الجوهرة النیرة کتاب زموږ په ګران هیواد افغانستان کې چا پښتو ژبې ته نه ده ژباړلې،سره له دې چې په عربي ژبه کې ځینې شروحات وربانديې شوي، لکن زموږ اکثریت خلک په عربي ژبه باندې په سمه توګه نه پوهیږي او نشې کولای چې ورڅخه ا ستفاده وکړي نو ما هم بهتره وګڼله چې په دغه ښه کار کې زه هم سهیم شم تر څو د الجوهرة النیرة د کتاب ژباړه،تحقیق او تخریج یې پښتو ژبې ته وشي.

## سريزه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، القائل في كتابه المبين:﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾[1]

وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، شهادةً تُنجي قائلَها من العذاب الأليم، وأشهد أن سيدنا محمدًا عبدُه ورسولُه، سيدُ الدعاة، وخاتمُ النبيين، صلّى الله عليه وعلى آله وأصحابه، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

وبعد: اسلامي فقه د اسلامي شريعت يو منظم او هر اړخيز علمي نظام دی، چې د مکلف انسان د فردي او ټولنيز ژوند د تنظيم لپاره تشريع شوی دی. د دې نظام په بنسټيزو برخو کې عبادات ځانګړی مقام لري، او طهارت د عباداتو له اساسي مقدماتو څخه شمېرل کېږي، ځکه د لمانځه، طواف او نورو مهمو عباداتو صحت پرې متوقف دی. له همدې امله فقهاوو د طهارت باب د خپلو فقهي تصانيفو په سر کې راوړی او هغه يې د فقهي زده کړو بنسټ ګرځولی دی.

«الجوهرة النيرة» د حنفي فقهې له مهمو او معتبرو شرحو څخه ده، چې د فقهي متونو تشريح يې د اصولي پابندی، علمي اختصار او تحليلي دقت په رڼا کې کړې ده. په دې اثر کې د كتاب الطهارة څخه تر باب التيمم پورې د طهارت اړوند بنسټيزې مسئلې څېړل شوي دي، لکه د طهارت اقسام، د حدث او ناپاکۍ ترمنځ تفريق، د اوبو ډولونه او د هغوی فقهي اغېز، د اودس او غسل شرطونه، ارکان او نواقض، او هغه عذرونه چې د شريعت له مخې د تيمم مشروعيت ثابتوي. دا مباحث د حنفي مذهب د فقهي اصولو پر بنسټ منظم شوي او د عملي تطبيق وړ بڼه لري.

## د څېړنې اهميت

طهارت د ا سلامي شريعت له بنسټيزو اصولو څخه دی، چې د عباداتو د صحت لپاره بې بديله شرط ګڼل کېږي. د

[1]- سورة البقرة، آيت:٦.

فقهي علومو په چوکاټ کې د دې موضــوع دقيق تحليل د دې ســبب کېږي چې نه يوازې د عباداتو عملي تطبيق واضـح شي، بلکې د فقهي اصـولو، نصـوصـو او اسـتنباطي قواعدو ترمنځ ارتباط هم په علمي ډول مطالعه او درک شي. د طهارت په احکامو کې د اوداسه، غسل، او تيمم مسئلې د فقهي پېچلتيا او د شرعي توازن غوره بېلګه وړاندې کوي، ځکه په دې کې د نصوصو پابندي او د انساني حالاتو مراعات يوځای مطرح دي.

۱- فقهي ارزښت: د «الجوهرة النيرة» د کتاب الطهارة څخه تر باب التيمم پورې مباحث د حنفي مذهب د فقهي نظرياتو جامع بيان وړاندې کوي. د دې مطالعې له لارې د طهارت احکام، د اتفاق او اختلاف اصــول، د نصوصو ترجيح او د فقهي دليلونو د تطبيق علمي تحليل ممکن کېږي.

۲- عملي اهميت: د طهارت احکام د مسلمان د ورځني ژوند سره نېغ تړاو لري. د دې مسئلو نا سم فهم کولای شي د عباداتو د صـحت په برخه کې خلل رامنځته کړي. څېړنه د عملي لارښـودونو او فقهي تطبيق لپاره علمي بنسټ برابروي.

۱. اصــولي او منهجي اهميت: دا څېړنه د فقهي متونو د تحليل، ترتيب، او ترجيح په برخه کې يوه نمونه وړاندې کوي، چې د حنفي مذهب د منهجي ژورتيا، د اختلاف د مديريت، او د شريعت د اســانتيا اصــل څرګندوي. په ځانګړي ډول د تيمم مشــروعيت د دليلونو او اســتنباط د اصــولو له مخې علمي تحليل، د فقهي منطق او استدلال لپاره ارزښتناک مواد برابروي.

۳- علمي او تحقيقي اهميت: د دې څېړنې پايلې د اسلامي علومو په ځانګه کې د مطالعې او څېړنې د پرمختګ لپاره يو قوي اکاډميک بنســټ جوړوي، ځکه د نصــوصــو، اجماع، قياس او مصــلحتونو په رڼا کې د طهارت مسئلې تحليلي او تطبيقي مطالعه برابروي.

۴- په لنډ ډول، دا څېړنه د حنفي فقهي نظام د طهارت مباحثو د پوهې، عملي تطبيق، او اصـولي تحليل لپاره يو جامع علمي سرچينه ده، چې د معاصرو فقهي مطالعاتو، علمي تدريس، او د اســلامي فقهي څېړنو په پرمختګ

کې مهمه ونډه لري.

## د څېړنې د انتخاب لاملونه

د دې څېړنې د انتخاب اصلي لاملونه څو اړخیز او د فقهي مطالعاتو د علمي ارزښت له مخې ټاکل شوي دي:

۱- علمي خلا ډکول: د طهارت په باب شته علمي او فقهي مطالعې اکثره د عملي تطبیق یا د مختصر تشریح په کچه دي، په دا سې حال کې چې د «الجوهرة النيرة» د كتاب الطهارة څخه تر باب التيمم پورې مباحث تحلیلي او مستندي مطالعې ته اړتیا لري. د دې څېړنې له لارې د حنفي فقهې د اصولو او احکامو په اړه یوه مفصله علمي سرچینه وړاندې کېږي، چې په پوهنتوني سطحه د مطالعې، تدریس او څېړنو لپاره ارزښتناکه ده.

۲- عملي اړخ: د طهارت مسئلې د مسلمان د ورځني ژوند سره نېغ تړاو لري. د دې موضوع د ناسم فهم مخنیوی او د عباداتو د صحت تضمین د دې څېړنې عملي اهمیت څرګندوي. همدارنګه، د طهارت مسئلو په اړه علمي تحلیل کول د مذهبي فتوا ورکولو، د اسلامي ښوونې او د حقوقي بحثونو لپاره مهم بنسټ برابروي.

۳- منهجي او تحقیقي اړخ: د دې څېړنې له لارې د فقهي متونو تحلیل، ترتیب، او د دلایلو ترجیح په عملي بڼه مطالعه کېږي. د اوداسه، غسل، د ځاه ګانو د پاکوالي مسائیل او نورو په څېر مسائلو علمي څېړنه د حنفي مذهب د اصولي ژورتیا، د استنباط د منطق او د شریعت د اسانتیا اصل څرګندوي.

۴- معاصرو څېړنو سره همغږي: د دې څېړنې پایلې د معاصر فقهي مطالعاتو، اسلامي علومو تدریس، او علمي مقالو لپاره نوې علمي مواد برابروي، او د اسلامي فقهي څېړنو د پرمختګ لپاره یو مستند او معتبر بنسټ جوړوي.

په لنډ ډول، د دې څېړنې انتخاب د فقهي، عملي، علمي، او منهجي اړخونو پر اساس شوی، ترڅو د حنفي فقهي نظام د طهارت مباحث په مستند، تحلیلي او تطبیقي ډول وڅېړل شي او د علمي مطالعاتو لپاره یو جامع سرچینه برابره شي.

## د څېړنې پوښتنې

د دې څېړنې موخه د «الجوهرة النيرة» د کتاب الطهارة څخه تر باب التيمم پورې مباحثو تحليلي او تطبيقي مطالعه ده. د څېړنې د هدف د لاسته راوړلو لپاره لاندې اصلي او فرعي پوښتنې ټاکل شوې دي:

### اصلي څېړنيزه پوښتنه:

په الجوهرة النيرة کې طهارت څنګه انځور شوی دی؟

### فرعي څېړنيزې پوښتنې:

۱- د کتاب الطهارة څخه تر باب التيمم پورې کوم اصلي فقهي موضوعات شامل دي، او د حنفي مذهب په اړه يې څه ځانګړتياوې دي؟

۲- د وضوء، غسل او تيمم د احکامو ارکان، شرطونه، او نواقض په «الجوهرة النيرة» کې څنګه تشريح شوي دي؟

۳- طهارت په مسئلو کې د حنفي فقهاوو د اختلاف علتونه څه دي، او مؤلف يې څنګه تحليل او ترجيح کوي؟

۴- د «الجوهرة النيرة» تشريحات د عملي ژوند د مسلمان لپاره څومره قابل تطبيق دي، او کوم فقهي اصول په عملي ژوند کې د طهارت د احکامو د تطبيق لپاره لارښوونه کوي؟

۵- دا اثر د معاصر فقهي څېړنو، علمي مطالعو، او تدريس لپاره څه علمي او تطبيقي ارزښت لري؟

## د څېړنې کړنلاره او طريقه:

ددغې موضوع د څېړلو لپاره يو لړ خاص اقدامات لازم دي چې مونږ هم د همدغه اصل په پيروي سره دغه څېړنه ترسره کوو، چې په لاندې ډول يې واضح بيانوو:

۱- موضوع مو اختیار او بیا مو د موضوع لپاره مناسب عنوان غوره کړ او د موضوع تر شا او خوا مو لومړنی څېړنې او معلومات حاصل کړل.
۲- د قرآن کریم ټول هغه آیاتونه او احادیث چې له دغه موضوع څخه بحث کوي او یا هم ورسره څرګند تړاو لري را جمع کړل.
۳- د موضوع په اړه د آیاتونو له تفسیر څخه مو څرګند اساسي عناصر، افکار، احکام او حکمونه استنباط کړل او دغه عناصر، افکار، احکام مو ترتیب او تصنیف کړي دي.
۴- د کتاب الجوهرة النیرة (کتاب الطهارت تر باب التیمم پورې) موضوع باندې مو کلکه څارنه کړې ده او له معتبرو منابعو څخه په کې استفاده شوې ده.
۵- د مناهج البحث مطابق، آیاتونه مو د هغو خپلو سورتونو ته منسوب کړي او همدارنګه احادیث مو تخریج، او د ضرورت پر وخت مو د حدیث حکم بیان کړی دی.
٦- په حاشیه کې مو ځینې تعریفونه، سخت کلمات، او د اعلامو تراجم شرح او لیکلي دي.
۷- له صحیحو احادیثو څخه مو د ځینی آیاتونو په تفسیر کې استفاده کړې ده.
۸- له موضوع څخه نه یو وتلي، او د ضرورت وړ تفصیل مو کړی دی.
۹- د علمي بحث لیکنې ټول قواعد او ضوابط مو د وس مطابق رعایت کړي دي.
۱۰- له ضعیفو او موضوع احادیثو او اقوالو څخه مو په کلکه ډډه کړې ده.

## د څېړنی اهداف:

داچی هره څېړنه د یو یا څو اهدافو لپاره ترسره کیږي نو د دی څېړنی اهداف په لاندی ټکو کې روښانه کیږی:
۱- د الجوهرة النیرة کتاب( کتاب الطهارة تر باب التیمم) پورې پښتو ژبې ته ژباړل.
۲- د الجوهره النیره کتاب کې د حدیثو ژباړې او تخریج اړتیا د فقهې متونو ښه پوهیدو لپاره څېړل.
۳- په الجوهره النیره کتاب کې د احادیثو ژباړې او تخریج ګټې روښـــانه کول، ترڅو له فقهې متونو څخه دقیق فهم او علمی استنباط ترلاسه شي.

## د څېړنې ستونزه:

د څېړنې د ځینو موضـوعاتو په اړه په ملي ژبو د مراجعو نشـتوالی، د معلوماتو د لاس رسـی سـتونزه، د معلوماتو د راټولولو او تحلیل کولو اړوند ستونزې زما د څېړنې پر وړاندې مهمې ستونزې بللی شم.

## د څیړنې خطه:

دا بحث په یوې مقدمې او د الجوهرة النیرة ( کتاب الطهارت څخه تر باب التیمم پورې) چې کوم عنوانونه نوموړي کتاب راوړي کټ مټ په هغو عنوانونو باندې مشتمل ده چې په لاندې ډول یې وړاندې کوو:

## كتاب الطهارة

قَالَ الشَّــيْخُ الْإِمَامُ أَبُو الْحَسَــنِ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى (كِتَابُ الطَّهَارَةِ) الْكِتَابُ فِي اللُّغَةِ: هُوَ الْجَمْعُ يُقَالُ ((كَتَبْت الشَّيْـءَ)): أَيْ جَمَعْته، وَمِنْهُ: الْكِتَابَةُ، وَهِيَ جَمْعُ الْحُرُوفِ بَعْضِـهَا إلَى بَعْضٍ. فَقَوْلُهُ: كِتَابُ الطَّهَارَةِ: أَيْ جَمْعُ مَسَـائِلِ الطَّهَارَةِ. وَفِي الشَّـــرعِ: عِبَارَةٌ عَنْ الشَّــمْلِ وَالْإِحَاطَةِ، وَهُمَا لَفْظَانِ مُتَرَادِفَانِ بِمَعْنًى وَاحِدٍ. وَقِيلَ هُمَا مُتَغَايِرَانِ، وَهُوَ الصَّحِيحُ. فَالْإِحَاطَةُ أَعَمُّ مِنْ الشَّمْلِ؛ لِأَنَّ الشَّمْلَ هُوَ: جَمْعُ الْمُتَفَرِّقِ، يُقَالُ جَمَعَ اللَّهُ شَمْلَهُ: أَيْ مَا تَفَرَّقَ مِنْ أَمْرِهِ.

## د طهارت کتاب

شــيخ ابو الحســن[1] رحمة الله عليه د (كتاب الطهارة) په عبارت کې فرمايلي دي، د (کتاب) لغوي معنى: يو ځای کولو ته وايي، لکه ويل کيږي (كَتَبْت الشَّيْءَ) يعنې يو شی مې جمع يا يو ځای کړ، او الْكِتَابَةُ يې مصدر ده او معنى يې ده: ځيني توري له ځينو نورو تورو سره يو ځای کول.
نو د كتاب الطهارة معنى: د پاكوالي د مســائلو يو ځای كول دي. په دې متن كي د كتاب لفظ په شرعي[2] لحاظ داسي معنې لري چې: دا د شــمول [3]او احاطې څرګندونه كوي او دغه دواړه الفاظ مترادف دي يعنې يوه معني لری. او داسې هم ويل شوي: چې دواړه الفاظ (الشمول او الاحاطة) غير مترادف الفاظ دي يعنې چې معناګانې يې سره مختلفې دي او همدا خبره سمه ده. ځکه د (الْإِحَاطَةِ) معنى له (الشَّمْلِ) څخه عامه ده؛ ځكه (الشَّمْلِ) د متفرقو شيانو يو ځای کولو ته وايي، لکه چې ويل كيږي (جَمَعَ اللَّهُ شَمْلَهُ) يعنې الله تعالى دې اتفاق نصيب كړي.

---

[1]- نوم يې احمد بن محمد بن احمد بن جعفر بن حمدان، كنيت يې ابو الحسن ده، په حنفي مذهب کې فقيه و،په ښه کورنی کې پيدا شوی، پلار يې فقيه او محدث و، په عراق کې د حنفي مذهب مسلک ده ته منسوب کيږي، يو شمېر کتابونه يې تصنيف کړي چې عبارت دي له:كتاب التقريب، شرح مختصر الكرخي،رشرح ادب القاضي، مختصر القدوري. د عراق په بغداد کې په (٣٦٢هـ) کال کې زيږېدلی ده، او په (٤٢٨هــ) کال کې د (٦٦) کلونو په عمر وفات شو. (الذَهَبي، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد الذَهَبي، سير أعلام النبلاء (تحقيق:مجموعة محققين بإشراف شعيب الأرناؤوط، ناشر: مؤسسة الرسالة) ج ٣٤ ص ٧٩).

[2] - «و في الشرع: عبارة عن الشمل والاحاطة، و هما لفظان متردفان بمعنى واحد». خو دا جمله د «كتاب» شرعي تعريف نه شي كېدای، ځکه چې دا تعريف په حقيقت کې د «كتاب» لغوي معنا ته راجع كيږي، كه څه هم د «في الشرع» عبارت ورسره مل دی. ځکه الفاظ لکه الشمل او الاحاطة د «كتاب» له لغوي معناوو څخه دي، چې د جمع، راټولولو او احاطې مفهوم ورکوي، لکه چې ويل کيږي: «كتبت الجيش» يعنې پوځ مې راټول کړ. خو د شرعي اصطلاح له مخې، په ځانګړي ډول د اصول فقه، فقه، او حديثو په علومو کې چې کله د «كتاب» يا «الكتاب» ذكر وشي، نو مراد ترې د قرآن كريم وي، يعنې هغه الهي وحي چې پر حضرت محمد صلى الله عليه وسلم نازله شوې ده، او د مصحف په بڼه کې ليکل شوې، تلاوت يې عبادت دی، او د شريعت بنسټيز مصدر ګڼل کيږي. نو بناءً عليه، دا تعريف چې کتاب ته د شمول او احاطې معنا ورکوي، که څه هم د «في الشرع» په تعبير بيان شوی، خو دا لا هم لغوي تعريف دی، نه شرعي اصطلاح. له همدې امله، د دقت لپاره بايد ووايو:«الكتاب» په لغت کې د شمول او احاطې معنا لري، خو په اصطلاح کې مراد ترې قرآن كريم دی.

[3] - النجار، إبراهيم مصطفى ـ أحمد الزيات ـ حامد عبد القادر، معجم الوسيط (تحقيق / دار النشر : دار الدعوة ، دار النشر : دار الدعوة) ج ١ ص ٤٩٥.

وَالْإِحَاطَةُ: مَا أَحَاطَ بِالشَّيْءِ بَعْدَ جَمْعِهِ، فَهِيَ جَامِعَةٌ لِلشَّمْلِ، مُحِيطَةٌ بِهِ.

فَمِثَالُ الشَّمْلِ: مَا قَالُوا فِي كَلِمَةِ: الْجَمِيعِ: إِنَّهَا تُوجِبُ الاِجْتِمَاعَ، دُونَ الاِنْفِرَادِ، كَمَا إِذَا قَالَ الْأَمِيرُ لِلْجُنْدِ: جَمِيعُ مَنْ دَخَلَ هَذَا الْحِصْنَ فَلَهُ عَشْرٌ مِنْ الْإِبِلِ، فَدَخَلَ مِنْهُمْ عَشَرَةٌ: فَإِنَّ لَهُمْ عَشْرًا مِنْ الْإِبِلِ، لَا غَيْرُ، بَيْنَهُمْ جَمِيعًا.

وَمِثَالُ الْإِحَاطَةِ: إِذَا قَالَ: كُلُّ مَنْ دَخَلَ هَذَا الْحِصْنَ فَلَهُ عَشْرٌ مِنْ الْإِبِلِ، فَدَخَلَ مِنْهُمْ عَشَرَةٌ: فَإِنَّ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ عَلَى الاِنْفِرَادِ عَشْرًا مِنْ الْإِبِلِ، فَيَكُونُ لَهُمْ مِائَةٌ مِنْ الْإِبِلِ، فَبَانَ لَك أَنَّ كَلِمَةَ: الْجَمِيعِ: لِلشَّمْلِ، دُونَ الْإِحَاطَةِ، وَكَلِمَةَ: كُلٍّ: لِلشَّمْلِ وَالْإِحَاطَةِ.

وَالطَّهَارَةُ فِي اللُّغَةِ: هِيَ النَّظَافَةُ، وَعَكْسُهَا: الدَّنَسُ، وَفِي الشَّرْعِ: عِبَارَةٌ عَنْ غَسْلِ أَعْضَاءٍ مَخْصُوصَةٍ. وَعَكْسُهَا: الْحَدَثُ، وَيُقَالُ أَيْضًا: عِبَارَةٌ عَنْ رَفْعِ حَدَثٍ، أَوْ إِزَالَةِ نَجَسٍ، حَتَّى يُسَمَّى الدِّبَاغُ، وَالتَّيَمُّمُ: طَهَارَةً.

وَأَعَمُّ مِنْ هَذَا أَنْ يُقَالَ: عِبَارَةٌ عَنْ إِيصَالِ مُطَهِّرٍ إِلَى مَحَلٍّ يَجِبُ تَطْهِيرُهُ، أَوْ يُنْدَبُ إِلَيْهِ.

او احاطة هغه څه ته ويل کېږي چې له يو شي را چاپېره وي، نو هغه (احاطة) د ټولو را ټولوونکې ده، او له هغه څخه را چاپېره.

د الشَّمْلِ مثال: لکه څنکه چې په کلمه د جميع کې ويل کيږي چې: د جميع لفظ اجتماع لازموي نه انفراد او ځانته والی، لکه چې پاچا خپلو عسکرو ته ووايي (جَمِيعُ مَنْ دَخَلَ. . . ) ټولو هغو ته چې دغه قلا ته ننوتل نو د هغو لپاره به لس اوښان وي، او بيا دغې قلا ته لس کسان داخل شول، نو دغه لس کسان چې دغې ساحې ته داخل شوي ددغو ټولو لپاره به يواځې لس اوښان وي چې په خپل منځ کې به يې تقسيموي او نور به نه ورکول کيږي.

د احاطې مثال داسې دی: لکه چې امير خپلو لښکرو ته ووايي، (کل من دخل ...) هر يو چې دغې قلا ته ننوت نو د هغه لپاره به لس اوښان وي او بيا لس کسان ننوتل، نو په دې صورت کې به د هر کس لپاره لس لس اوښان وي، او ټولو لپاره به سل اوښان شي، نو درته معلومه شوه چې د (الْجَمِيعِ) کلمه د شمول لپاره ده نه د احاطې لپاره او د (كُلّ) کلمه د شمول او احاطې دواړو لپاره راځي.

او طهارت په لغت کې: پاکوالي ته ويل کيږي چې متضاد يې ناپاکي ده او په اصطلاح کې: د ځانګړو اندامونو له مينځلو څخه عبارت دی. او متضاد يې بې اودسي ده.

دا هم ويل شوي چې طهارة د بې اودسی د لرې کولو، او يا د نجاست او ناپاکی د له منځه وړلو څخه عبارت دی، تر دې چې د حيواناتو د پوستکي رنګول او تيمم هم طهارت نومول کيږي،او تر ذکر شوي تعريف لا عام تعريف داده: طهارت عبارت ده د پاکوونکی شي رسول داسې محل ته چې د هغه محل پاکول واجب يا مستحب وي[1].

[1] - هغه دليل چې ټول دا تعريف عام ګڼي، دا دی چې: دا تعريف تر نورو تعريفونو عام ده او د طهارة ټولو انواعو ته شامليږي.

وَالْمُطَهِّرُ هُوَ الْمَاءُ عِنْدَ وُجُودِهِ، وَالصَّـعِيدُ: عِنْدَ عَدَمِهِ، وَالطَّهَارَةُ عَلَى ضَرْبَيْنِ: حَقِيقِيَّةٌ، وَهِيَ الطَّهَارَةُ بِالْمَاءِ، وَحُكْمِيَّةٌ: وَهِيَ التَّيَمُّمُ، وَالطَّهَارَةُ بِالْمَاءِ عَلَى ضَرْبَيْنِ: خَفِيفَةٌ، كَالْوُضُـوءِ، وَغَلِيظَةٌ: كَالْغُسْـلِ مِنْ الْجَنَابَةِ وَالْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ. وَإِنَّمَا بَدَأَ الشَّيْخُ بِالْخَفِيفَةِ؛ لِأَنَّهَا أَعَمُّ وَأَغْلَبُ.

قَالَ اللَّهُ تَعَالَى {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّـلَاةِ فَاغْسِـلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَـحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ} [1].

بَدَأَ بِهَا تَبَرُّكًا وَدَلِيلاً عَلَى وُجُوبِهِ وَمِنْ أَسْرَارِهَا أَنَّهَا تَشْمَلُ عَلَى سَبْعَةِ فُصُولٍ كُلُّهَا مُثَنًّى طَهَارَتَانِ الْوُضُوءُ وَالْغُسْلُ وَمُطَهِّرَانِ الْمَاءُ وَالصَّـعِيدُ، وَحُكْمَانِ الْغُسْـلُ وَالْمَسْـحُ وَمُوجِبَانِ الْحَدَثُ وَالْجَنَابَةُ وَمُبِيحَانِ الْمَرَضُ وَالسَّـفَرُ وَكِنَايَتَانِ الْغَائِطُ وَالْمُلَامَسَةُ

او «المطهر» (پاکوونکی) د اوبو څخه عبارت دی، او د اوبو په نه شتون کې خاورې ته هم ویل کیږي.

او پاکوالی په دوه ډوله دی، حقیقي پاکوالی: هغه پاکوالی دی چې د اوبو په ذریعه تر لاسه شي، او حکمي پاکوالی تیمم ده، په اوبو سره تر لاسه شوی پاکوالی په دوه ډوله دي: خفیف طهارت لکه اودس، او غلیظ طهارت لکه له جنابت، حیض او نفاس څخه غسل.

او امام قدوري رحمه الله ځکه د خفیف پاکوالي د مسائیلو په بیانولو باندې پیل وکړ چې دا عام دی او ډیر واقیع کیږي.

الله تعالی فرمایي: (ژباړه): هغو کسانو چې ایمان مو راوړی ده کله چې لمانځه ته پاڅېدی نو ومینځئ مخونه خپل، ومینځئ لاسونه خپل تر څنګلو پورې او مسح وکړئ په خپلو سرونو باندې او خپلې پښې ومینځئ تر ښنګریو پورې.

او په آیت باندې یې د تبرک لپاره پیل وکړ، او دویم دا چې دا آیت شریف د اوداسه د فرضیت دلیل ده، او په دې آیت کریمه کې ځینې نکتې او حکمتونه دي، له دې جملې څخه دا دي چې: دا آیت شریف په اوو شیانو باندې مشتمل ده چې ټول جفت جفت دي، دوه پاکوالي: چې اودس او غسل ده، دوه پاکوونکي: چې: اوبه او خاوره ده، دوه حکمونه دي په کې چې: مینځل او مسح دي، دوه واجب کوونکي د (طهارت) دي چې: بې اودسي او جنابت ده، دوه رخصتونه (د ترک طهارت مباحوونکي) چې: مرض او سفر ده، دوه کنایي الفاظ دي په کې: چې غائط او ملامسه ده.

[1]- قرآن کریم، سورةالمائدة، آیت: ٦.

وَكَرَامَتَانِ تَطْهِيرُ الذُّنُوبِ وَإِتْمَامُ النِّعْمَةِ وَإِتْمَامُهَا مَوْتُهُ شَهِيدًا، قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {مَنْ دَاوَمَ عَلَى الْوُضُوءِ مَاتَ شَهِيدًا}.

وَفِي الْآيَةِ إضْمَارُ الْحَدَثِ، أَيْ: إذَا قُمْتُمْ إلَى الصَّلَاةِ وَأَنْتُمْ مُحْدِثُونَ، وَإِنَّمَا قَالَ فِي الْوُضُوءِ: {إذَا قُمْتُمْ}، وَفِي الْجَنَابَةِ {وَإِنْ كُنْتُمْ}؛ لِأَنَّ إذَا: تَدْخُلُ عَلَى أَمْرٍ كَائِنٍ، أَوْ مُنْتَظَرٍ لَا مَحَالَةَ. وَإِنْ: تَدْخُلُ عَلَى أَمْرٍ رُبَّمَا كَانَ، وَرُبَّمَا لَا يَكُونُ، وَالْقِيَامُ إلَى الصَّلَاةِ مُلَازِمٌ، وَالْجَنَابَةُ: لَيْسَتْ بِمُلَازِمَةٍ، فَإِنَّهَا قَدْ تُوجَدُ وَقَدْ لَا تُوجَدُ.

او دوه کرامته دي په کې :چې د ګناهونو پاک کېدل او پوره کېدل دي، چې پوره کېدل د نعمت په کې دادي چې رسول الله صلی الله علیه وسلام څخه روایت شوی چې چا دوام په اوداسه کاوه او بیاد اوداسه په حالت کې مړ شو نو دا کس شهید ده[1].

په آیت شریف کې د حدث(بې اودسي)کلمه پټه (مضمره) ده او په اصل کې یې معنی داده چې کله لمانځه ته پاځېدئ او بې اودسه وئ ،او په اوداسه کې یې وویل: (إِذَا قُمْتُمْ) چې کله تاسې لمانځه ته پاځېدئ ،او په غسل کې یې وویل: (وَإِنْ كُنْتُمْ) كه چېرې تاسې جنوب وئ ،ځکه چې (إذَا) په داسې کار باندې داخلیږي چې واقع کېدونکې وي او حتما یې د واقع کېدو انتظار کېږي، او (إِنْ) په داس کار باندې داخلیږي چې کېدلی شي واقع شي او کېدلی شي واقع نه شي، او لمانځه ته پورته کېدل ته حتمي دي او د جنابت موجودیت حتمي نه دی ځکه چې جنابت کله وي او کله نه وي.

[1]- **د حدیث تخریج**: (الدارمي، محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، أبو حاتم، الدارمي، البُستي (المتوفى: ٣٥٤هـ)، المجروحين من المحدثين والضعفاء والمتروكين(الناشر: دار الوعي – حلب ، الطبعة: الأولى، ١٣٩٦هـ) ج ٢، ص ٣٢٣). کې ذکر کړی ده، (العقيلي، أبو جعفر محمد بن عمرو بن موسى بن حماد المكي (المتوفى: ٣٢٢هـ)، الضعفاء الكبير(الناشر: دار المكتبة العلمية – بيروت، الطبعة: الأولى، ١٤٠٤هـ - ١٩٨٤م) ج ١ ص ١١٩). کې ذکر کړی. (ابن الجوزي، جمال الدين أبو الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي (المتوفى: ٥٩٧هـ)، علل المتناهية (الناشر : الطبعة الهندية) ج ١ ص ٣٥١).کې د انس رضي الله عنه څخه مرفوعا روایت رانقل کړی چې وایي:اې زویه!که وس دې وشي چې تل په اوداسه و اوسې،نو ویې کړه،ځکه چې کله د مرګ فرښته د بنده روح قبض کړي،او هغه په اوداسه وي،نو د شهادت اجر ورته لیکل کیږي. او ابن جوزي وایي چې دا حدیث عقیلی هم رانقل کړی ده لکن ثابت نه ده؛ځکه له انس رضي الله عنه څخه صحیح سند نه لري. او ددغه حدیث د معنی مطابق دا قول د رسول الله صلی الله علیه وسلم (ولا يحافظ على الوضوء الا مومن)، (ابن ماجة - وماجة اسم أبيه يزيد - أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (المتوفى: ٢٧٣هـ) ، سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (الناشر: دار الرسالة العالمية، الطبعة: الأولى، ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م) ج ١ ص ١٨٤ رقم الحديث ٢٧٧).کې او (المنذري، عبد العظيم بن عبد القوي المنذري أبو محمد، الترغيب والترهيب من الحديث الشريف(الناشر : دار الكتب العلمية – بيروت، الطبعة الأولى ، ١٤١٧) ج ١ ص ١٦٢). د پورته ذکر شوي حدیث تخریج، چې په متن کې یاد شوي، داسې دي: دغه حدیث داحادیثو صحاح سته له امامانو هېڅ یوه نه تائید کړی او نه یې روایت کړی دی. (ابن عساكر، أبو القاسم علي بن الحسن بن هبة الله المعروف بابن عساكر (المتوفى: ٥٧١هـ)، تاريخ دمشق (الناشر: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، عام النشر: ١٤١٥ هـ - ١٩٩٥ م) ج ٥٧ ص ٣٢٥). له یوه ضعیف سند څخه روایت کړي، خو د دې حدیث سند یا خو ضعیف دي او یا مرسل، او دمحدثینو له خوا د اعتبار وړ نه دي ګڼل شوي.

وَحَدُّ الْوَجْهِ: مِنْ قِصَاصِ الشَّعْرِ، إلَى أَسْفَلِ الذَّقَنِ طُولاً، وَمِنْ شَحْمَةِ الْأُذُنِ إلَى شَحْمَةِ الْأُذُنِ عَرْضًا، حَتَّى إنَّهُ يَجِبُ غَسْلُ الْبَيَاضِ الَّذِي بَيْنَ الْعَذَارِ وَالْأُذُنِ عِنْدَهُمَا، وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ: لَا يَجِبُ

وَإِنْ غَسَلَ وَجْهَهُ، وَلَمْ يَصِلِ الْمَاءُ إلَى مَا تَحْتَ حَاجِبَيْهِ: أَجْزَأَهُ، وَلَوْ رَمِدَتْ عَيْنُهُ، وَاجْتَمَعَ رَمَصُهَا فِي جَانِبِ الْعَيْنِ وَالْمُؤْقِ وَاللِّحَاظِ: وَجَبَ عَلَيْهِ إيصَالُ الْمَاءِ إلَى الْمَآقِي. كَذَا فِي الذَّخِيرَةِ.

د مخ اندازه (په مینځلو کې): په اوږدوالي کې د سر د ویښتانو د شنه کیدلو له ځای څخه شروع او د زنې تر لاندینۍ برخې پورې رسیږي،او په پلنوالي د یو غوږ له نرمۍ څخه شروع او د بل غوږ تر نرمۍ پورې رسیږي، تر دې پورې چې چې هغه سپینه برخه چې د ویښتانو د شنه کېدو او د غوږو ترمنځ ده د هغه مینځل هم د امام ابوحنیفه[1] او د امام محمد[2] رحمهما الله په نزد واجب (لازم) دي، خو امام ابو یوسف[3] رحمه الله وایي چې د دې برخې مینځل واجب نه دي.

که چیرته مخ ومینځل شي او اوبه د وریځو (آبرو) لاندې برخې ته ونه رسیږي نو اودس یې صحیح کیږي.

که چیرته یې د سترګو مرض درلوده،او چوخړې یې د سترګې په ښی او چپ کونج کې یې پاتې وی، اوبه د دواړو سترګو بیخو ته نه وې رسېدلې،نو د دواړو سترګو کونجو ته اوبه رسول واجب دي لکه څنګه چې په الذخیره کتاب[4] کې هم ذکر شوي دي.

---

[1] - دده فقیه، محدث او د حنفي مذهب بنسټ ایښودونکی نوم نعمان بن ثابت بن زوطي التیمي ده،یو د امت له برجسته تابعینوعلماوو څخه و چې د ځینو صحابه کرامو لکه:انس بن مالک رضي الله عنه سره یې لیدلي دي او ځینو علماوو چې د اوه صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه یې روایت کړی ده، امام سفیان ثوري او ابن مبارک رحمهما الله وایي چې(کان ابوحنیفه افقه اهل الارض في زمانه) یعنې امام ابوحنیفه رحمه الله په خپل وخت کې له ټولو فقهاوو څخه بهتر و،پیدایښت یې په (۸۰ هـ) کال کې او وفات یې په (۱۵۰ هـ) کال کې شوی. (سیر أعلام النبلاء لذهبي ج ٦ ص ۳۹۰).

[2] - نوم یې محمد د پلار نوم أدریس په (۱۵۰ هـــ) کال کې د فلسطین په غزه ښار کې زیږېدلی ده، نوموړی د ا سلامي نړۍ یو ستر فقیه، محدث او د څلورو مذهبونو څخه د شافعي مذهب مؤسس دی او په (۲۰۴ه) کال کې په مصر کې وفات او بیا هلته خاورو ته وسپارل شو. (مرجع سابق ج ۳۰ ص ۲۵).

[3] - د ا سلامي نړۍ ستر فقیه او محدث نوم یعقوب بن ابراهیم بن حبیب بن حبیش بن سعد بن بجیر بن معاویة الانصاري الکوفي ده او نوم د کنیت یې ابویو سف ده،تخلص یې قاضي ده او اولنی کس ده چې د قاضي القضات په لقب نومول شوی ده. ابن معین ویلي چې امام ابویو سف رحمه الله ثقه ده او یو له لویو شاګردانو د امام ابوحنیفه رحمه الله څخه و په (۱۱۳ هـــ) کال کې په کوفې ښار کې زیږېدلی ده، او په (۱۸۲ه) کال کې په بغداد کې وفات او هلته خاورو ته وسپارل شو. (مرجع سابق ج ۳۷ ص ۲۰۹).

[4] -الذخیرة البرهانیة چې په الذخیرة الفتاوی په نوم هم مسمی ده کتاب لیکوال محمود بن احمد بن الصدر الشهید البخاري (برهان الدین، ابن مازه) وفات یې په (٦١٦هـ) کې شوی ده. (کحالة الدمشق، عمر بن رضا بن محمد راغب بن عبد الغني کحالة الدمشق (المتوفی: ۱۴۰۸هـ)، معجم المؤلفین (الناشر: مکتبة المثنی - بیروت، دار إحیاء التراث العربي بیروت) ج ۱۲ ص ۱۴۶).

الرَّمَصُ وَسَخُ الْعَينِ وَمُؤْقُ الْعَينْ: طَرَفُهَا مِمَّا يَلِي الْأَنْفَ، وَجَمْعُهُ: آمَاقٍ. وَاللِّحَاظُ: بِفَتْحِ اللاَّمِ طَرَفُهَا مِمَّا يَلِي الْأُذُنَ.
قَوْلُهُ: {وَأَيْدِيكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ}: أَيْ مَعَ الْمَرَافِقِ، وَوَاحِدُهَا: مِرْفَقٌ بِكَسْرِ الْمِيمِ وَفَتْحِ الْفَاءِ، وَعَكْسُهُ: الْمَفْصِلُ: بِفَتْحِ الْمِيمِ وَكَسْرِ الصَّادِ.

وَالسُّنَّةُ: أَنْ يَبْدَأَ فِي غَسْلِ الذِّرَاعَيْنِ مِنْ الْأَصَابِعِ إِلَى الْمَرَافِقِ، فَإِنْ عَكَسَ: جَازَ، وَيَجِبُ غَسْلُ مَا كَانَ مُرَكَّبًا عَلَى أَعْضَاءِ الْوُضُوءِ، مِنْ الْأَصَابِعِ الزَّائِدَةِ، وَالْكَفِّ الزَّائِدَةِ.

فَإِنْ تَلِفَ الْعُضْوُ: غُسِلَ مَا يُحَاذِي مَحَلَّ الْفَرْضِ، وَلاَ يَلْزَمُهُ غَسْلُ مَا فَوْقَهُ، كَذَا فِي الْيَنَابِيعِ.

الرَّمَصُ:د سترگو چتلی ته ویل کیږي، او مؤق العین: د سترګې هغه کونج ته وايي چې پوزې طرف ته وي، جمعه يې مآقي راځي. او اللِّحَاظُ (د لام په فتحې سره): د سترګو هغه کونج ته وايي چې غوږو طرف ته وي او د الله تعالى دا قول چې لاسونه تر څنګلو پورې ومينځئ، يعنې څنګلې هم ورسره ومينځئ.

او دا قول د الله تعالى چې فرمايي(ژباړه) : ( او خپل لاسونه تر څنګلو پورې ومينځئ): (الْمَرَافِقِ) د جمعې صيغه ده او مفرد يې (مِرْفَقٌ) ده او معكوس (متضاد) لفظ يې بند ده [1].

او سنت دا دي چې د څنګلو مينځل به له ګوتو څخه شروع کوي او په څنګلو به يې ختموي، خو که چېرته يې چپه کار وکړ (له څنګلو څخه يې مينځل شروع کړل او په ګوتو باندې يې مينځل ختم کړل) بيا هم جايز ده، همداسې په خجندي[2] کې راغلې ده.

او هغه غړي چې په اوداسه کې يې مينځل واجب وي،په هغوی پورې يوځای نورو غړو (د ځينو انسانانو څلور لاسونه وي، يا د ځينو په هر لاس يا پښه کې شپږ ګوتې وي) مينځل هم واجب دي لکه اضافه ګوتې او اضافه لاس.

او که کوم غړی پرې شوی وي نو له هغه څخه دې هغه اندازه ومينځي چې د فرض سره برابر وي، او له هغه زيات مينځل پرې لازم نه دي ، همداسې مسئله په الينابيع [3] کې بيان شوی ده.

[1] - د دوو هډوکو د وصل ځای ته بند وايي که هغه د بدن د هرې برخې وي. (الجوهري، إسماعيل بن حماد الجوهري، الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية (بيروت –لبنان، ط: ١۴٠٧ هـ) ج ۵ ص ١١۴). مرفق هغه بند د لاس ده چې د مړوند او د اوږې ترمنځ وي. (الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية ج ١ ص ٢۶٣).

[2] د الخجندي كتاب مصنف فقيه، اصولي عمر بن محمد بن عمر الخبازي، الخجندي، الحنفي چې په اصل کې د خجند چې په ماوراء النهر کې د يوه ښار نوم ده زيږېدلی ده، د ۶٢ کلونو په عمر په (۶٩١ هـ) کال کې وفات شوی ده او د نورو تصانيفو څخه يې المغني في اصول الفقه او په الهداية في فروع الفقه الحنفي باندې يې حا شيې کړې دي. (كحالة الدمشق، عمر بن رضا بن محمد راغب بن عبد الغني كحالة الدمشق (المتوفى: ١۴٠٨هـ)، معجم المؤلفين(الناشر: مكتبة المثنى - بيروت، دار إحياء التراث العربي بيروت) ج ٧ ص ٣١۵).

[3] - الينابيع في معرفة الاصول والتفاريع شرحه د مختصر-القدوري ده چې د مصنف نوم يې محمود د پلار نوم يې رمضان په رشيدالدين أبى عبد الله باندې مشهور و،په مدرسة الحلاوية په جلب کې مدرس و او د الينابيع کتاب له ليکلو څخه په (٦١٦ه) کال کې فارغ شو.ابن قطلوبغا په طبقات حنفيه کې شمېرلی ده او په (٧۶٩ه) کال کې وفات شو. (كشف الظنون عن أسامي الكتب والفنون ج ٢ ص ١۶٣١).

وَفِي الْفَتَاوَى: الْعَجِينُ فِي الظُّفْرِ: يَمْنَعُ تَمَامَ الطَّهَارَةِ. وَالْوَسَخُ وَالدَّرَنُ لَا يَمْنَعُ، وَكَذَا التُّرَابُ وَالطِّينُ فِيهِ: لَا يَمْنَعُ، وَالْخِضَابُ إِذَا تَجَسَّدَ: يَمْنَعُ. كَذَا فِي الذَّخِيرَةِ، وَقِشْرَةُ الْقُرْحَةِ إِذَا ارْتَفَعَتْ وَلَمْ يَصِل الْمَاءُ إِلَى مَا تَحْتَهَا: لَا يَمْنَعُ.

قَوْلُهُ: {وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ}: الْمَسْحُ هُوَ: الْإِصَابَةُ، فَلَوْ كَانَ شَعْرُهُ طَوِيلاً فَمَسَحَ عَلَيْهِ: إِنْ كَانَ مِنْ تَحْتِ أُذُنِهِ: لَا يَجُوزُ، وَإِنْ كَانَ مِنْ فَوْقِهَا: جَازَ، وَإِنْ كَانَ بَعْضُ رَأْسِهِ مَحْلُوقًا، فَمَسَحَ عَلَى غَيْرِ الْمَحْلُوقِ: جَازَ.

وَإِنْ أَصَابَ رَأْسَهُ مَاءُ الْمَطَرِ: أَجْزَأَهُ عَنْ الْمَسْحِ، سَوَاءٌ مَسَحَهُ أَوْ لَا. وَإِنْ مَسَحَ رَأْسَهُ، ثُمَّ حَلَقَهُ: لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ إِعَادَةُ الْمَسْحِ. وَإِنْ مَسَحَ رَأْسَهُ بِمَاءٍ أَخَذَهُ مِنْ لِحْيَتِهِ: لَمْ يَجُزْ؛ لِأَنَّهُ مُسْتَعْمَلٌ.

او په فتاوى کې راغلي: په نوکانو کې وړه د اودس او غسل د تکميل مانع ګرځي، خو خيرى يې د تکميل مانع نه ګرځي . همداراز د نوکانو لاندې د خاورې او ختې موجوديت د اودس او غسل د تکميل مانع نه ګرځي.

او نکريزي چې کله کثافت ولري (يوازې رنګ نه وي) د غسل او اودس د تکميل مانع ګرځي، دا مسئله همداسې په الذخيرة کې ذکر شوى ده.

او د زخم پوست چې کله د زخم نه را پورته شي او بيا هم اوبه له هغه ځخه لاندې ځاى ته ونه رسېږي، دا هم د اودس او غسل د تکميل مانع نه ګرځي.

او دا قول د الله تعالى چې فرمايي (ژباړه): (مسحه وکړئ په خپلو سرونو باندې):

مسح په لغت کې: لمس کولو او يو شي ته د لاس د رسېدلو نوم دى، نو که چيرته د يوه چا وېښتان اوږده وي او مسحه يېورباندې وکړه، نو که چيرته يې مسحه د غوږونو ځخه لاندې په را زوړندو وېښتانو وکړه نو دا مسحه يې صحيح نه ده. (ځکه چې مسحه د سر فرض ده نه د وېښتانو دا برخه يې حاشيې ته نقل کړه)،او که چيرته يې مسحه په هغه وېښتانو وکړه چې له غوږونو پورته دي نو مسحه يې جايز ده.

که چيرته يې د سر ځينې برخه خريل شوې وه ( وېښتان نه و په کې) او ده په نا خريل شوى برخه مسحه وکړه نو مسحه يې جايز ده.

که چيرته د يو چا سر ته د باران اوبه ورسيدې، نو همدا ورته بس کېږي که لاس يې پرې راکش کړ او که نه او که يوه چا سر مسحه کړ او بيا يې وخرايه، نو د مسحې بيا راګرځول ورباندې نشته.

که چيرته چا په هغو اوبو سر مسحه کړ چې له ږيرې ځخه يې اخيستې وى، نو مسحه يې نه صحيح کيږي، ځکه چې دا اوبه مستعملې دي.

وَإِنْ مَسَحَهُ بِبَلَلٍ فِي كَفِّهِ لَمْ يَسْتَعْمِلْهُ: جَازَ. كَذَا فِي (الْفَتَاوَى).

قَوْلُهُ: {وَأَرْجُلَكُمْ إلَى الْكَعْبَيْنِ}): قُرِئَ: {وَأَرْجُلَكُمْ}: بِالنَّصْبِ: عَطْفًا عَلَى الْوَجْهِ وَالْأَيْدِي، تَقْدِيرُهُ: فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ.

وَقُرِئَ: {وَأَرْجُلِكُمْ}: بِالْخَفْضِ: عَلَى الْمُجَاوَرَةِ، وَمَذْهَبُ الرَّوَافِضِ أَنَّ الْأَرْجُلَ مَمْسُوحَةٌ؛ احْتِجَاجًا بِقِرَاءَةِ الْخَفْضِ عَطْفًا عَلَى الرُّءُوسِ.

او که چیرته یې په هغه لوندوالي مسحه وکړه چې په لاس یې پاتې وه، او په بل ځای کې یې نه وه استعمال کړی، نو مسحه یې جایز ده [1]. همداسې په الفتاوی کې راغلي دي.

او د الله تعالی دا قول چې فرمايي (ژباړه): (پښې به تر بېلګیو پورې ومینځئ):

د (وَأَرْجُلَكُمْ) یو قرائت په نصب باندې دی، د (وجوهكم او أيديكم) په کلماتو باندې د عطف له امله، د عبارت تقدیر به داسې وي (فاغسلوا وجوهكم وأيديكم و أرجلكم) یعنې تاسې ومینځئ مخونه خپل،لاسونه خپل او پښې خپلې او په (وَأَرْجُلِكُمْ) بل قرائت په جر (زير) سره دی [2]، او دا جر د جوار له امله دی[3]. او د روافضو[4] (یوه ډله د شیعه ګانو ده) مذهب دا دی چې پښې به مسحه کیږي[5]، او استدلال یې په (وَأَرْجُلِكُمْ) کې د جر د قرائت څخه دی، ځکه هغه په (وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ) کې په (رءوسكم) باندې عطف دی.

---

[1]- که یو څوک اودس کوي او په لاس کې یې لوندوالی و، او دا لوندوالی د مستعملو اوبو نوي، نو که دا کس په همدې لوندوالي د لاس باندې د سر مسحه وکړي، نو مسح یې وشوه؛ ځکه چې د لوندوالی د مستعملو اوبو په وجه نه ده.

[2]- په جر سره د حمزه، ابن کثیر او ابو عمرو رحمهم الله قرائت ده. (التميمي، أبو بكر أحمد بن موسى بن العباس بن مجاهد التميمي البغدادي، كتاب السبعة في القراءات التميمي(ناشر : دار المعارف –القاهرة، الطبعة الثانية ١۴٠٠) ج ١ ص ٢۴٢).

[3]- **جر د جوار**: هغه حالت ده چې کله یوه کلمه د بلې مجرورې کلمې ترڅنګ راځي او د نږدېوالي له امله مجروره کیږي. دا قاعده زیاتره د آسانتیا لپاره کارول کیږي ترڅو تلفظ آسانه شي او دا قاعده اکثره د عربي ادب په متون او اشعارو کې کارول شوې ده ترڅو د الفاظو ترمنځ همغږي رامنځته شي. (التهانوي، محمد بن علي ابن القاضي محمد حامد بن محمّد صابر الفاروقي الحنفي التهانوي، موسوعة كشاف اصطلاحات الفنون والعلوم(الناشر: مكتبة لبنان ناشرون – بيروت ١٩٩٦م) ج ١ ص ٥٦٥).

[4]- **روافض**: هغه ډله ده چې په نبوت او امامت کې دومره غلو (افراط) وکړ چې د حلول (د دې عقیدې خلک دا باور لري چې الله تعالی یا د هغه قدرت یا روح د ځینو خاصو خلکو لکه پیغمبر،امام یا ولي په بدن کې حلول(پکې ننوزي یا هلته اوسیږي))عقیدې ته ورسېدل. (الشهرستاني، أبو الفتح محمد بن عبد الكريم بن أبى بكر أحمد الشهرستاني، الملل والنحل(ناشر: مؤسسة الحلبي) ج ١ ص ١٨).

[5]- امامیه شیعه ګان د پښو مسحه کول واجب ګڼي او لومړی دلیل یې په آیت شریف «وأرجلكم» د جر په قرائت باندې عمل کول دي. او دویم دلیل یې دا حدیث شریف ده لما أخرج أبو داود من حديث أوس بن أبي أوس الثقفي: « أنه رأى رسول الله صلّى الله عليه وسلم أتى كِظَامة قوم بالطائف،فتوضأ، ومسح على نعليه وقدميه»لكن هُشَيْمٍ په(الشوكاني، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني اليمني، نيل الأوطار(الناشر: دار الحديث، ط: ١٩٩٣م)ج ١ ص ٢١٣). کې وايي چې دا په ابتداء د اسلام کې و). (الحلي، المحقق الحلي،المختصر النافع في فقه الإمامية(الناشر: دار الكتاب العربي بمصر) ج ١ ص ٣٠).

قُلْنَا الْخَفْضُ إنمَّا هُوَ على الْمُجَاوِرَةُ، وَالاِتِّبَاعُ لَفْظًا، لاَ مَعْنًى. وَمِثْلُهُ: قِرَاءَةُ حَمْزَةَ وَالْكِسَائِيِّ: {وَحُورٍ عِينٍ}: بِالْخَفْضِ عَلَى الْمُجَاوِرَةِ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى: {وَفَاكِهَةٍ مِمَّا يَتَخَيَّرُونَΩ وَ لَحْمِ طَيْرٍ}.
وَفِي الْكَشَّافِ: لَمَّا كَانَتْ الْأَرْجُلُ تُغْسَلُ بِصَبِّ الْمَاءِ، وَذَلِكَ مَظِنَّةُ الْإِسْرَافِ الْمَذْمُومِ: عُطِفَتْ عَلَى الْمَسْمُوحِ؛ لاَ لِتُمْسَحَ، وَلَكِنْ لِلتَّنْبِيهِ عَلَى وُجُوبِ الاِقْتِصَادِ، وَإِنَّمَا ذَكَرَ الْمَرَافِقَ بِلَفْظِ الْجَمْعِ، وَالْكَعْبَيْنِ بِلَفْظِ التَّثْنِيَةِ؛ لِأَنَّ مَا كَانَ وَاحِدًا مِنْ وَاحِدٍ: فَتَثْنِيَتُهُ بِلَفْظِ الْجَمْعِ، وَلِكُلِّ يَدٍ مِرْفَقٌ وَاحِدٌ، فَلِذَلِكَ جُمِعَ.

موږ وايو چې دا جر (مجرور ويل) د جوار له امله دی، او له دې امله چې دا لفظ يواځې په لفظي توګه د مخکې لفظ تابع ګرځي، په معنی کې يې تابع نه ګرځي لکه د حمزه[1] او کسايي[2] قراءت په دغه آيت کې(وَحُورٍ عِينٍ) کې، چې (عين) کلمه د (حور) د کلمې د ګاونډيتوب په وجه باندې مجرور شوې ده،او همدا ډول د (طَيْرٍ)د مجرور کيدو وجه چې د (لَحْمِ)د لفظ د ګاونډيتوب له وجه مجرور شوی ده[3].

په کشاف [4] کې راغلي: دا چې د پښو مينځل په اوبو تويولو سره ترسره کيږي، او دا کار د اسراف او بې ځايه لګښت احتمال لري چې په اسلام کې اسراف حرام کار ګڼل کيږي، نو د پښو ذکر د د مسحه شويو غړو ترڅنګ راغلی دی؛ ددې لپاره نه چې د پښو مسحه کول واجب دي بلکې ددې لپاره چې د پښو په مينځلو کې بايد اسراف ونه شي.

او الله تعالی مرافق (څنګلې) د جمع په لفظ يادې کړې، او کعبين يې د تثنيې په لفظ يادې کړې دي؛ ځکه هغه څه چې يو ـ يو وي له يو شي څخه: نو د هغو تثنيه د جمع په لفظ سره راځي، او د هر لاس څخه يو مرفق (څنګل) وي، نو له همدې امله يې په لفظ د جمع ذکر کړ.

[1]- نوم يې حمزه د پلار نوم يې حبيب الزيات، د عراق د کوفې اوسېدونکی و، د عربي ژبې ماهر او د قرائت لوی عالم و. (کتاب السبعة في القراءات ج ۱ ص ۷۸).

[2]- نوم يې علي د پلار نوم يې حمزه او د کسايي په نوم مشهور و، د عراق اوسيدونکی و، د نحو لوی عالم و، د قرائت په علم کې د اوو قراءو له جملې څخه و. (مرجع سابق ۱ ص ۸۰).

[3]- د وَحُورٍ عِينٍ قرائتونه: جر: وَحُورٍ عِينٍ ← د عطف په اساس:دا د اکثره قراءو لکه حمزه، ابوعمرو، ابن کثير مشهور قرائت دی. نصب: وَحُوراً عِيناً ← د "يُزَوِّجُونَ" مفعول به ثانی ده او دا قرائت د نافع،ابن عامر اوالکسائي لخوا روايت شوی دی. (أبو علي، الحسن بن أحمد بن عبد الغفار الفارسيّ الأصل، أبو علي (المتوفى: ۳۷۷هـ)، الحجة للقراء السبعة (ناشر : دار المأمون للتراث - دمشق / بيروت، ط: ۱۹۹۳م )ج ۳ ص ۲۱۴).

[4]- الكشاف عن حقائق التنزيل کتاب ليکوال نوم محمود د پلار نوم يې عمر لقب يې جار الله د خوارزم اوسيدونکی و، د خوارزم په زمخشر سيمه کې په (۴۶۷ هـ) کې زيږيدلی او په (۵۳۸ هـ) کې وفات شوی ده. (سير أعلام النبلاء للذهبي ج ۲۰ ص ۱۵۱).

وَمِنْهُ: قَوْله تَعَالَى: {فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا}[١]، وَلَمْ يَقُلْ: قَلْبَاكُمَا، وَمَا كَانَ اثْنَيْنِ مِنْ وَاحِدٍ: فَتَثْنِيَتُهُ: بِلَفْظِ التَّثْنِيَةِ، فَلَمَّا قَالَ: إلَى الْكَعْبَيْنِ: عُلِمَ أَنَّ الْمُرَادَ: مِنْ كُلِّ رِجْلٍ كَعْبَانِ.

قَوْلُهُ: (فَفَرْضُ الطَّهَارَةِ): الْفَرْضُ فِي اللُّغَةِ هُوَ: الْقَطْعُ وَالتَّقْدِيرُ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: {سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا}[٢] أَيْ قَدَّرْنَاهَا، وَقَطَعْنَا الْأَحْكَامَ فِيهَا قَطْعًا

وَفِي الشَّرْعِ: عِبَارَةٌ عَنْ حُكْمٍ مُقَدَّرٍ، لَا يَحْتَمِلُ زِيَادَةً وَلَا نُقْصَانًا، ثَبَتَ بِدَلِيلٍ قَطْعِيٍّ، لَا شُبْهَةَ فِيهِ، كَالْكِتَابِ وَالْخَبَرِ الْمُتَوَاتِرِ، حَتَّى إنَّهُ يَكْفُرُ جَاحِدُهُ. وَيُقَالُ: فَرَضَ الْقَاضِي النَّفَقَةَ: أَيْ قَدَّرَهَا.

او له دې څخه د الله تعالى دا قول هم ده: ﴿فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا﴾. او داسې يې نه دي ويلي چې: قلباكما يعني: د دوو كسانو لپاره «قلوب» د جمع لفظ راوړل شوى، نه «قلبان»، چې تثنيه ده[٣].

او هر هغه څه چې دوه وي په يوه شي كې[٤]، نو تثنيه به يې په لفظ د تثنيه سره وي، نو هر كله يې چې وويل (إلَى الْكَعْبَيْنِ)، نو دا ورڅخه معلوميږي چې د هرې پښې دوه كعب (ښنگري) مراد دي.

**د طهارت فرضونه(د اوداسه فرضونه)**

دا قول: (د طهارت فرضونه): فرض په لغت كې پرې كولو او ټاكلو ته وايي[٥]، لكه چې الله تعالى فرمايي:{سُورَةٌ أَنْزَلْنَاهَا وَفَرَضْنَاهَا}.ژباړه: (سورة النور داسې يو سورة ده چې نازل كړى مو ده او ټاكلى مو دى) يعنې موږ مشخص كړى، او په دې كې راليږي احكامو مو قطعي گرځولي دي.

او د شريعت په اصطلاح كې فرض عبارت دى له يو ټاكل شوي حكم څخه چې نه د زياتوالي احتمال لري او نه د كموالي. ، چې په داسې قطعي دليل سره ثابت شوى وي چې هېڅ شک او شبهه په كې نه وي، لكه قرآن كريم، او خبر متواتر، تر دې چې منكر يې كافر كيږي[٦].

لكه څنگه چې ويل كيږي (فرض القاضي النفقة) يعنې قاضي نفقه وټاكله.

[١] - قرآن كريم، سورة التحريم، آيت نمبر ۴.

[٢]- قرآنكريم، سورة النور، ايت نمبر ۱.

[٣]- دا قاعده كتې مټ په (أبو البقاء الكفومي،أبو البقاء أيوب بن موسى الحسيني الكفومي، كتاب الكليات ـ لأبى البقاء الكفومى معجم في المصطلحات والفروق اللغوية(دار النشر: مؤسسة الرسالة – بيروت، ط: ۱۴۱۹هـ - ۱۹۹۸م) ج ۱ ص ۱۹۷).

[٤] - هر هغه څه چې دوه وي له يوه څخه(په يوه وجود كې دوه شيان وي) لكه كعبين چې يوه پښه دوه كعبه لري،نو عربان ورته د تثنيه لفظ كاروي اگر كه له يوه وجود څخه راټوكيدلي دي لكه الكعبين،المرفقين،العينين. . . (مرجع سابق ج ۱ ص ۱۳۳۵).

[٥] - او فرض په معنى د التأثير سره هم راغلى ده ( شمس الدين، محمد بن أبي الفتح بن أبي الغضل البعلي،أبو عبدالله،شمس الدين، المطلع على ألفاظ المقنع(ناشر: مكتبة السوادي للتوزيع ، ط: ۲۰۰۳ م) ج ۱ ص ۳۱).

[٦] - څوک چې فرضياتو كې د هغه څخه انكار وكړي چې د دين له ضروري برخو څخه دي لكه د اسلام پنځه بناوې او نور. . . ،كافر گڼل كيږي (ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي، رد المحتار على الدر المختار(ناشر يې دار الفكر-بيروت، ط: ۱۹۹۲ م )ج ۱ ص ۵۶۱).

قَوْلُهُ: (غَسْلُ الْأَعْضَاءِ الثَّلَاثَةِ): يَعْنِي الْوَجْهَ وَالْيَدَيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ، سَمَّاهَا ثَلَاثَةً وَهِيَ خَمْسَةٌ؛ لِأَنَّ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ جُعِلَا فِي الْحُكْمِ بِمَنْزِلَةِ عُضْوٍ وَاحِدٍ، كَمَا فِي الدِّيَةِ

قَوْلُهُ: (وَمَسْحُ الرَّأْسِ) إنَّمَا أَخَّرَهُ؛ لِأَنَّهُ مَمْسُوحٌ، وَالْأَعْضَاءُ: مَغْسُولَةٌ، فَلَمَّا كَانَتْ مُتَّفِقَةً فِي الْغَسْلِ: جَمَعَ بَيْنَهَا فِي الذِّكْرِ.

قَوْلُهُ: (وَالْمِرْفَقَانِ وَالْكَعْبَانِ يَدْخُلَانِ فِي الْغَسْلِ): قَالَ زُفَرُ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى: لَا يَدْخُلَانِ؛ لِأَنَّ الْغَايَةَ لَا تَدْخُلُ تَحْتَ الْمُغَيَّا كَاللَّيْلِ فِي الصَّوْمِ.

او دا قول د مصنف (د دريو اندامونو مينځل) : مراد ورڅخه مخ،دواړه لاسونه او دواړه پښې دي. كه څه هم دا غړي په شمېر كې پنځه كيږي؛خو درې بلل شوي،ځكه دواړه لاسونه په حكم كې يو غړى گڼل كيږي،لكه د ديت په احكامو كې چې يو غړى گڼل كيږي[1].

دا قول: ( د سر مسحه) دا د سر مسح يې ځكه وروسته راوړه، ځكه سر مسحه كيږي او د بدن د نورو درې غړي (مخ، لاسونه او پښې) مينځل كيږي، نو د دې لپاره چې په حكم كې يو شان و، نو په ذكر كولو كې يې هم سره يو ځاى كړل.

دا قول: (څنگلې او بيلوى (ښنگرې) هم د مينځلو په حكم كې داخليږي)[2]: امام زفر[3] رحمه الله وايي چې څنگلې او بيلوى د پښو او لاسونو سره په مينځلو كې نه داخليږي؛ ځكه چې غايه به مغيا كې نه داخليږي لكه څنگه چې (د الله تعالى په دې قول كې "وأتموا الصيام إلى الليل") كې شپه د روژې په حكم كې نه ده شامله.

---

[1] - **فقهي مسئله:** يعني كه چيرته يو څوک د چا دواړه لاسونه په خطا كې قطع كړل نو په دې سړي باندې به يو ديت وي او د دواړو لاسونو په بدل كې به ځانته ځانته ديت نه وي او د هر لاس په مقابل كې به نصف ديت وي او همدا ډول حكم په پښه كې هم ده. لِمَا رُوِيَ أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ {تَبَ فِي كِتَابِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ وَفِي الْعَيْنَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي إحْدَاهُمَا نِصْفُ الدِّيَةِ وَفِي الْيَدَيْنِ الدِّيَةُ وَفِي إحْدَاهُمَا نِصْفُ الدِّيَةِ}. (الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي(المتوفى: ٥٨٧هـ) ، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع(الناشر: دار الكتب العلمية، ط: الثانية، ١٤٠٦هـ - ١٩٨٦م) ج ١٧ ص ٧٢).

[2] - **فقهي مسئله:** همدا ډول د دريو نورو فقهي مذاهبو هم په دې اتفاق ده چې څنگلې او بيلوى د پښو په مينځلو كې داخل دي. ( تاج الدين السلمي، بهرام بن عبد الله بن عبد العزيز بن عمر بن عوض، أبو البقاء، تاج الدين السلمي الدَّمِيرِيّ الدِّمْيَاطِيّ المالكي (المتوفى: ٨٠٥هـ) ، الشامل في فقه الإمام مالك (الناشر: مركز نجيبويه للمخطوطات وخدمة التراث، الطبعة: الأولى، ١٤٢٩هـ - ٢٠٠٨م) ج ١ ص ٥٩). (الشافعي، أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المكي (المتوفى: ٢٠٤هـ)، الأم (الناشر: دار المعرفة –بيروت) ج ١ ص ٤٢). (ابن قدامة المقدسي ، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، المغني (ناشر : مكتبة القاهرة، ط: ١٩٦٨م) ج ١ ص ٩٨).

[3] - نوم يې زفر بن هزيل العنبري ده، په مسائيلو كې فقيه او د استخراج او استنباط ښتن و، د امام ابو حنيفه رحمه الله يو له مهمو شاگردانو څخه و،له (اعمش،اسماعيل بن ابي اسحاق، حجاج بن ارطاة او له امام ابوحنيفه رحمهم الله ) څخه يې روايت كړى ده او (حسان بن ابراهيم الكرماني، ابو يحيى اكثم بن محمد، ابونعيم او عبدالرحمن بن زياد) له امام زفر رحمه الله څخه روايت كړى ده، ابو نعيم الملائي وايى چې امام زفر رحمه الله ثقه ده، په (١١٠ ه) كال كې زيږيدلى ده، او په (١٥٨ ه) كال كې وفات شوى ده. (الذهبي، شمس الدين أبو عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي، تاريخ الاسلام ووفيات الشاهير والأعلام(الناشر: دار الغرب الاسلامي، الطبعة: الاولى،٢٠٠٣م) ج ٤ ص ٥١).

قُلْنَا: نَعَمْ، لَكِنْ الْمَرَافِقُ وَالْكَعْبَانِ غَايَةُ إسْقَاطٍ، فَلَا يَدْخُلَانِ فِي الْإِسْقَاطِ؛ لِأَنَّ قَوْلَهُ: {وَأَيْدِيَكُمْ}: يَتَنَاوَلُ كُلَّ الْأَيْدِي إلَى الْمَنَاكِبِ، فَلَمَّا قَالَ: {إلَى الْمَرَافِقِ}: خَرَجَ مِنْ أَنْ يَكُونَ دَاخِلًا تَحْتَ السُّقُوطِ؛ لِأَنَّ الْحَدَّ لَا يَدْخُلُ فِي الْمَحْدُودِ، فَبَقِيَ الْغَسْلُ ثَابِتًا فِي الْيَدِ مَعَ الْمَرَافِقِ. وَفِي بَابِ الصَّوْمِ: لَيْسَتْ الْغَايَةُ غَايَةَ إسْقَاطٍ، وَإِنَّمَا هِيَ غَايَةُ امْتِدَادِ الْحُكْمِ إلَيْهَا؛ لِأَنَّ الصَّوْمَ يُطْلَقُ عَلَى الْإِمْسَاكِ سَاعَةً، فَهِيَ غَايَةُ إثْبَاتٍ، لَا غَايَةُ إسْقَاطٍ.

موږ ورته[1] وایو چې هو همداسې ده، مګر مرافق (څنګلې) او کعبان (بیلدې) د اسقاط لپاره اخیري حد دی (یعنې چې له دې ور اخوا مینځل ضرور نه دي)، نو ځکه په اسقاط کې نه داخلیږي (یعنې په هغه څه کې داخل نه دي چې نه مینځل کیږي)؛ ځکه دا قول د الله تعالی: {وَأَيْدِيَكُمْ}: تر اوږو پورې ټولو لاسونو ته شامل دي، نو کله یې چې: {إلَى الْمَرَافِقِ}: وویل نو له دې نه هغه ځای ووته کوم چې د مرافق او اوږې ترمنځ ده؛ ځکه چې حد په محدود کې نه داخلیږي، نو د همدې له وجه مرافق د لاس په مینځلو کې له لاس سره داخل شول[2].

(دا د هغه ایت سره فرق لري چې د روژې په اړه راغلی چې الله تعالی په کې فرمایي «وأتموا الصيام الى الليل») ځکه د روژې اړونده ایت کې د اسقاط اخیري حد نه بیانیږي، بلکې په هغه ایت کې د روژې د حکم د غزیدو اخیري حد بیانیږي،ځکه چې روژه د خوراک، څښاک، جماع او نورو مفسداتو څخه د ځان ساتلو په معنی ده، حتی که هغه یوازې د لنډ وخت لپاره هم وي. نو دا د حکم د دغزیدو د اخیري حد ښودنه کوي، نه د هغه د اسقاط او د له منځه تللو[3].

---

[1]- دلته امام زفر رحمه الله ته ځواب ورکول کیږي.

[2] - **فقهي مسئله:** له احنافو سره جمهور فقهاء (امام شافعي، امام مالک، امام احمد بن حنبل عطاء او اسحاق رحمهم الله) هم موافق دي او دوی هم په دلیل کې د نص په عمومیت باندې دلیل نیسي چې لفظ د (وَأَيْدِيَكُمْ) اطلاق هره برخه په بر کې نیسي. (الأم للشافعي ج ۱ ص ۴۸. (الشامل في الفقه امام مالک ج ۱ ص ۵۸). (المغني لابن قدامه ج ۱ ص ۹۰).

[3]- په آیت کې چې الله تعالی وایي: {ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ}،دا "الليل" (شپه) د روژې د پای (غایه) په توګه ذکر شوې،خو دا غایه د دې لپاره نه ده چې روژه ترې جلا شي (یعنې نه ده غاية إسقاط)، بلکې د دې لپاره ده چې روژه تر هغې وخته دوام ومومي (یعنې دا غاية امتداد ده)،ځکه چې حتی که یو څوک لږ وخت هم امساک وکړي، هغه صوم بلل کیږي، نو شپه هم د صوم د دوام حد ګڼل شوې، نه د ختمېدو، نو دا غایه (شپه) د صوم برخه ده، نه دا چې صوم تر هغې پای ته رسېدلی وي. (أكمل الدين، محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين أبو عبد الله ابن الشيخ شمس الدين ابن الشيخ جمال الدين الرومي البابرتي (المتوفى: ۷۸۶هـ) ، العناية شرح الهداية (الناشر: دار الفكر) ج ۱ ص ۱۵).

وَاعْلَمْ أَنَّ الْغَايَاتِ أَرْبَعٌ: غَايَةُ مَكَان، وَغَايَةُ زَمانٍ، وَغَايَةُ عَدَدٍ، وَغَايَةُ فِعْلٍ.

١- فَغَايَةُ الْمَكَانِ: مِنْ هَذَا الْحَائِطِ إِلَى هَذَا الْحَائِطِ.

٢- وَغَايَةُ الزَّمَانِ: {ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ}[١]. وَكِلاَهُمَا لاَ يَدْخُلاَنِ فِي الْمُغَيَّا.

٣- وَغَايَةُ الْعَدَدِ: لَهُ مِنْ دِرْهَمٍ إِلَى عَشَرَةٍ، وَأَنْتِ طَالِقٌ مِنْ وَاحِدَةٍ إِلَى ثَلاَثٍ. وَهِيَ لاَ تَدْخُلُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَزُفَرَ، وَعِنْدَهُمَا: تَدْخُلُ.

٤- وَغَايَةُ الْفِعْلِ: أكلت السَّمَكَةَ حَتَّى رَأْسَهَا: إِنْ نَصَبْت السِّينَ: دَخَلَتْ، وَتَكُونُ حَتَّى: بِمَعْنَى الْوَاوِ، عَاطِفَةً. وَإِنْ خَفَضْتهَا: لَمْ تَدْخُلْ، وَتَكُونُ حَتَّى: بِمَعْنَى: إِلَى.

غايات[٢] په څلورم قسمه دي: غاية د مكان، غاية د زمان، غاية د عدد او غاية د فعل.

١- غاية د مكان: له دې ديوال څخه تر دې ديواله پورې.

٢- غاية د زمان: لكه په دغه قول د الله تعالى كې (بيا تر شپې پورې روژه پوره كړئ. (په غايه د مكان او غاية د زمان كې غاية په مغيا كې نه داخليږي).

٣- غاية د عدد: له يوه درهم څخه تر لس درهمو پورې هغه لپاره دي، ته طلاقه يې له يوه څخه تر دريو طلاقو پورې. (دلته د امام ابو حنيفة او امام زفر رحمة الله عليهما په نزد غاية په مغيا كې نه داخليږي، لكن د صاحبينو رحمهما الله په نزد داخليږي).

٤- غاية د فعل: لكه "أكلت السمكة حتى رأسها" كه چيرته په دې عبارت كې د (رأس) سين ته نصب (زور) وركړل شي، نو د فعل غايه په مغيا كې داخليږي، او حتى به د واو عاطفه په معنى سره كيږي، نو دا معنى ورڅخه راوځي (ماهى مې وخوړه تر دې چې د ماهي سر مې هم ورسره وخوړ). او كه په (رأس) كې سين ته جر وركړل شي، نو غاية په مغيا كې نه داخليږي او حتى په معنى د الى جاره سره كيږي او معنى يې دا راوځي (ماهى مې تر سره پورې وخوړ).

---

[١]- قرآنكريم، سورة البقرة، آيت نمبر ١٨٧.

[٢]- غايت انتهاء د شي ته وايي او د دغو حروفو له لوري معلوميږي:١- حتى لكه (ولا تقربوهن حتى يطهرن). ٢- إلى لكه (ثم أتموا الصيام إلى الليل). ٣- لام لكه (لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ) سورة الحديد، آيت: ٢٥. (المرداوي، علاء الدين أبي الحسن علي بن سليمان المرداوي الحنبلي (المتوفى: ٨٨٥هـ)، التحبير شرح التحرير في أصول الفقه (الناشر مكتبة الرشد –السعودية / الرياض، ط: ٢٠٠٠م) ج ٦ ص ٢٩٣٤).

وَإِنَّمَا قَالَ: يَدْخُلَانِ فِي الْغَسْلِ، وَلَمْ يَقُلْ: بِفَرْضِ غَسْلِهِمَا؛ لِأَنَّهُمَا إِنَّمَا يَدْخُلَانِ عَمَلاً، لَا اعْتِقَاداً، حَتَّى لَا يَكْفُرَ جَاحِدُ فَرْضِيَّةِ غَسْلِهِمَا.

قَوْلُهُ: (وَالْمَفْرُوضُ فِي مَسْحِ الرَّأْسِ: مِقْدَارَ النَّاصِيَةِ، وَهُوَ رُبُعُ الرَّأْسِ). وَالنَّاصِيَةُ هِيَ: الشَّعْرُ الْمَائِلُ إِلَى نَاحِيَةِ الجبهة. وَالرَّأْسُ: أَرْبَعُ قِطَعٍ: النَّاصِيَةُ، وَالْقَذَالُ، وَالْفَوْدَانِ.

فَقَوْلُهُ: مِقْدَارَ النَّاصِيَةِ: إِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهُ يَجُوزُ أَنْ يَمْسَحَ أَيَّ الْجَوَانِبِ شَاءَ مِنْ الرَّأْسِ بِمِقْدَارِهَا.

او همدا وجه ده چې ويلي يې دي: دا دواړه په غسل کې شامل دي، خو دا يې ندي ويلي چې: د دواړو مينځل فرض دي؛ ځکه دا شموليت يواځې د عملي اړخه دی، نه د عقيدې له پلوه، ترڅو که څوک د دوی د مينځلو فرضيت ونه مني، کافر ونه ګرځي[1].

دا قول: (د سر په مسحه کې د ناصيې په اندازه مسحه فرض کړای شوې ده، او ناصيه: څلورمه برخه د سر ده) ناصية: هغې برخې د سر ته وايي چې د تندي خوا ته يې ويښتان را پراته دي. سر څلور برخې لري: ۱- ناصية. ۲- قذال[2]. ۳- فود طرف اليمين. ۴- فود طرف اليسار[3].

دا قول: (چې د ناصيې په اندازه مسحه فرض ده) اشاره دې ته ده چې د ناصيې په اندازه چې د سر له هرې برخې څخه مسحه شي، نو جائز ده[4].

---

[1] - څوک چې د مؤمن به شيانو څخه (په الله تعالی، ملائيکو، کتابونو، رسولانو، د قيامت ورځ، په خير او شر څخه چې د الله تعالی له جانبه څخه ده او په بيا ژوندون د آخرت باندې ايمان درلودلو باندې) او د داسې شي څخه انکار وکړي چې په دين کې د ضرورياتو څخه وي، نو کافر دی. (الصوفي، الدكتور عبد القادر بن محمد عطا صوفي، أثر الملل والنحل القديمة في بعض الفرق المنتسبة إلى الإسلام (الناشر: الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة، ط: ۲۰۰۴م) ج ۱ ص ٦٦).

[2] - آخر د سر ته وايي. (أبن منظور، محمد بن مكرم بن منظور الأفريقي المصري، لسان العرب (الناشر: دار صادر – بيروت) ج ۱۱ ص ۵۵۳).

[3] - او فودان دوو طرفو د سر ته وايي، کوم چې د ښي او چپ طرف د غوږ ته يې ويښتان ورمائل شوي دي. (مرجع سابق ج ۳ ص ۳۴۰).

[4] - **فقهي مسئله:** د احنافو په نزد د سر د مسحې اندازه په اوداسه کې ناصية (څلورمه برخه د سر ده) او دليل يې داده چې په دغه آيت شريف کې {وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ} کې د (باء) توری د تبعيض لپاره ده او د دغه تبعيض بيان په دا فعل د رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې کيږي (لِمَا رَوَى الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ (أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى سُبَاطَةَ قَوْمٍ، فبال، و توضأ، و مسح على ناصيته، و خفيه). امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد د ټول سر مسحه کول د احتياط له وجه فرض دی. او دليل يې دا دی چې په دغه آيت شريف کې {وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ} کې حرف (باء) د تأکيد لپاره ده. نو معنی يې دا شوه: خپل سرونه مسح کړئ. او بل دليل يې داده چې د اودس آيت د تيمم آيت ته ورته دی، او الله تعالی په تيمم کې د ټول مخ د مسح کولو حکم کړی دی، لکه څنګه چې الله تعالى فرمايي: {فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ} نو کله چې په تيمم کې د ټول مخ مسح کول لازم دي، همداراز بايد دلته هم د ټول سر مسح وشي، او د سر د يوې برخې مسح کفايت نه کوي. امام شافعي رحمه الله وايي چې په دغه آيت شريف کې {وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ} کې د (باء) توري د تبعيض لپاره ده او د آيت مفهوم له عقله داسې درک کيږي چې: هر څوک چې د خپل سر څخه څه برخه مسح کړي، نو ده په خپل سر مسح کړې، او دا آيت همداسې معنا لري، او دا د آيت تر ټولو څرګنده معنا ده. يا دا معنا لري چې ټول سر مسح شي. خو سنت دا څرګنده کړه چې په انسان د ټول سر مسح فرض نه ده. او کله چې سنت دا بيان کړي، نو د آيت معنی دا شوه چې څوک که د خپل سر له برخې څه شی مسح کړي، نو دا بسنه کوي. همدارنګه که يو سړی د خپل سر له هر ځايه مسح وکړي، دا به کفايت کوي، که چيرې سر بې ويښتو وي، او يا د خپلو ويښتانو له هر ځايه وغواړي مسح وکړي، نو که دا مسح يې په يوه ګوته، يا د ګوتې په يوې برخې، يا د لاس د تل سره وکړي، يا چاته ووايي چې مسح پرې وکړي، دا ټول به کفايت کوي. همدارنګه که يې د سر د دوو برخو (نَزعَتين) څخه يوه يا دواړه يا د دواړو يوه برخه مسح کړه، دا به هم بسنه کوي، ځکه دا د هغه د سر برخه ده. (المرغيناني، علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين، متن بداية المبتدي في فقه الإمام أبي حنيفة (ناشر: مكتبة ومطبعة محمد علي صبح – القاهرة ج ۱ ص ۳). (الشامل في فقه الإمام مالك ج ۱ ص ۵۸). (المغني لابن قدامه ج ۱ ص ۹۳). (الأم د امام شافعي رحمه الله ج ص ۴۱).

وَإِنَّمَا قَالَ: وَالْمَفْرُوضُ: وَلَمْ يَقُلْ: وَالْفَرْضُ؛ لِأَنَّ الْمُرَادَ كَوْنُهُ مِقْدَارًا لَا مَقْطُوعًا بِهِ؛ لِأَنَّ الْفَرْضَ هُوَ الْقَطْعُ، حَتَّى إِنَّهُ لَا يَكْفُرُ جَاحِدُ هَذَا الْمِقْدَارِ. وَالتَّقْدِيرُ بِمِقْدَارِ النَّاصِيَةِ: هُوَ اخْتِيَارُ الشَّيْخِ. وَفِي رِوَايَةٍ: مِقْدَارُ ثَلَاثَةِ أَصَابِعَ.

وَلَوْ أَدْخَلَ الْمُحْدِثُ رَأْسَهُ فِي الْإِنَاءِ يُرِيدُ مَسْحَهُ: أَجْزَأَهُ عَنْ الْمَسْحِ، وَلَا يَفْسُدُ الْمَاءُ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَصِيرُ الْمَاءُ مُسْتَعْمَلًا، وَلَا يُجْزِيهِ عَنْ الْمَسْحِ. وَكَذَا الْخُفُّ عَلَى هَذَا الِاخْتِلَافِ.

او مصنف وويل: «والمفروض»: يعنې په مسحه د سر کې يې د (المفروض) په صيغې د اسم مفعول سره وويل، او فرض يې ونه ويل، ځکه دغه اندازه مسحه قطعي نه ده، د فرض معنی ده قطعي، تردې چې د مسحې له دغې مقدار (ناصيه) څخه څوک منکر شي، نو نه کافر کيږي. او د ناصيه په اندازه سره د سر مسحه امام قدوري رحمة الله عليه غوره کړې ده. په يوه روايت[1] کې د سر مسحه د درې ګوتو په اندازه هم ښودل شوې ده.

که بې اودسه سړی په اوبو کې سر دننه کړي، نو مسحه يې وشوه، او د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد اوبه يې هم پاکې دي او مستعملې نه دي ګرځېدلي.

او د امام محمد[2] رحمه الله په نزد اوبه مستعملې ګرځېدلي، او مسحه يې هم نه ده شوې، او په موزه کې هم د دوی ترمنځ دا ډول اختلاف ده[3].

[1] - په مذهب کې د نادرو روايتو څخه ده او د ظاهر الرواية څخه نه ده. (البناية شرح الهداية ج ١ ص ٩١).

[2] - د اسلامي نړۍ ستر فقيه او محدث نوم محمد بن حسن بن فرقد، تخلص يې الشيباني او نوم د کنيه يې ابو عبدالله ده، په (١٣٢ هـ) کال کې په کوفه کې زېږېدلی ده، د امام ابو حنيفه رحمه الله له مشهورو شاګردانو څخه و، له کتابونو څخه يې ځينې(الجامع الصعير، الجامع الکبير، السير الصغير،السير الکبير،مبسوط او زيادات) دي، په (١٨٩ه) کال کې وفات شو. ( سير أعلام النبلاء للذهبي ج ١٧ ص ١٤٠).

[3] - **فقهي مسئله:** دغه اختلاف د امام أبي يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله ترمنځ دی، او د هغه مبني د "الماء المستعمل" (استعمال شوی اوبه) د تعريف او حکم پر اختلاف ولاړ دی. اول: د مسألې تشريح:که يو کس، چې محدث (بې‌اودسه) دی، خپل سر د اوبو لوښي (لګن) ته دننه کړي، ددې لپاره چې مسح پرې وکړي، نو امام ابو يوسف وايي: دا مسح جائز دی، او اوبه ناپاکې نه کيږي. امام محمد وايي: اوبه مستعملې کيږي، نو نه دا چې مسح پرې روا وي، او نه هم دا اوبه د طهارت لپاره پاتې کيږي. دوهم: د اختلاف ځای اختلاف په دوو اساسي ټکو کې دی:اول:آيا دا اوبه مستعملې شوې بلل کيږي؟ نوهم:او که مستعملې وي، آيا مستعملې اوبه د وضوء يا مسح لپاره کارېدلی شي؟ دريم: د اختلاف مبني او وجه:تعريف الماء المستعمل (استعمال شوې اوبه). امام محمد رحمه الله وايي: هر هغه اوبه چې د بدن د طهارت لپاره وکارول شي، مستعملې دي، که يې د بدن دننه شي يا د باندې، او که د فرض طهارت لپاره وي يا د سنت لپاره. نو کله چې محدث خپل سر د اوبو لوښي ته ننباسي، دا اوبه د بدن د طهارت لپاره وکارېدې، نو مستعملې شوې. مستعملې اوبه د نوې طهارت لپاره نشي کارېدلی. ځکه دا اوبه نور د طهارت رفع کولو خاصيت نه لري. امام ابو يوسف رحمه الله وايي: مستعملې اوبه هغه دي چې له بدنه جلا شي، نه دا چې لا تر اوسه د بدن سره يو ځای وي. دلته سر يوازې دننه شو، اوبه د بدن څخه جلا نه شوې، نو مستعملې نه دي. نو نه فاسدېږي، او نه هم مسح باطلېږي. آيا مستعملې اوبه د طهارت لپاره کارېدلی شي؟امام محمد: نه شي کارېدلی، ځکه مستعملې اوبه د فرض طهارت لپاره کافي نه دي. امام ابو يوسف: که اوبه د بدن سره يو ځای وي، مستعملې نه ګڼل کيږي، نو کارېدلی شي. (ابن نجيم الحنفي، زين الدين بن إبراهيم بن محمد الشهير بابن نجيم الحنفي، البحر الرائق شرح کنز الدقائق(ناشر : دار احياء التراث العربي، ط: ٢٠٠٢ م )ج ١ ص ٤١).

قَوْلُهُ: (لِمَا رَوَى الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ (أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى سُبَاطَةَ قَوْمٍ، فبال، و توضأ، و مسح على ناصيته، و خفيه): فِي هَذَا الْحَدِيثِ سِتُّ فَوَائِدَ: أَحَدُهَا: جَوَازُ دُخُولِ مِلْكِ الْغَيْرِ الْخَرَابِ بِغَيْرِ إذْنِهِ؛ لِأَنَّهُ سُبَاطَةُ قَوْمٍ، وَالسُّبَاطَةُ: قِيلَ: هِيَ الدَّارُ الْخَرَابُ

وَقِيلَ: هِيَ الْكُنَاسَةُ: بِضَمِّ الْكَافِ، وَهِيَ: الْقُمَامَةُ، وَالْمُرَادُ هُنَا: مَوْضِعُ إلْقَائِهَا، وَأَمَّا الْكُنَاسَةُ: بِالْكَسْرِ فَهِيَ الْمِكْنَسَةُ. وَالثَّانِيَةُ: جَوَازُ الْبَوْلِ فِي دَارِ غَيْرِهِ الْخَرَابِ، دُونَ الْغَائِطِ؛ لِأَنَّ الْبَوْلَ تُنَشِّفُهُ الْأَرْضُ، فَلَا يَبْقَى لَهُ أَثَرٌ، وَالثَّالِثَةُ: أَنَّ الْبَوْلَ يَنْقُضُ الْوُضُوءَ.

دا قول: (چې د مغيرة بن شعبة[1] څخه روايت ده، چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يوه قوم خرابه ځای (ډېران) ته راغی، تش جواب چاي يې وکړ، اودس يې وکړ او بيا مسحه يې په ناصيه (څلورمه برخه د سر) او موزو باندې وکړه). [2]

په پورتني حديث شريف کې شپږ فايدې دي:

اول: د يوه چا داسې ملکيت ته داخلېدل چې خراب او د استفادې وړ نه وي، نو د مالک د اجازې پرته ورننوتل جايز ده؛ ځکه سباطة: ځينو خراب کور ته ويلی او ځينو بيا ولي چې کناسة ته وايي په پيښ د کاف سره: او مراد ورڅخه هغه ځای ده چې څوک هلته د جارو کړي شيان او اشغال اچوي. او کناسة په زير د کاف سره: جارو ته وايي.

دويم: په خرابه کور کې چې د بل چا ملکيت وي، تشې متيازې په کې کول جواز لري لکن غټې متيازې په کې کول جواز نه لري؛ ځکه چې تشې متيازې ځمکه ځان ته کش کوي (جذبوي) او په ځمکه کې يې کوم اثر نه پاتې کيږي.

دريم: تشې متيازې اودس ماتوي.

---

[1]- نوم يې مغيره د پلار نوم شعبه د سعودي عربستان په طائف کې په (۲هـ) کې زېږېدلی ده، د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم له لويو صحابه کرامو څخه و، جگه ونه او هيبتي څهره يې درلوده،په بيعت رضوان کې يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره بيعت کړی و،د سترگو نظر يې د يرموک يا قادسيه په جگړې کې له لاسه ورکړ. (سير أعلام النبلاء للذهبي ج ۳ ص ۲۱).

[2]- په (العناية شرح الهداية ج ۱ ص ۱۵)، کې ويل شوي چې چا ويلي چې دا حديث، حديث واحد ده، او چا ويلي چې دا دوه حديثونه ده او امام قدوري يې په منځ کې جمع کړې. او دا په اصل کې دوه حديثونه دي چې دواړه د مغيرة رضي الله څخه روايت شوي. چې يو امام مسلم په خپل صحيح کې په (۲۴۷) شمېرې حديث کې روايت کړی ده (أنه صلى الله عليه وسلم توضأ، فمسح بناصيته، وعلى العمامة، وعلى الخفين)، او بل ابن ماجه په (۳۰۶) شمېرې حديث کې داسې روايت کړی ده ((أنه صلى الله عليه وسلم أتى سباطة قوم، فبال قائما)) شيخ الألباني رحمه الله دا حديث صحيح گڼلی ده. (الألباني، محمد ناصر الدين الألباني، صحيح وضعيف سنن ابن ماجة ج ۱ ص ۳۷۷) . وگوره (ابن الهمام، كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام (المتوفى: ۸۶۱هـ)، فتح القدير (ناشر : دار الفكر) ج ۱ ص ۱۷).

وَالرَّابِعَةُ: أَنَّ الْوُضُوءَ بَعْدَهُ مُسْتَحَبٌّ، وَالْخَامِسَةُ: تَقْدِيرُ مَسْحِ الرَّأْسِ بِالنَّاصِيَةِ، وَالسَّادِسَةُ ثُبُوتُ مَسْحِ الْخُفَّيْنِ بِالسُّنَّةِ.

څلورم: د تشو متيازو څخه وروسته اودس کول مستحب ده.

پنځم: د سر په څلورمې برخې باندې د سر د مسحې د اندازې ټاکنه [1].

شپږم: د موزو مسحه کول په سنتو باندې ثابته ده[2].

---

[1]- **فقهي مسئله:** د سر د مسحې په اړه د فقهاوو ترمنځ د مسحې په مقدار او کيفيت کې اختلاف دی: حنفي فقهاء وايي چې د سر څلورمه برخه (ربع) مسحه کول فرض دی. او دليل يې دغه قول د الله تعالی ده: "وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ" (المائدة: ٦). په دې آيت کې د مسحې اندازه مجمله ده او د اجمال بيان رسول الله صلی الله عليه وسلم په دغه حديث شريف کې کړی ده(وَقَدْ رَوَى الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ عَنْ «النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ بَالَ، وَتَوَضَّأَ، وَمَسَحَ عَلَى نَاصِيَتِهِ».( بدائع الصنائع ج ١ ص ٥). شافعي فقهاء وايي چې د سر لږ مقدار مسحه کول فرض دي، که څه هم يو ويښته وي او دليل يې دا آيت دی: "وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ"د دوی په نزد په آيت شريف کې "ب" د تبعيض لپاره ده، نو ځکه د سر د ځينې برخې په مسحه کولو سره فرض اداء کيږي. او بل دليل يې په دغه حديث شريف کې (عن مغيرة بن شعبة رضي الله عنه قال: ″ أن النبي صلى الله عليه وسلم توضأ فمسح بناصيته و على العمامة والخفين ) (رواه مسلم: ٢٧۴). د رسول الله ﷺ د عمل څخه استدلال کول دي چې کله يې په عمامه (لونگی) باندې مسحه وکړه، چې لږ مقدار ته اشاره لري. (الأم للشافعي، ج١، ص٢٩). امام مالک رحمه الله وايي چې د سر ټوله برخه مسحه کول فرض دي. او دليل يې د دې آيت شريف عموم دی: "وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ"د امام مالک رحمه الله په نزد په آيت شريف کې "بِ" د زائد توری ده او د تأکيد لپاره ده لکن د امام مالک رحمه الله ځينې اصحاب وايي چې د سر د يوې برخې مسحه کول فرض دي. (ابن رشد، أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي الشهير بابن رشد الحفيد (المتوفى : ٥٩٥هـ)، بداية المجتهد ونهاية المقتصد (الناشر: دار الحديث –القاهرة، ط: ٢٠٠۴ م) ج ١ ص ١٩). حنبلي فقهاء هم د سر لږ مقدار مسحه کولو ته قانع دي، خو ټول سر مسحه کول غوره گڼي. د دوی دليل همدا آيت دی او د حديث استدلال کوي چې په مسح کې تخفيف شته. (المغني لابن قدامة، ج ١، ص ١٩٣).

[2] - **فقهي مسـئله:** د مسـح الخفين (پر موزو مسـحه کول) په اړه د فقهاوو ترمنځ اختلاف ده: حنفي فقهاء پر موزو مسـحه کول جايز گڼي، خو د ځينو شرطونو په پوره کولو سره: شرطونه: موزې بايد له داسـې موادو جوړ وي چې اوبه داخل ته ورنه ننوځي. موزې بايد د اوږده مزل وهلو لپاره مناسـب وي. مسـحه کول يوازې په طهارت باندې د موزو اغوستلو وروسته جايز دی. د مسحې موده: مقيم لپاره: يوه شپه او ورځ (٢۴ ساعته) . مسافر لپاره: درې ورځې او شپې (72 ساعته) . او دليل يې دا حديث شريف ده: "رَخَّصَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ لِلْمُسَافِرِ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيهِنَّ، وَلِلْمُقِيمِ يَوْمًا وَلَيْلَةً، إِذَا تَطَهَّرَ فَلَبِسَ خُفَّيْهِ. " (رواه مسلم، حديث: ٢٧٦) . د احاديثو پر بنسټ، د مسحې جواز پر تخفيف او د سفر د آسانتيا لپاره دی. (الدر المختار، ج١، ص٢٧٣) . شافعيه هم پر خفونو مسحه کول جائز گڼي، خو د شرايطو له پوره کېدو ورو سته. شرطونه: خفونه بايد له پو ستکي يا بل دا سې موادو جوړ وي چې اوبه ترې تېرې نـشي . بايد پوره طهارت موجود وي. موده هم د حنفيانو په څېر ده (مقيم: يوه شپه او ورځ؛ مسافر: درې ورځې او شپې) . خفونه بايد د کعبو (ښېنگرو) څخه پورته وي. دليل: دا حديث شريف ده: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَمْسَحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ. " (رواه البخاري، حديث: ٢٠٢) . شافعيه په دې ټينگار کوي چې د موزو په مسح کې سنت ښکاره دی، خو موزې بايد ټول شرطونه پوره کړي. (الأم للشـافعي، ج ١ ص ٢٢) . مالکي فقهاء هم پر موزو باندې مسـحه کول جائز گڼي، خو له حنفي او شـافعي مذاهبو سره يې د شرطونو په وضاحت کې لږ توپير دی. شرطونه: خفونه بايد له پوره پاکو موادو جوړ وي. خفونه بايد د طهارت په حالت کې اغوستل شوي وي. مسحه د طهارت ساتلو لپاره وي، نه د جنابت له پاکۍ ورو سته. دليل: مالکيه هم د پورتنيو احاديثو له عموم څخه دليل اخلي او د عملي آ سانتياوو پر بنـسټ يې جائز گڼي. (المدونة الکبری، ج١، ص٨١) . حنابله د موزو په مسـح کې خورا نرم او آسـانه نظر لري او ورته جواز ورکوي. شرطونه: په موزو کې د اوبو نه ننوتل اړين نه دی، بلکې د سـفر يا د اړتيا پر اسـاس جواز لري. خفونه بايد د کعبو (ښېنگرو) څخه پورته وي. موده د نورو مذاهبو په څېر ده. دليل: دا حديث شريف ده: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يَأْمُرُنَا إِذَا كُنَّا سَـفَرًا أَلَّا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ. " (رواه الترمذي، حديث: ٩٦) . حنابله په دې مسـله کې د تخفيف او عملي آسـانتيا پر اصـل ټينگار کوي. (المغني لابن قدامة، ج ١ ص ٢١١).

وَإِنَّمَا أَوْرَدَ الْحَدِيثَ هَكَذَا مُطَوَّلًا، وَالْحَاجَةُ إنَّمَا هِيَ إلَى مَسْحِ النَّاصِيَةِ؛ لِيَكُونَ أَدَلَّ عَلَى صِدْقِ الرَّاوِي، وَإِتْقَانِهِ لِلْحَدِيثِ.

قَوْلُهُ: (وَسُنَنُ الطَّهَارَةِ): السُّنَّةُ فِي اللُّغَةِ هِيَ الطَّرِيقَةُ، سَوَاءٌ كَانَتْ مُرْضِيَةً أَوْ غَيْرَ مُرْضِيَةٍ.

قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً: كَانَ لَهُ ثَوَابُهَا وَثَوَابُ مَنْ عَمِلَ بِهَا إلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ سَنَّ سُنَّةً سَيِّئَةً: كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا إلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ.

وَهِيَ فِي الشَّرْعِ: عِبَارَةٌ عَمَّا وَاظَبَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَوْ أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِهِ، وَيُؤْجَرُ الْعَبْدُ عَلَى إتْيَانِهَا، وَيُلَامُ عَلَى تَرْكِهَا، وَهِيَ تَتَنَاوَلُ الْقَوْلِيَّ وَالْفِعْلِيَّ.

قَالَ الْفَقِيهُ أَبُو اللَّيْثِ: السُّنَّةُ: مَا يَكُونُ تَارِكُهَا فَاسِقًا، وَجَاحِدُهَا مُبْتَدِعًا، وَالنَّفَلُ: مَا لَا يَكُونُ تَارِكُهُ فَاسِقًا، وَلَا جَاحِدُهُ مُبْتَدِعًا.

په دې عبارت کې يې حديث په اوږده بڼه راوړی دی، سره له دې چې يوازې د اړوند برخې (د ناصيې د مسحې) ذکر کافي و. دا کار يې ځکه کړی چې د راوي صداقت او د هغه د نقل دقت په ښه توګه ثابت شي او شک په کې ونه شي[1].

## د طهارت سنتونه(د اوداسه سنتونه)

دا قول: (د اوداسه سنتونه) : سنت په لغت کې روش او طريقې ته وايي کې هغه که ښه طريقه وي او که بده لار وي.

لکه څنګه چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چا چې يوه ښه لاره ايجاد کړه، نو دده لپاره ددې لارې د ايجاد ثواب هم وي او څوک چې په دې لارې تګ کوي د هغه ثواب به هم ده ته رسيږي، بې له دې څخه چې د هغه له ثواب څخه څه شی کم شي، او چا چې يوه بده لار ايجاد کړه، ددې د ايجاد ګناه به هم وربانديې وي او څوک چې په دغې لار باندې تګ کوي د هغه ګناه به هم وربانديې وي د قيامت تر ورځ بې له دې چې د هغه له ګناه څخه څه شی کم شي[2].

او سـنت د شرعې په اصـطلاح کې هر هغه څه ته ويل کېږي چې رسـول الله صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ او يا د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوم يوه صحابي پرې همېشه والی کړی وي ، او حکم يې داده چې په کولو سره يې اجر او ثواب ورکول کيږي او په پرېښـودلو سره يې سـرې ملامت کيږي او دا قولي او فعلي دواړو ډولونو ته شـامل دی.

فقيه ابو ليث رحمه الله وايي چې سنت هغه دي چې ترک کوونکی يې فا سق او منکر يې بدعتي ګرځي، او نفل هغه دي چې ترک کوونکی يې فاسق او منکر يې بدعتي نه ګرځي.

---

[1]- د مؤلف هدف دا دی چې د حديث بشپړ روايت راوړي ــ يعني د نبي صلى الله عليه وسلم د بولو، اوداسه، د ناصيې او خفينو د مسح کولو تفصيل ــ سره له دې چې اصلي اړتيا يوازې د "ناصيې مسح" يادونه وه.

[2]- په الجوهرة النيرة کې چې د حديث کوم الفاظ راغلي،بيواځې ما په شرحه د صحيح مسلم کې پيدا کړل). (من سن سنة حسنة كان له أجرها وأجر من عمل بها إلى يوم القيامة، ومن سن سنة سيئة كان عليه وزرها) وورد: (من عمل بها إلى يوم القيامة). (عياض اليحصبي، العلامة القاضي أبو الفضل عياض اليحصبي، إكمال المعلم شرح صحيح مسلمى، باب تغليظ تحريم الدماء والأغراض ج ٥ ص ٢٤٨).

قَوْلُه: (غَسْلُ الْيَدَيْنِ ثَلَاثًا) يَعْنِي إِلَى الرُّسْغِ، وَهُوَ مُنْتَهَى الْكَفِّ عِنْدَ الْمَفْصِلِ. وَيَغْسِلُهُمَا قَبْلَ الِاسْتِنْجَاءِ، وَبَعْدَهُ هُوَ الصَّحِيحُ، وَهُوَ سُنَّةٌ، تَنُوبُ عَنْ الْفَرْضِ، حَتَّى إِنَّهُ لَوْ غَسَلَ ذِرَاعَيْهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُعِيدَ غَسْلَ كَفَّيْهِ: أَجْزَأَهُ.

قَوْلُهُ: (قَبْلَ إِدْخَالِهِمَا الْإِنَاءَ): أَيْ إِدْخَالِ أَحَدِهِمَا. وَيُسَنُّ هَذَا الْغَسْلُ مَرَّتَيْنِ: قَبْلَ الِاسْتِنْجَاءِ وَبَعْدَهُ.

قَوْلُهُ: إِذَا اسْتَيْقَظَ الْمُتَوَضِّئُ مِنْ نَوْمِهِ). هَذَا شَرْطُ وِفَاقٍ، لَا قَصْدٍ، حَتَّى إِنَّهُ سَنَّهُ لِلْمُسْتَيْقِظِ، وَغَيْرِهِ وَسُمِّيَ مُتَوَضِّئًا؛ لِأَنَّ الشَّيْءَ إِذَا قَرُبَ مِنْ الشَّيْءِ: سُمِّيَ بِاسْمِهِ، كَمَا قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: «لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ» سَمَّاهُمْ مَوْتَى؛ لِقُرْبِهِمْ مِنْهُمْ.

دا قول: (د لاسونو درې ځلې مينځل) يعنې تر مړوندونو (رسغ) پورې، او «رسغ» د لاس د بند لور ته د ورغوي اخيري برخې ته ويل کېږي او راجح قول دا دی چې د لاسونو مينځل مخکې له استنجاء او هم وروسته له استنجاء سنت دي، او دا داسې سنت دي چې د فرضو قائمقام گرځي، نو که چا څنگلې پرېمينځلې او بيا يې ورسره لاسونه دوباره و نه مينځل نو فرض يې ادا شول.

دا قول: (د لاسونو مينځل مخکې له دې چې دواړه لوښي ته داخل کړی شي): هدف يې دا دی چې لوښي کې د يو لاس د داخلولو څخه دمخه د لاسونو پرېمينځل (هدف يې دا دی چې صيغه خو د تثنيې ذکر شوی خو مراد ترې يو لاس دی، ځکه غالبا خلک لوښي کې يو لاس داخلوي)، نو د لاسونو مينځل دوه ځله سنت دي مخکې له استنجاء څخه او وروسته له استنجاء کولو څخه.

دا قول: ( کله چې اودس کوونکی له خوب څخه راويښ شي): دا يو اتفاقي قيد دی، قصدي قيد نه دی [1] (يعنې دا قيد معتبر نه دی) له همدې امله د لاسونو مينځل د ټولو لپاره سنت دي چې د خوب څخه را ويښ شوي وي او که نه وي را ويښ شوي، او ده ته متوضئ (اودس کوونکی) وويل؛ ځکه چې کله يو شی بل شي ته نږدې شي، نو د هغه په نوم ياديږي، لکه پيغمبر عليه السلام چې په دې حديث کې فرمايي: "القنوا موتاکم" خپلو مړو ته د لا اله الا الله تلقين وکړئ[2](په دې حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه چا ته مړي وويل چې تر اوسه ژوندي دی او د ځنکندن په حالت کې دي؛ ځکه چې دوی مرگ ته نږدې دي [3].

---

[1]- د عبارت مفهوم:شرط وفاق: هغه قيد دی چې د غالب حالت يا عرف بيان لپاره ذکر شوی وي، نه دا چې حکم پرې محدود شي. شرط قصد: هغه قيد دی چې د حکم علت وي، او حکم پرې محدودېږي. مثال:قوله تعالی: «وربائبكم اللاتي في حجوركم»دلته قيد «اللاتي في حجوركم» د غالب حالت بيان دی، ځکه اکثر ربيبې د نارينه په کور کې لويېږي. خو حکم يوازې پر هغو نه محدودېږي چې حتماً دې په غېږو کې لويې شوي وي. السرخسی، النظار ابی بکر محمد بن احمد بن ابی سهل السرخسی (المتوفى سنة ۴۹۰ من الهجرة النبوية رضى الله عنه)، أصول السرخسي(الناشر: دار الكتاب العلمية بيروت لبنان، الطبعة الاولى ۱۴۱۴ هـ. - ۱۹۹۳م) ج ۱ ص ۱۲۴).

[2] - القشيري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: ۲۶۱هـ)، صحيح مسلم(ناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت) باب تلقين الموتى لا اله الا الله ج ۲ ص ۶۳۱).

وحَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، وَعُثْمَانُ - ابْنَا أَبِي شَيْبَةَ - ح وحَدَّثَنِي عَمْرٌو النَّاقِدُ، قَالُوا: جَمِيعًا: حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الْأَحْمَرُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ»

[3]- مجاز مرسل: کله چې يو لفظ د خپل اصلي معنا پر ځای په بل معنا وکارول شي، خو دا بدلون د مشابهت له امله نه وي، بلکې د يوې بلې فکري اړيکې (لکه سببيت، آله، ځای، جزء، کل. . . ) له مخې وي، نو دا ډول استعمال ته مجاز مرسل ويل کېږي. مثال: که ووايو: "اوښانو باران وخوړل"، اصلاً اوښان باران نه خوري، بلکې هغه وښه/نبات چې باران رازرغون کړی وي. نو دلته باران د نبات سبب دی، او دا د "سببيت" اړيکه ده، نه مشابهت.

وَسَوَاءٌ اسْتَيْقَظَ مِنْ نَوْمِ اللَّيْلِ، أَوْ النَّهَارِ، وَقَالَ الْإِمَامُ أَحْمَدُ: إنْ اسْتَيْقَظَ مِنْ نَوْمِ النَّهَارِ: فَمُسْتَحَبٌّ، وَإِنْ اسْتَيْقَظَ مِنْ نَوْمِ اللَّيْلِ: فَوَاجِبٌ.

او له خوب څخه مراد عام ده که د شپې خوب وي او که د ورځې چې کله راويښ شي لاسونه به مينځي [1].

امام احمد[2] په منځ کې فرق کوي او وايي چې که د ورځې له خوبه راويښ شي اودس کوي نو د لاسونو مينځل مستحب دي. او که د شپې له خوب څخه راپاڅيده، نو د لاسونو مينځل واجب دي[3].

---

همداراز، دا ډول مجاز ځکه "مرسل" بلل شوی چې له يو ځانګړي قيد (مشابهت) خلاص دی، يعنې له مختلفو فکري اړيکو سره لفظ له خپل اصلي معنا څخه بلې ته انتقالېږي. دغه دواړه ډولونه "مجاز مُرسَل" بلل کېږي، ځکه دا د مشابهت د اړيکې له قيده خوشې شوی دی؛ که دا غير مشابهتي اړيکه ولري يا هېڅ فکري اړيکه ونه لري. د مجاز مرسل شپږ مشهورې اړيکې (عَلاقې) دا دي:١- السببية – لفظ د هغه شي پر ځای کارول کېږي چې سبب يې وي. لکه: «أنزل الله عليكم الكتاب» ← "الكتاب" د علم سبب دی. ٢- المسببية – لفظ د سبب پر ځای کارول کېږي. لکه: «رعت الإبل الغيث» ← "الغيث" (باران) د نبات سبب دی. ٣- الجزئية – لفظ د يوه شي جزء د کل پر ځای کارول کېږي. لکه: «أعتق رقبة» ← "رقبة" د انسان يوه برخه ده.

۴- الكلية – لفظ د کل د جزء پر ځای کارول کېږي. لکه: «جعلوا أصابعهم في آذانهم» ← ټول ګوته نه، بلکې نوک. ۵- المکانية – لفظ د ځای د متعلَّق پر ځای کارول کېږي. لکه: «امتلأ الحوض» ← حوض د اوبو ځای دی. ٦- الآلية – لفظ د آلې د کار پر ځای کارول کېږي. لکه: «فلان له يد عندي» ← "يد" مانا احسان يا مرسته. (حامد عونى، المنهاج الواضح للبلاغة (الناشر: المكتبة الأزهرية للتراث) ج ١ ص ١٣٣-١٣٥).

[1]- **فقهي مسئله:** (إذا استيقظ المتوضئ من نومه): دا جمله داسې معنا لري چې د متوضئ کس د خوب نه د راويښېدو پر مهال دا حکم شته. شمس الأئمة الكردري ويلي چې دا شرط دی، يعنې که څوک له خوبه نه وي راويښ شوی، نو د لاسونو پرېمنځل ورته سنت نه دي. خو بل قول دا دی چې دا شرط اتفاقي (اتفاقاً ذکر شوی) دی، او د ذکر مقصد يې يوازې د حديث د الفاظو برکت دی، نه دا چې حکم يواځې په مستيقظ (راويښ شوي) کس پورې محدود وي. نو سنت هم مستيقظ او هم غير مستيقظ ته شامل دی، او دا قول د اکثرو علماوو دی. "المتوضئ" (اودس کوونکی) دوه معناوې لري: يوه دا چې دا هغه کس ته ويل کېږي چې مخکې يې اودس کړی او اوس ويښ شوی، که دا سنت د هغه لپاره وي نو نورو ته به خامخا مشروع وي. بله معنا دا ده چې دا هغه څوک وي چې اوس غواړي اودس وکړي، نو که دا معنا وي، نو جمله مجازي معنا لري، نه حقيقي. نو دا ټول تفصيل دا څرګندوي چې د حديث قيد (استيقاظ) احترازي نه بلکې اتفاقي دی، او حکم عمومي دی. (بدر الدين العينى، أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى (المتوفى: ٨٥٥هـ)، البناية شرح الهداية (الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت، ط: ٢٠٠٠ م) ج ١ ص ١٧٩).

[2] - نوم يې احمد د پلار نوم حنبل په (١٦۴ هــ) کال کې د عراق په بغداد ښار کې زېږېدلی ده، نوموړی د اسلامي نړۍ يو ستر فقيه، محدث او د څلورو مذهبونو څخه د حنبلي مذهب مؤسس دی او په (٢۴١ه) کال کې په بغداد کې وفات شو. (سير أعلام النبلاء ج ١١ ص ١٧٧).

[3] - **فقهي مسئله:** (سيد عزت، خالد الرباط، سيد عزت عيد، الجامع لعلوم الإمام أحمد – الفقه،الامام أبو عبد الله أحمد بن حنبل(ناشر يې دار الفلاح للبحث العلمي وتحقيق التراث، الفيوم - جمهورية مصر العربية، ط: ٢٠٠٩ م )ج ۵ ص ٢٠١). د امام شافعي او امام مالك رحمه الله دواړو په مذهب مينځل د لاسونو مخکې له داخلېدو لوښي ته سنت دي. (الأم للامام شافعي رحمه الله ج ١ ص ٣٩). (الشامل في فقه الإمام مالك ١ ص ٦٠). د امام احمد رحمه الله څخه د خبر واحد په حجت والي باندې دوه روايته رانقل شوي دي چې آيا د خبر واحد له لارې يقيني علم حاصلېږي که نه، په دې کې اختلاف راغلی دی. يو روايت دا دی چې د خبر واحد له لارې علم نه حاصلېږي، او دا د اکثرو علماوو او امام احمد رحمه الله د متأخرينو اصحابو قول دی؛ ځکه موږ په يقيني توګه پوهېږو چې هر خبر چې واورو، سمدستي يې نه منو. که چېرې خبر واحد يقيني علم افاده کولای، نو دا ممکنه نه وه چې دوه متضاد خبرونه وارد شي، ځکه چې متضاد يقينونه نه شي يو ځای کېدلی. همداراز، د قرآن او متواترو احاديثو نسخ (باطل کول) به د خبر واحد له لارې روا وای، ځکه دا به د هغوی په شان د علم افاده کوونکی و. او که دا ډول وای، نو د يو شاهد له قوله به قضاوت واجب وای، او عادل او فاسق به د روايت په اعتبار کې برابر وای، لکه په متواترو کې. او د دويم روايت داده چې امام احمد رحمه الله يوازې هغه خبر واحد ته علمي حيثيت ورکوي چې هغه د داسې امامانو له خوا روايت شوی وي چې د هغوی پر عدالت، ديانت، پوهه او مهارت باندې د امت اتفاق شوی وي، او روايت يې له متساويو لارو نقل شوی وي، امت يې ټول منلی وي، او هېڅوک يې انکار نه وي کړی. ځکه که حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او عمر فاروق رضي الله عنه يو څه روايت کړي، چې دوی اورېدلي يا ليدلي وي، نو اورېدونکي ته شک نه پيدا کېږي؛ ځکه د دوی پر صداقت، امانت، او عدالت د خلکو باور پوره و. له همدې امله سلفو د صفاتو احاديثو په نقلولو کې اتفاق کړی دی، سره له دې چې پکې عمل نشته؛ يعنې د هغو مقصد يوازې دا دی چې تصديق يې وشي او پر معنا يې باور وشي. ځکه د امت اجماع د دې احاديثو پر قبول باندې، د هغوی پر صحت باندې اجماع ده، او اجماع يو قاطع شرعي دليل دی. خو دا ډول احاديث چې پورتني شرايط ولري، که متعارض شي، نو دا تعارض روا نه دی، لکه څنګه چې د متواترو حديثونو يا د قرآني آيتونو ترمنځ تعارض روا نه دی. (ابن قدامة، عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي أبو محمد، روضة الناظر وجنة المناظر(الناشر: جامعة الإمام محمد بن سعود – الرياض، ط: ١٣٩٩هـ) ج ١ ص ٩٩-١٠٠).

قَوْلُهُ: (وَتَسْمِيَةُ اللَّهِ تَعَالَى فِي ابْتِدَاءِ الْوُضُوءِ): الْكَلَامُ فِيهَا فِي ثَلَاثَةِ مَوَاضِعَ: كَيْفِيَّتِهَا، وَصِفَتِهَا، وَوَقْتِهَا:

١ـ أَمَّا كَيْفِيَّتُهَا: فَ: «بِسْمِ اللَّهِ الْعَظِيمِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى دِينِ الْإِسْلَامِ».

وَإِنْ قَالَ: «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ»: أَجْزَأَهُ؛ لِأَنَّ الْمُرَادَ مِنْ التَّسْمِيَةِ هُنَا مُجَرَّدُ ذِكْرِ اسْمِ اللَّهِ تَعَالَى لَا التَّسْمِيَةُ عَلَى التَّعْيِينِ.

٢- وَأَمَّا صِفَتُهَا: فَذَكَرَ الشَّيْخُ أَنَّهَا سُنَّةٌ. وَاخْتَارَ صَاحِبُ «الْهِدَايَةِ» أَنَّهَا مُسْتَحَبَّةٌ قَالَ وَهُوَ الصَّحِيحُ.

٣ - وَأَمَّا وَقْتُهَا: فَقَبْلَ الِاسْتِنْجَاءِ، وَبَعْدَهُ، هُوَ الصَّحِيحُ؛ فَإِنْ أَرَادَ أَنْ يُسَمِّيَ لِلِاسْتِنْجَاءِ سَمَّى قَبْلَ كَشْفِ الْعَوْرَةِ.

فَإِنْ كَشَفَ قَبْلَ التَّسْمِيَةِ: سَمَّى بِقَلْبِهِ، وَلَا يُحَرِّكُ بِهَا لِسَانَهُ؛ لِأَنَّ ذِكْرَ اللَّهِ حَالَ الِانْكِشَافِ غَيْرُ مُسْتَحَبٍّ؛ تَعْظِيمًا لِاسْمِ اللَّهِ تَعَالَى.

دا قول: (د اوداسه په پيل کې بسم الله ويل سنت دي): په دې اړه په درې قضيو کې خبره مطلوب ده: د تسمیې څرنګوالی، د تسمیې حکم او د تسمیې د ویلو وخت.

١- نو د تسمیې څرنګوالی داسې دی چې ووايي: «بِسْمِ اللَّهِ الْعَظِيمِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى دِينِ الْإِسْلَامِ»[1].

او که یواځې «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ» هم ووايي نو صحيح کيږي؛ ځکه مراد له تسمية څخه په دې ځای کې د الله تعالی د نوم یادول دي، نه د تسمیې ځانګړې صيغه ذکر کول.

٢- او د تسمیې د صفت په اړه : شیخ قدوري رحمه الله وايي چې په اوداسه کې د تسمية ویل سنت دي؛ خو د هدايې مصنف [2] غوره او راجح دا ګڼلی چې تسميه په اوداسه کې مستحب ده[3]، او وايي چې همدا راجح قول ده.

٣- د تسمیې وخت: تسمية ویل هم مخکې له استنجاء څخه صحيح کيږي او هم وروسته له استنجاء څخه، او همدا صحيح قول ده؛ خو که چیرته يې د استنجاء لپاره تسمية ويله، نو مخکې له دې چې عورت لوڅ کړي نو تسمية به وايي.

که چیرته مخکې له دې چې تسمية ووايي، کشف د عورت يې وکړ، نو په دې حالت په زړه کې تسميه ووايي، ژبه به پرې نه ښوروي، ځکه کله چې کشف د عورت وشي د الله تعالی د نوم د تعظيم له امله د الله تعالی ذکر کول مکروه ده .

---

[1] - **فقهي مسئله:** په دې ډول د بسم الله د کیفیت په اړه امام طحاوي وايي چې د سلفو څخه چې کوم روايات رانقل شوي،هغوی د اوداسه په ابتداء کې د تسمية ویلو دا ډول ذکر کړی ده او أكمل فيه داده چې مرفوع الى النبي صلى الله عليه وسلم ده. (البناية شرح الهداية ج ١ ص ١٩٤).

[2]- د هدايې مصنف رحمه الله نوم علي د پلار نوم يې أبي بكر د نيکه نوم يې عبدالجليل، لقب يې المرغيناني، د ما وراء النهر(اوسني ازبكستان) په مرغينان ښار کې زيږېدلی ده،د اوعية العلم(د علم لوښی) څخه و د الهداية او البداية کتابونو مؤلف ده. (سير أعلام النبلاء للذهبي ج ٢١ ص ٢٣٢).

[3]-( فتح القدير ج١ص ١٠).

فَإِنْ نَسِيَ التَّسْمِيَةَ فِي أَوَّلِ الطَّهَارَةِ: أَتَى بِهَا مَتَى ذَكَرَهَا قَبْلَ الْفَرَاغِ؛ حَتَّى لاَ يَخْلُوَ الْوُضُوءُ مِنْهَا.

قَوْلُهُ: (وَالسِّوَاكُ) هُوَ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ. وَوَقْتُهُ: عِنْدَ الْمَضْمَضَةِ وَفِي «الْهِدَايَةِ»: الْأَصَحُّ: أَنَّهُ مُسْتَحَبٌّ وَيَسْتَاكُ أَعَالِيَ الْأَسْنَانِ وَأَسَافِلَهَا، وَيَسْتَاكُ عَرْضَ أَسْنَانِهِ، وَيَبْتَدِئُ مِنْ الْجَانِبِ الْأَيْمَنِ.

فَإِنْ لَمْ يَجِدْ سِوَاكًا: اسْتَعْمَلَ خِرْقَةً خَشِنَةً، أَوْ أُصْبُعَهُ السَّبَّابَةَ مِنْ يَمِينِهِ. ثُمَّ السِّوَاكُ عِنْدَنَا مِنْ سُنَنِ الْوُضُوءِ.

وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ: مِنْ سُنَنِ الصَّلَاةِ.

که چېرته يې د اوداسه په پيل کې تسمية له ياده ووته، نو د اودسه له پوره کولو د مخه يې هر وخت چې په ياد شو، و دې وايي؛ تر څو يې طهارت له تسمي څخه خالي پاتې نه شي.

دا قول: (مسواک): مسواک وهل سنت مؤکده ده.

د سنت مسواک وهلو وخت د مضمضه (د خولې د مينځلو) په وخت کې ده. او په هدايه [1] کې راغلي دي: چې صحيح قول دا دی چې مسواک وهل مستحب دي.

د غاښونو پورته برخې او د غاښونو لاندې برخې او د غاښونو په عرض باندې به مسواک وي، او له ښي اړخ څخه به شروع کوي .

او که چيرته مسواک نه و نو ځيګه ټوټه او يا د ښي لاس په سبابه (شهادت) ګوتې به غاښونه مينځي.

مسواک وهل زموږ په نزد باندې د اوداسه له سنتونو څخه ده [2]؛ خو د امام شافعي رحمه الله [3] په نزد د لمانځه د سنتونو څخه ده [4].

---

[1] - **فقهي مسئله:** همدا قول په هدايه کې داسې راغلی ده" والسواك "لأنه عليه الصلاة والسلام كان يواظب عليه وعند فقده يعالج بالأصبع، لأنه عليه الصلاة والسلام فعل كذلك والأصح أنه مستحب. هدايې کې فقط همدومره ذکر شوي.(المرغيناني، علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ٥٩٣ هـ)، الهداية في شرح بداية المبتدي (العربي - بيروت – لبنان) ج ١ ص ١٥).

[2] - **فقهي مسئله:** حنفي فقهاء مسواک د اوداسه سنت ګڼي. دوی وايي چې مسواک د اودس په وخت کې د سنتو يوه برخه ده او د پاکۍ لپاره توصيه کېږي. دلايل:. قرآن کريم: "إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ" (البقرة: ٢٢٢). په دې آيت کې د طهارت محبوبيت يې ثبوت دی. دويم دليل يې دا حديث شريف ده"لولا أن أشق على أمتي لأمرتهم بالسواك عند كل وضوء. " (صحيح البخاري، كتاب الجمعة، باب السواك يوم الجمعة) دلته د اوداسه ذکر راغلی ده، نو ځکه مسواک د اوداسه سنت ده.

[3] - **فقهي مسئله:** د شافعي مذهب له نظره، مسواک د لمانځه سنت دی، نه د اودس. دلايل: حديث شريف: "لولا أن أشق على أمتي لأمرتهم بالسواك عند كل صلاة. " (صحيح مسلم، كتاب الطهارة)، دلته په حديث شريف کې د لمانځه ذکر راغلی، نو ځکه به مسواک د لمانځه لپاره سنت وي. (النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: ٦٧٦هـ)، المجموع شرح المهذب (الناشر: دار الفكر) ج ١ ص ٢٦٨).

[4]- **فقهي مسئله:** په الشربيني، محمد بن أحمد الخطيب الشربيني الشافعي (المتوفى: ٩٧٧هـ)، مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج (الناشر: دار الكتب العلمية، الطبعة: الأولى، ١٤١٥هـ - ١٩٩٤م) ج ١ ص ٥٥) او (المجموع شرح المهذب ج ١ ص ٣٦٥)، کې راغلي چې مسواک د امام شافعي رحمه الله په نزد د اوداسه او لمانځه دواړو لپاره سنت ده.

وَفَائِدَتُهُ: إذَا تَوَضَّأَ لِلظُّهْرِ بِسِوَاكٍ، وَبَقِيَ عَلَى وُضُوئِهِ إلَى الْعَصْرِ أَوْ الْمَغْرِبِ: كَانَ السِّوَاكُ الْأَوَّلُ سُنَّةً لِلْكُلِّ عِنْدَنَا، وَعِنْدَهُ: يُسَنُّ أَنْ يَسْتَاكَ لِكُلِّ صَلاَةٍ وَأَمَّا إذَا نَسِيَ السِّوَاكَ لِلظُّهْرِ، ثُمَّ ذَكَرَ بَعْدَ ذَلِكَ: فَإِنَّهُ يُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يَسْتَاكَ؛ حَتَّى يُدْرِكَ فَضِيلَتَهُ، وَتَكُونَ صَلاَتُهُ بِسِوَاكٍ، إجْمَاعًا.

قَوْلُهُ: (وَالْمَضْمَضَةُ وَالِاسْتِنْشَاقُ): هُمَا سُنَّتَانِ مُؤَكَّدَتَانِ عِنْدَنَا. وَقَالَ مَالِكٌ: فرضان، وَكَيْفِيَّتُهُمَا: أَنْ يُمَضْمِضَ فَاهُ ثَلاَثًا، يَأْخُذُ لِكُلِّ مَرَّةٍ مَاءً جَدِيدًا، ثُمَّ يَسْتَنْشِقُ كَذَلِكَ.

او فايده د اختلاف په دې کې ده چې زموږ په نزد که يوه چا د ماسپښين د لمانځه لپاره اودس وکړ او مسواک يې هم ورسره وواهه نو زموږ په نزد که په همدغه اوداسه سره يې د مازديګر يا ماښام لمونځ وکړ، نو د ماسپښين د لمانځه لپاره يې چې کوم مسواک وهلی په هغه سره د مازديګر او ماښام د لمانځه سنت هم اداء شو، لکن د امام شافعي رحمه الله په نزد (د مسواک سنت يې يواځې د ماسپښين د لمانځه لپاره اداء شو او د ماسپښين او د ماښام د لمانځه لپاره يې سنت نه دي اداء شوي او) سنت دادي چې د هر لمانځه لپاره بايد مسواک ووهي[1].

دا قول: (مضمضه او استنشاق): د موږ په نزد سنت دي؛ لکن د امام مالک رحمه الله[2] په نزد فرض دي [3].

او کيفيت د مينځلو يې داده چې درې ځله به مضمضه (په خوله باندې به درې ځلې اوبه راتيرې کړي) وکړي، چې د هر ځل مضمضې (خولې مينځلو) لپاره به نوې اوبه را اخلي، او بيا به په همدې توګه استنشاق (د پوزې مينځل) هم وکړي.

---

[1] - **فقهي مسئله:** د امام مالک رحمه الله په نزد باندې مسواک د فضائيلو د اوداسه څخه دی مخکې له مضمضې څخه او امام احمد رحمه الله د امام شافعي رحمه الله سره په يوه نظر دي چې مسواک د اوداسه له سنتونو څخه ده. (الشامل في الفقه امام مالک ج ١ ص ٦١). (المغني لأبن قدامه ج ١ ص ٧١).

[2] - نوم يې مالک د پلار نوم يې انس په (٩٣ هـ) کال کې د سعودي عربستان په مدينې منورې ښار کې زيږېدلی ده، نوموړی د اسلامي نړۍ يو ستر فقيه، محدث او د څلورو مذهبونو څخه د مالکي مذهب مؤسس دی او په (١٧٩ه) کال کې په مدينې منورې کې وفات او په جنت البقيع کې خاورو ته وسپارل شو. (سير أعلام النبلاء ج ٣٥ ص ٥).

[3]- **فقهي مسئله:** مضمضه او استنشاق د امام شافعي رحمه الله په نزد او د امام مالک رحمه الله څخه په صحيح قول سره راويت شوی چې مضمضه او استنشاق د اوداسه له سنتو څخه ده او دليل يې د آيت عموم:لکه چې الله تعالی فرمايي:﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ﴾(سورة المائدة: ٦)په دې آيت کې يوازې د مخ مينځل ذکر شوي، او د مضمضه او استنشاق يادونه په صراحت نه ده شوې. او د امام احمد رحمه الله په نزد دواړه واجبات د اوداسه دي او دلائيل يې دادي: احاديث:نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل:"بالغ في الاستنشاق إلا أن تكون صائماً"(سنن أبي داود، كتاب الطهارة). دا حديث د استنشاق پر وجوب دلالت کوي، ځکه چې "بالغ" امر د تأکيد مفهوم لري. بل حديث:"رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يتوضأ، فتمضمض واستنشق"(صحيح مسلم، كتاب الطهارة). د دوام دليل:دوی وايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم هيڅکله اودس پرته له مضمضه او استنشاق څخه نه دی ترسره کړی، چې دا د وجوب لپاره قرينه ده. (المجموع شرح المهذب ج ١ ص ٣٥٥). (المغني لابن قدامه ج ١ ص ١٣٢). (الشيرازي، أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف الشيرازي (المتوفى: ٤٧٦ هـ)، المعونة في الجدل(الناشر: جمعية إحياء التراث الإسلامي - الكويت) ج ١ ص ١٢٢).

فَلَوْ تَمَضْمَضَ ثَلاَثًا مِنْ غَرْفَةٍ وَاحِدَةٍ، قِيلَ: لاَ يَصِيرُ آتِيًا بِالسُّنَّةِ، وَقَالَ الصَّيْرَفِيُّ: يَصِيرُ آتِيًا بِهَا.

قَالَ: وَاخْتَلَفُوا فِي الاِسْتِنْشَاقِ ثَلاَثًا مِنْ غَرْفَةٍ وَاحِدَةٍ: قِيلَ: لاَ يَصِيرُ آتِيًا بِالسُّنَّةِ،بِخِلاَفِ الْمَضْمَضَةِ ؛ لِأَنَّ فِي الاِسْتِنْشَاقِ: يَعُودُ بَعْضُ الْمَاءِ الْمُسْتَعْمَلِ إلَى الْكَفِّ، وَفِي الْمَضْمَضَةِ: لاَ يَعُودُ ؛ لِأَنَّهُ يَقْدِرُ عَلَى إمْسَاكِهِ.

وَالْمُبَالَغَةُ فِيهِمَا: سُنَّةٌ إذَا كَانَ غَيْرَ صَائِمٍ. وَاخْتَلَفُوا فِي صِفَةِ الْمُبَالَغَةِ: قَالَ شَمْسُ الْأَئِمَّةِ الْحَلْوَانِيُّ: هِيَ فِي الْمَضْمَضَةِ : أَنْ يُدِيرَ الْمَاءَ فِي فِيهِ مِنْ جَانِبٍ إلَى جَانِبٍ.

که چيرته يې په يوه لپه اوبو باندې درې وارې خوله ومينځله،نو ځينې وايي چې سنت يې اداء نشو،لکن صيرفی وايي [1] چې سنت يې اداء شو.

او په يوه لپه اوبو باندې درې ځله د پوزې په مينځلو کې اختلاف دی. ځينې وايي چې سنت يې اداء نشو،په خلاف د مضمضې،ځکه په پوزه مينځلو کې چې کله يوه لپه اوبه هر ځل پوزې ته کش کيږي نو خامخا څه مستعملې اوبه بيرته لپې ته راکوزيږي،لکن په مضمضې کې چې هر ځل خولې ته اوبه کش شي،نو دا اوبه بيرته لپې ته نه راښکته کيږي،ځکه په مضمضه کې کې انسان په دې قادر ده چې اوبه په خوله کې وساتي.

په مضمضې او استنشاق کې مبالغه کول سنت دي چې کله اودس کوونکی روژه ونه لري، (يعنې په دې معنی چې اوبه به په خولې کې ښه غړغړ کوي،او په پوزې کې به اوبه ښه کش کوي).

د مبالغې په څرنګوالي کې د علماوو ترمنځ اختلاف ده:

شمس الأئمه حلواني رحمه الله ويلي[2]:چې په مضمضې کې به اوبه ښه په خوله کې له يوې خوا نه بلې خوا ته تاوې راتاوې کړي.

---

[1]- نوم يې أسعد بن يوسف بن علي، مجد الدين الصيرفي البخاري و،د حنفی فقهې لوی عالم او مفتي و،د الفتاوی الصيرفية په نوم يوه فتاوی لري او په (۱۰۸۸ هـ) کال کې وفات شوی ده. (معجم المؤلفين ج ۲ ص ۲۵۱).

[2]- اصلي نوم يې عبدالعزيز د پلار نوم يې احمد د نيکه نوم يې نصر، د حنفي مذهب لوی شيخ،علامه او شمس الأئمة الاکبر په صفاتو باندې يې شهرت درلود،فقه يې د قاضي ابي علي حسين بن خضر نسفي څخه زده کړه، د جامع صغير او جامع کبير او نورو کتابونو باندې يې شرحې وليکلې، دده په شاګردانو کې شمس الأئمة محمد بن ابي سهل سرخسي، فخر الاسلام بزدوي او نور دي،او په (۴۵۶ه) کال کې په بخارا کې وفات شوی ده. (سير اعلام النبلاء لأمام ذهبي ج ۳۵ ص ۱۶۰).

وَقَالَ الْإِمَامُ خواهر زاده: هِيَ فِي الْمَضْمَضَةِ: الْغَرْغَرَةُ، وَفِي الِاسْتِنْشَاقِ: أَنْ يَجْذِبَ الْمَاءَ بِنَفْسِهِ إِلَى مَا اشْتَدَّ مِنْ أَنْفِهِ. وَلَوْ تَمَضْمَضَ وَابْتَلَعَ الْمَاءَ،وَلَمْ يَمُجَّهُ: أَجْزَأَهُ، وَالْأَفْضَلُ أَنْ يُلْقِيَهُ ؛ لِأَنَّهُ مَاءٌ مُسْتَعْمَلٌ.

قَوْلُهُ: (وَمَسْحُ الْأُذُنَيْنِ): هُوَ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَة وَيَمْسَحُ بَاطِنَهُمَا وَظَاهِرَهُمَا، وَهُوَ أَنْ يُدْخِلَ سَبَّابَتَيْهِ فِي صِمَاخَيْهِ، وَهُمَا ثُقْبَا الْأُذُنَيْنِ، وَيُدِيرَهُمَا فِي زَوَايَا أُذُنَيْهِ، وَيُدِيرَ إِبْهَامَيْهِ عَلَى ظَاهِرِ أُذُنَيْهِ.

وَمَسْحُ الرَّقَبَةِ: قِيلَ هِي سُنَّةٌ، وَهُوَ اخْتِيَارُ الطَّحَاوِيِّ، وَقِيلَ: مُسْتَحَبٌّ وَهُوَ اخْتِيَارُ الصَّدْرِ الشَّهِيدِ.

امام خواهر زاده رحمه الله[1] وايي:چې په مضمضه کې مبالغه غړغړه کول دي، او په استنشاق کې مبالغه په تنفس سره اوبه د پوزې تر هغه ځای کش کول دي چې کوم ځای کې پوزه بندېږي.

که څوک مضمضه وکړي او هماغه اوبه تيرې کړي او تو يې نه کړي نو مضمضه يې صحيح کيږي، خو غوره دا ده چې اوبه تو کړي، ځکه چې دا مستعملې اوبه دي.

دا قول: (د غوږونو مسحه): د غوږونو مسحه مؤکد سنت دي.

د غوږونو دننه او بهر دواړه به مسح کوي، داسې چې خپلې د شهادت گوتې د غوږونو سوريو (صماخ) ته ننباسي، کوم چې د غوږونو داخلي سوري دي، او د غوږونو کې کونجونو کې به را تاوې کړ او خپلې غټې گوتې به د غوږونو د بهرنی برخې څخه تاوې را تاوې کړي.

د څټ مسح کول سنت دي: ويل شوي چې دا سنت دی، چې دا د امام طحاوي [2] نظر دی[3].

او ويل شوي چې دا مستحب دی، او دا د صدر الشهيد [4] نظر دی[5].

---

[1]- اصـلي نوم يې محمد د پلار نوم يې حسـين د نيکه نوم يې محمد القديدي و،د قاضي ابي ثابت محمد بن احمد بخاري د خور زوی و نو ځکه په خواهر زاده سره شـهرت لري او معنی يې ده د عالمې د خور زوی، د حنفي فقهې لوی عالم او د ماوراء النهر له فقهاوو څخه و،دده په باره کې ويل کيږي چې نعمان د وخت و،او په (۴۸۳ هـ) کال کې په بخاری کې وفات شوی ده. (مرجع سابق ج ۳۷ ص ۱۱).

[2]- اصـلي نوم يې احمد د پلار نوم يې محمد نيکه نوم يې سـلامه په امام طحاوي سره مشـهور و،د حديثو لوی حافظ د مصرـ فقيه،محدث اوعلامه و،په (۲۳۹ه)کال کې د مصرـ په طحی کلي کې زيږيدلی ده، د فقهې او حديثو علم يې له قاضي احمد بن ابي عمران حنفي څخه زده کړ او بل مشـهور اسـتاذ يې ابي خازم او نور و، د اخْتِلَاف الْعُلَمَاء، الشّروط، أَحْكَام الْقُرْآن او مَعَانِي الآثَار کتابونو تصنيف يې کړی. او په (۳۲۱ه)کال کې وفات شو. (سير أعلام النبلاء لأمام ذهبي ج ۲۹ ص ۲۳- ۲۵).

[3] - **فقهي مسئله:** امام طحاوي رحمه الله په شرح معاني الآثار ج ۱ ص ۲۲-۲۴ او په ۳۲۶ رقم حديث "عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ مَسَحَ رَأْسَهُ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: مَسْحُ الرَّأْسِ ثُلُثَاهُ، وَمَسْحُ الرَّقَبَةِ سُنَّةٌ" وايي چې مسح د رقبې سنت ده.( الطحاوي، أبو جعفر أحمد بن محمد الطحاوي، شرح معاني الآثار(ناشر: إدارة القرآن والعلوم الإسلامية، كراچي، ط: ۲۰۰۷ م/ ۱۴۲۸هـ) ج ۱ ص ۲۲-۲۴ رقم الحديث ۳۲۶).

[4]-اصلي نوم يې عمر د پلار نوم يې عبدالعزيز د نيکه نوم يې عمر و، په صدر الشهيد سره مشهور ده (په سمرقند کې د کافرانو سره د قَطَوَانَ جگړه چې کله په (۵۳۶ هــ) کال د صفرې په مياشت کې منځته راغله د مسلمانانو د لښکرو د شکست وروسته،دی مبارک هم د (۵۳) کلونو په عمر په شهادت ورسېده)، د حنفي مذهب لوی شيخ او د مشرق عالم و،فقه يې د خپل پلار علامه ابي المفاخر څخه زده کړه .(سير اعلام النبلاء لأمام ذهبي ج ۳۹ ص ۹۳).

[5] - **فقهي مسـئله:** د دې اختلاف په رامنځته کيدو کې دوه سـببه دي.اول: وَرَوَى الْقَاسِـمُ بْنُ سَـلَامٍ فِي كِتَابِ الطُّهُورِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ عَنْ الْمَسْعُودِيِّ عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ قَالَ: «مَنْ مَسَحَ قَفَاهُ مَعَ رَأْسِهِ وُقِيَ الْغُلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».دا حديث اگر که مرفوع ده لکن حکم د مرفوع لري؛ځکه چې نوموړي صـحابي په خپله رايه سره خبرې نکوي بلکې حتما به يې رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم په دغه عمل باندې ليدلي وي.دويم: او هغه علماء چې وايي چې مسح د رقبې مستحب ده د هغوی دليل داده چې د مسح رقبې په اړه چې کوم حديثونه راغلي دي هغه ټول ضعيف دي او ضعيف احاديث

وَيَمْسَحُهُمَا بِمَاءٍ جَدِيدٍ وَفِي «النِّهَايَةِ» يَمْسَحُهُمَا بِظَاهِرِ الْكَفَّيْنِ وَمَسْحُ الْحُلْقُومِ بِدْعَةٌ.
قَوْلُهُ: (وَتَخْلِيلُ اللِّحْيَةِ وَالْأَصَابِعِ) أَمَّا تَخْلِيلُ اللِّحْيَةِ: فَمُسْتَحَبٌّ عِنْدَهُمَا ،وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: سُنَّةٌ، وَهُوَ اخْتِيَارُ الشَّيْخِ وَكَيْفِيَّةُ تَخْلِيلِهَا: مِنْ أَسْفَلَ إلَى فَوْقٍ.

د غاړې مسح بايد د نوو اوبو په مرسته وشي.په "النهاية"[1] کې راغلي چې د شټ مسح دې د دواړو لاسونو د شا برخې په واسطه وشي [2]. او د غاړی مسحه بدعت ده.

او دا قول (د ګيرې او ګوتو خلالول سنت دی)

د ګيرې خلالول د طرفينو رحمهما الله[3] په نزد مستحب ده او د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد سنت ده، او امام قدوري رحمه الله [4] د امام ابويوسف رحمه الله قول غوره کړی ده [5].

د ګيرې د خلالولو طريقه داده چې له لاندې څخه پورته لور ته خلال شي [6].

---

په فضائيل اعمال کې عمل په کيدلی شي نو ځکه مسح د رقبې مستحب ده. (البناية شرح الهداية ج ١ ص٢١٩). (الشوكاني، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني اليمني، نيل الأوطار(الناشر: دار الحديث، مصر، الطبعة: الأولى، ١٤١٣هـ - ١٩٩٣م) ج ١ ص ٢٠٦ ).

[1] -النهاية اوله شرحه د هدايه ده چې السغناقي حسين بن علي(٧١٠ه متوفی) چې د صاحب هدايه شاګرد ده په هدايه باندې ليکې ده او نوموړی په (٧٠٠ه) د ربيع الاول په مياشت کې نوموړې شرحه بشپړه کړه. (حاجي خليفة أو الحاج خليفة، مصطفى بن عبد الله كاتب جلبي القسطنطيني المشهور باسم حاجي خليفة أو الحاج خليفة (المتوفى: ١٠٦٧هـ)، كشف الظنون عن أسامي الكتب والفنون (الناشر: مكتبة المثنى – بغدا، تاريخ النشر: ١٩٤١م) ج ١ص ٧١٩).

[2] - **فقهي مسئله:** د رقبې مسحه کول د لاسونو د ګوتو د شا برخو باندې ځکه کيږي کله چې د لاسونو په ورغيو باندې د سر مسحه وشوه نو د لاسونو شا برخې بې له استعمال د مسحې پاتې شو نو په هغو برخو باندې به رقبه مسحه شي. (رد المحتار على الدر المختار ج ١ ص ١٢٤).

[3]- په يوه مسئله کې چې کله امام ابو حنيفه او امام محمد رحمهما الله يوه طرف ته شي،نو دې ته طرفين وايي،که چيرته امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رحمهما الله يوه طرف ته شي،نو دې ته شيخين وايي،او که امام ابو يوسف او امام محمد رحمهما الله يوه طرف ته شي نو دې ته صاحبين وايي. (على جمعة، على جمعة محمد عبد الوهاب، المدخل إلى دراسة المذاهب الفقهية(الناشر: دار السلام – القاهرة، الطبعة: الثانية - ١٤٢٢ هـ - ٢٠٠١م) ج ١ ص ١٣٧).

[4] - **فقهي مسئله:** د الجوهرة النيرة د مصنف په حالاتو کې راغلي چې کله د علماوو ترمنځ په يوه مسئله کې اختلاف راغلی ده،مصنف رحمه الله د امام قدروي رحمه الله اختياراتو ته په (و هو اختيار الشيخ) سره اشاره کړې ده،چې امام قدوري رحمه دغه قول ته ترجيح وکړې ده. (الحدادي، أبو بكر بن علي بن محمد الحدادي العبادي الزَّبِيدِيّ اليمني الحنفي (المتوفى: ٨٠٠ هـ) الجوهرة النيرة(الناشر: المطبعة الخيرية، الطبعة: الأولى، ١٣٢٢ هـ ) ج ١ ص ٣٠).

[5]- **فقهي مسئله:** د ګيرې خلالولو ( اوداسه پر مهال د ګيرې منځ ته اوبه رسول) په اړه د مذاهبو ترمنځ اختلاف ده:

د فقهي مذاهبو نظريات:حنفي او شافعي مذهب:که ګېره ګڼه وي او پوستکی يې نه ښکاري، خلالول يې مستحب دي؛ که رنګړی وي او پوستکی يې ښکاري، اوبه رسول د پوستکي بيخو ته فرض دي.دليل: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه حديث: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ أَخَذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ فَأَدْخَلَهُ تَحْتَ حَنَكِهِ فَخَلَّلَ بِهِ لِحْيَتَهُ» (رواه أبو داود، باب في تخليل اللحية رقم الحديث ١٤٥). مالکي مذهب:د ګيرې خلالول واجب يا سنت نه دي؛ د ګيرې ظاهري برخه وينځل کافي دي.دليل: د قرآن دا آيت شريف ده: «فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ» (المائدة: ٦) حنبلي مذهب:که ګيره رنګړی وي او لاندې پو ستکی ورځنې ښکاري نو د اوبو رسېدل تر پو ستکي پورې واجب ده او که ګيره ګڼه وي نو بيا تخليل يې سنت مؤکد دی او دليل يې دا حديث شريف ده(وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إذَا تَوَضَّأَ عَرَكَ عَارِضَيْهِ بَعْضَ الْعَرْكِ، ثُمَّ شَبَكَ لِحْيَتَهُ بِأَصَابِعِهِ مِنْ تَحْتِهَا.» رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ).(الدر المختار مع رد المحتار ج ١ ص ١١٧.).(الأم د امام شافعي ج ١ ص ٤٠).)، (المدونة الكبرى ج ١ ص ٢٥). (المغنى لابن قدامة ج ١ ص ٧٨).

[6] - **فقهي مسئله:** د ګيرې د خلالولو طريقه داده چې له لاندې څخه پورته لور ته خلال شي او دليلورباندې دا حديث شريف ده لما رَوَى أبو داود عن أنس قال: «كان النبيّ صلى الله عليه وسلم إذا توضَّأ أَخَذَ كفّاً من ماءٍ فأدخلَهُ تحت حَنَكِهِ فخلَّل به لحيته وقال: بهذا أَمَرني ربي» (البناية شرح الهداية ج ١ ص ٢٢٢).

اللِّحْيَةِ: مَكْسُورَةُ اللاَّمِ، وَجَمْعُهَا: لُحًى، وَلِحًى :بِضَمِّ اللاَّمِ وَكَسْرِهَا، وَاللَّحْيُ: بِفَتْحِ اللاَّمِ: عَظْمُ الْفَكِّ، وَهُوَ مَنْبَتُ اللِّحْيَةِ، وَجَمْعُهُ: لُحًى، وَلِحًى: بِضَمِّ اللاَّمِ وَكَسْرِهَا.

وَأَمَّا تَخْلِيلُ الْأَصَابِعِ: فَسُنَّةٌ، إجْمَاعًا وَتَخْلِيلُهَا: مِنْ أَسْفَلَ إلَى فَوْقُ بِمَاءٍ مُتَقَاطِرٍ وَيَنْبَغِي أَنْ يُخَلِّلَ رِجْلَيْهِ بِخِنْصَرِ يَدِهِ الْيُسْرَى وَإِنَّمَا يَكُونُ التَّخْلِيلُ سُنَّةً بَعْدَ وُصُولِ الْمَاءِ، أَمَّا إذَا لَمْ يَصِلْ الْمَاءُ: فَهُوَ وَاجِبٌ. وَكَيْفِيَّةُ التَّخْلِيلِ: أَنْ يَبْدَأَ بِخِنْصَرِ رِجْلِهِ الْيُمْنَى، وَيَخْتِمَهُ بِإِبْهَامِهَا، وَيَبْدَأَ بِإِبْهَامِ رِجْلِهِ الْيُسْرَى، وَيَخْتِمَهُ بِخِنْصَرِهَا.

وَالْفَرْقُ لَهُمَا بَيْنَ تَخْلِيلِ اللِّحْيَةِ وَالْأَصَابِعِ: أَنَّ الْمَقْصُودَ بِالتَّخْلِيلِ: اسْتِيفَاءُ الْفَرْضِ فِي مَحَلِّهِ، وَذَلِكَ إنَّمَا يَكُونُ فِي الْأَصَابِعِ ، وَأَمَّا اللِّحْيَةُ: فَدَاخِلُ الشَّعْرِ لَيْسَ بِمَحَلٍّ لِلْفَرْضِ، بَلْ الْفَرْضُ: إمْرَارُ الْمَاءِ عَلَى ظَاهِرِهَا.

وَلَوْ تَوَضَّأَ فِي الْمَاءِ الْجَارِي، أَوْ الْغَدِيرِ العظيم، وَغَمَسَ رِجْلَيْهِ: أَجْزَأَهُ ، وَإِنْ لَمْ يُخَلِّلْ الْأَصَابِعَ كَذَا فِي «الْفَتَاوَى».

اللِّحْيَةِ: د لام په زير (کسرې) سره جمع يې لُحًى او لِحًى ده چې (د لام) په پېښ (ضمه) او زير (کسرې) باندې ده.او اللَّحْيُ: په زور (فتحه) د لام سره: هغه د ژامې هغه هډوکی ده چې ږيره پرې راټوکيږي، او جمع يې لُحًى او لِحًى ده، د لام په پېښ او زير باندې [1].

د ګوتو تخليل (د ګوتو په منځ کې د لمدې ګوتې وهل) په اجماع سره سنت دي د ګوتو خلالول له لاندې څخه پورته د جاري اوبو په واسطه ترسره کيږي، مناسبه دا ده چې د خپلو پښو ګوتې د خپلې کيڼ لاس د کوچنۍ ګوتې په وسيله خلال کړي، د ګوتو خلالول هغه وخت سنت ده چې اوبه د ګوتو بيخو ته رسيدلي وي، او که اوبه د ګوتو بيخو ته نه وي رسېدلې، نو بيا يې خلالول واجب دي.

د پښو د ګوتو د تخليل طريقه دا ده چې د ښۍ پښې له کوچنۍ ګوتې پيل وکړي او پر لوې ګوتې يې ختم کړي، او د کيڼې پښې له لوې ګوتې پيل وکړي او پر کوچنۍ ګوتې پای ته ورسوي.

د طرفينو له نظره (چې د ږيرې خلال مستحب ګڼي او د ګوتو سنت ګڼي) د ږيرې او ګوتو د تخليل ترمنځ توپير دا دی چې د تخليل موخه د فرضو بشپړول دي، او فرض يوازې د ګوتو په تخليل پوره کيږي، خو د ږيرې په اړوند، دننه وېښتان د فرض ځای نه ګڼل کيږي، بلکې فرض دا دی چې د اوبو تېريدل د ږيرې له ظاهري برخې څخه ترسره شي.

که يو څوک د روانو اوبو يا د لوی ډنډ په اوبو اودس وکړي او خپلې پښې ورننه باسي، نو اودس يې بشپړ دی، که څه هم چې ګوتې يې نه وي خلال کړي، لکه څرنګه چې په الفتاوی» کې راغلي دي [2].

---

[1] - اللحية (ګيره) د هغو ويښتانو مجموعه ده چې د غاښونو هډوکو ځايونو او ذنې کې راشين کيږي. (الرازي، أحمد بن فارس بن زكرياء القزويني الرازي، أبو الحسين (المتوفى: ۳۹۵هـ)، الصاحبي في فقه اللغة العربية ومسائلها وسنن العرب في كلامها (الناشر: محمد علي بيضون، الطبعة: الطبعة الأولى ۱۴۱۸هـ-۱۹۹۷م) ج ۱ ص ۶۱).

[2] - **فقهي مسئله:** د ګوتو او د ږيرې د خلال په اړه د نورو فقهاوو مذاهب:د ګوتو خلالو په اړه شوافع او حنابله له احنافو سره متفق دي چې د لاسونو او پښو ګوتو خلالول سنت دي او دليل يې دا حديث شريف ده سَمِعْتُ عَاصِمَ بْنَ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ، أَخْبِرْنِي عَنِ الوُضُوءِ؟ قَالَ: أَسْبِغِ

قَوْلُهُ:( وَتَكْرَارُ الْغَسْلِ إلَى الثَّلَاثِ ). الْأُولَى: فَرْضٌ، وَالثِّنْتَانِ: سُنَّتَانِ مُؤَكَّدَتَانِ، عَلَى الصَّحِيحِ. وَإِنْ اكْتَفَى بِغَسْلَةٍ وَاحِدَةٍ: أَثِمَ ؛ لِأَنَّهُ تَرَكَ السُّنَّةَ الْمَشْهُورَةَ. وَقِيلَ: لَا يَأْثَمُ ؛ لِأَنَّهُ قَدْ أَتَى بِمَا أَمَرَهُ بِهِ رَبُّهُ، وَالسُّنَّةُ تَكْرَارُ الْغَسَلَاتِ، لَا الْغَرَفَاتِ.

او دا قول: ( درې ځله په تکرار مینځل (سنت دی)): لومړی ځل مینځل فرض ده، او دوهم او دریم ځل سنت مؤکد دي، د صحیح قول له مخې.

که یوازې په یوه ځل مینځلو باندې یې اکتفا وکړي، گناهگار دی؛ ځکه چې مشهور سنت یې پرېښودل؛ ځکه چې مشهور سنت یې پرېښودل.

او بل قول دا دی چې گناهکار نه دی؛ ځکه هغه په هغه امر عمل کړی دی چې د هغه د پروردگار له لورې ورته شوی [1].

سنت په تکرار سره د غړو مینځل دي، نه په تکرار سره د لپو راډکول [2].

---

الوُضُوءَ، وَخَلِّلْ بَيْنَ الأَصَابِعِ، وَبَالِغْ فِي الاِسْتِنْشَاقِ، إِلاَّ أَنْ تَكُونَ صَائِمًا.هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.( الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى، الجامع الكبير - سنن الترمذي(الناشر: دار الغرب الإسلامي – بيروت، ط: ١٩٩٨ م) ج ٢ ص ١٤٧ رقم الحديث ٧٨٨). د مالكي مذهب مشهور قول د لاسونو گوتو خلالول واجب گڼي او د پښو د گوتو خلالول مندوب گڼي؛ځکه چې د لاسونو گوتې اوږدوالی اوږد ده او د پښو گوتې اوږدوالی لنډ ده لحديث ابن عباس رضي اللَّه عنهما أن رسول اللَّه صَلى اللَّه عَليه و سَلم قال: (إذا تو ضأت فخلل أ صابع يديك ورجليك) (ابن البيع، أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري المعروف بابن البيع (المتوفى: ٤٠٥هـ)، المستدرك على الصحيحين(الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت، الطبعة: الأولى، ١٤١١ ) ج ١ ص ٢٩١ رقم الحديث ٦٤٨)، (شهاب الدين الرملي، شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة شهاب الدين الرملي (المتوفى: ١٠٠٤هـ) ، نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج (الناشر: دار الفكر، بيروت، الطبعة: ط أخيرة - ١٤٠٤هـ/١٩٨٤ م) ج ١ ص ١٨٩)،( البهوتى الحنبلى، منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس البهوتى الحنبلى (المتوفى: ١٠٥١هـ)، كشاف القناع عن متن الإقناع (الناشر: دار الكتب العلمية) ج ١ ص ١٠٢). (كوكب عبيد، الحاجّة كوكب عبيد، فقه العبادات على المذهب المالكي (الناشر: مطبعة الإنشاء، دمشق – سوريا، الطبعة: الأولى ١٤٠٦ هـ) ج ١ ص ٥٩).

او د گیرې د خلالولو په اړه چې کله گیره گڼه وي جمهور علماء(احناف،شوافع او حنابله) د گیرې خلالول سنت گڼي او دلیل یې (لِمَا رُوِيَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا تَوَضَّأَ أَخَذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ تَحْتَ حَنَكِهِ فَخَلَّلَ بِهِ لِحْيَتَهُ ، وَقَالَ : هَكَذَا أَمَرَنِي رَبِّي.) (رواه أبو داود، باب في تخليل اللحية رقم الحديث ١٤٥). او د امام مالک رحمه الله په مذهب کې د گیرې په خلالولو کې درې اقوال راغلي:وجوب،کراهت او استحباب او د کراهت قول یې ظاهر قول ده ځکه دا په گیره کې د تعمق ښځه کار اخیستل دي.( كشاف القناع عن متن الإقناع ج ١ ص ٩٦)،( نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج ج ١ ص ١٩٢.).( الدسوقي، محمد بن أحمد بن عرفة الدسوقي، حاشية الدسوقي على الشرح الكبير، المالكي (الناشر: دار الفكر)ج ١ ص ٨٦).

[1] - **د سنتو حکم داده**: چې په کولو سره یې ثواب او په نه کولو سره یې ملامتیا ده ده. (رد المحتار على الدر المختار ج ١ ص ١٠٤).

[2] - یعنې سنت دادي چې د اوداسه پر مهال د بدن غړي درې ځلې ووینځل شي او ددې اړتیا نشته چې د هر غړي لپاره درې ځلې اوبه واخیستل شي. یعنې که له یوه لپه اوبو یا یو ځل اخیستل شویو اوبو ښځه درې ځلې د بدن یوه عضوه ووینځل شی نو سنت یې اداء کړي دي.

قَوْلُهُ: (وَيُسْتَحَبُّ لِلْمُتَوَضِّئِ أَنْ يَنْوِيَ الطَّهَارَةَ): الْمُسْتَحَبُّ: مَا كَانَ مَدْعُوًّا إلَيْهِ عَلَى طَرِيقِ الِاسْتِحْبَابِ، دُونَ الْحَتْمِ وَالْإِيجَابِ، وَفِي إتْيَانِهِ ثَوَابٌ، وَلَيْسَ فِي تَرْكِهِ عِقَابٌ وَالْكَلَامُ فِي النِّيَّةِ فِي أَرْبَعَةِ مَوَاضِعَ: فِي صِفَتِهَا، وَكَيْفِيَّتِهَا، وَوَقْتِهَا، وَمَحَلِّهَا:

١- أَمَّا صِفَتُهَا: فَذَكَرَ الشَّيْخُ أَنَّهَا مُسْتَحَبَّةٌ، وَالصَّحِيحُ: أَنَّهَا سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ.

٢- وَأَمَّا كَيْفِيَّتُهَا: فَإِنَّهُ يَقُولُ: نَوَيْتُ أن أَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ تَقَرُّبًا إلَى اللَّهِ تَعَالَى، أَوْ نَوَيْت رَفْعَ الْحَدَثِ، أَوْ نَوَيْت اسْتِبَاحَةَ الصَّلَاةِ، أَوْ :نَوَيْت الطَّهَارَةَ .

٣- وَأَمَّا وَقْتُهَا: فَعِنْدَ غَسْلِ الْوَجْهِ.

**دطهارت مستحبات(د اوداسه مستحبات)**

دا قول: (د اودس کوونکي لپاره د طهارت او پاکۍ نیت کول مستحب دی): مستحب هغه عمل دی چې په استحباب سره یې (د شریعت له لوري) غوښتنه شوې وي، د وجوب او حتمي والي څخه پرته، او په ترسره کولو کې یې ثواب دی، او په پرېښودو کې یې سزا نشته.

د نیت په اړه څلور موضوعات باید وڅېړل شي: د نیت په څرنګوالی کې، طریقې کې، وخت کې، او په ځای کې یې:

١- د نیت صفت (څرنګوالی): امام قدوري رحمه الله ذکر کړی چې دا مستحب دی، خو صحیح خبره دا ده چې دا سنت مؤکد دی [١].

٢- د نیت طریقه: دا ده چې وایي: ما نیت وکړ چې د لمانځه لپاره اودس وکړم الله تعالی ته د نږدېوالي په نیت سره، یا مې نیت وکړ د بې اودسې د لرې کولو، یا مې نیت وکړ د لمانځه د جواز لپاره، یا مې نیت وکړ د پاکۍ لپاره.

٣- د نیت وخت: د نیت وخت د مخ مینځلو په وخت کې ده.

---

[١] - دا هغه دلیلونه دی چې شارح ته حق ورکوي ترڅو نقد او تحلیل وکړي؛ شارح د متن تشریح کونکی نه یوازې دی، بلکه د اجتهاد او تحلیل حق هم لري. د وخت دشرایطو او نو یو فقهی منابعو له مخې شارح کولي شي د مخکیني مصنف له نظر سره اختلاف وکړي. شارح د قیاس او دلیل په مرسته د غوره نظر ملاتر کوي. زمان و مکان و او شرایطو بدلون هم د نظر په توپیر کې رول لري. داچې شارح دلته نقد کړی دی، د هغو دلیلونو له امله دي چې یاد شول، او هغه ته نقد او تحلیل اجازه رکوي. ( محمد الطاهر، محمد الطاهر بن عاشور، الشرح الکبیر علی مختصر خلیل (الناشر: دارالمعرفه، بیروت) ج ١ ص ٢٣٥- ٢٤٠ ).

۴- وَأَمَّا مَحَلُّهَا: فَالْقَلْبُ، وَالتَّلَفُّظُ بِهَا مُسْتَحَبٌّ. ثُمَّ النِّيَّةُ إنمَّا هِيَ فَرْضٌ لِلْعِبَادَاتِ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: { وَمَا أُمِرُوا إلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ }[1]، وَالإِخْلاَصُ هُوَ النِّيَّةُ، وَالْوُضُوءُ نَفْسُهُ لَيْسَ بِعِبَادَةٍ ، وَإِنمَّا هُوَ شَرْطٌ لِلْعِبَادَةِ، أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ كَرَّرَهُ مِرارًا فِي مَجْلِسٍ وَاحِدٍ: كَانَ مَكْرُوهًا ،لِمَا فِيهِ مِنْ الإِسْرَافِ الْمَذْمُومِ فِي الْمَاءِ وَإِنمَّا كَانَتْ النِّيَّةُ فَرْضًا فِي التَّيَمُّمِ ؛ لأَنَّ التُّرَابَ لَمْ يُعْقَلْ مُطَهِّرًا فَلاَ يَكُونُ مُزِيلاً لِلْحَدَثِ فَلَمْ يَبْقَ فِيهِ إلاَّ مَعْنَى التَّعَبُّدِ وَمِنْ شَرْطِ الْعِبَادَةِ النِّيَّةُ ، وَأَمَّا الْمَاءُ فَمُطَهِّرٌ بِطَبْعِهِ فَلاَ يَحْتَاجُ إلَى النِّيَّةِ إلاَّ أَنَّهُ لاَ يَقَعُ قُرْبَةً بِدُونِ النِّيَّةِ لَكِنَّهُ يَقَعُ مِفْتَاحًا لِلصَّلاَةِ لِوُقُوعِهِ طَهَارَةً بِاسْتِعْمَالِ الْمَاءِ الْمُطَهِّرِ بِخِلاَفِ التَّيَمُّمِ ؛ لأَنَّ التُّرَابَ

۴- د نیت ځای: زړه دی، او په ژبه یې تلفظ مستحب دی. بیا نیت یوازې د عباداتو لپاره فرض دی.لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: ژباړه( او هغوی ته یوازې د دې حکم ورکړ شوی وه چې د نیت په اخلاص سره د الله تعالی عبادت وکړي) اخلاص نیت ته وایي، او اودس خپله عبادت نه دی [2]،بلکې د عبادت لپاره شرط دی. آیا نه ګورې چې که په یوه مجلس کې څو ځله اودس وکړي، نو مکروه دی؛ ځکه چې په دې کار کې د اوبو بېځایه لګښت (اسراف) دی، چې مذموم دی او په تیمم کې نیت ځکه فرض دی چې خاوره عقلا پاکوونکې نه ګڼل کېږي، نو دا د حدث او ناپاکي د لرې کولو وسیله نشي کېدلای، نو له دې امله تیمم یو تعبدي قضیه شمېرل کېږي [3]،او د عبادت لپاره نیت شرط دی (نو د تیمم لپاره به هم نیت شرط وي).

خو اوبه په خپله د پاکوالي خاصیت لري، نو ځکه نیت ته اړتیا نه لري، له دې امله اودس خو د نیت پرته د لمانځه د جواز کلي ګرځي مګر د نیت پرته د الله (جل جلاله) قربت ترې نه ترلاسه کېږي. (او د لمانځه د جواز کیلي خو ځکه ګرځي) ځکه چې د پاکو اوبو په کارونه طهارت را منځته کېږي. خو تیمم داسې نه دی، ؛ ځکه خاوره

[1] - قرآن کریم،سورة البینة،آیت نمبر ۷.

[2] - **فقهي مسئله:** نیت د اودا سه لپاره سنت ده،نو په کوم اودس کې چې نیت د اودا سه وشي،مأمور به ګرځي او الله تعالی وربانديې ثواب ورکوي او که چېرې یوه چا اودس بدون له نیت څخه وکړ او بیا یې په همدغه اودا سه باندې لمونځ وکړ،نو لمونځ یې اداء شو لکن د اودا سه ثواب یې نشته ځکه څه ډول چې مأمور به اودس ده هغه ډول یې ونه کړ. (رد المحتار علی الدر المختار ج ۱ ص ۱۰۶).

[3] - **فقهي مسئله:** په دې معنی چې خاوره خو پاکوونکې نه ده خو موږ یې تعبدا پاکوونکې ګڼو یعنې له دې امله یې پاکوونکې ګڼو چې شریعت همداسې ګرځولی ده.

غَيْرُ مُطَهِّرٍ إلاَّ فِي حَالَةِ إرَادَةِ الصَّلَاةِ حَتَّى إنَّهُ لَوْ وَقَعَ التُّرَابُ عَلَى أَعْضَائِهِ مِنْ غَيْرِ قَصْدٍ أَوْ علّم إنسانا التَّيَمُّمُ لَمْ يَكُنْ مِفْتَاحًا لِلصَّلَاةِ.
(قَوْلُهُ: وَيَسْتَوْعِبُ رَأْسَهُ بِالْمَسْحِ) الِاسْتِيعَابُ هُوَ الِاسْتِئْصَالُ يُقَالُ اسْتَوْعَبَ كَذَا إذَا لَمْ يَتْرُكْ مِنْهُ شَيْئًا وَالِاسْتِيعَابُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ عَلَى الصَّحِيحِ وَصُورَتُهُ أَنْ يَضَعَ مِنْ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْ الْيَدَيْنِ ثَلَاثَ أَصَابِعَ عَلَى مُقَدَّمِ رَأْسِهِ وَلَا يَضَعُ الْإِبْهَامَ وَلَا السَّبَّابَةَ وَيُجَافِي بَيْنَ كَفَّيْهِ وَيَمُدُّهُمَا إلَى الْقَفَا ثُمَّ يَضَعُ كَفَّيْهِ عَلَى مُؤَخَّرِ رَأْسِهِ وَيَمُدُّهُمَا إلَى مُقَدَّمِ رَأْسِهِ ثُمَّ يَمْسَحُ ظَاهِرَ أُذُنَيْهِ بِإِبْهَامَيْهِ وَبَاطِنَهُمَا بِمُسَبِّحَتَيْهِ كَذَا فِي الْمُسْتَصْفَى وَيَمْسَحُ رَقَبَتَهُ بِظَهْرِ الْيَدَيْنِ.

په خپل ذات کې پاکوونکې نه ده، يوازې په هغه وخت کې پاکوونکې گرځي چې د لمانځه اراده موجوده وي.د بيلگې په توگه که چيرته د لمانځه اراده موجوده نه وه او د تيمم له ارادې پرته خاوره د بدن په غړو ولگيږي، او يا څوک بل چا ته د تيمم د ورښودلو په اراده د خپل بدن په غړو خاوره پورې کړي ، نو دا د لمانځه کلي نه گرځي (ځکه چې په دې کې د تيمم قصد او نيت نشته).

دا قول: (دا ورته مستحب دي چې ټول سر په مسحې سره راگير کړي): د "استيعاب" د لفظ مطلب د جرړو نه د يو شي را ويستل [1]،لکه څنگه چې ويل کيږي: استوعب كذا، يعنې يو شی يې پوره را واخيست او هيڅ برخه يې ورڅخه پاتې نه شو. د سر استيعاب په مسحه کې د صحيح قول له مخې يو مؤکد سنت دی.

د دې شکل داسې ده: د دواړو لاسونو درې درې گوتې د سر په مخکې برخه کيږدي، خو د شهادت گوته (سبابه) او غټه گوته (ابهام) به نه ږدي. د لاس ورغوي بايد لرې وساتي او د څټ خوا ته دې يې کش کړي. بيا دې د لاسونو دواړه ورغوي د سر د شا په برخه کيږدي او د سر مخې طرف ته به يې راکش کړي . وروسته به د غوږونو ظاهر (باندې) برخه د دواړو لاسونو په غټو گوتو او د غوږونو دننه برخه به په سبابه گوتو مسحه کړي، په همدې ډول په "المستصفی" کتاب [2] کې د دې يادونه شوی ، د څټ مسحه به د دواړو لاسونو د شا په برخې سرته رسوي .

---

[1] - د استيعاب معنی چې ټول شی راگير کړل شي او هيڅ شی ورڅخه پاتې نشي.(لسان العرب ج ۱ ص ۷۹۹).

[2] - د مصنف نوم يې عمر د پلار نوم يې محمد د نيکه نوم يې احمد کنيت يې ابو حفص و، او په علامه نسفي سره شهرت لري، په (۴۶۱ هـ) کال کې په سمرقند کې زيږېدلی ده، د (الجَامعَ الصَّغِيْرُ) تنظيم کوونکی ده او په تفسير،حديثو او شروطو کې يې تر (۱۰۰) سلو پورې کتابونه تصنيف کړي دي او د جمادي الاولی په دولسمه په (۵۳۷هـ) کال کې په سمرقند کې وفات شو. (سير اعلام النبلاء د امام ذهبي ج ۳۹ ص ۱۲۰).

قَوْلُهُ: ( وَيُرَتِّبُ الْوُضُوءَ) التَّرْتِيبُ عِنْدَنَا سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ عَلَى الصَّحِيحِ وَيُسِيءُ بِتَرْكِهِ وَالْبُدَاءَةُ بِالْمَيَامِنِ فَضِيلَةٌ وَسَوَاءٌ عِنْدَنَا الْوُضُوءُ وَالتَّيَمُّمُ فِي كَوْنِ التَّرْتِيبِ فِيهِمَا سُنَّةً.

دا قول: (او دا مستحب دي چې په اوداسه کې ترتيب مراعت کړي): د اوداسه ترتيب د صحيح قول له مخې زموږ په مذهب کې يو مؤکده سنت دی، او د دې په پرېښودلو د ګناه مرتکب ګرځي[1]، په ښي اړخونو پيل کول مستحب دی[2].

د ترتيب په اړه زموږ په مذهب کې د اوداسه او تيمم په اړه يو شان حکم دی، چې په دواړو کې ترتيب سنت ګڼل کېږي[3].

---

[1] - **فقهي مسئله:** د شافعي او حنبلي مذاهبو په نزد ترتيب د اوداسه د اعضاوو په مينځلو کې واجب ده او دليل يې په دغه آيت شريف کې{ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ}. (و) د ترتيب او وصل لپاره ده،چې د اوداسه اعضاء به د آيت شريف موافق په ترتيب سره مينځل کيږي.او بل دليل يې ( لقوله صلّى الله عليه و سلم في حجته: «ابدؤوا بما بدأ الله به».(رواه النسائي بإ سناد صحيح). أبو زکريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى: ٦٧٦هـــ)،د کتاب نوم المجموع شرح المهذب ((مع تکملة السبکي والمطيعي))، ج ١ ص ۴۴١، الناشر: دار الفکر . أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشـقي الحنبلي، الشـهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: ٦٢٠هـ)،د کتاب نوم الکافي في فقه الإمام أحمد، ج ١ ص ٦٧، الناشر: دار الکتب العلمية,اول چاپ په څلور جلدونو کې په ١۴١۴ هـ - ١٩٩۴ م کال کې.

په اوداسـه کې د هغو اندامونو مينځل چې فرض دي په هغه کې د ترتيب مراعت کولو کې د مالکي مذهب پيروان هم د احنافو سره په يوه نظر دي چې ترتيب په اوداسـه کې سـنت ده او دليل يې په دغه آيت شريف کې { يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّـلَاةِ فَاغْسِـلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَـحُوا بِرُءُوسِـكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ}. وايي چې (و) په دغه آيت شريف کې د ترتيب لپاره نه ده،بلکې د مطلقې جمعې لپاره ده،ځکه که چيرته ترتيب مطلوب و،نو بيا به عطف په (فا) يا (ثم) باندې شوی و.او بل دليل يې داده چې که يو څوک په اوبو کې په نيت د اودا سه خپل ځان ډوب کړي،نو اودس يې کيږي. أبو الوليد محمد بن أحمد چې په بابن رشد الحفيد سره مشهور ده،په ( ۵٩۵هـــ) کال کې وفات شوی،بداية المجتهد ونهاية المقتصد,ج ١ ص ٢٣،تاريخ النشر: ١۴٢۵هـــ- ٢٠٠۴ م،الناشر: دار الحديث – القاهرة.

[2] - **فقهي مسئله:** د شافعي او حنبلي مذاهبو په نزد ترتيب د اوداسه د اعضاوو په مينځلو کې واجب ده او دليل يې په دغه آيت شريف کې{يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ}. (و) د ترتيب او وصل لپاره ده،چې د اوداسه اعضاء به د آيت شريف موافق په ترتيب سره مينځل کيږي. او بل دليل يې (لقوله صلّى الله عليه وسلم في حجته: «ابدؤوا بما بدأ الله به». (رواه النسائي بإسناد صحيح). (المجموع شرح المهذب ((مع تکملة السـبکي والمطيعي))، ج ١ ص ۴۴١). (ابن قدامة المقدسي، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي (المتوفى: ٦٢٠هـ)، الکافي في فقه الإمام أحمد(الناشر: دار الکتب العلمية ،ط:١۴١۴ هـ- ١٩٩۴ م) ج ١ ص ٦٧).

په اوداسـه کې د هغو اندامونو مينځل چې فرض دي په هغه کې د ترتيب مراعت کولو کې د مالکي مذهب پيروان هم د احنافو سره په يوه نظر دي چې ترتيب په اوداسـه کې سـنت ده او دليل يې په دغه آيت شريف کې {يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّـلَاةِ فَاغْسِـلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَـحُوا بِرُءُوسِـكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ}. وايي چې (و) په دغه آيت شريف کې د ترتيب لپاره نه ده،بلکې د مطلقې جمعې لپاره ده،ځکه که چيرته ترتيب مطلوب و،نو بيا به عطف په (فا) يا (ثم) باندې شوی و. او بل دليل يې داده چې که يو څوک په اوبو کې په نيت د اوداسه خپل ځان ډوب کړي،نو اودس يې کيږي. أبو الوليد محمد بن أحمد چې په بابن رشد الحفيد سره مشهور ده،په (۵٩۵هـ) کال کې وفات شوی. (بداية المجتهد ونهاية المقتصد ج ١ ص ٢٣).

[3]- **فقهي مسـئله:** لکه څنګه چې ترتيب د شـافعي او حنبلي مذهب په نزد په اوداسـه کې فرض و،همدا ډول په تيمم کې هم دوی ترتيب فرض ګڼي او دوی تيمم په اوداسـه باندې قياس کوي لکه څنګه چې په اوداسـه کې د اوداسـه اعضـاوو مينځل په ترتيب سره راغلي دي همدا ډول په دغه آيت شريف کې (فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ). سورة النساء ۴٣ آيت. هم د ترتيب تقاضا کوي او (و) په کې د ترتيب لپاره ده. : (الکافي في فقه الإمام أحمد ج ١ ص ١٢١). (الشيرازي، أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف الشيرازي (المتوفى: ۴٧٦هـــ)، المهذب في فقة الإمام الشافعي (الناشر: دار الکتب العلمية) ج ١ ص ٦٩). لکن په تيمم کې د ترتيب په سـنت والي کې مالکي مذهب فقهاء هم د احنافو سره په يوه نظر دي او وايي چې په آيت شريف کې (و) د مطلق جمعې لپاره ده او د ترتيب لپاره نه ده. (کوکب عبيد، فقه العبادات على المذهب المالکي(الناشر: مطبعة الانشاء، دمشق ـ سوريا، الطبعة الاولى ١۴٠٦هـ) ج ١ ص ٩۴).

قَوْلُهُ : ( فَيَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللَّهُ تَعَالَى بِذِكْرِهِ ) وَهُوَ غَسْلِ الْوَجْهِ وَالْمُوَالَاةُ سُنَّةٌ عِنْدَنَا ، وَقَالَ مَالِكٌ فَرْضٌ وَالْمُوَالَاةُ هِيَ التَّتَابُعُ وَحَدُّهُ أَنْ لَا يَجِفَّ الْمَاءُ عَنْ الْعُضْوِ قَبْلَ أَنْ يَغْسِلَ مَا بَعْدَهُ فِي زَمَانٍ مُعْتَدِلٍ وَلَا اعْتِبَارَ بِشِدَّةِ الْحَرِّ وَالرِّيَاحِ فَإِنَّ الْجَفَافَ يُسْرِعُ فِيهِمَا لَا بِشِدَّةِ الْبَرْدِ فَإِنَّ الْجَفَافَ يُبْطِئُ فِيهِ وَيُعْتَبَرُ أَيْضًا اسْتِوَاءُ حَالَةِ الْمُتَوَضِّئِ فَإِنَّ الْمَحْمُومَ يُسَارِعُ الْجَفَافُ إلَيْهِ لِأَجْلِ الْحُمَّى.

او دا قول: (نو په هغه څه به شروع کوي چې الله تعالی په هغه باندې شروع کړې ده): او هغه د مخ پریمینځل دي (یعنې الله تعالی د مخ د پریمینځلو د حکم څخه پیل کړی دی). د زموږ د مذهب له مخې موالات (په اوداسه کې په پرله پسې ډول د اندامونو مینځل ) سنت ده [1]، خو امام مالک رحمة الله علیه دا فرض ګڼي [2].موالات دې ته وایي چې په معتدله اب وهوا کې د مخکیني اندام د وچېدو څخه دمخه بل اندام پرېمینځي.

په دې کې د زیاتې ګرمۍ او بادونو ته اعتبار نشته، (که مخکینی اندام د ګرمۍ او باد له امله له دې څخه دمخه وچ شي چې بل اندام یې مینځلی وي نو دلته موالات نه دي فوت شوي) ځکه د ګرمۍ او باد له امله اندام ژر وچېږي، همدا راز په دې کې یخنۍ ته هم اعتبار نشته ځکه په یخنۍ کې مینځل شوی اندام ډېر وروسته وچېږي.

د اودس کوونکي د بدن وضعیت هم باید په پام کې ونیول شي؛ مثلا هغه څوک چې تبه ولري، د بدن ګرمۍ له امله د بدن د غړو اوبه یې ژر وچېږي (نو که له دې امله یې هم مخکینی اندام ژر وچ شو نو موالات نه فوت کیږي).

---

[1]- **فقهي مسئله:** په اوداسه کې د موالاتو د سنتیت په اړه شافعي مذهب فقهاء د احنافو سره یو شان نظر لري او وایي چې په اوداسه کې موالاة سنت دي او دلیل ددې نظر د خاوندانو داده چې په دغه آیت شریف کې (فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ. . . ). د اوداسه د غړو په پرله پسې ډول مینځلو باندې تأکید نشته،نو که د اودا سه عضوې د وقفې سره ومنیځل شي،اودس یې صحیح ده او بل دلیل یې عقلي ده او هغه دا چې مراد له اودا سه څخه پاکوالی ده چې هغه د موالاتو په نه مراعت سره هم ترلاسه کیږي. (الغزالي، أبو حامد محمد بن محمد الغزالي، الوسیط في المذهب (ناشر:دار السلام ــــ قاهرة ، ط: ۱۴۱۷هـ) ج ۱ ص ۲۸۹).

[2]- **فقهي مسئله:** د مالکي مذهب فقهاوو سره د حنبلي مذهب فقاء یو شان نظر لري او وایي چې موالات فرض دی په اوداسه کې په هغه وخت کې چې له هیره یې نوي وتلي او همدا ډول چې قدرت په موالاتو ولري. او دلیل یې دا حدیث شریف ده « حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، عَنْ بَحِيرٍ هُوَ ابْنُ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يُصَلِّ وَفِي ظَهْرِ قَدَمِهِ لُمْعَةٌ قَدْرُ الدِّرْهَمِ، لَمْ يُصِبْهَا الْمَاءُ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُعِيدَ الْوُضُوءَ وَالصَّلَاةَ» (سنن أبي داود کتاب الطهارة، حدیث شمېره ۱۷۵) (امام نووي وایي چې ددغه حدیث اسناد ضعیف دي لکن امام احمد رحمه الله وایي چې ا سناد یې جید دي) نو مالکي مذهب او حنبلي مذهب فقهاء وایي چې که موالات فرض نوای نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به د اوداســه او لمانځه په اعادې باندې امر نوای کړی او فقط دومره به یې ورته ویلي و چې یواځې کوم ځای چې وچ پاتې ده هغه ووینځه او بیا لمونځ وکړه (بدایة المجتهد ونهایة المقتصد ج ۱ ص ۲۴).

وَإِنَّمَا يُكْرَهُ التَّفْرِيقُ فِي الْوُضُوءِ إذَا كَانَ لِغَيْرِ عُذْرٍ أَمَّا إذَا كَانَ لِعُذْرٍ بأن فَرَغَ مَاءِ الْوُضُوءِ أَوْ انْقَلَبَ الْإِنَاءُ فَذَهَبَ لِطَلَبِ الْمَاءِ أَوْ مَا أَشْبَهَ ذَلِكَ فَلَا بَأْسَ بِالتَّفْرِيقِ عَلَى الصَّحِيحِ وَهَكَذَا إذَا فَرَّقَ فِي الْغُسْلِ وَالتَّيَمُّمِ.

(قَوْلُهُ: وَبِالْمَيَامِنِ) أَيْ يَبْدَأُ بِالْيَدِ الْيُمْنَى قَبْلَ الْيُسْرَى وَبِالرِّجْلِ الْيُمْنَى قَبْلَ الْيُسْرَى وَهُوَ فَضِيلَةٌ عَلَى الصَّحِيحِ ؛ لِأَنَّ {النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُحِبُّ أَنْ يَبْدَأَ بِالْمَيَامِنِ فِي كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى فِي لُبْسِ نَعْلَيْهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ} وَفِي هَذَا إشَارَةٌ إلَى أَنَّهُ كَانَ يَنْبَغِي أَنْ يُقَدِّمَ مَسْحَ الْأُذُنِ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى كَمَا فِي الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ لَكِنَّا نَقُولُ الْيَدَانِ وَالرِّجْلَانِ يُغْسَلَانِ بِيَدٍ وَاحِدَةٍ فَيَبْدَأُ فِيهِمَا بِالْمَيَامِنِ، وَأَمَّا الْأُذُنَانِ فَيُمْسَحَانِ مَعًا بِالْيَدَيْنِ جَمِيعًا لِكَوْنِ ذَلِكَ أَسْهَلَ حَتَّى لَوْ لَمْ يَكُنْ لَهُ إلَّا يَدٌ وَاحِدَةٌ أَوْ بِإِحْدَى يَدَيْهِ عِلَّةٌ وَلَا يُمْكِنُهُ مَسْحُهُمَا مَعًا فَإِنَّهُ يَبْدَأُ بِالْأُذُنِ الْيُمْنَى ثُمَّ بِالْيُسْرَى كَمَا فِي الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ وَأَلْحَقَ بَعْضُهُمْ الْخَدَّيْنِ بِالْأُذُنَيْنِ فِي الْحُكْمِ وَلَيْسَ فِي أَعْضَاءِ الطَّهَارَةِ عُضْوَانِ لَا يُسْتَحَبُّ تَقْدِيمُ الْأَيْمَنِ مِنْهُمَا إلَّا الْأُذُنَيْنِ.

په اودا سه کې د اندامونو په پرله پرسې توگه نه مینځل او جدا جدا مینځل مکروه دي او دا په هغه صورت کې چې له عذر پرته وي. خو که د عذر له امله وي لکه د اوبو د ختمېدو او لوښــي د اوښــتو له د اوبو د ترلاســه کولو لپاره ولاړ شي او یا داســې بل کوم عذر وي، نو په دې حالت کې بیا د اوداســه د اندامونو په متفرق ډول مینځل پروا نه لري.او همدا حکم د غسل او تیمم هم ده.

دا قول: (په ښي اړخ به پیل کوي): له (بِالْمَيَامِنِ) څخه مطلب داده چې په اوداسه کې باید له چپ لاس څخه دمخه د ښي لاسه پرمینځلو پیل وشي، او د چپې پښې له مینځلو مخکې د ښي پښې پر مینځلو پیل وشي.او دا کار د راجح مذهب پر بنسټ د فضیلت او استحباب په کچه کې راځي. ځکه چې نبي کریم ﷺ به په هر کار کې د ښي اړخه څخه پیل غوره گاڼه. حتی د خپلو څپلیو په اغوستو کې هم.

له دې څخه دا هم ثابتېږي چې په اوداسه کې باید د چپ غوږ د مسح کولو څخه دمخه د ښي غوږ مسح کول غوره وی ، لکه څنگه چې د لاسونو او پښو په پرېمنځلو کې د ښي اړخ پیل مستحب دی. خو موږ وایو چې لاسونه او پښې په یوه لاس سره پرېمنځل کېږي؛ نو ځکه په هغوی کې له ښي اړخه پیل کېږي. مگر د اسانی له امله غوږونه د دواړو لاسونو په مرسته په یو ځایي او په یو وخت مسح کېږي (نو په دې کې مخکې او وروسته نشته)

خو (که دواړه غوږونه په یو ځای او یو وخت نه مسح کېدل بیا په کې د ښي غوږ څخه پیل کول مستحب دي) لکه که څوک یوازې یو لاس ولري، یا یې یو لاس معذور وي او دواړه غوږونه په یو ځل مسح کول ورته ناممکن وي، نو په دې حالت کې به لومړی ښی غوږ مسح کوي بیا چپ غوږ، لکه څرنگه یې چې د لاسونو او پښو په مینځلو کې کوي. ځینو علماو د مخ دواړه اړخونه (اننگي) هم د غوږونو په څېر گڼلي دي (چې تیامن په کې مستحب نه دی) خو سمه خبره دا ده چې غوږونو څخه پرته د اوداسه په اندامونو کې داسې اندامونه نشته چې دوه وي او د ښي مخکې کول یې مستحب نه وي.

( قَوْلُهُ : وَالْمَعَانِي النَّاقِضَةُ لِلْوُضُوءِ ) لَمَّا فَرَغَ مِنْ بَيَانِ فَرْضِ الْوُضُوءِ وَسُنَنِهِ وَمُسْتَحَبَّاتِهِ شَرَعَ الْآنَ فِي بَيَانِ مَا يَنْقُضُهُ وَالنَّقْضُ مَتى أُضِيفَ إلَى الْأَجْسَامِ يُرَادُ بِهِ إبْطَالُ تَأْلِيفِهِمَا وَمَتَى أُضِيفَ إلَى غَيْرِهَا يُرَادُ بِهِ إخْرَاجُهُ عَمَّا هُوَ الْمَطْلُوبُ مِنْهُ وَالْمُتَوَضِّئُ هَا هُنَا كَانَ قَادِرًا عَلَى الصَّلَاةِ وَمَسِّ الْمُصْحَفِ فَلَمَّا بَطَلَ ذَلِكَ بِالْحَدَثِ انْتَقَضَتْ صِفَتُهُ وَخَرَجَ عَمَّا كَانَ عَلَيْهِ.

( قَوْلُهُ كُلُّ مَا خَرَجَ مِنْ السَّبِيلَيْنِ ) وَهُمَا الْفَرْجَانِ وَمِنْ دَأْبِ الشَّيْخِ رَحِمَهُ اللَّهُ أَنْ يَبْدَأَ بِالْمُتَّفَقِ فِيهِ ثُمَّ بِالْمُخْتَلَفِ فِيهِ وَالْخَارِجُ مِنْ السَّبِيلَيْنِ مُتَّفَقٌ فِيهِ عَلَى أَنَّهُ يَنْقُضُ الْوُضُوءَ فَقَدَّمَهُ لِذَلِكَ ثُمَّ عَقَّبَهُ بِالْمُخْتَلَفِ فِيهِ ، وَهُوَ خُرُوجُ الدَّمِ وَالْقَيْحِ وَالْقَيْءِ وَغَيْرِ ذَلِكَ

**د اوداسه ماتوونکي شیان**

دا قول: (هغه لاملونه چې اودس ماتوي): کله چې د اوداسـه د فرضـونو، سـنتونو او مسـتحبونو د بیان څخه فارغ شو، نو د هغه د ماتوونکو په بیان یې پیل وکړ.

"نقض": کله یې چې جسمونو ته نسبت وشي، نو مقصد یې د هغو د جوړښت ماتېدل دي، او کله یې چې له جسمونو پرته نورو شیانو ته نسبت وشي، نو مقصد یې هغه د خپل مطلوب حالت څخه ایستل دي. د بېلګې په توګه دلته متوضي شخص ددې توان درلوده چې لمونځ وکړي او مصحف لمس کړي، خو کله چې دا توان د حدث (بې اودسۍ) له امله ختم شو، د هغه حالت ختم شو او له هغه وضعیت څخه ووت چې په هغه کې وه (او همدې ته نقض ویل کېږي).

دا قول:( هر هغه څه چې له دواړو مخرجونو(فرجونو)څخه خارج شي): دواړه لارې (مخرجونه) یا فَرْجَیْنْ ورڅخه مراد دي. د شیخ (قدوري) رحمه الله عادت دا دی چې هغه په اتفاقي مسئلو پیل کوي، بیا هغه مسئلې ذکر کوي چې اختلاف په کې وي. د دواړو مخرجونو څخه خارجېدونکي شیان د علماوو په اتفاق د وضو ماتونکي دي، نو شیخ (قدوري) رحمه الله تر هر څه دمخه د همدې یادونه وکړه، وروسته یې هغه مسئلې بیان کړې چې په اړه یې اختلاف دی، لکه د وینې، چرک، قی (استفراغ ) او نورو شیانو خارجېدل.

وَاعْلَمْ أَنَّ كَلِمَةَ كُلٍّ وُضِعَتْ لِعُمُومِ الْأَفْرَادِ فَتَتَنَاوَلُ الْمُعْتَادَ وَغَيْرَ الْمُعْتَادِ كَدَمِ الِاسْتِحَاضَةِ وَالْمَذْيِ وَالْوَدْيِ وَالدود وَالْحَصَا وَغَيْرِ ذَلِكَ ، وَمَفْهُومُ كَلَامِ الشَّيْخِ أَنَّ كُلَّ مَا خَرَجَ يَنْقُضُ الْوُضُوءَ فَهَلْ هُوَ كَذَلِكَ قُلْنَا نَعَمْ إلَّا الرِّيحَ الْخَارِجَةَ مِنْ الذَّكَرِ وَفَرْجِ الْمَرْأَةِ فَإِنَّهَا لَا تَنْقُضُ عَلَى الصَّحِيحِ إلَّا أَنْ تَكُونَ الْمَرْأَةُ الْفَضَاةُ وَهِيَ الَّتِي مَسْلَكُ بَوْلِهَا وَغَائِطِهَا وَاحِدٌ فَيَخْرُجُ مِنْهَا رِيحٌ مُنْتِنَةٌ فَإِنَّهُ يُسْتَحَبُّ لَهَا الْوُضُوءُ وَلَا يَجِبُ ؛ لِأَنَّهُ يَحْتَمِلُ أَنَّهَا خَرَجَتْ مِنْ الدُّبُرِ فَتَنْقُضُ وَيَحْتَمِلُ أَنَّهَا خَرَجَتْ مِنْ الْفَرْجِ فَلَا تَنْقُضُ ، وَالْأَصْلُ تَيَقُّنُ الطَّهَارَةِ وَالنَّاقِضُ مَشْكُوكٌ فِيهِ فَلَا يُنْتَقَضُ وُضُوءُهَا بِالشَّكِّ لَكِنْ يُسْتَحَبُّ لَهَا الْوُضُوءُ لِإِزَالَةِ الِاحْتِمَالِ وَأَمَّا الدُّودَةُ الْخَارِجَةُ مِنْ الذَّكَرِ وَالْفَرْجِ فَنَاقِضَةٌ بِالْإِجْمَاعِ .

کلمه د "کُل" ټولو افرادو ته شامليږي، نو په دې کې معمول او غير معمول ټول شيان شامليږي، لکه د استحاضې وينه، مذي، ودي، د چينجي لويدل، د وړوکي کاڼي او نورو شيانو وتل. د شيخ (قدوري) د خبرو مفهوم دا دی چې هر هغه څه چې له بدن څخه خارج شي اودس ماتوي. آيا دا خبره همداسې ده؟ موږ وايو: هو، پرته له هغه باد څخه چې د نارينه له ذکر يا د ښځې له فرج څخه وځي، ځکه د صحيح قول له مخې دا اودس نه ماتوي، مګر که ښځه (مفضاة) وي، او دا هغه حالت دی چې په کې د هغې د بولو او غايطو لارې يې سره يوځای شوي وي او له هغې (ښځې) څخه بدبوی لرونکی باد ووځي، نو ورته د اوداسه کول مستحب دي، واجب نه دي.

ځکه دا احتمال شته چې دا باد د هغې له مقعد څخه وتلی وي، نو دا اودس ماتوي، او دا احتمال هم شته چې له فرج څخه وتلی وي، نو هغه اودس نه ماتوي. اصلي قاعده [1] د طهارت يقين دی، او ناقض مشکوک دی، نو نو په شک سره اودس نه ماتيږي. مګر د احتمالاتو د ختمولو لپاره ورته د اوداسه کول مستحب دی.

او د نارينه د ذکر يا د ښځې له فرج څخه وتونکی چينجی د علماوو په اجماع [2] سره اودس ماتوي.

---

[1] - **فقهي قاعده:** دلته دغې قاعدې (الْيَقِينُ لَا يَزُولُ بِالشَّـكِّ) ته اشـاره کوي او ثبوت ددغې فقهي قاعدې دا حديث شريف ده مَا رَوَاهُ مُسْـلِمٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مَرْفُوعًا {إذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي بَطْنِهِ شَيْئًا فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ أَمْ لَا فَلَا يَخْرُجَنَّ مِنْ الْمَسْجِدِ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا، أَوْ يَجِدَ رِيحًا} " (المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري ج ١ ص ٢٧٦ رقم الحديث ٣٦٢، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري ، عدد الأجزاء: ٥ ، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت) .او دا قاعده ددې بيان کوي چې په مطلقا شک کولو سره يقين له منځه نه ځي نو دلته هم په شـک کولو سره اودس له منځه نه ځي لکن د احتمالاتو د ختمولو لپاره د اودس کول مسـتحب ده . (ابن نجيم المصري، زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم المصري (المتوفى: ٩٧٠هـ) ، الْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ النُّعْمَانِ(الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت –لبنان) ج ١ ص ٤٧).

[2] - **فقهي مسئله:** دا اجماع د حنفي مذهب داخلي اجماع ده؛ځکه په حنفي مذهب کې وايي هر څه چې له سبيلينو څخه خارج شي که هغه معتاد وي او که غير معتاد اودس ماتوي. (رد المحتار على الدر المختار ج ١ ص ١٣٤).

قَوْلُهُ : (وَالدَّمُ وَالْقَيْحُ إذَا خَرَجَا مِنْ الْبَدَنِ ) وَكَذَلِكَ الصَّــدِيدُ وَهُوَ مَاءُ الْجُرْحِ الْمُخْتَلِطِ بِالدَّمِ قَبْلَ أَنْ يغْلُظَ في الْمُدَّةُ فَتَكُونُ فِيهِ صفرة، وَقَيَّدَ بِالْبَدَنِ ؛ لِأَنَّ الْخَارِجَ مِنْ السَّبَلَيْنِ لاَ يُشْتَرَطُ فِيهِ التَّجَاوُزُ، وَقَالَ زُفَرُ الدَّمُ وَالْقَيْحُ يَنْقُضَانِ الْوُضُــوءَ ، وَإِنْ لَمْ يَتَجَاوَزَا، وَقَالَ الشَّــافِعِيُّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ لاَ يَنْقُضَــانِ وَإِنْ تَجَاوَزَا، وَقَيَّدَ بِقَوْلِهِ خَرَجَا احْتِرَازاً عَمَّا إذَا خَرَجَا بِالْمُعَالَجَةِ فَإِنَّهُ لاَ يَنْقُضُ الْوُضُوءَ ، وَهُوَ اخْتِيَارُ صَاحِبِ الْهِدَايَةِ وَاخْتِيَارُ السَّرَخْسِيِّ النَّقْضُ.

دا قول: (وينه او چرک چې کله له بدنه راوځي): همدا ډول (صديد) چرک هم د اوداسه ماتوونکی دی، او دا د زخم هغه اوبه دي چې له وينو سره ګډې وي مخکې له دې چې د وخت په تيرېدو سره په کې غلظت رامنځته شي، او ژيړوالی په کې وي.

د قدوري په متن کې يې د (إذا خرج من البدن) قيد ذکر کړ ځکه کوم شيان چې د سبيلينو څخه راوځي په هغه کې دا شرط نه دی چې خپور دې شي، بلکې مطلق راوتل يې يې اودس ماتوي، او په دې نورو شــيانو کې اودس هغه وخت ماتېږي چې د راوتلو له ځای څخه تجاوز وکړي او خپور شي.

امام زفر رحمة الله عليه فرمايي، که وينه او چرک له خپل ځايه څخه تجاوز هم ونه کړي(خپور) هم نه شي ، بيا هم اودس ماتوي. او امام شـافعي رحمه الله وايي چې که له خپل ځايه تجاو هم وکړي او خپور هم شي بيا هم اودس نه پرې ماتيږي [1].

په متن کې يې وويل (خرجا) په دې کې له دې څخه احتراز دی چې انسان يې پخپله په زور را وباسي [2] په هغه اودس نه ماتېږي، همدا د هدايې د مصنف نظر دی [3]، او امام سرخسي بيا وايي چې دا اودس ماتوي [4].

---

[1] - د دی موضوع د اصلي منابعو څخه ځينې يې: المغني، د ابن قدامه لخوا (حنبلی فقيه چې د شافعی مذهب شرح يی هم کړی)، ج۱ ص ۹۰ – ۹۵) .

[2] - ځکه خرج لازم فعل دی چې معنی يې ده راوتل، أخرجا يې و نه ويل ځکه هدف يې دا دی چې پخپله را ووځي، که چا را وويســتل نو د هغه په اړه بيا اختلاف دی.

[3] - «وَ إذا خَرَج الشَّئ احترازاً لَايَنقُضِ الوُضوء وَ إِذَا خَرَج بِالعِلَاج ينقض». هدايه باب طهارت دارالكتب العلميه بيروت حدود ص ۲۰۰-۲۱۰.

[4] - نوم يې عبدالرحمن بن محمد السرخسي، نوم د کنيه يې ابوبکر، په شمس الائمه سرخسي سره مشهور و،د حنفي فقه فقيه و، د سرخس اوسيدونکی و، خوزستان ته يې چې کله سفر وکړ هلته قاضي مقرر شو. په (۴۳۱هـــ) کال کې پيدا شوی او په (۴۸۳هـــ )کال کې وفات شوی ده. تهذيب التهذيب، الامام الحافظ شيخ الاسلام شهاب الدين احمد بن علي بن حجر العسقلاني ص ۲۶۱۵ ، الطبعة الاولی ۱۹۸۴م ـ ۱۴۰۴هـ، دار الفکر للطباعة والنشر والتوضيع.

وَقَيَّدَ بِالدَّمِ وَالْقَيْحِ احْتِرَازاً مِنْ الْعِرْقِ الْمَدِينِيِّ إذَا خَرَجَ مِنْ الْبَدَنِ فَإِنَّهُ لَا يَنْقُضُ ؛ لِأَنَّهُ خَيْطٌ لَا مَائِعٌ وَأَمَّا الَّذِي يَسِيلُ مِنْهُ إنْ كَانَ صَافِيًا لَا يَنْقُضُ قَالَ فِي الْيَنَابِيعِ الْمَاءُ الصَّافِي إذَا خَرَجَ مِنْ النفطة[1] لَا يَنْقُضُ، وَإِنْ أَدْخَلَ أُصْبُعَهُ فِي أَنْفِهِ فَدَمِيَتْ أُصْبُعُهُ إنْ نَزَلَ الدَّمُ مِنْ قَصَبَةِ الْأَنْفِ نُقِضَ، وَإِنْ كَانَ لَمْ يَنْزِلْ مِنْهَا لَمْ يُنْقَضْ وَلَوْ عَضَّ شَيْئًا فَوَجَدَ فِيهِ أَثَرَ الدَّمِ أَوْ اسْتَاكَ فَوَجَدَ فِي السِّوَاكِ أَثَرَ الدَّمِ لَا يُنْقَضُ مَا لَمْ يَتَحَقَّقْ السَّيَلَانُ وَلَوْ تَخَلَّلَ بِعُودٍ فَخَرَجَ الدَّمُ عَلَى الْعُودِ لَا يُنْقَضُ إلَّا أَنْ يَسِيلَ بَعْدَ ذَلِكَ بِحَيْثُ يَغْلِبُ عَلَى الرِّيقِ وَلَوْ اسْتَنْثَرَ فَسَقَطَ مِنْ أَنْفِهِ كُتْلَةُ دَمٍ لَا يُنْقَضُ وَإِنْ قَطَرَتْ قَطْرَةُ دَمٍ انْتَقَضَ وُضُوءُهُ.

په کتاب کې يې «ما خرج» په «دم» او «قيح» سره مقيد کړل چې د "عرق مديني"[2] په نامه چې څه يادېږي او مايع نه وي (لکه تار په څېر وي) له هغه څخه احتراز وکړي، ځکه هغه اودس نه ماتوي. که د زخم څخه داسې مايع مواد راوځي، او له وينې څخه صاف وي بيا اودس نه ماتوي.

په الينابيع[3] کې ويل شوي چې صافې اوبه چې له تڼاکو څخه راوځي اودس نه ماتوي. که څوک خپله گوته په پوزه کې ننباسي او گوته يې په وينه ککړه شي، که وينه له پوزې ښکته شي، اودس پرې ماتېږي. که ښکته نه شي، اودس نه پرې ماتېږي.

که څوک په يو شي غاښ ولگوي او په هغه شي باندې د وينې اثرات ومومي، يا د مسواک د استعمال پرمهال پر مسواک د وينې نښې ووينې، اودس تر هغه نه ماتېږي ترڅو چې د وينې بهېدنه (سيلان) نه وي رامنځته شوي.

که څوک په غاښ کې ډکی ووهي، او په هغه ډکي باندې وينه را ووتله، نو دا اودس نه ماتوي مگر دا چې له وروسته وينه دومره را وه بهېږي چې په توکانو باندې غالبه شي.

که له پوزې څخه د وينې يوه منجمده ټوټه راووځي، اودس نه ماتېږي. خو که د وينې څاڅکی وبهيږي، اودس پرې ماتېږي.

[1] - النفطة جدري مرض ته ويل کېږي، همدا راز هغو تڼاکو ته هم ويل کېږي چې د کار په نتيجه کې د انسان په لاسونو او پښو را ښکاره کېږي، تاج العروس من جواهر القاموس کې يې وگوره

[2] - العرق المديني هغه دي چی دبدن په ځينو برخو کې يوه پرسيدلې دانې ښکاره شي، دا داني پرسي ، بيا له څخه يو څه سري ته ورته شيان راوځي، چې ورو تور ته نږدي ي، او دا به لا اوږديږي او اوږديږي. کله ناکله تر پوست لاندي د چيني په څېر حرکت لري داسی لکه د ژوي حرکت، او داسي ښکاری چې دا واقعا چينجي دي. ځينو خلکو گومان کړي چی دا يو ژوی دی پيدا شوی. او ځينو نورو گومان کړی چی دا دعصبي ريشو (فايبرونو) يو دول غټوالی او بندښت دی. زياتره داناروغي په پښو کي پيدا کيږی، خو ما دا دلاسونو، ارخونو، او ماشومانو کي دواړو اړخونو پر بدن هم ليدلی ده. که دا اوږد شي او بيا وچوی شي، نو درد يي ډير زياد وي، ان که وچ هم نه شي، اوږدول يې دردناک وي . (شرف الملك، الحسين بن عبد الله بن سينا، أبو علي، شرف الملك: الفيلسوف الرئيس، القانون في الطب، (المتوفى: ۴۲۸هـ) (ج ۳ ص ۱۸٦).

[3] - الينابيع في معرفة الاصول والتفاريع شرحه د مختصر ـ القدوري ده چې د مصنف نوم يې محمود د پلار نوم يې رمضان په رشيدالدين أبی عبد الله باندې مشهور و،په مدرسة الحلاوية په جلب کې مدرس و او د الينابيع کتاب له ليکلو څخه په (٦١٦ه) کال کې فارغ شو.ابن قطلوبغا په طبقات حنفيه کې شمېرلی ده او په (٧٦٩ه)کال کې وفات شو. (کشف الظنون عن أسامي الکتب والفنون ج ۲ ص ١٦٣١).

( قَوْلُهُ : فَتَجَاوَزَ إلِى مَوْضِعٍ ) حَدُّ التَّجَاوُزِ أَنْ يَنْحَدِرَ عَنْ رَأْسِ الْجُرْحِ وَأَمَّا إذَا عَلاَ وَلَمْ يَنْحَدِرْ لاَ يَنْقُضُ. وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللَّهُ إذَا انْتَفَخَ عَلَى رَأْسِ الْجُرْحِ وَصَارَ أَكْثَرَ مِنْ رَأْسِ الْجُرْحِ نَقَضَ ، وَالصَّحِيحُ الْأَوَّلُ. وَلَوْ أَلْقَى عَلَيْهِ تُرَابًا أَوْ رَمَادًا فَتَشَرَّبَ مِنْهُ ثُمَّ خَرَجَ فَجَعَلَ عَلَيْهِ تُرَابًا وَلَوْلاَهُ لَتَجَاوَزَ نَقَضَ، وَكَذَا لَوْ كَانَ كُلَّمَا خَرَجَ مَسَحَهُ أَوْ أَخَذَهُ بِقُطْنَةٍ مِرَارًا وَكَانَ بِحَيْثُ لَوْ تَرَكَهُ لَسَالَ نَقَضَ، وَلَوْ سَالَ الدَّمُ إلِى مَا لاَنَ مِنْ الْأَنْفِ ، وَالْأَنْفُ مَسْدُودَةٌ نَقَضَ، وَلَوْ رَبَطَ الْجُرْحَ فَابْتَلَّ الرِّبَاطُ إنْ نَفَذَ الْبَلَلُ إلِى الْخَارِجِ نَقَضَ وَإِلاَّ فَلاَ ، وَإِنْ كَانَ الرِّبَاطُ ذَا طَاقَيْنِ فَنَفَذَ الْبَعْضُ إلِى الْبَعْضِ نَقَضَ وَإِلاَّ فَلاَ.

فَإِنْ خَرَجَ مِنْ أُذُنَيْهِ قَيْحٌ أَوْ صَدِيدٌ إنْ تَوَجَّعَ عِنْدَ خُرُوجِهِ نَقَضَ وَإِلاَّ فَلاَ ، وَإِنْ خَرَجَ مِنْ بَيْنِ أَسْنَانِهِ دَمٌ وَاخْتَلَطَ بِالرِّيقِ إنْ كَانَتْ الْغَلَبَةُ لِلدَّمِ أَوْ كَانَا سَوَاءً نَقَضَ، وَإِنْ كَانَ الرِّيقُ غَالِبًا لاَ يَنْقُضُ

دا قول: ( او دا داسې ځای ته وبهېږي او خپور شي چې): د وینې بهېدل او خپرېدل دې ته ویل کیږي چې وینه یا چرک د زخم له سر څخه لاندې را وبهیږي. خو که د زخم پر سر را پورته شي او ښکته ونه بهیږي، نو اودس نه ماتوي.

د امام محمد (رحمه الله) په وینا، که چیرې وینه یا چرک د زخم په سر کې دومره را وپړسېږي چې د زخم له سر څخه ډېره ښکاره شي، نو اودس ماتوي. خو راجح مذهب لومړی دی.

که څوک په زخم باندې خاوره یا ایرې واچوي او بیا دغه مواد وینه یا چرک جذب کړي، بیا له زخم څخه دغه مواد ووځي نو که خاوره یا ایرې نه وای، نو وینه به بهېدلې وی یا به خپره شوې وی،نو په دې صورت کې اودس ماتوي .

همدارنګه، که هر ځل چې وینه یا چرک ووځي، هغه پاکه کړي، یا يې څو ځله په مالوچو وچ کړي، خو که پرې ایښې یې وی نو بهېدلې به وی، په دې صورت کې هم اودس ماتوي، که وینه د پوزې نرمې پورې را وبهېږي او پوزه بنده کړی شوی وي (نو بهر ته را و نه بهېږي) نو دا هم اودس ماتوي.

که زخم تړل شوی وي او پټۍ لمده شي، که لمدوالی د پټۍ بهر ته راووځي، نو اودس ماتيږي؛ که بهر ته را ونه ووځي، نو اودس نه ماتيږي. که پټۍ دوه پوښونه ولري او لمدوالی د یوه پوښ څخه بل ته راووځي، نو اودس ماتيږي؛ که را ونه ووځي، نو اودس نه ماتيږي.

که د غوږونو څخه وینه، قیح یا چرک راووځي، که د راوتلو پر مهال درد ولري، نو اودس ماتيږي؛ که درد ونه لري، نو اودس نه ماتيږي.

که د غاښونو له منځه وینه راووځي او د خولې له لاړو سره ګډه شي، که وینه زیاته وي یا دواړه (وینه او لاړې) برابرې وي، نو اودس ماتيږي.

وَعَلَى هَذَا إذَا ابْتَلَعَ الصَّائِمُ الرِّيقَ وَفِيهِ الدَّمُ إنْ كَانَ الدَّمُ غَالِبًا أَوْ كَانَا سَوَاءً أَفْطَرَ الصَّائِمُ وَإِلاَّ فَلا وَلَوْ مَصَّ الْقُرَادُ عُضْوَ إنْسَانٍ فَامْتَلأَ إنْ كَانَ صَغِيراً لاَ يَنْقُضُ ، وَإِنْ كَانَ كَبِيراً نَقَضَ ، وَإِنْ سَقَطَ مِنْ جُرْحِهِ دُودَةٌ لاَ يَنْقُضُ وَهِيَ طَاهِرَةٌ وَإِنْ سَقَطَتْ مِنْ السَّبِيلَيْنِ فَهِيَ نَجِسَةٌ وَتَنْقُضُ الْوُضُوءَ وَإِذَا خَرَجَ الدَّمُ مِنْ الْجُرْحِ وَلَمْ يَتَجَاوَزْ لاَ يَنْقُضُ وَهَلْ هُوَ طَاهِرٌ أَوْ نَجِسٌ قَالَ فِي الْهِدَايَةِ مَا لاَ يَكُونُ حَدَثًا لاَ يَكُونُ نَجِسًا يُرْوَى ذَلِكَ عَنْ أَبِي يُوسُفَ وَهُوَ الصَّحِيحُ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ نَجِسٌ وَالْفَتْوَى عَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ فِيمَا إذَا أَصَابَ الْجَامِدَاتِ كَالثِّيَابِ وَالأَبْدَانِ وَالْحَصِيرِ وَعَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ فِيمَا إذَا أَصَابَ الْمَائِعَاتِ كَالْمَاءِ وَغَيْرِهِ وَكَذَا الْقَيْءُ إذَا كَانَ أَقَلَّ مِنْ مِلْءِ الْفَمِ عَلَى هَذَا الْخِلاَفِ

پر همدې بنسټ ، که روژه دار هغه لاړې تیرې کړي چې پکې وینه وي، که وینه زیاته وي یا دواړه (وینه او لاړې) برابرې وي، نو روژه پرې ماتیږي؛ او که وینه کمه وي، روژه پرې نه ماتیږي.

که کوم خمنڅک[1](یو ډول حشره ده چې وینه څکي) د انسان له بدن څخه وینه وڅکي او ځان ډک کړي، که هغه کوچنی وي، اودس نه ماتیږي؛ خو که لوی وي، اودس ماتیږي. که له زخم څخه چینجی راولویږي، نو اودس نه ماتیږي، او هغه پاک هم دی. مګر که دغه چینجی د بولو یا غایطه موادو له لارو څخه راووځي، نو ناپاک دی او اودس پرې ماتیږي.

که له زخم څخه وینه راووځي او له خپله ځایه خپره نشي، اودس پرې نه ماتیږي. اوس دا چې دغه وینه پاکه ده که ناپاکه. په "هدایه" کتاب کې ذکر شوی چې هر هغه څه چې اودس پرې نه ماتیږي ، ناپاک هم نه دی. دا قول له امام ابویوسف (رح) څخه روایت شوی او همدا راجح مذهب دی. او د امام محمد (رح) له نظره هغه ناپاکه ده.

په مذهب کې فتوا په هغه حالت کې د امام ابویوسف په قول ده، کله چې دا وینه په جماداتو لکه جامې، بدن یا پوزي باندې پرېوزي. خو که مایعاتو لکه اوبو او داسې نورو شیانو پرېوزي نو بیا فتوا د امام محمد په قول ده. همدارنګه که قی لږ وي او د ډکې خولې اندازه نه پوره کوي، په دې اړه هم همدا ډول اختلاف شته [2].

---

[1] - د القراد مفرد قِرْدان راځي او نوموړی یو کوچنی چینجی/حشره ده چې اوښان چیچي. (لسان العرب ۳ ص ۳۴۸).

[2] - **فقهي مسـئله:** قی که لږ وي نو په حنفي مذهب کې پاک ده او که په ډکه خوله وي نو بیا ناپاک ده او دلیل یې مَا رُوِيَ عَنْ النَّبِيِّ - صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ «الْقَلْسُ حَدَثٌ» او دلته یې د لږ او زیات بیان نه ده کړی،نو دلته لږ او زیات برابر دي لکه خروج من السبیلین.او زموږ لپاره دلیل مَا رُوِيَ عَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - مَوْقُوفًا عَلَيْهِ، وَمَرْفُوعًا إلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ «عَدَّ الْأَحْدَاثَ جُمْلَةً وَقَالَ فِيهَا أَوْدُ سَعَةً تَمْلأُ الْفَمَ».او کوم دلیل چې امام زفر رحمه الله پرې دلیل نیولی ده له هغه څخه مراد په ډکه خوله ده.د په مالکي مذهب کې هغه قی چې د طعام له حالت څخه متغیر وي ناپاک ګڼل شوی،او حنبلي مذهب کې هم قی ته ناپاک ویل شوی که لږ وي او که ډېر. (بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج ۱ ص ۲۶). (التنوخي، أبو الطاهر إبراهيم بن عبد الصمد بن بشير التنوخي المهدوي ،التنبيه على مبادئ التوجيه - قسم العبادات(الناشر: دار ابن حزم، بيروت –لبنان، الطبعة: الأولى، ۱۴۲۸ هـ - ۲۰۰۷ م) ج ۱ ص ۲۷۲). (المغني لابن قدامة ج ۲ ص ٦۷).

( قَوْلُهُ : يَلْحَقُهُ حُكْمُ التَّطْهِيرِ ) يَعْنِي يَجِبُ تَطْهِيرُهُ فِي الْحَدَثِ أَوْ الْجَنَابَةِ حَتَّى لَوْ سَالَ الدَّمُ مِنْ الرَّأْسِ إلَى مَا لَانَ مِنْ الْأَنْفِ نَقَضَ الْوُضُوءَ بِخِلَافِ مَا إذَا نَزَلَ الْبَوْلُ إلَى قَصَبَةِ الذَّكَرِ ؛ لِأَنَّهُ لَا يَلْحَقُهُ حُكْمُ التَّطْهِيرِ.

وَاحْتَرَزَ بِقَوْلِهِ حُكْمُ التَّطْهِيرِ عَنْ دَاخِلِ الْعَيْنَيْنِ وَبَاطِنِ الْجُرْحِ وَقَصَبَةِ الْأَنْفِ وَإِنَّمَا لَمْ يَقُلْ يَلْحَقُهُ التَّطْهِيرُ ؛ لِأَنَّهُ لَوْ قَالَ ذَلِكَ دَخَلَ تَحْتَهُ بَاطِنُ الْعَيْنِ وَبَاطِنُ الْجُرْحِ ؛ لِأَنَّهُ لَا يَسْتَحِيلُ تَطْهِيرُهُ ؛ لِأَنَّ حَقِيقَةَ التَّطْهِيرِ فِيهِ مُمْكِنَةٌ ، وَأَمَّا حُكْمُهُ فَقَدْ رَفَعَهُ الشَّارِعُ لِلضَّرُورَةِ.

( قَوْلُهُ : وَالْقَيْءُ إذَا مَلَأَ الْفَمَ ) وَهُوَ مَا لَا يُمْكِنُ ضَبْطُهُ إلَّا بِتَكَلُّفٍ هُوَ الصَّحِيحُ ، وَقِيلَ مَا مَنَعَ الْكَلَامَ .

وَقَالَ الشَّافِعِيُّ لَا يَنْقُضُ وَلَوْ مَلَأَ الْفَمَ .

دا قول: (دا مخکې شیان د جسم نه را ووځي او داسې ځای ته سرایت وکړي) چې د مینځلو حکم یې شوی وي): یعني، دا (خارج شوي شیان) د بدن هغه ځای ته سرایت وکړي چې د په اوداسه یا غسل کې یې د مینځلو حکم شوی وي. د بېلګې په توګه، که د سر څخه وینه را وه بهېږي او د پوزې تر نرمې پورې راورسېږي اودس ماتوي (ځکه په غسل کې د پوزې د نرمې د مینځلو حکم شوی دی). خو که متیازې د ذکر په نلۍ کې ښکته شي (او بهر را وه نه وځي)، اودس نه ماتېږي، ځکه د ذکر نلۍ د مینځلو حکم نه دی شوی (نه په اودس کې او نه په غسل کې).

د "حکم التطهیر" عبارت د سترګو له دننه برخې، د زخم داخلي برخه او د پوزې نلۍ څخه د استثناء لپاره راوړل شوی؛ځکه چې که "تطهیر" ذکر شوی وای، نو د سترګو دننه او د زخم داخلي برخه هم ورسره شاملېدل، ځکه د هغوی پاکول په حقیقت کې ممکن دي. خو خکم یې شارع د ضرورت له امله پورته کړی دی [1].

دا قول:( قَی چې کله په ډکه خوله وي (اودس ماتوي)): دا د قي هغه مقدار دی چې (په خوله کې) د سختۍ او تکلف څخه پرته د کنټرول امکان و نه لري، او همدا راجح قول دی. او ویل شوي: چې دا د قي دومره اندازه ده چې خبرې کول ورسره ممکن نه وي. امام شافعي رحمة الله علیه وایي: قَی اودس نه ماتوي، سره له دې چې په ډکه خوله هم وي [2].

[1] - د یلحقه التطهیر او یلحقه حکم التطهیر ترمنځ توپیر دا دي چي: یلحقه التطهیر حقیقی پاکوالي (اصلی تطهیر) دي. او یلحقه حکم التطهیر شرعی و یا ظاهری پاکوالی (حکمی تطهیر) ګنل کیږی. مکتبه شامله نقل د کتاب اللباب فی شرح الکتاب، الشیخ عبدالغنی الغنیمی، الدمشقی، الحنفی. ج ۱ ص ۱۲ هغه په دی کتاب کی د دې دوو ترمنځ څرګند توپیر نه دی بیان کړی، خو یلحقه حکم التطهیر یی توضیح کړی، چي له هغې نه څرګندیږی چي توپیر هماغه دی لکه څنه چی ویل شي.

[2] - **فقهي مسئله:** حنابله د قی په موضوع کي له احنافو سره د اوداسه په ماتولو کي موافق دي لکن وايي چي که ډېر قی و نو اودس پرې ماتیږي او دلیل یې مَا رَوَى أَبُو الدَّرْدَاءِ: «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَاءَ فَتَوَضَّأَ، فَلَقِيت ثَوْبَانَ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَذَكَرْت لَهُ ذَلِكَ فَقَالَ ثَوْبَانُ: صَدَقَ، أَنَا صَبَبْت لَهُ وَضُوءَهُ.» رَوَاهُ الْأَثْرَمُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا أَصَحُّ شَيْءٍ فِي هَذَا الْبَابِ قِيلَ لِأَحْمَدَ: حَدِيثُ ثَوْبَانَ ثَبَتَ عِنْدَك؟ قَالَ: نَعَمْ. (المغني لابن قدامة ج ۱ ص ۱۳٦).

وَقَالَ زُفَرُ يَنْقُضُ قَلِيلُهُ وَكَثِيرُهُ وَالْقَيْءُ خَمْسَـةُ أَنْوَاعٍ مَاءٌ وَطَعَامٌ وَدَمٌ وَمِرَّةٌ وَبَلْغَمٌ فَفِي الثَّلَاثَةِ الْأُوَلِ يَنْقُضُ إذَا مَلأَ الْفَمَ وَلَا يَنْقُضُ إذَا كَانَ أَقَلَّ مِنْ ذَلِكَ وَأَمَّا الْبَلْغَمُ فَغَيْرُ نَاقِضٍ عِنْدَهُمَا ، وَإِنْ مَلأَ الْفَمَ وَعِنْدَ أَبِي يُوسُـفَ يَنْقُضُ إذَا مَلأَ الْفَمَ وَالْخِلَافُ فِي الصَّـاعِدِ مِنْ الْجَوْفِ أَمَّا النَّازِلُ مِنْ الرَّأْسِ فَغَيْرُ نَاقِضٍ إجْمَاعًا ؛ لِأَنَّهُ مُخَاطٌ وَأَمَّا الدَّمُ إذَا كَانَ غَلِيظًا جَامِدًا غَيْرَ سَائِلٍ لَا يَنْقُضُ حَتَّى يَمْلأَ الْفَمَ فَإِنْ كَانَ ذَائِبًا نَقَضَ قَلِيلُهُ وَكَثِيرُهُ عِنْدَهُمَا

وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَا يَنْقُضُ حَتَّى يَمْلأَ الْفَمَ اعْتِبَارًا بِسَائِرِ أَنْوَاعِ الْقَيْءِ ، وَصَحَّحَ فِي الْوَجِيزِ قَوْلَ مُحَمَّدٍ وَالْخِلَافُ فِي الْمُرْتَقِي مِنْ الْجَوْفِ ، وَأَمَّا النَّازِلُ مِنْ الرَّأْسِ فَنَاقِضٌ قَلِيلُهُ وَكَثِيرُهُ بِالِاتِّفَاقِ ، وَلَوْ شَرِبَ مَاءً فَقَاءَهُ صَافِيًا نُقِضَ وُضُوءُهُ . كَذَا فِي الْفَتَاوَى.

امام زُفَر رحمة الله عليه وايي: قَی که لږ وي يا ډېر اودس ماتوي.

قَی په پنځه ډوله ده: اوبه، خواړه، وينه، صفرا (ژېړه مايع)، او بلغَم. د درې لومړيو ډولونو (اوبه، خواړه، وينه) حکم دا دی چې که خوله ډکه کړي، اودس ماتوي، او که له دې څخه کم وي، نه يې ماتوي. بلغَم د امام ابوحنيفه او امام محمد رحمهما الله په نزد د اودس د ماتېدو سبب نه گرځي، که څه هم په ډکه خوله وي. خو د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد که په ډکه خوله وي اودس ماتوي.

دا اختلاف يوازې د هغه قَی په اړه دی چې له معدې را پورته کېږي. که د سر له اړخه لاندې راشي (لکه له پوزې څخه)، دا په اجماع سره اودس نه ماتوي، ځکه چې دا د پوزې اوبه (گړنگ) دي.

که وينه جامده، غليظه، او غير روانه وي، نو اودس نه ماتوي، تر څو چې خوله ډکه نه کړي. اما که بهېدونکې وه، نو د امام ابوحنيفه او امام ابو يوسف رحمهما الله دواړو په نزد کمه او زياته دواړه يې اودس ماتوي.

خو امام محمد (رحمه الله) وايي چې دا وينه تر هغه پورې اودس نه ماتوی تر څو چې خوله ډکه نه کړي، د استفراغ په نورو ډولونو باندې د قياس له امله يې دا نظر غوره کړی دی. او په "الوجيز"[1] کې د امام محمد (رحمه الله) دغه نظر راجح گڼل شوی دی.

اختلاف په هغه وينه کې دی چې (د کانگو په توگه) له نس څخه را پورته شي. خو هغه وينه چې له سر څخه ښکته کيږي، د علماوو په اتفاق سره که لږه وي که ډېره، اودس ماتوي.

که څوک اوبه وڅښي او بيرته يې پاکې استفراغ کړي، اودس يې ماتيږي.دا خبره په "الفتاوی "[2] کې راغلې ده.

[1] - الوجيز د محمد بن محمد رضي الدين السرخسي کتاب ده چې په (٥٧١ هـ) کال کې وفات شوی ده. (الفوائد البهية ص ١٨٨).

[2] - (قاضي خان، امام فخرالدين السن بن منصور، الفتاوی قاضی خان(مطبعه: دارالکتب العلميه –بيروت، ط: ٢٠٠٩م) ج ١ ص ٤٠).

وَإِنْ قَاءَ مُتَفَرِّقًا بِحَيْثُ لَوْ جُمِعَ لَمَلأَ الْفَمَ فَالْمُعْتَبَرُ اتِّحَادُ الْمَجْلِسِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ اتِّحَادُ السَّبَبِ وَهُوَ الْغَثَيَانُ وَتَفْسِيرُ اتِّحَادِ السَّبَبِ إِذَا قَاءَ ثَانِيًا قَبْلَ سُكُونِ النَّفْسِ مِنْ الْغَثَيَانِ فَهُوَ مُتَّحِدٌ ، وَإِنْ قَاءَ ثَانِيًا بَعْدَ سُكُونِ النَّفْسِ فَهُوَ مُخْتَلِفٌ وَفِي الْفَتَاوَى الصُّغْرَى مَسْأَلَةٌ عَلَى عَكْسِ هَذَا فَمُحَمَّدٌ اعْتَبَرَ الْمَجْلِسَ وَأَبُو يُوسُفَ اعْتَبَرَ اتِّحَادَ السَّبَبِ وَهِيَ إِذَا نَزَعَ خَاتَمًا مِنْ أُصْبُعِ النَّائِمِ ثُمَّ أَعَادَهُ فَأَبُو يُوسُفَ اعْتَبَرَ فِي نَفْيِ الضَّمَانِ النَّوْمَةَ الْأُولَى حَتَّى إِنَّهُ لَوْ اسْتَيْقَظَ بَعْدَ ذَلِكَ ثُمَّ نَامَ فِي مَوْضِعِهِ فَأَعَادَهُ فِي أُصْبُعِهِ لَمْ يَبْرَأْ مِنْ الضَّمَانِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يُعْتَبَرُ الْمَجْلِسُ حَتَّى إِنَّهُ لَا يَضْمَنُهُ مَا دَامَ فِي مَجْلِسِهِ، قَالَ فِي الْوَاقِعَاتِ رَجُلٌ نَزَعَ خَاتَمًا مِنْ أُصْبُعِ نَائِمٍ ثُمَّ أَعَادَهُ فِي ذَلِكَ النَّوْمِ يَبْرَأُ إِجْمَاعًا.

که کانګې يې په بېلابېلو وختونو کې کړې وي، خو که را يوځاى شي د ډکې خولې په اندازه به شي، نو په دې صورت کې د امام ابو يوسف (رحمه الله) په نزد، د مجلس اتحاد ته اعتبار ورکول کيږي. خو د امام محمد (رحمه الله) په نزد، د سبب اتحاد ته اعتبار ورکول کيږي، او د سبب اتحاد مطلب دا دى چې که دويم ځل کانګې د را اوچتېدو څخه د زړه د کرارېدو نه مخکې وشي، دا متحد ګڼل کيږي. خو که دويم ځل کانګې د زړه د کرارېدو وروسته وشي، نو دا مختلف ګڼل کيږي.

په "فتاوى صغرى"[1] کې يوه مسئله برعکس مطرح شوې ده: امام محمد رحمه الله د مجلس اتحاد ته ترجيح ورکوي، او امام ابويوسف رحمه الله د سبب يووالي ته ترجيح ورکوي. هغه مسئله داسې ده: که د يو ويده کس له ګوتې څخه څوک ګوتمۍ (حلقه) وباسي او بيا يې بېرته ور په ګوته کړي، نو امام ابويوسف رحمه الله د تاوان د رفع لپاره لومړنى خوب شرط ګڼي. نو که هغه سړى يو ځل را ويښ شو، او بېرته په خپل ځاى کې ويده شو او غاصب بېرته د هغه ګوتمۍ هغه ته ور په ګوته کړه، هغه د تاوان څخه نه خلاصيږي.

او د امام محمد په نزد، د مجلس اتحاد معتبر دى. نو هغه که ګوتمۍ په هماغه مجلس کې بېرته ورکړه هغه باندې تاوان نشته.

په "کتاب الواقعات"[2] کې راغلي دي چې که يو کس د ويده شخص له ګوتې څخه ګوتمۍ وباسي او بېرته يې د هماغه خوب په دوران کې ور په ګوته کړي ، نو د ټولو په اتفاق تاوان ترې رفع کيږي.

[1] - الفتاوى الصغرى، د حسام الدين بن مازه، القدر شهيد عمر بن عبدالعزيز، برهان الآيمه، ت ٥٣٦ هـــ ، په همدې مخ کې حاجي خليفه د «الفتاوى الصغرى» کتاب د حسام‌الدين بن مازه بخاري له آثارو څخه ګڼي او دا د «الفتاوى الکبرى» ترڅنګ يادوي. (کشف الظنون عن أسامي الکتب والفنون ج ٢ ص ١٢٧٢).

[2] - شارح د واقعات په نوم کتاب حواله ورکړې ده، خو دا نه ده څرګنده چې دلته يې د ناطفى احمد بن محمد (ت ۴۴۶ هجرى قمرى) د واقعات کتاب څخه يې اخيستى او که د صدر الشهيد عمر بن عبدالعزيز بن مازه، (ت٥٣٦ هجرى قمرى) ليکلى کتاب الواقعات ته يې مراجعه کړې ده.

وَإِنْ اسْـتَيْقَظَ قَبْلَ أَنْ يُعِيدَهُ ثُمَّ نَامَ فِي مَوْضِـعِهِ فَأَعَادَهُ فِي النَّوْمَةِ الثَّانِيَةِ لَا يَبْرَأُ عِنْدَ أَبِي يُوسُـفَ ؛ لِأَنَّهُ لَمَّا انْتَبَهَ وَجَبَ رَدُّهُ إلَيْهِ فَلَمَّا لَمْ يَرُدَّهُ حَتَّى نَامَ لَمْ يَبْرَأْ بِالرَّدِّ إلَيْهِ وَهُوَ نَائِمٌ بِخِلَافِ الْأُولَى ؛ لِأَنَّهُ هُنَاكَ وَجَبَ الرَّدُّ إلَى النَّائِمِ وَقَدْ وُجِدَ وَهُنَا لَمَّا اسْتَيْقَظَ وَجَبَ رَدُّهُ إلَى مُسْتَيْقِظٍ فَلَا يَبْرَأُ بِالرَّدِّ إلَى نَائِمٍ ، وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ يَبْرَأُ ؛ لِأَنَّهُ مَا دَامَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ لَا ضَمَانَ عَلَيْهِ ، وَلَوْ تَكَرَّرَ نَوْمُهُ وَيَقَظَتُهُ.

فَإِنْ قَامَ عَنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ وَلَمْ يَرُدَّهُ إلَيْهِ ثُمَّ نَامَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ فَرَدَّهُ وَهُوَ نَائِمٌ لَمْ يَبْرَأْ مِنْ الضَّمَانِ إجْمَاعًا لِاخْتِلَافِ الْمَجْلِسِ وَالسَّبَبِ.

مگر که هغه کس (د چا له گوتې څخه چې گوتمۍ ویستل شوی) مخکې له دې له خوبه را ویښ شو چې گوتمۍ یې بېرته ور په گوته کړی شي، او بیا پېرته په خپل ځای کې دوباره ویده شـو، نو (غاصـب) د تاوان څخه نه خلاصېږي؛ ځکه هغه (د گوتمۍ والا) چې کله راویښ شو نو د هغه گوتمۍ ورته بېرته ورکول واجب شول، نو کله یې چې ورته بېرته ور نه کړه تر دې چې هغه بېرته ویده شـو، نو په ویدو د گوتمۍ بېرته ورکول هغه د تاوان څخه نه شي بچ کولی.

دا د مخکې حالت سره په دې کې تفاوت لري چې په لومړي حالت کې ویده ته گوتمۍ بېرته ورکول واجب شوي وو، او هغه په همدې شکل ادا شول، خو په دې دویم صورت کله چې د گوتمۍ مالک را ویښ شو نو په دې حالت کې ویښ ته گوتمۍ بېرته ورکول واجب وگرځېدل، نو کله یې چې د خوب په حالت کې ورته ورکړه نو دا تاوان له منځه نه وړي.

خو امام محمد رحمه الله له نظره د تاوان څخه خلاص دی، هغه وایي چې تر څو په هماغه مجلس کې وي ضمان پرې نشته، که څه هم دا سړی څو ځله ویده او بیدار شي؛ مگر که له خپل مجلس څخه پاڅېده او گوتمۍ یې ور نه کړه، او بیا (د گوتمۍ والا) بل ځای کې ویده شي، بیا ورته د خوب په حالت کې گوتمۍ ورکړي، نو دلته په اتفاق سره تاوان پرې لازم دی، ځکه نه مجلس یو پاته شو او نه د پېښې سبب یو پاتې شو [1].

[1] - د امام محمد رحمه الله په نزد، تر هغه چې سړی په هماغه مجلس کې وي، که ویده شي او بیدار شي، ضمان نه لازمیږي، خو که له مجلسه ووځي او بیا په بل ځای کې ویده شي او مال رد کړي، نو ضمان له منځه نه ځي؛ ځکه مجلس او سبب بدل شوي وي.

قَوْلُهُ : (وَالنَّوْمُ مُضْطَجِعًا ) الَّذِي تَقَدَّمَ هُوَ النَّاقِضُ الْحَقِيقِيُّ وَهَذَا الْحُكْمِيُّ وَهَلْ النَّوْمُ حَدَثٌ أَمْ لاَ الصَّحِيحُ أَنَّهُ لَيْسَ بِحَدَثٍ ؛ لِأَنَّهُ لَوْ كَانَ حَدَثًا اسْتَوَى وُجُودُهُ فِي الصَّلاَةِ وَغَيْرِهَا وَلَكِنَّا نَقُولُ الْحَدَثُ مَا لاَ يَخْلُو عَنْهُ النَّائِمُ ، وَقَوْلُهُ وَالنَّوْمُ مُضْطَجِعًا هَذَا إذَا كَانَ خَارِجَ الصَّلاَةِ وَأَمَّا إذَا كَانَ فِيهَا كَالْمَرِيضِ إذَا صَلَّى مُضْطَجِعًا فَفِيهِ اخْتِلاَفٌ وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ يُنْتَقَضُ أَيْضًا وَبِهِ نَأْخُذُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ لاَ يَنْقُضُ .

( قَوْلُهُ : أَوْ مُتَّكِئًا ) أَيْ عَلَى أَحَدِ وِرْكَيْهِ فَهُوَ كَالْمُضْطَجِعِ

( قَوْلُهُ : أَوْ مُسْتَنِدًا إلَى شَيْءٍ لَوْ أُزِيلَ عَنْهُ لَسَقَطَ ) الِاسْتِنَادُ هُوَ الِاعْتِمَادُ عَلَى الشَّيْءِ . وَلَوْ وَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَنَامَ لَمْ يُنْقَض وُضُوءُهُ إذَا كَانَ مُثْبِتًا مَقْعَدَتَهُ عَلَى الْأَرْضِ ، وَإِنْ كَانَ مُحْتَبِيًا وَرَأْسُهُ عَلَى رُكْبَتَيْهِ لاَ يُنْقَضُ أَيْضًا .

دا قول:( او په ډېره خوب اودس ماتوي): هغه څه چې مخکې ذکر شوي، هغه د اودس حقيقي ماتوونکي دي، او دا د اودس حکمي ماتوونکی دی. اوس پوښتنه دا ده چې خوب په خپله د اودس ماتوونکی دی که نه؟ صحيح خبره دا ده چې خوب په خپله اودس ماتوونکی نه دی، ځکه که خوب اودس ماتوونکی وای، نو په لمانځه او نورو حالاتو کې به يې شتون يو شان اغېز درلودای. خو موږ وايو چې هغه حالت اودس ماتوونکی دی چې خوب کوونکی ترې خالي نه وي.

دا قول: (په اړخ ويده کېدل): دا هغه وخت د اودس ماتوونکی ګڼل کېږي چې که خوب د لمانځه څخه بهر وي. خو که دا په لمانځه کې وي، د بېلګې په توګه که يو مريض په اړخ پرېوځي او لمونځ وکړي (او په دې حالت کې ويده شي)، نو په دې کې اختلاف دی. صحيح نظر دا دی چې په دې حالت کې په خوب هم اودس ماتيږي، او موږ همدا نظر غوره ګڼو. خو ځينو فقهاوو ويلي دي چې په دې حالت کې اودس نه ماتيږي.

دا قول:(يا په مقعد باندې د کښيناستو په حالت کې خوب (د اودس ماتوونکی دی): که څوک په يو کناټي باندې د تکيې په حالت کې ويده شي نو هغه داسې دی لکه څوک چې په اړخ باندې ويده شي (اودس يې ماتيږي).

دا قول:( يا يې په داسې څه تکيه کړې وي چې که هغه ليرې کړل شي نو دی به وغورځېږي (په دې حالت کې خوب هم اودس ماتوونکی دی):«استناد» پر يوه شي باندې تکيه کولو ته وايي.

که څوک خپل سر پر خپلو زنګنونو کېږدي او ويده شي، خو خپل مقعد (کوناټي) پر ځمکه ثابت وساتي، نو اودس يې نه ماتيږي. همدارنګه، که څوک خپله ملا له زنګنونو سره په څادر کې را تاو کړي او سر يې په زنګنونو کې ايښی وي، اودس يې نه ماتيږي.

( قَوْلُهُ : وَالْغَلَبَةُ عَلَى الْعَقْلِ بِالْإِغْمَاءِ وَالْجُنُونُ ) الْإِغْمَاءُ آفَةٌ تَعْتَرِي الْعَقْلَ وَتَغْلِبُهُ وَالْجُنُونُ آفَةٌ تَعْتَرِي الْعَقْلَ وَتَسْلُبُهُ ، وَيُقَالُ الْإِغْمَاءُ آفَةٌ تُضْعِفُ الْقُوَى وَلَا تُزِيلُ الْحِجَا وَهُوَ الْعَقْلُ وَالْجُنُونُ آفَةٌ تُزِيلُ الْحِجَا وَلَا تُزِيلُ الْقُوَى وَهُمَا حَدَثَانِ فِي الصَّلَاةِ وَغَيْرِهَا قَلَّ أَوْ كَثُرَ، وَكَذَا السُّكْرُ يَنْقُضُ الْوُضُوءَ أَيْضًا فِي الْأَحْوَالِ كُلِّهَا فِي الصَّلَاةِ وَغَيْرِهَا، وَالسَّكْرَانُ هُوَ الَّذِي تَخْتَلُّ مِشْيَتُهُ وَلَا يَعْرِفُ الْمَرْأَةَ مِنْ الرَّجُلِ، وَقَوْلُهُ وَالْجُنُونُ بِالرَّفْعِ وَلَا يَجُوزُ خَفْضُهُ بِالْعَطْفِ عَلَى الْإِغْمَاءِ ؛ لِأَنَّهُ عَكْسُهُ وَيَجُوزُ خَفْضُهُ عَلَى الْمُجَاوَرَةِ.

(قَوْلُهُ: وَالْقَهْقَهَةُ فِي كُلِّ صَلَاةٍ ذَاتِ رُكُوعٍ وَسُجُودٍ) سَوَاءٌ بَدَتْ أَسْنَانُهُ أَوْ لَمْ تَبْدُ وَسَوَاءٌ قَهْقَهَ عَامِدًا أَوْ سَاهِيًا مُتَوَضِّئًا أَوْ مُتَيَمِّمًا وَلَا يَبْطُلُ طَهَارَةُ الْغُسْلِ وَالْقَهْقَهَةُ مَا يَكُونُ مَسْمُوعًا لَهُ وَلِجَارِهِ

دا قول:( د بې هوښۍ يا ليونتوب له امله پر عقل باندې غلبه (اودس ماتوونکې ده): بې هوښي هغه مرض دی چې عقل ته لاحق کېږي او هغه تر خپل اغېز لاندې راولي او ليونتوب هغه مرض دی عقل ته لاحق کېږي او له منځه يې وړي.

ويل کېږي چې بې هوښي يوه داسې مرض ده چې د بدن قوتونه کمزوري کوي خو عقل له منځه نه وړي او ليونتوب بيا هغه مرض ده چې عقل له منځه وړي خو د بدن قوتونه نه کمزوري کوي.

دا دواړه (بې هوښي او ليونتوب) د اودس ماتوونکي دي، که په لمانځه کې وي يا له هغه نه بهر، لږ وي او که ډېر.

په همدې ډول، نشه هم په هر حالت کې د اوداس ماتوي، که په لمانځه کې وي يا له لمانځه څخه بهر. نشه يي شخص هغه څوک دی چې د هغه تگ گډوډ وي او د ښځې او سړي ترمنځ توپير و نشې کولای.

او" جُنُونُ" د اعراب له پلوه مرفوع دی[1] او په الاغماء باندې د عطف له امله يې مجرور لوستل درست نه دي. ځکه دا د اغما بر خلاف دی [2]. خو د جوار له امله يې مجرور لوستل جواز لري.

دا قول (په هر هغه لمانځه کې چې رکوع او سجده ولري په لوړ اواز خندل (قهقهه) اودس ماتوونکی دي): فرق نه کوي چې د خندا پر مهال غاښونه ښکاره شي که نه، او همدارنگه فرق نه کوي چې قهقهه په قصدي ډول وي يا د سهوې سره ، دا لمونځ کوونکی د اودس په حالت کې وي يا د تيمم په حالت کې. قهقهه د غسل طهارت نه باطلوي، قهقهه دومره اندازه د خندا آواز ته وايي چې هم يې دی واوري او هم څوک چې ورسره په څنگ کې ناست وي هغه يې واوري.

---

[1] - د «الجنونُ» د رفعې سبب دا دی چې دا په خپل اصل کې مرفوع اسم دی؛ځکه مبتداء ده.

[2] - الجنونُ نشې کېدای د «الإغماءِ» سره په عطف مجرور شي، ځکه «الجنون» د «الإغماء» ضد (مخالف) معنا لري، نو عطف د معنا له پلوه ناسم دی

وَالضَّحِكُ مَا يَكُونُ مَسْمُوعًا لَهُ دُونَ جَارِهِ وَهُوَ يُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَلَا يَنْقُضُ الْوُضُوءَ وَالتَّبَسُّمُ مَا لَا يَكُونُ مَسْمُوعًا لَهُ وَهُوَ لَا يُفْسِدُهُمَا جَمِيعًا وَقَهْقَهَةُ النَّائِمِ فِي الصَّلَاةِ لَا تَنْقُضُ الْوُضُوءَ وَتُفْسِدُ الصَّلَاةَ وَلَوْ نَسِيَ كَوْنَهُ فِي الصَّلَاةِ فَقَهْقَهَ انْتَقَضَ وُضُوءُهُ وَقَهْقَهَةُ الصَّبِيِّ لَا تَنْقُضُ الْوُضُوءَ إجْمَاعًا وَتُفْسِدُ صَلَاتَهُ كَذَا فِي الْمُسْتَصْفَى، وَالْبَانِي فِي الْحَدَثِ إذَا جَاءَ مُتَوَضِّئًا وَقَهْقَهَ فِي الطَّرِيقِ تُفْسِدُ صَلَاتَهُ وَلَا تَنْقُضُ وُضُوءَهُ وَإِذَا اغْتَسَلَ الْجُنُبُ وَصَلَّى وَقَهْقَهَ لَا يَبْطُلُ الْغُسْلُ وَإِنَّمَا يَبْطُلُ طَهَارَةُ أَعْضَاءِ الْوُضُوءِ حَتَّى إنَّهُ لَا يَجُوزُ لَهُ أَنْ يُصَلِّيَ مِنْ غَيْرِ تَجْدِيدِ وُضُوءٍ، وَقَوْلُهُ ذَاتِ رُكُوعٍ وَسُجُودٍ يَحْتَرِزُ بِهِ مِنْ صَلَاةِ الْجِنَازَةِ وَسَجْدَةِ التِّلَاوَةِ فَإِنَّهُ إذَا قَهْقَهَ فِيهِمَا لَا يُنْقَضُ وُضُوءُهُ وَتَبْطُلُ صَلَاتُهُ وَسَجْدَتُهُ ؛ لِأَنَّ صَلَاةَ الْجِنَازَةِ لَيْسَتْ بِصَلَاةٍ مُطْلَقَةٍ حَتَّى لَوْ حَلَفَ لَا يُصَلِّي فَصَلَّى صَلَاةَ الْجِنَازَةِ لَا يَحْنَثُ.

(ضــحک) خندا هغه خندا ده چې يوازې خپله د خپلې خندا آواز واوري او په څنګ کې ناســت ګاونډی يې وانه وري، لمونځ فاســدوي خو اوداســه نه ماتوي. او تبســم (مســکا) هغه خندا ده چې نه يې خپله او نه يې بل څوک آواز واوري او دا ډول خندا نه لمونځ فاسدوي او نه اودس ماتوي.

د خوب په حالت کې په لمانځه کې قهقهه اوداســه نه ماتوي خو لمونځ فاســدوي. که څوک د لمانځه په حالت کې وي او هېر کړي يې وي چې په لمانځه کې دی، بيا په لوړ اواز وخاندي نو اودا سه يې ماتېږي. د ما شوم قهقهه په اتفاق [1] سره اودس نه ماتوي، خو لمونځ يې فاسدوي همداسې په «المستصفی» کې راغلي دي.

په لمانځه کې د اودس د ماتېدو له امله بنا کوونکي که اودس وکړ خو په لار کې قهقهه وکړي، لمونځ يې فاسديږي خو اوداسه يې نه ماتېږي. که څوک د جنابت څخه غسل وکړي (او په همدې اودس چې د غسل په ضمن کې رامنځته شوی) لمونځ وکړي او په لمانځه کې په لوړ اواز وخاندي، غسل يې نه باطلېږي، بلکې د اودس د غړو طهارت يې له منځه ځي، تر دې چې بيا يې ادس نه وي نوی کړی لمونځ کول ورته جواز نه لري.

(په متن کې يې د «ذات رکوع و سجود» قيد اضافه کړ) تر څو د جنازې د لمونځ او د تلاوت د سجدې څخه احتراز وشي، ځکه که په دوی کې په لوړ اواز خندا وشي نو اودس نه ماتيږي خو سجده او لمونځ يې فاسدېږي. د جنازې لمونځ د مطلق [2] لمانځه حيثيت نه لري، له همدې امله که څوک قسم وکړي چې لمونځ به نه کوي، بيا د جنازې لمونځ وکړي، نو د هغه قسم نه ماتېږي (نه حانث کيږي).

[1] - **فقهي مسـئله:** د ځلورو مذاهبو په اتفاق سره د ماشـوم خندا په لمانځه کې لمونځ فاسـدوي لکن اودس يې نه ماتيږي. (المجموع للنووي ج ۴ ص ۷۲). (الشرح الکبير للدردير ج ۱ ص ۱۷۴). (المغني لابن قدامه ج ۱ ص ۴۳۸).

[2] - **فقهي مسـئله:** مطلق لمونځ هغه لمونځ ته ويل کېږي چې رکوع او سـجود ولري، ځکه نو د جنازې لمونځ مطلق لمونځ نه دی، ځکه پکې رکوع او سجود نشته، له همدې امله که په جنازې لمونځ يا د تلاوت په سجده کې په لوړ غږ خندا (قهقهه) وشي، اودس نه ماتيږي.

(قَوْلُهُ: وَفَرْضُ الْغُسْلِ الْمَضْمَضَةُ وَالِاسْتِنْشَاقُ) يَعْنِي الْغُسْلَ مِنْ الْجَنَابَةِ وَالْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سُنَّتَانِ

(قَوْلُهُ وَغَسْلُ سَائِرِ الْبَدَنِ) السَّائِرُ الْبَاقِي وَمِنْهُ السُّؤْرُ الَّذِي يُبْقِيهِ الشَّارِبُ وَلَوْ انْغَمَسَ الْجُنُبُ فِي الْبَحْرِ أَوْ الْغَدِيرِ الْعَظِيمِ أَوْ الْمَاءِ الْجَارِي انْغِمَاسَةً وَاحِدَةً وَوَصَلَ الْمَاءُ إلَى جَمِيعِ بَدَنِهِ وَتَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ أَجْزَأَهُ وَكَذَا إذَا أَصَابَهُ الْمَطَرُ وَوَصَلَ الْمَاءُ إلَى جَمِيعِ بَدَنِهِ، وَلَوْ اغْتَسَلَ الْأَقْلَفُ وَلَمْ يَصِل الْمَاءُ إلَى مَا تَحْتَ الْقُلْفَةِ أَجْزَأَهُ ؛ لِأَنَّهَا خِلْقَةٌ وَلَوْ اغْتَسَلَتْ الْمَرْأَةُ وَتَحْتَ أَظْفَارِهَا عَجِينٌ قَدْ يَبِسَ وَجَفَّ وَلَمْ يَصِل الْمَاءُ إلَى تَحْتُ وَجَبَ عَلَيْهَا إيصَالُ الْمَاءِ إلَى مَا تَحْتَهُ، وَأَمَّا إذَا كَانَ تَحْتَ أَظْفَارِهَا وَسَخٌ فَإِنَّهُ يُجْزِيهَا مِنْ غَيْرِ إزَالَتِهِ وَلَوْ كَانَ عَلَى بَدَنِهِ قِشْرُ سَمَكٍ أَوْ خُبْزٍ مَمْضُوغٍ مُتَلَبِّدٍ وَجَبَ إزَالَتُهُ، وَكَذَا الْخِضَابُ الْمُتَجَسِّدُ وَالْحِنَّاءُ

**د غسل فرضونه**

دا قول: ( د غسل فرضونه د خولې مینځل (مضمضه) او د پوزې مینځل (استنشاق) دي): یعنې د جنابت، حیض او نفاس په غسل کې د خولې او پوزې مینځل فرض دي، او د امام شافعي رحمه الله په نظر دواړه سنت دي.

دا قول: (د ټول ځان مینځل): "السائر" ټول پاتې ته ( سائر) ویل کیږي. له دې څخه "السؤر" (پس خورده) هم اخیستل شوی، یعنې هغه څه چې څښونکی یې د څښلو څخه ورسته پرېږدي. که جنب کس په دریاب ،لوی ډنډ، یا بهېدونکو اوبو کې داسې ځان ډوب کړي چې ټول بدن یې لوند شي او خوله او پوزه یې هم ووینځي، نو غسل یې ادا کیږي. همدارنګه، که پرې باران و وریږي او ټول بدن یې لوند شي، (غسل یې کیږي) .

که یو کس چې ختنه (اقلف) یې نوي شوي، غسل وکړي او اوبه یې د پوست لاندې برخې ته ونه رسیږي، غسل یې صحیح دی؛ ځکه دا پیدائښي همداسې دی . خو که یوه ښځه غسل کوي او د نوکانو لاندې یې وچ شوي وړه پاتې وي چې اوبه یې لاندې نه شي رسېدلای، نو لازمه ده چې اوبه لاندې ورسوي. مګر که د نوکانو لاندې چرک یا عادي کثافت وي، نو دا غسل ته زیان نه رسوي [1].

که په بدن کې د ماهي پوستکی، ژول شوی او بیا کلکه شوی ډوډۍ، (یا نور داسې څه وي چې اوبو ته خنډ جوړیږي) نو باید هغه لرې کړي. همدارنګه، پوستکی لرونکي رنګ او نکریزې هم باید لرې شي.

[1] - په نوکانو باند دې رنګ (لاک) اړوند هم: د حنفي مذهب او نورو اهل سنت هم په دې موافق دي چې هر هغه شی چې د ابو له رسیدو څخه مخه ونیسي، باید د اودس یا غسل نه مخکې لرې شي. (الدرالختار مع رد المختار، ج۱، ص ۹۳). (الفقه الاسلامی و ادلته، وهبه الزحیلی، ج ۱ ص ۴۲۴).

وَاعْلَمْ أَنَّ الْغُسْلَ عَلَى أَحَدَ عَشَرَ وَجْهًا، أَرْبَعَةٌ فَرِيضَةٌ: وَهُوَ الْغُسْلُ مِنْ الْإِيلَاجِ فِي قُبُلٍ أَوْ دُبُرٍ إِذَا غَابَتْ الْحَشَفَةُ عَلَى الْفَاعِلِ وَالْمَفْعُولِ بِهِ أَنْزَلَ أَوْ لَمْ يُنْزِلْ، وَالثَّانِي الْغُسْلُ مِنْ الْإِنْزَالِ عَنْ شَهْوَةٍ بِأَيِّ وَجْهٍ كَانَ مِنْ إِتْيَانِ بَهِيمَةٍ أَوْ مُعَالَجَةِ الذَّكَرِ بِالْيَدِ أَوْ بِالِاحْتِلَامِ أَوْ بِالْقُبْلَةِ أَوْ بِاللَّمْسِ لِشَهْوَةٍ ، وَالرَّجُلُ وَالْمَرْأَةُ فِي ذَلِكَ سَوَاءٌ، وَالثَّالِثُ الْغُسْلُ مِنْ الْحَيْضِ، وَالرَّابِعُ الْغُسْلُ مِنْ النِّفَاسِ.

وَأَرْبَعَةٌ مِنْهُ سُنَّةٌ: غُسْلُ الْجُمُعَةِ وَغُسْلُ الْعِيدَيْنِ وَغُسْلُ الْإِحْرَامِ سَوَاءٌ كَانَ إِحْرَامَ حَجَّةٍ أَوْ عُمْرَةٍ وَغُسْلُ يَوْمِ عَرَفَةَ لِلْوُقُوفِ، وَغُسْلَانِ وَاجِبَانِ: غُسْلُ الْمَوْتَى وَغُسْلُ النَّجَاسَةِ إِذَا كَانَتْ أَكْثَرَ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ فِي الْمُغَلَّظَةِ وَرُبُعِ الثَّوْبِ فِي الْمُخَفَّفَةِ، وَغُسْلٌ مُسْتَحَبٌّ وَهُو كَثِيرٌ مِنْ ذَلِكَ غُسْلُ الْكَافِرِ وَالْكَافِرَةِ إِذَا أَسْلَمَا وَالصَّبِيِّ وَالصَّبِيَّةِ إِذَا أَدْرَكَا بِالسِّنِّ وَكَذَا الْمَجْنُونُ إِذَا أَفَاقَ .

## د غسل ډولونه

غسل يولس ډوله دی چې څلور ډول غسل فرض دی:

۱- د جماع له امله: کله چې د آله تناسلي سر دننه شي په قُبُل یا دُبُر کې، که انزال وشي یا ونه شي په فاعل او مفعول به دواړو غسل فرض کيږي.

۲- د شهوت له امله د انزال د کېدو په نتیجه کې غسل فرض دی دا چې په هر شکل رامنځته شي لکه د حیوان سره بد کاري، د موټي وهلو په نتیجه کې، احتلام، ښکلولو یا لمس کولو له امله د دې په حکم کې ښځه او سړی یو شانته دي

۳- د حیض غسل.

۴- د نفاس غسل.

څلور ډوله غسل سنت دی:

۱- د جمعې (د لمانځه) لپاره غسل.

۲- د دواړو اخترونو لپاره غسل.

۳- د احرام لپاره غسل، که هغه د حج وي که د عمرې .

۴- د عرفې په ورځ د وقوف عرفات لپاره غسل کول.

دوه ډوله غسلونه واجب دي:

۱- مړي ته غسل ورکول.

۲- د ناپاکۍ مينځل؛ د غليظې ناپاکۍ مينځل چې کله د درهم له اندازې زياته وي، او که خفيفه ناپاکي وي نو کله چې د لباس څلورمې برخې ته ورسېږي نو مينځل يې واجب گرځي.

قَوْلُهُ: (وَسُنَّةُ الْغُسْلِ أَنْ يَبْدَأَ الْمُغْتَسِلُ فَيَغْسِلَ يَدَيْهِ وَفَرْجَهُ) سَمَّاهُ مُغْتَسِلاً ؛ لأَنَّهُ قَرُبَ مِنْ الاغْتِسَالِ كَمَا قُلْنَا إذَا اسْتَيْقَظَ الْمُتَوَضِّئُ مِنْ نَوْمِهِ وَالسُّنَّةُ أَنْ يَبْدَأَ بِالنِّيَّةِ بِقَلْبِهِ وَيَقُولَ بِلِسَانِهِ نَوَيْتُ الْغُسْلَ لِرَفْعِ الْجَنَابَةِ ثُمَّ يُسَمِّي اللَّهَ تَعَالَى عِنْدَ غَسْلِ الْيَدَيْنِ ثُمَّ يَسْتَنْجِي ثُمَّ يَغْتَسِلُ مَا أَصَابَهُ مِنْ النَّجَاسَةِ ، وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَبْدَأَ بِشِقِّهِ الْأَيْمَنِ.
(قَوْلُهُ: وَيُزِيلُ نَجَاسَةً إنْ كَانَتْ عَلَى بَدَنِهِ): وَفِي بَعْضِ النُّسَخِ وَيُزِيلُ النَّجَاسَةَ مُعَرَّفًا بِالْأَلِفِ وَاللَّامِ إلَّا أَنَّ النَّكِرَةَ أَحْسَنُ

## د غسل سنتونه

دا قول: ( د غسل سنت دا دی چې غسل کوونکی دې لومړی خپل لاسونه او شرمګاه ووینځي )
نوموړی ته "مغتسل" (غسل کوونکی) ویل کېږي، ځکه چې هغه د غسل کولو ته نږدې شوی دی [1] لکه څنګه چې وویل شول، کله چې یو څوک چې اودس کړی وي له خوبه ویښ شي.

بل د غسل د سنتو څخه دا ده [2] سنت دا ده چې په زړه کې نیت وکړي او په ژبه ووايي "د جنابت د رفع کولو لپاره مې د غسل نیت وکړ."

بیا د لاسونو په مینځلو سره د الله تعالی نوم یاد کړي، وروسته استنجا وکړي، او هر څه چې نجاست پرې لګېدلی وي، پاک کړي. مستحب دا دی چې د خپل ښي اړخ څخه پیل وکړي.

دا قول: (او نجاست به لرې کوي که چېرته په بدن یې وي): . په ځینو نسخو کې کلمه د "النَّجَاسَةَ " د "ال" تعریف سره راغلې ده، خو د نکرې په حالت کې (نجاسة) غوره ده، ځکه نکره د احتمالي شتون اشاره کوي. [3]

---

[1] - دې ته په بلاغت کې مجاز مرسل وايي، چیرې چې د غسل کوونکي نوم د غسل ځای لپاره کارول شوی او دا د "إطلاق اسم الحال على المحل" تر مجازي قاعدې لاندې راځي،لکه بل مثال دغه آیت شریف ده {فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ} آل عمران (١٠٧). أَيْ فِي الْجَنَّةِ لِأَنَّهَا مَحَلُّ الرَّحْمَةِ.لکه دلته اسم حال ذکر شو او مراد ورڅخه محل د رحمت ده چې هغه جنت ده. (السيوطي، عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي، الإتقان في علوم القرآن(الناشر: الهيئة المصرية العامة للكتاب، الطبعة: ١٣٩٤هـ/ ١٩٧٤ م) ج ٣ ص ١٢٥).

[2] - د نیت سره د عمل پیل دا سبب کېږي چې هغه د الله لپاره عبادت شي او ثواب ورکړل شي، لکه اودس. بسم الله د نیت ترڅنګ ویل کېږي، ځکه بسم الله په ژبه وي او نیت په زړه. دواړه د لاسونو تر مړوندونو پورې د مینځلو سره پیلېږي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ کړي دي. (الشرنبلالي، حسن بن عمار بن علي الشرنبلالي المصري الحنفي، مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح(الناشر: المكتبة العصرية، الطبعة: الأولى، ١٤٢٥ هـ - ٢٠٠٥ م) ج ١ ص ٤٦).

[3] - **فقهي قاعده:** دا په ا صل کې (أن النكرة إذا وقعت في سياق الشرط تعم، كما إذا وقعت في سياق النفي).قاعدې ته ا شاره کوي چې نکره چې کله په سیاق د شرط کې واقیع شي نو عموم پیدا کوي لکه څنګه چې په سیاق د نفي کې واقیع شي. او دلته په سیاق د شرط کې واقیع شوې ده، او د "نجاسةً" کلمې نکره بڼه ځکه غوره ده، چې هر ډول نجاست ته شامل شي. (الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل، أبو القاسم محمود بن عمرو بن أحمد، الزمخشري جار الله ج ٤ ص ٣٦٠، عدد الأجزاء: ٤، الطبعة: الثالثة - ١٤٠٧ هـ ، الناشر: دار الكتاب العربي – بيروت).

وَإِنَّمَا قَالَ إِنْ كَانَتْ عَلَى بَدَنِهِ وَلَمْ يَقُلْ إِذَا كَانَتْ ؛ لِأَنَّ إِنْ تَدْخُلُ عَلَى خَطَرِ الْوُجُودِ وَإِذَا تَدْخُلُ عَلَى أَمْرٍ كَائِنٍ أَوْ مُنْتَظَرٍ لَا مَحَالَةَ وَالنَّجَاسَةُ قَدْ تُوجَدُ وَقَدْ لَا تُوجَد.

(قَوْلُهُ: ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ إلَّا رِجْلَيْهِ): فِيهِ إشَارَةٌ إلَى أَنَّهُ يَمْسَحُ رَأْسَهُ وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ.

او دا چې ليکوال ويلي: «که چېرې ناپاکي پر بدن وي»، او نه يې دي ويلي: دلته د (إن كانت على بدنه) جمله راغلې ده، نه دا چې (إذا كانت). ځکه چې "إن" د امکان څرګندونې لپاره استعمالېږي، په داسې حال کې چې "إذا" د حتمي پيښېدو يا د تمه کېدونکي [1].حال لپاره کارول کېږي. نجاست کېداى شي موجوده وي يا نه وي، نو ځکه "إن" دلته مناسبه ده.

دا قول: (بيا به اودس وکړي لکه څنګه چې د لمانځه لپاره اودس کېږي، خو پښې به پرېږدي (نه به يې پرېمنځي): دلته اشاره شوې چې د سر مسح کول لازم دي، او دا د حنفي مذهب د ظاهر الرواية [2]مطابق دی.

---

[1] - قاعده داده چې د إن او إذا د اشتراک نقطه داده چې دواړه د شرط صيغې دي او د افتراق نقطې يې دادي چې إنْ په داسې څه باندې داخليږي چې د کيدو احتمال يې وي او په محقق څه باندې نه داخليږي او إذا په محتمل او محقق دواړو باندې داخليږي لکه(أنت طالق إذا احمر البسر وإن دخلت الدار فالأول محقق والثاني محتمل ولا تقول أنت طالق إن احمر البسر–إلا إذا لم يتيقن ذلك). (الحسين الرازي، محمد بن عمر بن الحسين الرازي، المحصول في علم الأصول(الناشر : جامعة الإمام محمد بن سعود الإسلامية – الرياض، الطبعة الأولى:١٤٠٠) ج ٣ ص ٩٠).

[2] - د امام ابوحنيفه رحمه الله په مذهب کې د فقهي کتابونه په درې ډوله دي:١- يو ډول هغه دي چې امام محمد رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله څخه په خپله يا د امام ابويوسف رحمه په توسط سره مسائيل روايت کړي دي چې دا مسائيل ثقه دي او په متواتر يا مشهور روايت سره امام محمد رحمه الله په خپلو شپږو کتابونو(جامع الصغير، جامع الكبير، مبسوط، سيرالكبير، سيرالصغير او زيادات) کې جمع کړي دي چې دې ته ظاهر الرواية وايي.٢- هغه کتابونه چې د امام ابوحنيفه رحمه الله له ا صحابو(امام محمد،حسن بن زياد يا د امام ابويو سف له ا صحابو) څخه په روايت ظاهر، صحيح او ثابت باندې نوي روايت شوي شوي لکه د امام محمد رحمه الله څخه چې مسائيل په پورتني کتابونو کې(ظاهر الرواية) کې نوي روايت شوي بلکې په الکيسانيات،الهارونيات، والجرجانيات اوالرقيات کتابونو کې چې مسائيل روايت شوي او نسبت يې امام محمد رحمه الله ته کيږي او يا لکه د امام محمد رحمه الله څخه بغير المجرد د حسن بن زياد يا امالي کتاب د امام ابويو سف د ا صحابو او دا کتابونه د اعتماد په دويمه درجه کې قرار لري او دې ته نادر الرواية وايي.٣- يو ډول د هغو مسائيلو کتابونه دي چې متأخرينو مجتهدينو(أصحاب أبي يوسف، أصحاب محمد د دوی د اصحاب اصحاب تر هغه وخته چې عصر د اجتهاد ختم شوی)څخه د بيلا بيلو مسائيلو په اړه سوالونه ورڅخه شوي او دوی په په پورتنيو کتابونو(ظاهر الرواية او نادر الرواية)کتابونو کې د داسې مسائيلو لپاره مسائيل ندي پيدا کړي هغه د الفتاوى او الواقعاتو کتابونه دي چې دوی په نوموړو مسائيلو باندې ليکلي دي لکه اول کتاب چې الفتاوى کې وليکل شو النوازل د ابو الليث سمرقندي ده يا مجموع النوازل والواقعات د صدر الشهيد. (كشف الظنون عن أسامي الكتب والفنون ج ٢ ص ١٢٨٢).

وَرَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ لَا يَمْسَحُهُ ؛ لِأَنَّهُ لَا فَائِدَةَ فِيهِ ؛ لِأَنَّ الْإِسَالَةَ تُعْدِمُ الْمَسْحَ ، وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ يَمْسَحُهُ وَقَوْلُهُ إلَّا رِجْلَيْهِ هَذَا إذَا كَانَ فِي مُسْتَنْقَعِ الْمَاءِ أَمَّا إذَا كَانَ عَلَى لَوْحٍ أَوْ قَبْقَابٍ أَوْ حَجَرٍ لَا يُؤَخِّرُ غَسْلَهُمَا

(قَوْلُهُ: ثُمَّ يُفِيضُ الْمَاءَ عَلَى رَأْسِهِ وَسَائِرِ جَسَدِهِ ثَلَاثًا) الْأُولَى فَرْضٌ وَالثِّنْتَانِ سُنَّتَانِ عَلَى الصَّحِيحِ وَيَجِبُ أَنْ يُوصِلَ الْمَاءَ إلَى جَمِيعِ شَعْرِهِ وَبَشَرِهِ وَمَعَاطِفِ بَدَنِهِ فَإِنْ بَقِيَ مِنْهُ شَيْءٌ لَمْ يُصِبْهُ الْمَاءُ فَهُوَ عَلَى جَنَابَتِهِ حَتَّى يَغْسِلَ ذَلِكَ الْمَوْضِعَ فَإِنْ كَانَ فِي أُصْبُعِهِ خَاتَمٌ ضَيِّقٌ حَرَّكَهُ حَتَّى يَصِلَ الْمَاءُ إلَى مَا تَحْتَهُ وَيُخَلِّلُ أَصَابِعَهُ إذَا كَانَ الْمَاءُ قَدْ وَصَلَ إلَى مَا بَيْنَهُمَا ، وَأَمَّا إذَا لَمْ يَصِلْ فَالتَّخْلِيلُ فَرْضٌ.

مگر امام حسن بن زياد رحمه الله [1] له امام ابو حنيفه رحمه الله څخه روايت کړی چې سر به نه مسح کوي. دليل يې دا دی چې په دې کې څه گټه نشته، ځکه چې د اوبو بهېدنه د مسح اثر له منځه وړي. سره له دې، صحيح خبره دا ده چې سر مسح کيږي.

او دا قول "إلَّا رِجْلَيْهِ" عبارت دا معنی لري چې دا حکم هغه وخت دی چې انسان په داسې ځای کې وي چې د اوبو څخه ډک وي لکه ډنډ. مگر که هغه په تخته، لرگي، يا ډبره باندې ولاړ وي، نو د پښو مينځل به نه ځنډوي .

دا قول: (بيا به درې ځله اوبه په سر او د بدن په ټولو برخو توی کړي): لومړی ځل (د بدن مينځل) فرض دی، او پاتې دوه ځلونه سنت دي، د صحيح قول له مخې. واجب دادي چې اوبه د بدن ټولو وېښتو، پوست او پوښل شويو برخو ته ورسوي. که د بدن کومه برخه پاتې شي چې اوبه نه وي ور رسېدلې، نو دا کس به لا هم په جنابت کې وي تر هغه چې هغه ځای ووينځي.

که په گوته کې يې کومه تنگه گوتمۍ وي، نو بايد وخوځول شي ترڅو اوبه لاندې ور ورسيږي. همدارنگه، بايد د گوتو منځونه بايد خلال کړي کله چې اوبه هلته په خپله رسېدلې وي، او که چيرته اوبه د گوتو بيخو ته نوي رسيدلي نو بيا يې خلالول فرض گڼل کيږي.

---

[1] - نوم حســن د پلار نوم يې زياد په اللُّؤْلُؤِيُّ سره مشــهور و،علامه،فقيه العراق،الكوفي او د امام ابو حنيفه رحمه الله له اصــحابو څخه و.په رأی کې د اذکياء البارعينو څخه و،وروسته له حفص بن غياث څخه قضاء ورته وسپارل شوه بيا يې وروسته خپل ځان عزل کړ.احمد بن عبدالحميد حارثي د حسن بن زياد رحمه الله په اړه وايي چې ما د حســن لؤلؤ څخه زياته اخلاقي کس نده ليدلی, يحيى بن آدم وايي چې ما د حســن بن زياد څخه زيات فقيه کس نده ليدلی او د امام حســن بن زياد له کتابونو څخه کتاب المجرد د امام ابوحنيفه رحمه الله،کتاب ادب القاضي، کتاب الخصــال، کتاب معاني الإيمان، کتاب النفقات، کتاب الخراج، کتاب الفرائض او کتاب الوصايا دي او نوموړی رحمه الله په (۲۰۴هـ) کال کې وفات شو.(سير أعلام النبلاء د امام ذهبي ج ۱۸ ص ۷۸). (النديم، محمد بن إسحاق أبو الفرج النديم، الفهرست(الناشر : دار المعرفة – بيروت، ط: ۱۳۹۸ – ۱۹۷۸) ج ۱ ص ۲۸۸).

(قَوْلُهُ: ثُمَّ يَتَنَحَّى عَنْ ذَلِكَ الْمَكَانِ فَيَغْسِـلُ رِجْلَيْهِ): هَذَا إذَا كَانَ فِي مُسْـتَنْقَعِ الْمَاءِ أَمَّا إذَا كَانَ عَلَى حَجَرٍ أَوْ غَيْرِهِ وَقَدْ غَسَلَهُمَا عَقِيبَ مَسْحِ رَأْسِهِ فَلَا يَلْزَمُهُ إعَادَةُ غَسْلِهِمَا، وَلَوْ تَقَاطَرَ الْمَاءُ فِي وَقْتِ الْغَسْلِ فِي الْإِنَاءِ إنْ كَانَ قَلِيلاً لَا يُفْسِدُ الْمَاءَ ، وَإِنْ كَانَ كَثِيراً أَفْسَدَهُ ، وَحَدُّ الْقَلِيلِ مَا لَا يَنْفَرِجُ مَاءُ الْإِنَاءِ عِنْدَ وُقُوعِهِ وَلَا يَسْتَبِينُ وَعَنْ مُحَمَّدٍ إنْ كَانَ مِثْلَ رُءُوسِ الْإِبَرِ فَهُوَ قَلِيلٌ وَإِلَّا فَهُوَ كَثِيرٌ كَذَا فِي الْفَوَائِدِ.

دا قول: (بیا به له هغه ځای څخه لرې شي او خپلې پښې به ووینځي): دا هغه وخت دی چې د اوبو ډک ځای (ډنډ) وي. مگر که په ډبره یا بل داسې ځای کې وي او خپلې پښې یې د سر د مسح کولو وروسته مینځلې وي، نو د پښو بیا مینځل پرې لازم نه دي.

که د غسل پر مهال اوبه په لوښي کې تویې شي، که لږې وي، د لوښي اوبه نه خرابوي. خو که ډېرې وي، د لوښي اوبه خرابوي او ناپاکېږي.لږې اوبه هغه دي چې کله په لوښي کې تویېږي، د لوښي اوبو ښه یا حالت بدلون ونه مومي او څرګند اثر پرې ونکړي.د امام محمد رحمه الله په نزد که د اوبو اندازه د ستنو د سرو په شان وي، نو هغه لږې ګڼل کېږي. که له دې زیاته وي، نو هغه ډېرې شمېرل کېږي. دا خبره د "الفوائد" کتاب کې ذکر شوې ده.

قَوْلُهُ: (وَلَيْسَ عَلَى الْمَرْأَةِ أَنْ تَنْقُضَ ضَفَائِرَهَا فِي الْغُسْلِ إذَا بَلَغَ الْمَاءُ أُصُولَ الشَّعْرِ) وَقَالَ الْإِمَامُ أَحْمَدُ يَجِبُ عَلَى الْحَائِضِ النَّقْضُ وَلَا يَجِبُ عَلَيْهَا فِي الْجَنَابَةِ وَفِي تَخْصِيصِ الْمَرْأَةِ إشَارَةٌ إلَى أَنَّهُ يَجِبُ عَلَى الرَّجُلِ النَّقْضُ لِعَدَمِ الضَّرُورَةِ فِي حَقِّهِ. وَلَوْ أَلْزَقَتْ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا بِالطِّيبِ بِحَيْثُ لَا يَصِلُ الْمَاءُ إلَى أُصُولِ الشَّعْرِ وَجَبَ عَلَيْهَا إزَالَتُهُ لِيَصِلَ الْمَاءُ إلَى أُصُولِهِ. فَإِنْ احْتَاجَتْ الْمَرْأَةُ إلَى شِرَاءِ الْمَاءِ لِلِاغْتِسَالِ مِنْ الْجَنَابَةِ إنْ كَانَتْ غَنِيَّةً فَثَمَنُهُ عَلَيْهَا، وَإِنْ كَانَتْ فَقِيرَةً فَعَلَى الزَّوْجِ. وَقِيلَ يُقَالُ لَهُ إمَّا أَنْ تَدَعَهَا تَذْهَبُ إلَى الْمَاءِ أَوْ تَنْقُلَهُ أَنْتَ إلَيْهَا. وَقَالَ أَبُو اللَّيْثِ يَجِبُ عَلَى الزَّوْجِ كَمَا يَجِبُ عَلَيْهِ لِلشُّرْبِ وَأَمَّا ثَمَنُ مَاءِ الْوُضُوءِ فَعَلَى الزَّوْجِ إجْمَاعًا وَثَمَنُ مَاءِ الِاغْتِسَالِ مِنْ الْحَيْضِ إنْ انْقَطَعَ لِأَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ أَيَّامٍ فَعَلَى الزَّوْجِ وَإِنْ انْقَطَعَ لِعَشَرَةٍ فَعَلَيْهَا؛ لِأَنَّهُ يَقْدِرُ عَلَى وَطْئِهَا دُونَ الِاغْتِسَالِ فَكَانَتْ هِيَ الْمُحْتَاجَةَ إلَيْهِ لِأَدَاءِ الصَّلَاةِ.

دا قول: (پر ښځه دا لازم نه دي چې د غسل په وخت کې خپل کوڅۍ کړي وېښتان خلاص کړي، کله چې اوبه د وېښتو تر بیخو پورې رسېږي): امام احمد رحمه الله ویلي دي چې پر حائضه ښځه د ویښتو خلاصول واجب دي، خو د جنابت په حالت کې د ویښتو خلاصول پرې واجب نه دي. د ښځې په ځانګړتیا کې دې ته اشاره ده چې پر سړي د ویښتو خلاصول واجب دي، ځکه هغه ته په دې اړه هېڅ ډول سختي نشته. که ښځې په خپل سر خوشبويي لګولې وي چې اوبه د ویښتو بیخو ته نه رسېږي، نو د هغې لیرې کول پرې واجب دي ترڅو اوبه د ویښتانو بیخو ته ورسېږي.

که ښځه د جنابت غسل لپاره د اوبو د اخیستلو ته اړتیا ولري، که شتمنه وي، نو د اوبو بیه پرې دې واجبه ده. که بې وزله وي، نو د هغې په خاوند واجبه ده چې اوبه ورته واخلي. ځینو ویلي دي چې خاوند ته به ویل کېږي، یا ښځې ته اجازه ورکړه چې اوبو ته ولاړه شي یا خپله اوبه ورته راوړه.

د ابو اللیث رحمه الله په وینا، د اوبو بیه د خاوند پر ذمه ده، لکه څنګه چې د څښاک لپاره پرې واجبه ده. د اوداسه لپاره د اوبو بیه د اجماع په اساس د خاوند ذمه واري ده.

د حیض د غسل لپاره د اوبو بیه که د حیض دوران له لسو ورځو کم وي، نو د خاوند په ذمه ده. خو که لس ورځې بشپړې شي، نو د ښځې په ذمه ده، ځکه خاوند د غسل پرته د مباشرت توان لري، او ښځه د لمونځ لپاره غسل ته اړتیا لري.

(قَوْلُهُ: وَالْمَعَانِي الْمُوجِبَةُ لِلْغُسْلِ إنْزَالُ الْمَنِيِّ عَلَى وَجْهِ الدَّفْقِ وَالشَّهْوَةِ إلَى آخِرِهِ): هَذِهِ الْمَعَانِي مُوجِبَةٌ لِلْجَنَابَةِ لَا لِلْغُسْلِ عَلَى الصَّحِيحِ ؛ لِأَنَّهَا تَنْقُضُهُ فَكَيْفَ تُوجِبُهُ وَإِنَّمَا سَبَبُ وُجُوبِ الْغُسْلِ إرَادَةُ الصَّلَاةِ أَوْ إرَادَةُ مَا لَا يَحِلُّ فِعْلُهُ مَعَ الْجَنَابَةِ ، وَأَمَّا هَذِهِ الَّتِي ذَكَرَهَا الشَّيْخُ فَشُرُوطٌ وَلَيْسَتْ بِأَسْبَابٍ. وَالْمَنِيُّ خَاثِرٌ أَبْيَضُ يَنْكَسِرُ مِنْهُ الذَّكَرُ عِنْدَ خُرُوجِهِ وَيُخْلَقُ مِنْهُ الْوَلَدُ وَرَائِحَتُهُ عِنْدَ خُرُوجِهِ كَرَائِحَةِ الطَّلْعِ وَعِنْدَ يُبْسِهِ كَرَائِحَةِ الْبَيْضِ.

(قَوْلُهُ: عَلَى وَجْهِ الدَّفْقِ وَالشَّهْوَةِ): هَذَا بِإِطْلَاقِهِ لَا يَسْتَقِيمُ إلَّا عَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ ؛ لِأَنَّهُ يَشْتَرِطُ لِوُجُوبِ الْغُسْلِ ذَلِكَ وَأَمَّا عَلَى قَوْلِهِمَا فَلَا يَسْتَقِيمُ ؛ لِأَنَّهُمَا جَعَلَا سَبَبَ الْغُسْلِ خُرُوجَهُ عَنْ شَهْوَةٍ وَلَمْ يَجْعَلَا الدَّفْقَ شَرْطًا حَتَّى إنَّهُ إذَا انْفَصَلَ عَنْ مَكَانِهِ بِشَهْوَةٍ وَخَرَجَ مِنْ غَيْرِ دَفْقٍ وَشَهْوَةٍ وَجَبَ الْغُسْلُ عِنْدَهُمَا وَعِنْدَهُ يُشْتَرَطُ الشَّهْوَةُ أَيْضًا عِنْدَ خُرُوجِهِ.

## هغه شيان چې غسل واجبوي

دا قول: (هغه اسباب چې غسل واجبوي، يو دا دی چې په شهوت او ټوپ سره مني وبهېږي او داسې نور...): دغه مسئله په اطلاق سره يوازې د امام ابو يوسف په وينا سره سمون خوري، ځکه چې هغه د غسل وجوب لپاره د شهوت او د دفق (ټوپ سره د منيو خارجيدل) شرط ابيني دی. خو د امام ابو حنيفه او امام محمد رحمهما الله په نزد دا شرط نه دی، ځکه دوی د غسل سبب د شهوت سره د مني وتل بللي دي، او د دفق شرط يې نه دی ايښی. نو که مني د شهوت سره له خپل ځايه جلا شي او پرته له دفق او شهوت څخه ووځي، د دوی په نظر غسل واجب دی، خو د امام ابو يوسف په نظر شهوت د وتلو پر وخت هم شرط دی.

د "دفق" مطلب دا دی چې مني په ټوپ کولو سره ووځي. که څوک خوب ووينې يا ښځې ته په شهوت وګوري، او مني د شهوت سره جدا شي، خو وروسته د ذکر په ټينګولو سره شهوت ماته کړي او بيا د ذکر پرېښودلو وروسته مني پرته له شهوت څخه ووځي، نو د امام ابو حنيفه او امام محمد رحمهما الله په نزد غسل واجب دی، خو د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد واجب نه دی.

| |
|---|
| وَمَعْنَى قَوْلِهِ عَلَى وَجْهِ الدَّفْقِ أَيْ نَزَلَ مُتَتَابِعًا وَلَوْ احْتَلَمَ أَوْ نَظَرَ إلَى امْرَأَةٍ بِشَهْوَةٍ فَانْفَصَلَ الْمَنِيُّ مِنْهُ بِشَهْوَةٍ فَلَمَّا قَارَبَ الظُّهْرَ شَدَّ عَلَى ذَكَرِهِ حَتَّى انْكَسَرَتْ شَهْوَتُهُ ثُمَّ تَرَكَهُ فَسَالَ بِغَيْرِ شَهْوَةٍ وَجَبَ الْغُسْلُ عِنْدَهُمَا وَعِنْدَهُ لَا يَجِبُ ، وَكَذَا إذَا اغْتَسَلَ الْمُجَامِعُ قَبْلَ أَنْ يَبُولَ أَوْ يَنَامَ ثُمَّ خَرَجَ بَاقِي الْمَنِيِّ بَعْدَ الْغُسْلِ وَجَبَ عَلَيْهِ إعَادَةُ الْغُسْلِ عِنْدَهُمَا وَعِنْدَهُ لَا يَجِبُ. |

او د عبارت معنا دا ده چې "په دفق سره" يعنې منی پرلهپسې او په فشار سره ووځي:

که يو سړی خوب ووينې، يا يوې ښځې ته په شهوت سره وګوري، او د دې شهوت له امله منی له خپل ځايه جلا شي، خو کله چې شا ته رانژدې شي [1]، نو خپل ذکر (آله تناسلي) داسې کلک کړي چې شهوت يې پرې شي، بيا يې پرېږدي، او منی له بدن نه ووځي، خو پرته له شهوت څخه نو د امام ابو حنيفه او امام محمد په نزد غسل واجب دی، خو د امام ابويوسف په نزد واجب نه دی، ځکه چې منی د بدن نه د شهوت پرته وتلې ده.

همدا راز که يو کس له ښځې سره جماع وکړي، خو ادرار يا خوب څخه دمخه غسل وکړي، بيا له غسل وروسته د منی پاتې برخه ووځي، د امام ابو حنيفه او محمد رحمهم الله د مذهب سره سم بايد غسل بيا وکړي، خو د امام ابويوسف د مذهب سره سم بيا پرې د غسل را ګرځول واجب نه دي.

---

[1] - پخوانيو فقهاو له نظره د «بين الصلب والترائب» د تفسير له امله تصور دا وه چې مني په صلب کې جوړيږي، او د شا څخه تيريږي او بيا د تنا سل د آلې له لارې بيرون ته وځي. د بين الصلب او الترائب مختلف تفسيرونه شوي او زياتره پخوانيو فقهاوو ورڅخه مراد مخکې ذکر شوی تفسير اخستلو، خو د اوسني طب سره برابر هاغه تفسير دی چې امام قرطبي رحمه الله د حسن بصري رحمه الله څخه نقل کړی: "وَقَالَ الْحَسَنُ: الْمَعْنَى: يَخْرُجُ مِنْ صُلْبِ الرَّجُلِ وَتَرَائِبِ الرَّجُلِ، وَمِنْ صُلْبِ الْمَرْأَةِ وَتَرَائِبِ الْمَرْأَةِ" (تفسير القرطبي (٢٠/ ٧) او همدغه تفسير ته ابن القيم رحمه الله په خپل کتاب اعلام الموقعين کې هم ترجيح ورکړي، او ويلي يې دي: "وَلَا خِلَافَ أَنَّ الْمُرَادَ بِالصُّلْبِ صُلْبُ الرَّجُلِ، وَاخْتُلِفَ فِي التَّرَائِبِ فَقِيلَ: الْمُرَادُ بِهَا تَرَائِبُهُ أَيْضًا، وَهِيَ عِظَامُ الصَّدْرِ مَا بَيْنَ التَّرْقُوَةِ إلَى الثَّنْدُوَةِ، وَقِيلَ: الْمُرَادُ تَرَائِبُ الْمَرْأَةِ، وَالْأَوَّلُ أَظْهَرُ؛ لِأَنَّهُ سُبْحَانَهُ قَالَ: {يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ} [الطارق: ٧] وَلَمْ يَقُلْ يَخْرُجُ مِنْ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ فَلَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ مَاءُ الرَّجُلِ خَارِجًا مِنْ بَيْنَ هَذَيْنِ الْمُخْتَلِفَيْنِ" (إعلام الموقعين عن رب العالمين (١/ ١١٢)) او معاصر طب هم همدغه نظر تايدوي: لکه پدي اړه دکتور وفقه الله ليکلي دي: "والآية الكريمة إعجاز علمي كامل حيث تقول: من بين الصلب والترائب، ولم تقل من الصلب والترائب، فكلمة (بين) ليست بلاغة فحسب، وإنما تعطي الدقة العلمية المتناهية، وقد أخطأ كثير من المفسرين القدامى حيث لم يهتموا بهذه اللفظة، وقالوا: إن المني يخرج من صلب الرجل، وماء المرأة يكون في ترائبها، وهذا خطأ علمي، وخطأ منهجي؛ حيث لم يعطوا الآية حقها فحذفوا كلمة (بين) ولذا وقعوا في الخطأ، والذي أوجب لهم هذا الخطأ أنهم رأوا أهل اللغة قالوا: الترائب: موضع القلادة من الصدر. قال الزجاج: أهل اللغة مجمعون على ذلك، وهذا لا يدل على اختصاص الترائب بالمرأة، بل يطلق على الرجل والمرأة. قال الجوهري: الترائب عظام الصدر، ما بين الترقوة إلى الثندوة." (أبو عمر دُبْيَانِ بن محمد الدُّبْيَانِ، موسوعة أحكام الطهارة، مكتبة الرشد، الرياض - المملكة العربية السعودية (٨/ ٢٥٤) او همدغه نظر ته دکتور علي بار په خپل کتاب: "خلق الإنسان بين الطب والقرآن" هم ترجيح ورکړي. (اسلام ويب، المقصود بالصلب والترائب، ٦ شعبان ١٤٢٤ هـ. https://www.islamweb.net/ar/fatwa/).

وَإِنْ خَرَجَ بَعْدَ الْبَوْلِ أَوْ النَّوْمِ لاَ يُعِيدُ إجْمَاعًا ، وَلَوْ اسْـتَيْقَظَ فَوَجَدَ عَلَى فَخِذِهِ أَوْ ذَكَرِهِ بَلَلاً وَلَمْ يَذْكُرْ الاحْتِلاَمَ فَإِنْ كَانَ ذَكَرُهُ مُنْتَشِرًا قَبْلَ النَّوْمِ فَلاَ غُسْـلَ عَلَيْهِ إلاَّ أَنْ يَتَيَقَّنَ أَنَّهُ مَنِيٌّ ، وَإِنْ كَانَ سَـاكِنًا قَبْلَ النَّوْمِ فَعَلَيْهِ الْغُسْـلُ ، وَفِي الْخُجَنْدِيِّ إنْ كَانَ مَنِيًّا وَجَبَ الْغُسْلُ بِالاتِّفَاقِ ، وَإِنْ كَانَ وَدْيًا لاَ يَجِبُ بِالاتِّفَاقِ ، وَإِنْ كَانَ مَذْيًا وَجَبَ الْغُسْلُ عِنْدَهُمَا سَوَاءٌ تَذَكَّرَ الاحْتِلاَمَ أَوْ لاَ .وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ لاَ يَجِبُ إلاَّ إذَا تَيَقَّنَ الاحْتِلاَمَ .

او که منی د ادرار یا خوب نه وروسته ووځي، نو بیا ټول امامان پر دې اتفاق لري [١] چې غسل پرې بیا نه لازمیږي.

که څوک له خوبه راویښ شي، او پر خپلو ورنونو یا ذکر باندې بلل (لوندوالی) وویني، خو خوب یې نه وي په یاد نو که یې ذکر د خوب نه مخکې منتصب (ولاړ) وو، غسل پرې نشته [٢]، مگر دا چې یقین وکړي چې دا منی ده. او که ذکر یې ساکن (ناولاړ) وو، نو غسل پرې واجب دی [٣]. په کتاب «الخجندي» کې راغلي:

- که هغه لوندوالی منی وي، نو د ټولو پر اتفاق غسل واجب دی.
- که هغه «ودي»[٤] وي (یو ډول مایع چې د ادرار وروسته راځي)، نو غسل نه واجبیږي، د اتفاق پر بنسټ.
- او که «مذي»[٥] وي (هغه مایع چې د شهوت پر مهال، له جماع مخکې راځي)، نو د امام ابو حنیفه او امام محمد پر قول غسل واجب دی، که څه هم خوب یې نه وي په یاد. خو امام ابویوسف وایي: غسل هله واجب دی چې د احتلام (خوب لیدو) یقین وي.

[١] - دلته څکه اجماع راغله چې امام ابوحنیفه او امام محمد رحمهما الله د غسل د وجوب لپاره په شهوت سره د منیو وتل شرط گڼي او امام ابو یو سف رحمه الله شهوت او دفق دواړه د غسل د وجوب لپاره شرط گڼي،نو که مني د ادرارو(بولو) وروسته یا د خوب څخه وروسته ووځي نو غسل ځکه نه لازمیږي چې شهوت او دفق د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد شرط و او دا دوه شرطونه په دې صورت کې نشته او د طرفینو رحمهما الله چې کوم شرط و د غسل د وجوب لپاره هغه هم په دې صورت کې نه موجودیږي.

[٢] - **فقهي مسئله:** که چیرې ذکر یې مخکې له خوب څخه ولاړ وي نو غسل ځکه پرې نشته؛ ځکه چې انتشار د ذکر سبب د خروج د مذي گرځېدلی ده او دا هغه وخت ده چې په ولاړه یا نا سته باندې ویده او که په مُضْطَجِعًا ( سملاسته) باندې ویده شوي وي نو غسل پرې شته؛ځکه په سملاسته خوب کې استرخاء د مفاصلو او استغراق راځي او استرخاء او استغراق سبب د وجوب د مني گرځي . (رد المحتار علی الدر المختار ج ١ ص ١٦٤).

[٣] - **فقهي مسئله:** او که چیرته ذکر یې مخکې له خوب څخه ولاړ نه و،نو غسل وربانديې شته؛ځکه چې کله یې مخکې له خوب څخه ذکر انتشار نه درلود نو دا لوندوالی د مذیو په وجه نده او کوم لوندوالی چې پیدا شوی ده احتمال د خروج د منیو ده نو احتیاطا غسل کول وربانديې واجب ده. (مرجع سابق ج ١ ص ١٦٤).

[٤] - ودي په غړوندي د دال سره: یو ډول سپینې او رقیقې اوبه دي چې د ادرارو کولو څخه وروسته راځي او غسل پرې نه واجبیږي. (لسان العرب ج ١٥ ص ٣٨٣).

[٥] - مذي په غړوندي د ذال سره: هغه اوبه دي چې د ادرارو له ځای څخه د ملاعبه او تقبیل پر وخت راووځي،په راوتلو سره اودس وربانديې شته او غسل وربانديې نشته.(مرجع سابق ١٥ ص ٢٧٤).

(قَوْلُهُ: وَالْتِقَاءُ الْخِتَانَيْنِ مِنْ غَيْرِ إنْزَالٍ): أَيْ مَعَ تَوَارِي الْحَشَفَةِ فَإِنَّ تَيَقُّنَ مُلَاقَاةِ الْفَرْجِ مِنْ غَيْرِ تَوَارٍ لَا يُوجِبُ الْغُسْلَ وَالْمُرَادُ بِالْتِقَائِهِمَا مُحَاذَاتُهُمَا وَهُوَ عِبَارَةٌ عَنْ إيلَاجِ الْحَشَفَةِ كُلِّهَا وَفِي قَوْلِهِ وَالْتِقَاءُ الْخِتَانَيْنِ نَظَرٌ فَإِنَّهُ لَوْ قَالَ وَبِغَيْبُوبَةِ الْحَشَفَةِ ، كَمَا قَالَ حَافِظُ الدِّينِ فِي الْكَنْزِ كَانَ أَحْسَنَ وَأَعَمَّ ؛ لِأَنَّ الْإِيلَاجَ فِي الدُّبُرِ يُوجِبُ الْغُسْلَ وَلَيْسَ هُنَاكَ خِتَانَانِ يَلْتَقِيَانِ وَلَوْ كَانَ مَقْطُوعَ الْحَشَفَةِ يَجِبُ الْغُسْلُ بِإِيلَاجِ مِقْدَارِهَا مِنْ الذَّكَرِ

دا قول: (د ختنو د ځايونو يو ځای کېدل پرته له انزال څخه): د ختنو د ځايونو يو ځای کېدل هغه مهال غسل واجبوي چې حشفه (د ذکر مخکينی برخه) په بشپړه توګه دننه شي. يوازې د فرج سره ظاهري تماس يا محاذات، پرته له دې چې حشفه دننه شوې وي، غسل نه واجبوي. د "ختنو د ځايونو يو ځای کېدل" څخه هدف د حشفې دننه کېدل دي.

متن کې د دې عبارت په اړه ځينې نيوکې شوې دي. ليکوال اشاره کړې چې که د "الْتِقَاءُ الْخِتَانَيْنِ" پر ځای "غَيْبُوبَةِ الْحَشَفَةِ" ذکر شوي وای لکه حافظ الدين[1] چې په کنز[2] کې ويلي دي ، نو دا به ښه او پراخه معنی لرلې وای. ځکه چې د مقعد دننه کېدل هم غسل واجبوي، حال دا چې هلته د ختنو ځايونه شتون نه لري.
همدارنګه، که د حشفې برخه پرې شوې وي، بيا هم په دې اندازه د ذکر دننه کېدل چې د حشفې د بشپړ مقدار سره برابر وي، غسل واجبوي.

[1] - نوم يې عبدالله د پلار نوم يې احمد په حَافظ الدّين أَبُو البركات النَّسَـفِيّ باندې شـهرت لري په متأخرينو علماوو کې يو له هغو علماوو و چې په فقه او ا صولو کې مختلف کتابونه تـصنيف کړي دي چې د هغو څخه الْمُـسْتَـصْفى فى شرح الْمَنْظُومَة، الوافي، الْكَافِي فى شرح الوافي، كنز الدقائق، الْمنَار فى أ صُول الْفِقْه، الْمنَار فى أصُول الدّين او الْعُمْدَة د نوموړي رحمه الله له مصنفاتو څخه دي او نوموړی د جمعې په ورځ په (٧٠١ هـ) کال د ربيع الاول په مياشت کې وفات شـو او د أيدج په ښـار کې خاورو ته وسـپارل شـو. (محيي الدين الحنفي، عبد القادر بن محمد بن نصرـالله القرشي، أبو محمد، محيي الدين الحنفي (المتوفى: ٧٧٥هـ) ، الجواهر المضية في طبقات الحنفي (الناشر: مير محمد كتب خانه – كراتشي) ج ١ ص ٢٧٠).

[2] - د كنز الدقائق متن (و تواري حشفة في قُبُل ،او دُبُرعليهما) ج ١ ص ١٤٠،الطبعة الاولی (١٤٣٢هـــ)،ناشر:دار السراج ـــالمدينة المنورة. د كنز الدقائق في الفروع الحنفية كتاب مؤلف نوم عبدالله د پلار نوم يې احمد او په حافظ الدين نـسفي سره شهرت لري او نوموړی رحمه الله په (٧١٠ه) کال کې وفات شوی ده. (كشف الظنون عن أسامي الكتب والفنون ج ٢ ص ١٥١٦).

(قولُه: والحيضُ والنفاسُ) أَيْ الْخُرُوجُ مِنْهُمَا ؛ لِأَنَّهُمَا مَا دَامَ بَاقِيَيْنِ لَا يَجِبُ الْغُسْلُ لِعَدَمِ الْفَائِدَةِ وَاخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ هَلْ يَجِبُ الْغُسْلُ بِالِانْقِطَاعِ وَوُجُوبِ الصَّلَاةِ أَوْ بِالِانْقِطَاعِ لَا غَيْرُ فَعِنْدَ الْكَرْخِيِّ وَعَامَّةِ الْعِرَاقِيِّينَ بِالِانْقِطَاعِ ، وَهُوَ اخْتِيَارُ الشَّيْخِ وَعِنْدَ الْبُخَارِيِّينَ بِوُجُوبِ الصَّلَاةِ وَهُوَ الْمُخْتَارُ وَفَائِدَتُهُ إذَا انْقَطَعَ بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَأَخَّرَتْ الْغُسْلَ إلَى وَقْتِ الظُّهْرِ فَعِنْدَ الْعِرَاقِيِّينَ تَأْثَمُ وَعِنْدَ الْبُخَارِيِّينَ لَا تَأْثَمُ وَالنِّفَاسُ كَالْحَيْضِ. وَلَوْ أَجْنَبَتْ الْمَرْأَةُ ثُمَّ حَاضَتْ فَاغْتَسَلَتْ فَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ الْغُسْلُ مِنْ الْأَوَّلِ وَهُوَ الْجَنَابَةُ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ هُوَ مِنْهُمَا جَمِيعًا

دا قول: (حيض او نفاس): دلته مطلب د حيض يا نفاس پای ته رسېدل دي، ځکه تر هغې چې حيض يا نفاس دوام ولري، غسل واجب نه دی، ځکه په دې وخت کې د غسل کولو کومه ګټه نشته. د علماوو ترمنځ اختلاف دی چې غسل د حيض يا نفاس د پای ته رسېدو سره سم فرض کېږي او که د لمانځه د وجوب په وخت کې فرض کېږي.

د کرخي[1] رحمه الله او زياتره د عراق د علماوو په نزد، د حيض يا نفاس غسل يوازې په پای ته رسېدو د حيض او نفاس سره فرض کيږي. خو د بخاری علماوو په نزد، غسل د لمانځه د وجوب په وخت کې فرض کيږي، او دا نظر غوره ګڼل شوی.[2] د دې اختلاف عملي ګټه دا ده: که حيض د لمر له ختو وروسته پای ته ورسيږي او ښځه غسل تر ماسپښين پورې وځنډوي، نو د عراقي علماوو په نزد ګناهګاره کېږي،لکن د بخاری علماوو په نظر نه ګناهګاريږي.

نفاس هم د حيض په څېر دی. که ښځه په جنابت حالت کې وي او بيا پرې حيض راشي او وروسته غسل وکړي، د امام ابويوسف رحمه الله په نزد غسل يوازې د جنابت لپاره دی. خو د امام محمد رحمه الله په نزد غسل د دواړو (جنابت او حيض) دواړو لپاره دی.

---

[1] - نوم يې عبيد الله د پلار نوم يې حُسَيْنْ په أَبُو الْحسن الْكَرْخِي سره شهرت لري،شيخ،امام زاهد،د عراق مفتي و، په ده سره رياست د امام ابوحنيفه رحمه الله د ا صحابو انتهاء موندلي ده،دده له لويو شاګردانو څخه أَبُو بَكْرٍ الرَّازِيّ ده،دده د کتابونو څخه (المختصر، الجامع الصغير او الجامع الكبير چې په دې کتابونو کې يې فقه، احاديث او د سلفو آثار راجمع کړي دي) دي، په خپلو کتابونو کې يې د تقي الدين په نوم هم ځان نومولی ده،دی مبارک د ډيرو لمونځونو او روژو نيونکی و،په (٢٦٠هـــ) کال پيدا شوی ده او د (٣٤٠هـــ) کال په شعبان مياشت کې وفات شو. (الجواهر المضية في طبقات الحنفية ج ١ ص ٣٣٧. سير أعلام النبلاء د امام ذهبي ج ٢٩ ص ٤٢٢).

[2] - امام سرخسي رحمه الله چې د اصحاب ترجيح څخه ده په المبسوط کتاب کې دې ترجيح ورکړې ده؛ځکه چې طهارت حاصلول اصل د لمانځه لپاره وي نه د حيض څخه د پاکوالي لپاره. (السرخسي، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي(المتوفى: ٤٨٣هـ) ، المبسوط (الناشر: دار المعرفة – بيروت، تاريخ النشر: ١٤١٤ هـ-١٩٩٣م )ج ١ ص ٧٠ ).

وَفَائِدَتُهُ أَنَّهَا إذَا حَلَفَتْ لاَ تَغْتَسِلُ مِنْ هَذِهِ الْجَنَابَةِ ثُمَّ حَاضَتْ فَاغْتَسَلَتْ بَعْدَ الطُّهْرِ حَنِثَتْ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ لاَ تَحْنَثُ ، وَإِنْ اغْتَسَلَتْ قَبْلَ أَنْ تُطَهِّرَهَا مِنْ الْحَيْضِ حَنِثَتْ إجْمَاعًا

( قَوْلُهُ : وَلَيْسَ فِي الْمَذْيِ وَالْوَدْيِ غُسْلٌ وَفِيهِمَا الْوُضُوءُ ) الْمَذْيُ مَاءٌ أَبْيَضُ رَقِيقٌ يَخْرُجُ عِنْدَ الْمُلاَعَبَةِ وَالْوَدْيُ مَاءٌ أَصْفَرُ غَلِيظٌ يَخْرُجُ بَعْدَ الْبَوْلِ وَكِلاَهُمَا بِتَخْفِيفِ الْيَاءِ ، وَقَوْلُهُ وَفِيهِمَا الْوُضُوءُ فَإِنْ قِيلَ قَدْ اُسْتُفِيدَ وُجُوبُ الْوُضُوءِ بِقَوْلِهِ كُلُّ مَا خَرَجَ مِنْ السَّبِيلَيْنِ فَلِمَ أَعَادَهُمَا قُلْنَا إنَّمَا دَخَلاَ هُنَاكَ ضِمْنًا لاَ قَصْدًا وَمِنْ الْأَشْيَاءِ مَا يَدْخُلُ ضِمْنًا وَلاَ يَدْخُلُ قَصْدًا كَبَيْعِ الشُّرْبِ وَالطَّرِيقِ فَرُبَّمَا يُتَوَهَّمُ أَنَّهُمَا يَدْخُلاَنِ ضِمْنًا لاَ قَصْدًا فَإِنْ قُلْت وَكَيْفَ يُتَصَوَّرُ الْوُضُوءُ مِنْ الْوَدْيِ وَهُوَ قَدْ وَجَبَ بِالْبَوْلِ السَّابِقِ قُلْت يُتَصَوَّرُ فِيمَنْ بِهِ سَلَسُ الْبَوْلِ إذَا أَوْدَى يَتَوَضَّأُ وَيَكُونُ وُضُوءُهُ مِنْ الْوَدْيِ خَاصَّةً وَيُتَصَوَّرُ أَيْضًا فِيمَنْ بَالَ وَتَوَضَّأَ ثُمَّ أَوْدَى فَإِنَّهُ يَتَوَضَّأُ مِنْ الْوَدْيِ

د دې اختلاف عملي ګټه په قسم کولو کې هم څرګندېږي: که ښځه قسم وکړي چې د جنابت لپاره غسل نه کوي او بیا پرې حیض راشي او وروسته له پاکېدو د حیض څخه غسل وکړي، نو د امام ابویوسف رحمه الله په نزد یې قسم مات شوی، خو د امام محمد رحمه الله په نزد یې قسم نه دی مات شوی. خو که ښځه د حیض له پاکېدو مخکې غسل وکړي، نو د ټولو علماوو په نظر یې قسم مات شوی دی.

دا قول: (مذي او ودي په وتلو کې غسل نشته، بلکې په دې دواړو کې اودس ده): مذي: هغه سپینې او رقیقې اوبه دي چې د شهوت یا لوبو په وخت کې وځي او ودي: هغه ژېړې او غلیظې اوبه دي چې د تشو متیازو (بولو) له ختمېدو وروسته وځي، دواړه په نرمه «ی» سره تلفظ کېږي. که څوک وپوښتي چې د مذي او ودي ذکر بیا ولې راغلی، په داسې حال کې چې د "هر څه چې د دوو لارو (قُبُل او دُبُر) څخه راوځي" په حکم کې شامل دي؟

ځواب دا دی چې هلته یې یادونه یوازې د ضمني مفهوم په توګه شوې وه [1]، نه په قصد او صراحت سره. ځینې شیان داسې وي چې ضمناً شاملیږي خو قصدًا نه، لکه د اوبو او لارې خرڅول په ځینو معاملو کې .نو امکان درلود چې څوک فکر وکړي مذي او ودي یوازې ضمناً داخل دي، قصدًا یاد شوي نه دي. له همدې امله یې په دې ځای کې بیا صراحتاً ذکر وکړ. که څوک ووایي: د ودي څخه اودس کول څنګه تصور کېدای شي، په داسې حال کې چې اودس لا مخکې د بولو په سبب فرض شوی؟

ځواب دا دی چې دا په هغه کس کې ممکن دی چې  سلسله بول لري (یعنې دوامداره بولې یې راځي). نو که هغه ودي وکړي، بیا به د ودي لپاره ځانګړی اودس کوي، دا په هغه کس کې هم تصور کېدای شي چې بولې وکړي او اودس وکړي، خو بیا وروسته ودي راوځي. په دې حالت کې به هغه بیا اودس کوي، خو دا ځل د ودي لپاره.

[1] - مذي او مني د اودس په نواقضو کې ځکه  ضمني ذکر  شوي دي چې د اودس نواقض په قاعده کې عموماً ذکر  شوي: "کل ما خرج من السبیلین".
مذي او ودي په دې قاعده کې ضمناً داخل دي، نه د نیت او قصد له مخې،خو بیا یې اصالتاً ذکر کړل، څو:د غسل د وجوب اشتباه ختمه شي،او د عمومي قاعدې لاندې یې خاص وضاحت وشي.

[الْأَغْسَالُ الْمَسْنُونَةُ]

( قَوْلُهُ : { وَسَنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغُسْلَ لِلْجُمُعَةِ وَالْعِيدَيْنِ وَالْإِحْرَامِ } ) سَوَاءٌ كَانَ إحْرَامَ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ وَكَذَا يَوْمُ عَرَفَةَ لِلْوُقُوفِ وَاخْتَلَفَ أَصْحَابُنَا هَلْ غُسْلُ الْجُمُعَةِ لِلصَّلَاةِ أَوْ لِلْيَوْمِ قَالَ أَبُو يُوسُفَ لِلصَّلَاةِ وَقَالَ الْحَسَنُ لِلْيَوْمِ وَفَائِدَتُهُ إذَا اغْتَسَلَ قَبْلَ طُلُوعِ الْفَجْرِ وَلَمْ يُحْدِثْ حَتَّى صَلَّى الْجُمُعَةَ يَكُونُ آتِيًا بِالسُّنَّةِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَعِنْدَ الْحَسَنِ لَا وَكَذَا إذَا اغْتَسَلَ بَعْدَ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ قَبْلَ الْغُرُوبِ يَكُونُ آتِيًا بِهَا عِنْدَ الْحَسَنِ خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ.

**سنت غسلونه:**

دا قول: (رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمعې، د دواړو اخترونو (عيد الفطر او عيد الأضحى) او د احرام لپاره غسل سنت گرځولی دی [1]):د احرام غسل که د حج لپاره وي که د عمرې لپاره، دواړه سنت دي، او همدارنگه د عرفې د ورځې لپاره غسل د عرفات په ميدان کې د درېدو لپاره سنت دی [2].

زموږ حنفي فقهاوو د جمعې د غسل په اړه اختلاف کړی دی چې آيا دا غسل د جمعې د لمانځه لپاره دی او که د جمعې د ورځې لپاره؟

امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې دا غسل د لمانځه لپاره دی،او امام حسن رحمه الله  وايي چې دا غسل د جمعې د ورځې لپاره دی. د دې اختلاف  نتيجه دا ده چې که څوک د سپېدو له راختو مخکې غسل وکړي او تر جمعې لمانځه پورې په اوداسه کې پاتې شي، نو د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد يې پر سنتو عمل کړی دی، خو د امام حسن رحمه الله په نزد يې په سنتو عمل نه دی کړی.

که څوک د جمعې له لمانځه وروسته د مازديگر تر لمر لوېدو مخکې غسل وکړي، نو د امام حسن رحمه الله په نزد يې په سنتو عمل کړی دی، خو د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد يې په سنتو عمل نه ده کړی.

---

[1] - دا متن په اصل کې د څو احاديثو مجموعه ده (عن عمر بن الخطاب - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عن النبي - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قال: «إذا جاء أحدكم إلى الجمعة فليغتسل») رواه الصحيحين. ( رواه البخاري ومسلم من «حديث يحيى بن سعيد أنه سأل عمرة عن الغسل يوم الجمعة فقالت سألت عائشة - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - فقالت: كان الناس في مهنة أنفسهم وكانوا إذا راحوا إلى الجمعة راحوا في هيئتهم فقيل لهم اغتسلوا»). ،( فروي عن الفاكه بن سعد أن رسول الله - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «كان يغتسل يوم الفطر ويوم الأضحى ويوم عرفة») وكان الفاكه بن سعد يأمر أهله بالغسل في هذه الأيام، رواه ابن ماجه ورواه الطبراني في "معجمه " والبزار في "مسنده "، وزاد فيه يوم الجمعة قال ولا يعرف للفاكه بن سعد غير هذا الحديث، وهو صحابي مشهور.( عن عبد الله بن يعقوب المدني، عن أبي الزناد عن خارجة بن زيد بن ثابت عن أبيه زيد بن ثابت أنه رأى النبي - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نحوه لإهلاله واغتسل، قال: حديث حسن غريب) رواه الترمذي. (البناية شرح الهداية ج ١ ص ٣٣٨.او ج ۴ ص ١٦٧).

[2] - (حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَعْقُوبَ الْمَدَنِيُّ، عَنِ ابْنِ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجَرَّدَ لِإِهْلَالِهِ وَاغْتَسَلَ). هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.( حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، وَزُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، كُلُّهُمْ عَنْ عَبْدَةَ، قَالَ زُهَيْرٌ: حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: نُفِسَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ بِمُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ بِالشَّجَرَةِ، فَأَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَا بَكْرٍ، «يَأْمُرُهَا أَنْ تَغْتَسِلَ وَتُهِلَّ»).نو دلته چې رسول الله صلى الله عليه وسلم نفاسه ښځې ته په غسل کولو سره امر وکړ نو نارينه په طريق اولى په کې شامليږي. (سنن ترمذي ج ٢ ص ١٨۴ رقم الحديث ٨٣٠). (صحيح مسلم ج ٢ ص ٨٦٩ رقم الحديث ١٢٠٩).

وَلَوْ اغْتَسَلَتْ الْمَرْأَةُ لَا تَنَالُ فَضِيلَةَ الْغُسْلِ لِلْجُمُعَةِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ ؛ لِأَنَّهُ لَا جُمُعَةَ عَلَيْهَا وَعِنْدَ الْحَسَنِ تَنَالُهَا وَالْغُسْلُ لِلْعِيدَيْنِ بِمَنْزِلَةِ الْغُسْلِ لِلْجُمُعَةِ وَاعْلَمْ أَنَّهُ يُقَالُ غُسْلُ الْجُمُعَةِ وَغُسْلُ الْجَنَابَةِ بِضَمِّ الْغَيْنِ وَغَسْلُ الْمَيِّتِ وَغَسْلُ الثَّوْبِ بِفَتْحِهَا وَضَابِطُهُ أَنَّك إذَا أَضَفْت إلَى الْمَغْسُولِ فَتَحْتَ وَإِذَا أَضَفْت إلَى غَيْرِهِ ضَمَمْتَ.

( قَوْلُهُ : وَالطَّهَارَةُ مِنْ الْأَحْدَاثِ إلَى آخِرِهِ ) طَهَارَةُ الْأَحْدَاثِ هِيَ الْوُضُوءُ وَالْغُسْلُ وَالْأَلِفُ وَاللَّامُ لِلْعَهْدِ أَيْ الْأَحْدَاثِ الَّتِي سَبَقَ ذِكْرُهَا مِنْ الْبَوْلِ وَالْغَائِطِ وَالْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ وَغَيْرِهِمَا

که ښځه غسل وکړي، نو د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد د جمعې د غسل فضیلت نه ترلاسه کوي؛ ځکه پر ښځه د جمعې لمونځ فرض نه دی. خو د امام حسن رحمه الله په نزد ښځه هم دغه فضیلت ترلاسه کوي.

د دواړو اخترونو د غسل په اړه اختلاف هم د جمعې د غسل په اړه د اختلاف په څېر دی [1]. خبر اوسه چې د جمعې د ورځې غسل "غُسْلُ الْجُمُعَةِ" او د جنابت غسل "غُسْلُ الْجَنَابَةِ" د غین په ضمه (پېښ) سره ویل کېږي، او د مړي غسل "غَسْلُ الْمَيِّتِ" او د جامو مینځل "غَسْلُ الثَّوْبِ" د غین په فتحه (زور) سره ویل کېږي. د دې قاعده دا ده چې که غسل د مینځل شوي شي ته مضاف ذکر شي، د غین په فتحه ویل کېږي، او که له بل شي ته مضاف ذکر شي، نو غین په ضمه ویل کېږي

## هغه اوبه چې په هغو سره پاکوالی(طهارت) حاصلیږي

دا قول: ( له ناپاکي څخه پاکوالي او داسې نور...)

د "طهارة الأحداث" مطلب اودس او غسل دي. په دې ځای کې الف او لام د عهد [2] لپاره راغلي، یعنې هغه ناپاکي چې مخکې ذکر شوي و، لکه بول، غایط، حیض، نفاس او نورې ورته ناپاکي.

[1] - د امام حسـن بن زیاد رحمه الله او امام ابو یوسـف رحمه الله ترمنځ دا ډول اختلاف د اخترونو د لمونځونو په اړه هم ده. (رد المحتار علی الدر المختار ج ۱ ص ۱۶۹).

[2] - (أل) په درې ډوله دي:۱- (أل) عَهْدي:دا هغه دي چې په دې سره اشاره کیږي حقیقت د شي ته په ضمن د فرد معین ته چې مخکې لفظا ذکر شوي وي او دا ذکر شوی بیا ځلې رامعاد شي لکه: {أَرْسَلْنا إلى فِرْعَوْنَ رَسُولاً. فَعَصَى فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ}،او یا دا چې دا معلوم وي چې مراد په (أل) سره معلوم شی ده اگر که په سیاق کې یې ذکر نوي شوي.لکه: {إِذْ هُما في الغارِ}، {إِذْ يُبايِعونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ}، {إِذْ ناداهُ رَبُّهُ بالوادِ المقدَسِ}.۲- او بل ډول (أل) جنسي دي د استغراق او د یوه شي د ټولو برخو د شاملو لپاره لکه (إنَّ الإنسانَ لَفي خُسْرٍ} في استغراقِ جِنْسِ الإنسانِ.۳- او بل ډول (أل) زائد دی چې په اسماء موصوله باندې داخلیږي لکه (الَّذي، الَّتي) او دا ورسره لازم دي او هم (أل) داخلیږي په ځینو نومونو لکه (الفَضْـل، الحارِث) چې (أل) ورسره غیر لازم دي او حذف کول(لیرې کول)یې هم جائز دي.نو دلته (أل) په احداث کې عهدي دي یعنې مخکې د احداثو انواع ذکر شـوي ول نو بیا چې د احداث کلمه راوړل شـوه نو (أل) عهدي یې پرې داخل کړل ترڅو هغه معین احداث رامعاد شي. (الجديع العنزي، عبد الله بن يوسف بن عيسى بن يعقوب اليعقوب الجديع العنزي، المنهاجُ المختَصر في عِلمي النَّحو وَالصَّرف(الناشر: مؤسَسَة الريَّان للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت –لبنان، الطبعة: الثالثة، ۱۴۲۸ هـ - ۲۰۰۷ م) ج ۱ ص ۶۲).

( قَوْلُهُ جَائِزَةٌ بِمَاءِ السَّمَاءِ ) وَلَمْ يَقُلْ وَاجِبَةٌ ؛ لِأَنَّ معناه إذَا اجْتَمَعَتْ هَذِهِ الْمِيَاهُ أَوْ انْفَرَدَ أَحَدُهُمَا وَلَمْ يَتَضَيَّقْ الْوَقْتُ وَإِلَّا فَهِيَ وَاجِبَةٌ وَقَوْلُهُ مِنْ الْأَحْدَاثِ لَيْسَ هُوَ عَلَى التَّخْصِيصِ ؛ لِأَنَّهُ لَمَّا كَانَ مُزِيلًا لِلْأَحْدَاثِ كَانَ مُزِيلًا لِلْأَنْجَاسِ بِالطَّرِيقِ الْأَوْلَى .

( قَوْلُهُ : وَمَاءُ الْبِحَارِ ) إنَّمَا قَالَ وَمَاءُ الْبِحَارِ وَلَمْ يَقُلْ وَالْبِحَارُ رَدًّا لِقَوْلِ مَنْ يَقُولُ إنَّهُ لَيْسَ بِمَاءٍ حَتَّى حَكَى جَابِرٌ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ قَالَ التَّيَمُّمُ أَحَبُّ إلَيَّ مِنْهُ [1].

دا قول: (جائزة بماء السماء) : دلته "جائزة" راغلې ده او نه "واجبة"، ځکه چې مطلب یې دا دی: که دا ټولې اوبه (د باران او نورې طبیعي اوبه) موجودې وي، یا له دې څخه یو ډول اوبه شتون ولري ، او د لمانځه وخت ډېر تنګ نه وي ، نو اودس کول جایز دي؛ خو که وخت تنګ شي، نو بیا اودس کول واجب ګرځي.

او د عبارت په دې برخه کې چې وایي: "من الأحداث"، دا دا د تخصیص لپاره نه دی، ځکه چې کله دا اوبه د ناپاکیو (احداث) د له منځه وړلو لپاره کارول کېدلی شي، نو د نجاستونو د پاکولو لپاره هم په طریق اولی سره کارېدلی شي[2].

دا قول: (د سیندونو اوبه): اصطلاح کارول شوی ترڅو د هغو خلکو د وینا مخالفت وشي چې وایي د بحرونو اوبه اصلا اوبه نه دي . آن تر دې چې جابر [3] د ابن عمر رضي الله عنه روایت کړی چې هغه ویل: د بحر پر اوبو باندې له اوداسه نه ماته تیمم غوره ښکاري.

[1] - **تخریج د حدیث:** حدثنا أبو بكر قال حدثنا وكيع عن شعبة عن قتادة عن عقبة بن صهبان قال سمعت بن عمر يقول التيمم أحب إلى من الوضوء من ماء البحر . (أبو بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة الكوفي، المصنف في الأحاديث والآثار(الناشر : مكتبة الرشد –الرياض، الطبعة الأولى ، ١٤٠٩) ج ١ ص ١٢٢).

[2] - دې ته خیني اصولین دلالة الدلالة وایي ځکه چې په دلالة الدلالة کې حکم د معنی د نص څخه اخیستل کیږي نه د لفظ د نص څخه او دې ته ځینې نور اصولین فحوی الخطاب وایي او ساداث د امام شافعي رحمه الله مفهوم موافقه ورته وایي.نو دلته چې په نوموړو اوبو باندې احداث لرې کیداې شي نو نجاستونه خو طریق اولی سره ورباندې لرې کیږي. ( محمد إبراهيم الحفناوي، دراسات أصولية في القرآن الكريم (الناشر: مكتبة ومطبعة الإشعاع الفنية – القاهرة، عام النشر: ١٤٢٢ هـ - ٢٠٠٢ م) ج ١ ص ٢٩٠ ).

[3] - نوم یې حضرت جابر بن عبدالله بن عمرو بن حرام السلمي ده،لوی امام،مجتهد،حافظ، د رسول الله صلی الله صحابي څخه او د هغو صحابه کرامو څخه و چې په بیعة الرضوان کې یې بیعت کړی و. ډېر علم یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه او له حضرت ابوبکر ،حضرت عمر ،حضرت علي،حضرت ابو عبیده بن جراح،حضرت معاذ بن جبل،حضرت زبیر او نورو صحابه رضي الله عنهم څخه روایت کړی،په خپل وخت کې یې د مدینې منورې له مفتیانو څخه و ،او مُسْنَد د احادیثو یې (١٥٤٠) احادیثو ته رسیږي.په شپاړسو غزواتو کې یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ګډون کړی دی، شاوخوا (١۶)کاله له بعثت نه مخکې زیږېدلی او د وفات کیدو په تاریخ کې یې اختلاف ده: څوک یې (٧٨هـ) کال کې او څوک یې (٧٧هـ)کال بولي.(سیر أعلام النبلاء ج ٥ ص ١٨٥-١٨٩).

( قَوْلُهُ : وَلَا يَجُوزُ بِمَا اُعْتُصِرَ مِنْ الشَّجَرَةِ وَالثَّمَرِ ) بِالْقَصْرِ عَلَى أَنَّ مَا بِمَعْنَى الَّذِي ، وَإِنْ كَانَ يَصِحُّ بِمَعْنَى الْمُمَدَّدِ ؛ لِأَنَّ الْمَنْقُولَ هُوَ الْمَوْصُولُ. وَإِنَّمَا قَيَّدَ بِالِاعْتِصَارِ ؛ لِأَنَّهُ لَوْ سَالَ بِنَفْسِهِ جَازَ الْوُضُوءُ بِهِ إلَّا أَنَّ الْحَلْوَانِيَّ اخْتَارَ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ ؛ لِأَنَّهُ يُطْلَقُ عَلَيْهِ مَاءُ الشَّجَرِ.

( قَوْلُهُ : وَلَا بِمَاءٍ غَلَبَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ ) اخْتَلَفُوا فِيهِ هَلْ الْغَلَبَةُ بِالْأَجْزَاءِ أَوْ بِالْأَوْصَافِ فَفِي الْهِدَايَةِ بِالْأَجْزَاءِ وَهُوَ الصَّحِيحُ ،وَفِي الْفَتَاوَى الظَّهِيرِيَّةِ مُحَمَّدٌ اعْتَبَرَ اللَّوْنَ وَأَبُو يُوسُفَ اعْتَبَرَ الْأَجْزَاءَ وَأَشَارَ الشَّيْخُ إلَى أَنَّ الْمُعْتَبَرَ بِالْأَوْصَافِ ، وَالْأَصَحُّ أَنَّ الْمُعْتَبَرَ بِالْأَجْزَاءِ وَهُوَ أَنَّ الْمُخَالِطَ إذَا كَانَ مَائِعًا فَمَا دُونَ النِّصْفِ جَائِزٌ فَإِنْ كَانَ النِّصْفَ أَوْ أَكْثَرَ لَا يَجُوزُ

دا قول: (اودس په هغه څه جايز نه دی چې له ونې يا مېوې څخه زبېښــل شــوي وي): دلته د (ما) په (بما اعتصر) کې په الف مقصوره باندې لوستل شوی چې اسم موصول دی او د «الذي» په معنی دی، سره له دې چې په الف ممدوده سره (بماء) ويل هم جواز لري، خو موږ په الف مقصـوره سره ځکه راجح وباله چې دا همداسـې نقل شوی دی، دلته يې د ونې اوبه په «اعتصار» (زبېښلو) مقيدې کړې (او وه يې ويل چې په زبېښل شوو اوبو اودس جايز نه دی) ځکه که د ونې اوبه پخپله (له زبېښــلو پرته) له ونې راوبهېږي نو اودس پرې جايز دی. خو حلواني [1]په دې نظر دی چې دا ډول اوبو باندې اودس جايز نه دی؛ ځکه دې ته د ونې اوبه ويل کېږي، (نو د مطلقو اوبو حکم نه لري).

دا قول: (او نه په داسې اوبو باندې چې بل شی پرې غالب وي): په دې مسئله کې اختلاف شته چې دا غلبه د اجزاوو له پلوه ده او که د اوصافو له پلوه؟ په هدايه کې غلبه د اجزاوو له پلوه معتبره ګڼل شوی، او همدا صحيح قول دی [2].

په فتاوی ظهيريه[3] کې راغلي چې امام محمد رحمه الله (په دې قضيه کې) رنګ ته اعتبار ورکړی دی، او امام ابو يوسف رحمه الله اجزاوو ته اعتبار ورکړی دی، او شيخ قدوري رحمه الله دې ته اشاره کړې چې په غلبه کې اعتبار اوصافو ته دی.

او تر ټولو صحيح نظر دا دی چې په غلبه کې اعتبار اجزاوو ته دی ، يعنې که ګډ شوی شی مايع وي، او د اوبو په مقابل کې يې مقدار له نيم نه کم وي نو روا دی، او که له نيم نه زيات وي نو ناروا دی.

---

[1] - اصـلي نوم يې عبدالعزيز د پلار نوم يې احمد د نيکه نوم يې نصرــ ،د حنفي مذهب لوی شـيخ،علامه او شـمس الأئمة الاکبر په صـفاتو باندې يې شهرت درلود، فقه يې د قاضي ابي علي حسين بن خضر نسفي څخه زده کړه، د جامع صغير او جامع کبير او نورو کتابونو باندې يې شرحې وليکلې،او نور کتابونه يې المبسوط فی الفقه، النوادر فی الفروع،الفتاوی او شرح أدب القاضی لأبی يو سف، دده په شاګردانو کې شمس الأئمة محمد بن ابي سهل سرخسي، فخر الاسلام بزدوي او نور دي،او په (۴۵۶ه) کال کې په بخارا کې وفات شوی ده. (سير اعلام النبلاء د امام ذهبي ج ۳۵ ص ۱۶۰).

[2] - (قاضي خان، الامام الحسن بن منصور الأوزجندي (۵۹۲هـ) فتاوی قاضي خان،مطبوع في حاشية الفتاوی الهندية (الناشر: دار احياء التراث العربي – بيروت، ط: ۱۳۱۱هـ) ج ۱ ص ۱۷).

[3] - د الْفَتَاوَى الظَّهِيرِيَّةِ کتاب مؤلف ظهير الدين،ابو بکر:محمد د پلار نوم يې احمد و،په (۶۱۹ه)کال کې وفات شــوی ده،په دې کتاب کې يې ډېر ضروري نوازل او واقعات جمع کړي او بدون له دې څخه نور ډېر نور فوائد هم په کې شته دي. (کشف الظنون عن أسامي الکتب والفنون ج ۲ ص ۱۲۲۶).

وَمُحَمَّدٌ اعْتَبَرَ الْأَوْصَافَ إنْ غَيَّرَ الثَّلَاثَةَ لَا يَجُوزُ ، وَإِنْ غَيَّرَ وَاحِدًا جَازَ وَإِنْ غَيَّرَ اثْنَيْنِ فَكَذَا لَا يَجُوزُ وَالصَّحِيحُ التَّوْفِيقُ بَيْنَهُمَا إنْ كَانَ مَائِعًا جِنْسُهُ جِنْسُ الْمَاءِ كَمَا الدُّبَّاءِ فَالْعِبْرَةُ لِلْأَجْزَاءِ كَمَا قَالَ أَبُو يُوسُفَ ، وَإِنْ كَانَ جِنْسُهُ غَيْرَ جِنْسِ الْمَاءِ كَاللَّبَنِ فَالْعِبْرَةُ لِلْأَوْصَافِ كَمَا قَالَ مُحَمَّدٌ، وَالشَّيْخُ اخْتَارَ قَوْلَ مُحَمَّدٍ حَيْثُ قَالَ فَغَيَّرَ أَحَدَ أَوْصَافِهِ .

( قَوْلُهُ : فَأَخْرَجَهُ عَنْ طَبْعِ الْمَاءِ ) وَطَبْعُهُ الرِّقَّةُ وَالسَّيَلَانُ وَتَسْكِينُ الْعَطَشِ

( قَوْلُهُ : كَالْأَشْرِبَةِ ) أَيْ الْمُتَّخَذَةِ مِنْ الثِّمَارِ كَشَرَابِ الرُّمَّانِ

او امام محمد رحمه الله په غلبه کې اوصافو ته اعتبار ورکړی، که (د کوم شي ګډېدلو د اوبو) درې واړه اوصاف (رنګ، بوی، خوند) بدل کړل ،نو بیا طهارت پرې جواز نه لري. خو که یو وصف یې بدل شي، جواز لري. که دوه اوصاف یې بدل شي، بیا هم په راجح او صحیح قول جواز نه لري.

او د دې دواړو قولونو ترمنځ توفیق داسې کېدلی شي چې که (په اوبو کې ګډ شوی شی) مایع وي او د اوبو له جنس څخه وي، لکه دباء اوبه ( له کدو څخه زبېښل شوی اوبه)، نو په دې حالت کې په غلبه کې اعتبار اجزاو ته دی له امام ابو یوسف چې وایي. او که ګډ شوی مایع د اوبو له جنس څخه نه وي، لکه شیدې، نو په غلبه کې اعتبار اوصافو ته دی، لکه څنګه چې امام محمد رحمه الله وایي.

امام قدوري رحمه الله د امام محمد رحمه الله قول غوره ګڼلی څکه چې وایي: که یو وصف بدل شي (جواز لري)[1].

دا قول:(چې کوم شی ورسره ګډ شي او اوبه له خپل اصلي طبیعت څخه خارج کړي): او د هغه (اوبو) طبیعت نری والی (د ټینګوالي په مقابل کې) ، بهېدل، او د تندې آرامول دي.

دا قول: (لکه شربتونه): یعنې هغه شربتونه چې له مېوو څخه جوړ شوي وي، لکه د انارو شربت.

[1] - دلته د امام محمد رحمه الله قول څکه په ترجیح دلالت کوي څکه مختصر القدوري له متون معتبره څخه ده او په متون معتبره کې نقل د مذهب د ظاهر الروایة اقوالو کیږي.( ابن عابدين شامي، السيد محمد امين الشهير بابن عابدين شامي، شرح المنظومة المسماة بعقود رسم المفتي(الناشر:مطبعة المعارف بولاية سورية، سنة النشر ۱۰۳۱هـ) ج ۱ ص ۳۸ ).

ثُمَّ إنَّ الشَّيْخَ رَاعَى فِي هَذَا صُنْعَهُ اللَّفَّ وَالنَّشْرَ ، فَقَوْلُهُ أُعْتُصِرَ مِنْ الشَّجَرِ لَفٌّ وَكَذَا بِمَاءٍ غَلَبَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ لَفٌّ أَيْضًا ، وَقَوْلُهُ كَالْأَشْرِبَةِ تَفْسِيرٌ لِمَا أُعْتُصِرَ مِنْ الشَّجَرِ وَالثَّمَرِ ، وَقَوْلُهُ كَالْخَلِّ إنْ كَانَ الْمَخْلُوطُ بِالْمَاءِ فَهُوَ مِمَّا غَلَبَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ إنْ كَانَ خَالِصًا فَهُوَ مِمَّا أُعْتُصِرَ مِنْ الثَّمَرِ وَقَوْلُهُ وَالْمَرَقُ تَفْسِيرٌ لِمَا غَلَبَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ وَنَظِيرُ هَذَا قَوْله تَعَالَى { وَمِنْ رَحْمَتِهِ جَعَلَ لَكُمْ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ } ، فَقَوْلُهُ { لِتَسْكُنُوا فِيهِ } ، رَاجِعٌ إلَى اللَّيْلِ { وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ } رَاجِعٌ إلَى النَّهَارِ.

بیا امام قدوري رحمه الله په دې کې د لف او نشر قاعده [1] مراعات کړه. نو د ده قول "له ونو څخه زبېښل شوی" لف دی، او همدا ډول "په هغو اوبو چې نور څه پرې غالب وي" هم لف دی. او د ده قول "لکه شربتونه" د «ما اعتصر من الشجر والثمر» تفسير دی.

او د ده قول "لکه سرکه" که د اوبو سره ګډه وي، نو حکم يې د هغو اوبو دی چې نور شيان پرې غالب وي، او که خالصه وي، نو حکم يې د هغو اوبو دی چې له مېوو څخه ربېښل شوي وي. او د ده قول "او شوروا" د هغه څه تفسير دی چې نور څه پرې غالب وي.[2]

د دې لف او نشر د قاعدې مثال د الله تعالی دا قول دی چې فرمايي:[3] ژباړه: "او د خپل رحمت له مخې يې تاسو ته شپه او ورځ پيدا کړل، ترڅو په هغې کې آرام وکړئ او د هغه له فضل څخه ولټوئ."

نو د الله تعالی قول "لِتَسْكُنُوا فِيهِ" شپې ته راجع دی، او د الله تعالی دا قول "لِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ" ورځې ته راجع دی.

[1] - لف ونشـــــر دې ته وايي چې اول دوه يا زيات شـيان ذکر شي او وروسـته بيا د هر يوه تفصـيل ذکر شي.لف ونشر په دوه ډوله ده:١- لف ونشر مرتب:چې اول دوه يا زيات شـيان ذکر شي او بيا يې په ترتيب سره د هر يوه تفصـيل راوړل شي لکه دا قول د الله تعالی "وَمِنْ رَحْمَتِهِ جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ" (سورة القصص، آيت: ٧٣). ٢- لف ونشر غير مرتب:چې اول دوه يا زيات شيان ذکر شي او بيا د هره يوه تفصيل غير مرتب راوړل شي او ترتيب په کې مراعت نشـي لکه دغه قول د شاعر: يحيى ويردى بجدواه وصارمه ... يحيى العفاة ويردى كلّ من حسدا. او دلته امام قدوري رحمه الله لف ونشر مرتب کارولی ده. (شـهاب الدين النويري، أحمد بن عبد الوهاب بن محمد بن عبد الدائم القرشي التيمي البكري، شـهاب الدين النويري، نهاية الأرب في فنون الأدب(الناشر: دار الكتب والوثائق القومية، الطبعة: الأولى، ١٤٢٣ هـ القاهرة) ج ٧ ص ١٢٩).

[2] - دلته وَلَا يَجُوزُ بِمَا أُعْتُصِرَ مِنْ الشَّجَرَةِ وَالثَّمَرِ لف ده او وَلَا بِمَاءٍ غَلَبَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ هم لف ده او د أُعْتُصِرَ مِنْ الشَّجَرَةِ تفسير شربتونه دي لکه د انارو شربت د حماض شربت او په أُعْتُصِرَ مِنْ الشَّجَرَةِ وَالثَّمَر تفسير خالصه سرکه ده،او د وَلَا بِمَاءٍ غَلَبَ عَلَيْهِ غَيْرُهُ تفسير د لوبيا او شوروا اوبه دي او همدارنګه خواږه شربتونه لکه د خرما شربت،شهد چې کله له اوبو سره ګډ شي او هغه سرکه چې اوبه ورسره ګډ شوي وي دا ټول مثالونه د هغو شيانو دي چې په مطلقو اوبو باندې نور شيان غالب شوي وي. (العناية شرح الهداية ج ١ ص ٦٩).

[3] - قرآن کريم، سورة القصص، آيت ٧٣.

( قَوْلُهُ : وَمَاءُ الْبَاقِلاَءِ ) الْمُرَادُ الْمَطْبُوخُ بِحَيْثُ إذَا بَرَدَ ثَخُنَ ، وَإِنْ لَمْ يُطْبَخْ فَهُوَ مِنْ قَبِيلِ: وَتَجُوزُ الطَّهَارَةُ بِمَاءٍ خَالَطَهُ شَيْءٌ طَاهِرٌ ، وَالْبَاقِلاَءُ هُوَ الْفُولُ إذَا شَدَّدْت اللاَّمَ قَصَرْت وَإِذَا خَفَّفْتهَا مَدَدْتَ الْوَاحِدَةُ بَاقِلاَّةٌ وَبَاقِلاَةٌ بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ

( قَوْلُهُ : وَمَاءُ الزَّرْدَجِ ) ذَكَرَهُ مِنْ قَسِيمِ الْمَرَقِ وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ قِسْمٌ مِنْهُ وَمَاءُ الذَّرْدَجِ هُوَ مَاءُ الْعُصْفُرِ الْمَنْقُوعِ فَيُطْرَحُ وَلَا يُصْبَغُ بِهِ.

( قَوْلُهُ : وَتَجُوزُ الطَّهَارَةُ بِمَاءٍ خَالَطَهُ شَيْءٌ طَاهِرٌ فَغَيَّرَ أَحَدَ أَوْصَافِهِ ) الْأَوْصَافُ ثَلَاثَةٌ الطَّعْمُ وَاللَّوْنُ وَالرَّائِحَةُ فَإِنْ غَيَّرَ وَصْفَيْنِ فَعَلَى إشَارَةِ الشَّيْخِ لَا يَجُوزُ الْوُضُوءُ بِهِ لَكِنَّ الصَّحِيحَ أَنَّهُ يَجُوزُ، كَذَا فِي الْمُسْتَصْفَى.

دا قول: (د باقلاء[1] اوبه): له دې څخه د هغه باقلاء اوبه مراد دي چې پاخه شوې وي، داسې چې کله (دا اوبه) یخې شي نو ټینګې (غلیظې) شي. او که د هغه باقلاء اوبه وي چې نه وي پاخه شوي، نو دا د هغو شیانو له جملې څخه شمېرل کېږي چې په اړه یې ویل شوی دي: پر هغو اوبو طهارت کول جواز لري چې پاک شی ورسره ګډ شوی وي.

الباقلاء فول (لوبیا) ته ویل کېږي. د «باقلا» لفظ که د لام په شد یې تلفظ کړئ نو په آخر کې به یې الف مقصوره وي، او که د لام په تخفیف یې تلفظ کړئ نو په آخر کې به یې الف ممدوده وي ، الباقلاء والباقلا د جمعې صیغه ده، او مفرد یې (باقلاة) دی چې د لام په تشدید او تخفیف دواړو سره تلفظ کېږي.

دا قول: (او د زعفرانو اوبه): دا یې د ښوروا (مرق) د قسیم[2] په توګه ذکر کړی دی،، خو حقیقت دا دی چې د زعفراني بوټو اوبه د هغو اوبو له جملې څخه دي چې په اړه یې ویل کیږي: په هغو اوبو طهارت روا دی چې پاک شی ورسره ګډ شوی وي او ماء الردج د زعفراني هغو بوټو اوبو ته ویل کیږي چې یو ځل په اوبو کې خیشته شوي وي، او بیا د غورځولو وي، او څوک پرې کالي نه رنګوي.

دا قول:( که چېرته له اوبو سره یو پاک شی ګډ شي او د اوبو یو خاصیت بدل کړي نو طهارت کول پرې جواز لري): د ابو ځانګړتیاوې درې دي: خوند، رنګ، او بوی. که چېرې دوه اوصاف بدل شي، د امام قدوري رحمه الله د اشارې سره سم، پر دې اوبو اودس جواز نه لري. مګر صحیح خبره دا ده چې دا اوبه د اودس لپاره کارول کېدای شي، لکه څنګه چې په "المستصفی[3] کې راغلي دي.

[1] - الباقلاء(لوبیا) یو کلنی نبات ده چې ددې دانې پخې شوې خوړل کیږي او بل نوم یې فُول ده. (المعجم الوسیط، ج ۱ ص ٦٦).

[2] - القَسِیم، القِسْم او المِقْسَم د انسان هغه برخې،سهم او نصیب ته ویل کېږي چې له کوم شي څخه ورته ټاکل کېږي. لکه چې ویل کېږي: ما یو شی د شریکانو ترمنځ ووېشه او هر شریک ته مې د هغه خپله ټاکلې برخه، سهم او نصیب ورکړ. (لسان العرب ج ۱۲ ص ٤٧٨).

[3] - د المستصفی(شرح منظومة النسفي في الخلاف) کتاب مؤلف ابو البرکات حافظ الدین عبدالله بن احمد نسفي ده چې نوموړی رحمه الله په (۷۱۰هـ) کال کې وفات شوی ده. (کشف الظنون عن أسامي الکتب والفنون ج ۲ ص ۱۸٦۷).

فَإِنْ تَغَيَّرَتْ أَوْصَافُهُ الثَّلَاثَةُ بِوُقُوعِ أَوْرَاقِ الْأَشْجَارِ فِيهِ فِي وَقْتِ الْخَرِيفِ يَجُوزُ الْوُضُوءُ بِهِ عِنْدَ عَامَّةِ أَصْحَابِنَا.

وَقَالَ الْمَيْدَانِيُّ يَجُوزُ شُرْبُهُ ؛ لِأَنَّهُ طَاهِرٌ وَلَا يَجُوزُ الْوُضُوءُ بِهِ ؛ لِأَنَّهُ لَمَّا صَارَ مَغْلُوبًا كَانَ مُقَيَّدًا

( قَوْلُهُ : كَمَاءِ الْمَدِّ ) هُوَ السَّيْلُ وَإِنَّمَا خَصَّهُ بِالذِّكْرِ ؛ لِأَنَّهُ يَأْتِي بِغُثَاءٍ وَأَشْجَارٍ وَأَوْرَاقٍ وَلَوْ تَغَيَّرَ الْمَاءُ بِطُولِ الزَّمَانِ أَوْ بِالطُّحْلُبِ كَانَ حُكْمُهُ حُكْمَ الْمَاءِ الْمُطْلَقِ.

( قَوْلُهُ : وَالْمَاءُ الَّذِي يَخْتَلِطُ بِهِ الْأُشْنَانُ وَالصَّابُونُ وَالزَّعْفَرَانُ ) لِأَنَّ اسْمَ الْمَاءِ بَاقٍ فِيهِ عَلَى الْإِطْلَاقِ وَاخْتِلَاطُ الْقَلِيلِ مِنْ هَذِهِ الْأَشْيَاءِ لَا يُمْكِنُ الِاحْتِرَازُ عَنْهُ وَكَذَا إذَا اخْتَلَطَ الزَّاجُ بِالْمَاءِ حَتَّى اسْوَدَّ فَهُوَ عَلَى هَذَا.

( قَوْلُهُ : وَكُلُّ مَاءٍ وَقَعَتْ فِيهِ نَجَاسَةٌ لَمْ يَجُزْ الْوُضُوءُ بِهِ ) وَكَذَا إذَا غَلَبَ عَلَى ظَنِّهِ ذَلِكَ وَأَرَادَ بِهِ غَيْرَ الْجَارِي أَوْ مَا هُوَ فِي معنيهُ كَالْغَدِيرِ الْعَظِيمِ.

كه د مني (خزان) په موسم كې په اوبو كې د ونو د پاڼو د لوېدو له امله يې درې واړه اوصاف بدل شي، زموږ د عامو علماوو په نزد، په داسې اوبو اودس كول جواز لري.

ميداني[1] ويلي دي: د داسې اوبو څښل خو جايز دي ځكه چې پاكې دي، مگر د اودس لپاره كارول يې جواز نه لري، ځكه چې كله اوبه مغلوبې شي، نو هغه مقيد كېږي.

دا قول: (لكه د مد اوبه): چې مد سيلاب ته ويل كېږي. هغه يې ځكه يادې كړي چې دا اوبه له خاورو، ونو، او پاڼو سره راځي (دا پاک شيان ورسره گډ وي).

كه د اوږدې مودې لپاره د اوبو د ولاړو پاتې كېدو له امله او يا هم د اوبو پر سر د شينكي د را ښرگندېدو له امله بدلون ومومي نو نو حكم يې د مطلقو اوبو دى.

دا قول: (په هغه اوبو چې زمى (يو ډول بوټی چې پخوا به د جامو او ځان د پاكولو لپاره استماليده)، صابون، او زعفران ورسره گډ شي طهارت جايز دى): ځكه د مطلقو اوبو نوم پرې پاتې كېږي، او له دې امله چې د اوبو سره د دې شيانو د لږ مقدار د گډېدلو څخه ډډه كول ناممكن دي. همدارنگه، كه زاج (يو ډول مالگه ده چې د جامو په رنگولو كې استفاده كېږي) د اوبو سره گډ شي تر دې چې اوبه تورې شي، نو همدا حكم پرې تطبيقېږي.

«"او هغه اوبه چې ناپاكي په كې وغورځيږي، اودس كول پرې جواز نه لري"»: همدا راز په هغو اوبو هم طهارت جايز نه دى چې په زموږ په غالب گومان په كې ناپاكي پرېوتي وي.

[1] -نوم يې حسين د پلار نوم يې حفص په الميداني الأصبهاني سره شهرت لري د امام ابو يو سف رحمه الله شاگرد و ،نوموړی د هغو كسانو څخه ده چې حنفي فقه يې أصبهان ته نقل كړه او هلته يې ورباندې فتوې وركولې. (تاج التراجم ج ١ص ١٥٨).

( قَوْلُهُ : قَلِيلاً كَانَ الْمَاءُ أَوْ كَثِيراً ) أَيْ قَلِيلاً كَالْآبَارِ وَالْأَوَانِي أَوْ كَثِيراً كَالْغَدِيرِ فَيَنْجُسُ مَوْضِعُ الْوُقُوعِ ، وَإِنْ كَانَ كَثِيراً.

( قَوْلُهُ : لِأَنَّ { النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِحِفْظِ الْمَاءِ مِنْ النَّجَاسَةِ فَقَالَ لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ } ) أَيْ الرَّاكِدِ ( { وَلَا يَغْتَسِلَنَّ فِيهِ مِنْ الْجَنَابَةِ } ) إنَّمَا قَالَ أَمَرَ وَهُوَ نَهْيٌ ؛ لِأَنَّ النَّهْيَ عَنْ الشَّيْءِ أَمْرٌ بِضِدِّهِ عِنْدَ عَامَّةِ الْمَشَايِخِ وَيُسْتَدَلُّ بِهَذَا الْحَدِيثِ لِمَنْ يَقُولُ بِنَجَاسَةِ الْمَاءِ الْمُسْتَعْمَلِ ؛ لِأَنَّهُ قَرَنَ الْمُسْتَعْمَلَ بِالْبَوْلِ فَدَلَّ عَلَى أَنَّ الِاغْتِسَالَ فِيهِ كَالْبَوْلِ فِيهِ فَيُجَابُ عَنْهُ أَنَّ صَاحِبَ الْجَنَابَةِ لَا يَخْلُو بَدَنُهُ عَنْ نَجَاسَةِ الْمَنِيِّ عَادَةً وَالْعَادَةُ كَالْمُتَيَقَّنِ.

دا قول: ( كه اوبه كمې وي او كه زياتې وي): يعنې:كه لږ وي لكه د څاګانو او لوښو اوبه،يا ډېرې وي لكه د غدير(حوض) اوبه، نو د نجاست د لوېدلو ځای به نجس كيږي،خو كه ډېرې وي نو حكم به يې بل ډول وي. دلته يې د «كل ماء» څخه هدف غير جاري اوبه دي او هغه اوبه چې د دې په حكم كې وي لكه لوی حوض.

او د «قدوري» دا عبارت چې وايي: «قليلا كان الماء او كثيرا» اوبه كمې لكه په څاه كې اوبه يا په كوم لوښي كې چې اوبه وي (دا لږو اوبو مثال دی) او يا ډېرې وي لكه لوی حوض: نو په دې حالت كې يوازې د ناپاكۍ د پرېوتو ځای ناپاكه كيږي. او كه اوبه لږې وي لكه د كڅوړو او لوښيو او يا ډكې وي لكه د حوض، نو هغه ځای چې ناپاكي پرې لوېدلې وي ناپاكه كيږي. او كه چېرته اوبه ډېرې وي، نو د نبی صلی الله عليه وسلم دغه حديث ته اشاره ده چې فرمايي: "هيڅ يو له تاسو بايد په روانو اوبو كې بولې ونه كړي او نبايد په كې د جنابت غسل وكړی." [1].

قدوري د «امر» لفظ راوړی (يعني ويلي يې دي: أَمَرَ رسول الله)، حال دا چې په اصل كې دا «نهي» (منع كول) دی؛ ځكه د ډېرو مشايخو په اند له كوم شي نه منع كول، د هغه د ضد د كولو امر ګڼل كيږي. [2]

له دې حديث څخه د هغو كسانو د مذهب لپاره استدلال كيږي چې وايي: «كارېدلې اوبه ناپاكې دي»؛ ځكه په دې حديث كې د «كارېدلو اوبو» ذكر د بول سره يو ځای شوی، نو ګويا د جنابت د غسل په ذريعه اوبه مستملې كول داسې دي لكه په اوبو كې ادرار كول (يعني دواړه اوبه ناپاكوي). خو د دې ځواب داسې وركول كيږي چې د جنابت لرونكی كس جسم عادتاً له نجسې منې څخه پاک نه وي، او كوم شی چې عادتا موجود وي د هغه حكم د متيقن دی[3].

---

[1] - (مرجع سابق ج ١ ص ٤٠ رقم الحديث ٧٠).

[2] - په حديث شريف كې راغلي جمله د امر په صيغه نه ده، بلكې د نهي په صيغه ده؛ ځكه دا د (لا تفعل) په ډول بيان شوې چې د منع معنى لري او اصولين وايي: له يو شي څخه نهي د هغه د خلاف د كولو دلالتي امر وي، كه چيرې هغه كار يو ځانګړی مخالف (يو واحد ضد) ونه لري. (الجصاص، أحمد بن علي أبو بكر الرازي الجصاص الحنفي (المتوفى: ٣٧٠هـ)، الفصول فى الأصول(الناشر: وزارة الأوقاف الكويتية، الطبعة: الثانية، ١٤١٤هـ - ١٩٩٤م) ج ٢ ص ١٦٣).

[3] - هغه كس چې په جنابت كې وي، عموماً بدن يې له ناپاكې مني خالي نه وي، نو كله چې غسل كوي، دا ناپاكه منی له بدن سره يو ځای په اوبو كې ګډيږي، نو ناپاكي د اوبو استعمال له امله نه ده، بلكې د منی د موجوديت له امله ده. (الثَّابِتُ عَادَةً كَالْمُتَيَقَّنِ بِهِ) (ابن الهمام، كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام (المتوفى: ٨٦١هـ)، فتح القدير(الناشر: دار الفكر) ج ١ ص ٤٧).

( قَوْلُهُ : وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ { إذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَلَا يَغْمِسَنَّ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ } ) يَعْنِي فِي مَكَان طَاهِرٍ أَوْ نَجِسٍ.

( قَوْلُهُ : وَأَمَّا الْمَاءُ الْجَارِي إذَا وَقَعَتْ فِيهِ نَجَاسَةٌ جَازَ الْوُضُوءُ بِهِ ) حَدُّ الْجَارِي مَا لَا يَتَكَرَّرُ اسْتِعْمَالُهُ ، وَقِيلَ مَا يَذْهَبُ بِتِبْنَةٍ وَلَوْ جَلَسَ النَّاسُ صُفُوفًا عَلَى شَطِّ نَهْرٍ وَتَوَضَّئُوا مِنْهُ جَازَ وَهُوَ الصَّحِيحُ.

دا قول( او د نبی صلی الله علیه وسلم دا حدیث هم دی چې وایي: "کله چې یو له تاسو څخه بیدار شي، نو خپلې لاسونه په لوښي کې مه غرقوئ تر څو یې درې ځله وینځلي نوي، ځکه چې نه پوهېږي لاس یې چیرته اېښودلی دی" ).[1] یعنې په پاک ځای کې و او که په ناپاک ځای کې.

دا قول: (او هغه اوبه چې روانې وي، که پکې ناپاکي ولویږي، بیا هم اودس کول پرې جائز ده): د روانو (بهېدونکي) اوبو حد دا دی چې هغه اوبه چې بیا بیا نه استعمالیږي[2]،او دا هم ویل شوي چې هغه اوبه دي چې یوه سپکه پاڼه یا خاشه له ځانه سره یوسي.

که خلک د سیند پر غاړه په قطار کې کښېني او له دې اوبو څخه اودس وکړي، نو دا روا دی، او دا نظر صحیح دی.[3].

[1] - د حدیث تخریج: ؏نْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "إذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَلَا يَغْمِسَنَّ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ" . قُلْت: أَخْرَجَهُ الْأَئِمَّةُ السِّتَّةُ فِي كُتُبِهِمْ، فَرَوَاهُ الْبُخَارِيّ مِنْ طَرِيقِ مَالِكٍ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ مَاءً، ثُمَّ لِيَنْتَثِرْ، وَمَنْ اسْتَجْمَرَ، فَلْيُوتِرْ، وَإِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ، فَلْيَغْسِلْ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهَا فِي الْإِنَاءِ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ" ، انْتَهَى. وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ" ، انْتَهَى. وَرَوَاهُ أَيْضًا مِنْ حَدِيثِ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مَرْفُوعًا: "إذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنْ اللَّيْلِ فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ" ، انْتَهَى. وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ فِي سُنَنِه٧ مِنْ حَدِيثِ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ مَرْفُوعًا: "إذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنْ النَّوْمِ، فَأَرَادَ أَنْ يَتَوَضَّأَ، فَلَا يُدْخِلْ يَدَهُ فِي وَضُوئِهِ حَتَّى يَغْسِلَهَا، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ باتت يده" ، ولا على من وَضَعَهَا. انْتَهَى. وَوَقَعَ فِي لَفْظِ الْمُصَنِّفِ، وَغَيْرِهِ مِنْ أصحابنا: فلا يغمسن بثوت نون التَّوْكِيدِ الْمُشَدَّدَةِ، وَلَمْ أَجِدْهَا فِيهِ إلَّا عِنْدَ الْبَزَّارِ فِي مُسْنَدِهِ، فَإِنَّهُ رَوَاهُ مِنْ حَدِيثِ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مَرْفُوعًا إذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَلَا يَغْمِسَنَّ يَدَهُ فِي طَهُورِهِ حَتَّى يُفْرِغَ عَلَيْهَا، الْحَدِيثَ. (الزيلعي، جمال الدين أبو محمد عبد الله بن يوسف بن محمد الزيلعي (المتوفى : ٧٦٢هـ)، نصب الراية لأحاديث الهداية مع حاشيته بغية الألمعي في تخريج الزيلعي(الناشر : مؤسسة الريان للطباعة والنشر - بيروت -لبنان، الطبعة : الطبعة الأولى، ١٤١٨هـ/١٩٩٧م) ج ١ ص ٣).

[2] - دا هغه اوبه دي چې دوامداره روانې وي — لکه سیند، ویاله، نهر، یا نل‌اوبه که بهېدونکې وي.

[3] -**فقهي مسئله:** که خلک د سیند پر غاړه په کتارونو کښېني او له جاري اوبو نه اودس وکړي، دا جائز دي، او دا صحیح قول دی. ځینو علماوو ویلي دي: که د اودس کوونکي د لومړۍ لپې نه د نجاست اوبه تر دې مخکې لاړې شي چې دوهمه لپه واخلي، نو دا اوبه «جاري» ګڼل کېږي.ځینو نورو ویلي دي:که د اوبو حالت داسې وي چې که پکې واښه یا پاڼه وغورځول شي نو اوبه یې یوسي ،نو دغه اوبه جاري دي.او ځینو نورو ویلي دي:که د اوبو حالت داسې وي چې یو څوک خپله لاس د اوبو د روان لوري په اوږدو کې کیږدي او د اوبو جریان پرې کړي، نو دا اوبه جاري نه دي. او که لاس یې جریان نه شي بندولای، نو دا اوبه جاري دي. (برهان الدين، أبو المعالي برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي (المتوفى: ٦١٦هـ)، المحيط البرهاني في الفقه النعماني فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه،) (الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٤ م ) ج ١ ص ٩٠-٩١).

وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ عَنْ الْمَاءِ الْجَارِي يَغْتَسِلُ فِيهِ رَجُلٌ مِنْ جَنَابَةٍ هَلْ يَتَوَضَّأُ رَجُلٌ أَسْفَلَ مِنْهُ قَالَ نَعَمْ.

(قَوْلُهُ: إذَا لَمْ يُرَ لَهَا أَثَرٌ؛ لِأَنَّهَا لَا تَسْتَقِرُّ مَعَ جَرَيَانِ الْمَاءِ) الْأَثَرُ هُوَ اللَّوْنُ وَالطَّعْمُ وَالرَّائِحَةُ، وَهَذَا إذَا كَانَتْ النَّجَاسَةُ مَائِعَةً، أَمَّا إذَا كَانَتْ دَابَّةً مَيِّتَةً إنْ كَانَ الْمَاءُ يَجْرِي عَلَيْهَا أَوْ عَلَى أَكْثَرِهَا أَوْ نِصْفِهَا لَا يَجُوزُ اسْتِعْمَالُهُ، وَإِنْ كَانَ يَجْرِي عَلَى أَقَلِّهَا وَأَكْثَرُهُ يَجْرِي عَلَى مَكَانٍ طَاهِرٍ وَلِلْمَاءِ قُوَّةٌ فَإِنَّهُ يَجُوزُ اسْتِعْمَالُهُ إذَا لَمْ يُوجَدْ لِلنَّجَاسَةِ أَثَرٌ.

وفي شَرْحُ ابْنِ أَبِي عَوْفٍ إذَا كَانَتْ النَّجَاسَةُ مَرْئِيَّةً كَدَابَّةٍ مَيِّتَةٍ لَمْ يَجُزْ الْوُضُوءُ مِمَّا قَرُبَ مِنْهَا وَيَجُوزُ مِمَّا بَعْدَهُ وَهَذَا إنَّمَا هُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ خَاصَّةً، وَأَمَّا عِنْدَهُمَا فَلَا يَجُوزُ الْوُضُوءُ مِنْ أَسْفَلِهَا أَصْلاً.

امام ابو يوسف رحمه الله وايي: ما له امام ابوحنيفه رحمه الله څخه وپوښتل: «په روانو اوبو کې يو سړی له جنابت څخه غسل کوي، نو ايا هغه بل سړی چې تر ده لاندې وي (يعني د اوبو په جريان کې لاندې خوا کې وي) کولای شي له هغو اوبو اودس وکړي؟» هغه وفرمايل: «هو، کولی شي».

دا قول: (دا هغه وخت دی چې د ناپاکۍ هېڅ اثر ښکاره نه شي؛ ځکه ناپاکي د اوبو د بهېدلو سره په خپل ځای نه پاتې کېږي): او د «اثر» مطلب د اوبو په رنګ، خوند او بوی کې بدلون دی. دا حکم هغه وخت دی چې ناپاکي مايع (اوبه‌ډوله) وي. خو که دا ناپاکي د يوه مردار حيوان وي: که اوبه د هغه له ټول بدن يا نيمايي بدن يا د بدن له ډېرې برخې څخه تېرېږي، بيا د هغو اوبو استعمال روا نه دی. خو که اوبه يې د بدن د لږې برخې سره تماس نيسي، او د اوبو زياته برخه له پاک ځای څخه تېرېږي، او اوبو کې ځواک هم وي (يعني اوبه په قوت سره جريان ولري)، نو په دې صورت کې د دې اوبو کارول روا دي، تر هغه چې د ناپاکۍ کوم اثر (رنګ، بوی يا خوند) پکې ښکاره نه شي.

امام ابن ابي عوف رحمه الله د دې تشريح داسې کړې ده: که ناپاکي ښکاره وي (لکه د حيوان مړی)، نو هغه اوبه چې د مړي نږدې دي، پرې اودس کول روا نه دي. خو هغه اوبه چې د مړي له لرې ځايه دي، روا دي.دا د امام ابو يوسف رحمه الله ځانګړی نظر دی. د امام ابو حنيفه او امام محمد رحمهما الله په نزد، په ښکته برخه کې له دې اوبو څخه اودس کول په هېڅ ډول روا نه دي.

وَفِي هَذِهِ الْمَسْأَلَةِ تَفْصِيلٌ إِنْ كَانَتْ الْمَيِّتَةُ شَاغِلَةً لِبَعْضِ النَّهْرِ جَازَ الْوُضُوءُ مِمَّا بَعُدَ وَلاَ يَجُوزُ مِمَّا قَرُبَ، وَيُعْرَفُ الْقُرْبُ وَالْبُعْدُ بِأَنْ يُجْعَلَ فِي الْمَاءِ صَبْغٌ فَمَا بَلَغَ الصَّبْغُ مِنْ جِرْيَةِ الْمَاءِ فَلاَ تَصِحُّ مِنْهُ الطَّهَارَةُ وَيَصِحُّ مِمَّا وَرَاءَ ذَلِكَ، وَإِنْ كَانَتْ شَاغِلَةً لِكُلِّ النَّهْرِ أَوْ لأَكْثَرِهِ لَمْ يَجُزْ الْوُضُوءُ مِمَّا سَفَلَ مِنْهَا أَصْلاً وَيَصِحُّ مِنْ أَعْلاَهَا، وَإِنْ شَغَلَتْ نِصْفَ النَّهْرِ فَالصَّحِيحُ أَنَّهُ يَجُوزُ بِهِ الطَّهَارَةُ.

(قَوْلُهُ: وَالْغَدِيرُ الْعَظِيمُ الَّذِي لاَ يَتَحَرَّكُ أَحَدُ طَرَفَيْهِ إِلَى آخِرِهِ، إذا وقعت نجاسة في أحد جانبيه جاز الوضوء من الجانب الآخر) التَّحْرِيكُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ يُعْتَبَرُ بِالاغْتِسَالِ مِنْ غَيْرِ عُنْفٍ لاَ بِالتَّوَضُّؤِ؛ لأَنَّ الْحَاجَةَ إِلَى الاغْتِسَالِ فِي الْغُدْرَانِ أَشَدُّ مِنْ الْحَاجَةِ إِلَى التَّوَضُّؤِ؛ لأَنَّ الْوُضُوءَ يَكُونُ فِي الْبَيْتِ غَالِبًا. وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يُعْتَبَرُ بِالْيَدِ؛ لأَنَّ هَذَا أَدْنَى مَا يُتَوَصَّلُ بِهِ إِلَى مَعْرِفَةِ الْحَرَكَةِ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ بِالتَّوَضُّؤِ، وَصَحَّحَ فِي الْوَجِيزِ قَوْلَ مُحَمَّدٍ. وَوَجْهُهُ أَنَّ الاِحْتِيَاجَ إِلَى التَّوَضُّؤِ أَكْثَرُ مِنْ الاِحْتِيَاجِ إِلَى الاِغْتِسَالِ فَكَانَ الاِعْتِبَارُ بِهِ أَوْلَى.

په دې مسله کې تفصيل شته: که مړی د سيند يوه برخه اشغال کړې وي، نو هغه اوبه چې د مړي له لرې ځايه وي، د استعمال وړ دي، خو هغه اوبه چې نږدې وي، د استعمال وړ نه دي. د اوبو نږدې والي يا لرې والي د معلومولو لپاره په اوبو کې رنګ ګډول کېږي، او هغه ځای چې رنګ ته ورسېږي، هغه ناپاک بلل کېږي او له دې ځايه د اوبو استعمال جايز نه دی.

که ناپاکي د سيند ټول جريان يا زياته برخه ونيسي، نو د هغې نه ښکته برخې څخه اودس کول روا نه دي، خو له هغې څخه پورته برخې څخه اودس کول روا دي. که ناپاکي د سيند نيمايي برخه اشغال کړي، نو د صحيح نظر له مخې، له دې اوبو څخه د طهارت لپاره کار اخيستل روا دي.

دا قول: (او غدير عظيم(لوی حوض د اوبو) په غټو حوضونو کې، د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد، د اوبو حرکت د عادي غسل کولو پر مهال معلومېږي، نه د اودس کولو پر مهال؛ ځکه چې په حوض کې د غسل اړتيا ډېره ده.

د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد، د حرکت معلومولو لپاره لاس کافی دی، ځکه دا د اوبو د حرکت معلومولو تر ټولو وړوکی شی ده چې د اوبو حرکت پرې معلومېږي.

د امام محمد رحمه الله په نزد، د اودس کولو پر مهال د حرکت معلومول کفايت کوي. د "الوجيز" په کتاب کې د امام محمد نظر صحيح ګڼل شوی، ځکه چې خلک د اودس کولو اړتيا ډېره لري، نو د اودس معيار غوره ګڼل شوی.

وَهَذَا التَّقْدِيرُ فِي الْغَدِيرِ قَوْلُ الْعِرَاقِيِّينَ بِأَنْ يَكُونَ بِحَيْثُ لَا يَتَحَرَّكُ أَحَدُ طَرَفَيْهِ بِتَحَرُّكِ الْآخَرِ، وَبَعْضُهُمْ قَدَّرَهُ بِالْمَسَاحَةِ بِأَنْ يَكُونَ عَشَرَةَ أَذْرُعٍ طُولاً فِي عَشَرَةِ أَذْرُعٍ عَرْضًا بِذِرَاعِ الْكِرْبَاسِ تَوْسِعَةً فِي الْأَمْرِ عَلَى النَّاسِ، قَالَ فِي الْهِدَايَةِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى، وَهُوَ اخْتِيَارُ الْبُخَارِيِّينَ.

وَذِرَاعُ الْكِرْبَاسِ سَبْعُ قَبْضَاتٍ وَهُوَ أَقْصَرُ مِنْ ذِرَاعِ الْحَدِيدِ بِقَبْضَةٍ، فَإِنْ كَانَ الْغَدِيرُ مُثَلَّثًا فَإِنَّهُ يُعْتَبَرُ أَنْ يَكُونَ كُلُّ جَانِبٍ خَمْسَةَ عَشَرَ ذِرَاعًا وَخُمُسَ ذِرَاعٍ وَمَسَاحَتُهُ أَنْ تَضْرِبَ جَوَانِبَهُ فِي نَفْسِهِ يَكُونُ ذَلِكَ مِائَتَيْنِ وَوَاحِدًا وَثَلَاثِينَ وَجُزْءًا مِنْ خَمْسَةٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنْ ذِرَاعٍ وَتَأْخُذَ ثُلُثَ ذَلِكَ وَعُشْرَهُ فَهُوَ الْمَسَاحَةُ فَثُلُثُهُ فِي هَذِهِ الصُّورَةِ عَلَى التَّقْرِيبِ يَكُونُ سَبْعَةً وَسَبْعِينَ وَعُشْرُهُ عَلَى التَّقْرِيبِ ثَلَاثَةٌ وَعِشْرِينَ فَذَلِكَ مِائَةٌ وَشَيْءٌ قَلِيلٌ لَا يَبْلُغُ عُشْرَ ذِرَاعٍ.

عراقي فقهاوو د غدير په اندازه کې وايي چې د ډنډ يوه برخه بايد د بلې برخې د حرکت له امله ونه خوځيږي. ځينې وايي چې د غدير مساحت بايد لس ذرعه اوږدوالی او لس ذرعه پلنوالی ولري، د کرباس [1]،ذرعه په معيار، ترڅو د خلکو لپاره اسانتيا وي[2].

په «الهداية» کتاب کې دا فتوی غوره شوې ده[3]، او دا د بخاری د علماوو نظر هم دی. د کرباس ذرعه اندازه د اووه قبضو په کچه ده، چې د اوسپنې ذرعه څخه يوه قبضه کمه ده.[4]

که حوض مثلث (درې‌گونی) وي، نو دا به په پام کې نيول کېږي چې هر اړخ يې پنځلس ذراعې او يو پر پنځمه ذراعه وي. او د هغه مساحت (سطحه) دا ده چې اړخونه به په خپل ځان سره ضرب شي (د مثلث د مساحت محاسبه له خاصې طريقې سره کېږي)، نو حاصل به دوه سوه يوسلو يو ديرش (۲۳۱) ذراعو ته،او يوه برخه له پنځه ويشتو برخو څخه د ذراعې شي. بيا به د دې درېيمه برخه او لسمه برخه واخيستل شي، دا به د مساحت مقدار وي.نو د درېيمې برخې اندازه په تخميني ډول ۷۷ ذرعې ده، او لسمه برخه يې تقريبا ۲۳ ذرعې ده، نو ټول به تقريباً سل او لږ څه وي، چې لسمه ذراعه هم نه پوره کوي.

---

[1] - د کرباس ذراع په اصل کې اوه(۷) قبضې ده فقط. او د حديد ذراع (۲۴) څلرويشت قراط (گوتې) کيږي چې شپږ(٦) قبضې کيږي. رد المحتار على الدر المختار ج ۱ ص ۱۹٦. (زين الدين أبو يحيى السنيكي، زكريا بن محمد بن أحمد بن زكريا الأنصاري، زين الدين أبو يحيى السنيكي (المتوفى: ۹۲٦هـــ)، الغرر البهية في شرح البهجة الوردية (الناشر: المطبعة الميمنية) ج ۱ ص ۴۵۹).

[2] - په کرباس ذراع کې د خلکو لپاره ځکه آسانتيا ده چې ذراع کرباس په اوږدوالي کې د ذراع الحديد څخه يوه قبضـه اوږد ده او اندازه کول ورباندې په آسانه طريقه سره ترسره کيږي.

[3] - (بعضهم قدروا بالمساحة عشرا في عشر بذراع الكرباس توسعة للأمر على الناس وعليه الفتوى). (الهداية في شرح بداية المبتدي ج ۱ ص ۲۲).

[4] - فتاوى قاضي خان کې صحيح قول دا دی چې د مساحت ذراع معتبر گڼل کېږي، او هغه اووه څوکه (مُشتې) دي چې د هرې څوک په سر يوه قائمه گوته ورزياتېږي؛ او همدا د مُلک يا شـاهي ذراع بلل کېږي. او دا قول په حِيزِ مطلوب کې هم غوره شـوی دی. خو مصـنف د فتوی لپاره د کرباس ذراع اختيار کړې ده، چې هغه هم اووه څوکه دي، خو پر هر څوک هېڅ قائمه گوته نه ورزياتېږي. او يو قول دا هم دی چې دا ذراع څلور ويشـت گوتې ده، د «لا إله إلا الله محمد رسول الله» د کلمو د تورو په شمېر. د مصنف د (توسعةُ الأمر) مراد دا دی چې دا کار د اسانتيا لپاره شوی دی، يعنې د خلکو د پراختيا او آسانۍ په خاطر، او فتوی هم پر همدې قول ده. او په محيط کې راغلي چې په هر ځای او هر زمان کې بايد د هماغه سـيمې د خلکو معموله ذراع معتبره وگڼل شي، پرته له دې چې ځان د مساحت يا کرباس په ځانگړو ذراعو مقيد کړي.» (البناية شرح الهداية ج ۱ ص ۳۸۴).

وَإِنْ كَانَ مُدَوَّرًا أُعْتُبِرَ أَنْ يَكُونَ قُطْرُهُ أَحَدَ عَشَرَ ذِرَاعًا وَخُمُسَ ذِرَاعٍ وَدَوْرُهُ سِتَّةً وَثَلَاثِينَ ذِرَاعًا فَمِسَاحَتُهُ أَنْ يُضْرَبَ نِصْفُ الْقُطْرِ وَهُوَ خَمْسَةٌ وَنِصْفٌ وَعُشْرٌ فِي نِصْفِ الدَّوْرِ وَهُوَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ يَكُونُ مِائَةَ ذِرَاعٍ وَأَرْبَعَةَ أَخْمَاسِ ذِرَاعٍ، وَأَمَّا حَدُّ الْعُمْقِ فَالْأَصَحُّ أَنْ يَكُونَ بِحَالٍ لَا يَنْحَسِرُ الْأَرْضُ بِالِاغْتِرَافِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى، وَقِيلَ مِقْدَارُ ذِرَاعٍ، وَقِيلَ مِقْدَارُ شِبْرٍ.

«(قَوْلُهُ: جَازَ الْوُضُوءُ مِنْ الْجَانِبِ الْأُخَرِ) فِيهِ إِشَارَةٌ إِلَى تَنَجُّسِ مَوْضِعِ الْوُقُوعِ سَوَاءٌ كَانَتْ النَّجَاسَةُ مَرْئِيَّةً أَوْ غَيْرَ مَرْئِيَّةٍ، وَهُوَ اخْتِيَارُ الْعِرَاقِيِّينَ وَعِنْدَ الْخُرَاسَانِيِّينَ وَالْبَلْخِيِّينَ إِنْ كَانَتْ مَرْئِيَّةً فَكَمَا قَالَ الْعِرَاقِيُّونَ، وَإِنْ كَانَتْ غَيْرَ مَرْئِيَّةٍ يَجُوزُ التَّوَضُّؤُ مِنْ مَوْضِعِ الْوُقُوعِ وَهُوَ الْأَصَحُّ كَمَا فِي الْوَجِيزِ

(قَوْلُهُ: لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ النَّجَاسَةَ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ) لِاتِّسَاعِهِ وَتَبَاعُدِ أَطْرَافِهِ.»

او که دا حوض گرد (دایروي) وي، نو دا به په پام کې نیول کېږي چې قطر یې یوولس ذراعې او یو پر پنځمه ذراعه وي، او محیط (چاپېره اندازه) به یې شپږ دېرش ذراعې وي.نو د دې مساحت دا ډول محاسبه کېږي چې د قطر نیمایي، چې پنځه نیمه ذراعې او یو لسمه ذراعه ده، به د محیط له نیمایي سره ضرب شي، چې هغه اتلس ذراعې دي، نو حاصل به سل ذراعې او څلور پنځمه ذراعه شي.

او د ژوروالي (عمق) حد دا دی چې د صحیح قول له مخې باید دومره وي چې کله له هغه څخه اوبه اخیستل کېږي، نو د حوض فرش (ځمکه) ښکاره نه شي، او همدا قول فتوی مطابق ده[1]. ځینو ویلي دي: د یو ذراعه په اندازه باید ژوروالی ولري، او ځینو نورو ویلي دي: د یوې ځنګلې (شِبر) په اندازه وي.

دا قول:( له بل اړخ څخه اودس کول جواز لري): په دې کې اشاره ده چې د نجاست د لوېدو ځای ناپاک ګرځي، که نجاست ښکاره وي یا نه وي، او دا د عراقیانو نظر دی.خو د خراسانیانو او بلخیانو په نزد که نجاست ښکاره وي، نو د عراقیانو په څېر حکم لري (یعنې ځای ناپاکېږي).او که نجاست نوي لیدل شوی، نو له هغه ځایه اودس کول روا دی، او همدا قول تر ټولو صحیح دی، لکه څنګه چې په "الوجیز" کې راغلي دي.

دا قول:( ځکه چې ظاهراً (په ښکاره ډول) نجاست هغه ځای ته نه رسېږي): د دې د پراخوالي او د څنډو د لرې والي له امله.

[1] - **فقهي مسائل:** دې ته د هدایه مصنف رحمه الله صحیح ویلي دي. او اختيار الفقيه أبي جعفر الهندواني رحمه الله هم دا قول اختيار کړی دی. الهداية في شرح بداية المبتدي ج ۱ ص ۲۲. (البناية شرح الهداية ج ۱ ص ۳۸٦).

«(قَوْلُهُ: وَمَوْتُ مَا لَيْسَ لَهُ نَفْسٌ سَائِلَةٌ) أَيْ دَمٌ سَائِلٌ وَالدَّلِيلُ عَلَى أَنَّ الدَّمَ يُسَمَّى نَفْسًا قَوْلُ الشَّاعِرِ:

تَسِيلُ عَلَى حَدِّ السُّيُوفِ نُفُوسُنَا ... وَلَيْسَ عَلَى غَيْرِ السُّيُوفِ تَسِيلُ

(قَوْلُهُ: إِذَا مَاتَ فِي الْمَاءِ لَا يُنَجِّسُهُ) تَقْيِيدُهُ بِالْمَاءِ لَيْسَ بِشَرْطٍ بَلْ يَطَّرِدُ فِي الْمَاءِ وَغَيْرِهِ؛ لِأَنَّ عَدَمَ التَّنَجُّسِ فِيهِ لِعَدَمِ الدَّمِ لَا لِلْمَعْدِنِ، وَكَذَا إِذَا مَاتَ خَارِجَ الْمَاءِ ثُمَّ أُلْقِيَ فِيهِ لَا يُنَجِّسُهُ أَيْضًا

(قَوْلُهُ: كَالْبَقِّ وَالذُّبَابِ وَالزَّنَابِيرِ وَالْعَقَارِبِ) الْبَقُّ كِبَارُ الْبَعُوضِ، وَقِيلَ الْكَتَّانُ وَإِنَّمَا ذَكَرَ الذُّبَابَ بِلَفْظِ الْوَاحِدِ وَالزَّنَابِيرَ بِلَفْظِ الْجَمْعِ؛ لِأَنَّ الذُّبَابَ كُلَّهُ جِنْسٌ وَاحِدٌ وَالزَّنَابِيرُ أَجْنَاسٌ شَتَّى وَسُمِّيَ ذُبَابًا؛ لِأَنَّهُ كُلَّمَا ذُبَّ آبَ أَيْ كُلَّمَا طُرِدَ رَجَعَ.

دا قول: (د هغه څه مرگ چې ساه لرونکی او وینه بهیدونکی نه وي): هغه موجودات چې د بدن وینه روانه یا جاري ونه لري، لکه حشرات (مچان، غوماشي، شاپرکان، لړمان)، که په اوبو کې مړه شي، اوبه نه ناپاکوي. د "نفس" کلمه په دې ځای کې د بهېدونکې وینې لپاره کارول شوې.لکه دغه قول د شاعر چې وايي:

"زموږ وینې د تورو په تېکو بهیږي ... خو په بل څه باندې نه بهیږي."

دا قول: (که په اوبو کې مړ شي، نو اوبه نه ناپاکوي): د اوبو سره یې محدودول شرط نه دی، بلکې دا حکم په اوبو او غیر اوبو دواړو کې عام دی؛ ځکه چې د اوبو ناپاک نه کېدل د وینې د نشتوالي له امله دي، نه دا چې د جسد له امله وي. همداراز که دا بهر له اوبو مړ شي، بیا اوبو ته وغورځول شي، دا هم اوبه نه ناپاکوي.

دا قول: (لکه زوره،مچ،غومبسې او لړمان): البقّ (یو ډول حشره ده چې) د چینجیانو له غټو ډولونو څخه شمېرل کېږي، او ویل شوي چې دا هماغه "کتّان" دی (چې یو ډول وینې چوشې حشره ده).

او دا چې مچ (الذباب) یې د مفرد په بڼه یاد کړی، خو زنابیر (زنبوران) یې د جمع په بڼه ذکر کړي،نو علت دا دی چې مچان ټول یو واحد جنس (ډول) دي، خو زنابیر(غومبسې) بېلابېل اجناس لري (ډول ډول غومبسې دي).

او مچ ته "ذُباب" ځکه ویل شوی، چې هر کله وشړل شي، بېرته راگرځي. یعنې هر کله چې وشړل شي، بېرته راځي.

(قَوْلُهُ: وَمَوْتُ مَا يَعِيشُ فِي الْمَاءِ) إذَا مَاتَ فِي الْمَاءِ لاَ يُفْسِدُهُ وَهُوَ الَّذِي يَكُونُ بِوَالِدِهِ وَمَثْوَاهُ فِيهِ سَوَاءٌ كَانَ لَهُ دَمٌ سَائِلٌ أَوْ لاَ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ إذَا كَانَ لَهُ دَمٌ سَائِلٌ أَوْجَبَ التَّنَجُّسَ وَاحْتَرَزَ بِقَوْلِهِ يَعِيشُ فِيهِ عَمَّا يَتَعَيَّشُ فِيهِ وَلاَ يَتَنَفَّسُ فِيهِ كَطَيْرِ الْمَاءِ فَإِنَّهُ يُنَجِّسُهُ وَقَيَّدَ بِالْمَاءِ إذْ لَوْ مَاتَ فِي غَيْرِهِ أَفْسَدَهُ عِنْدَ بَعْضِهِمْ وَإِلَيْهِ أَشَارَ الشَّيْخُ، وَقِيلَ لاَ يُفْسِدُهُ وَهُوَ الْأَصَحُّ

(قَوْلُهُ: كَالسَّمَكِ وَالضِّفْدَعِ وَالسَّرَطَانِ) قَدَّمَ السَّمَكَ؛ لأَنَّهُ مُجْمَعٌ عَلَيْهِ وَالْبَاقِي فِيهِ خِلاَفُ الشَّافِعِيِّ فَإِنَّهُ عِنْدَهُ يُفْسِدُهُ إلاَّ السَّمَكَ وَالسَّرَطَانَ وَعَقْرَبَ الْبَحْرِ وَالسَّرَطَانُ هُوَ الْعِقَامُ وَالضِّفْدَعُ بِكَسْرِ الدَّالِ وَنَاسٌ يَفْتَحُونَهَا وَالْكَسْرُ أَفْصَحُ.»

دا قول: (مرگ د هغو ژوو چې په اوبو کې ژوند کوي): که یو حیوان په اوبو کې مړ شي، نو اوبه نه ناپاکوي، په ځانګړې توګه هغه حیوانات چې په اوبو کې ژوند کوي او د هغوی ځای هم په اوبو کې وي، که د هغوی وینه روانه وي یا نوي روانه، د ظاهر الروایت په اساس دا اوبه پاکې ګڼل کېږي. خو د امام ابو یوسف رحمه اللّٰه په نزد، که حیوان روانه وینه ولري، نو اوبه ناپاکوي. په دې بیان کې "هغه چې په اوبو کې ژوند کوي" له هغو حیواناتو څخه جلا کړل شوي دي چې په اوبو کې یوازې وخت تېروي او هلته نفس نه کاږي، لکه د اوبو مارغان (ډولفین یا نور حیوانات چې په اوبو کې ساه نه اخلي). دا حیوانات که مړه شي، اوبه ناپاکوي.

د اوبو مربوط یو شرط: که بغیر له اوبو څخه په نورو مایعاتو کې (لکه شیدې، غوړي یا نور مایعات)کې کوم حیوان مړ شي، ځینې علماء وايي چې هغه مایع ناپاکېږي،لکه څنګه چې شیخ صاحب قدروي رحمه الله ورته اشاره کړې ده، خو د صحیح قول په اساس نه ناپاکېږي.[1].

دا قول: (لکه ماهی، وزغ (ډفدعه) او سمندري خرچنګ): مصنف رحمه الله ماهی مخکې ذکر کړ، ځکه چې په حلت (جواز) يې اتفاق شوی دی، خو نور ژوي د امام شافعي په مذهب کې اختلاف لري[2]، ځکه چې د هغه په نزد دا ټول نجس او ناپاک دي، مګر ماهی، سمندري خرچنګ او د بحري لړم (عقرب البحر)؛ او دا سرطان هماغه "عِقام" دی. همدارنګ، "ضِفدع" د (دال) په زېر تلفظېږي، که څه هم ځینې خلک يې په فتحه (ضمې) سره تلفظوي، خو زېر لرل فصیح (ادبي او صحیح) تلفظ دی.

---

[1] - **فقهي مسائیل:** څوک چې وايي چې نه يې ناپاکوي دا قول د محمد بن مقاتل، او دا د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه د امام حسن په روایت او د امام محمد رحمه الله څخه د هشام په روایت هم دی؛ځکه چې په دې حیواناتو کې وینه نشته او وینه نجس کوونکې ده او دا قول صحیح ګڼل شوی ده. (مرجع سابق ج ۱ ص ۸۴).

[2] - **فقهي مسائیل:** امام شافعي رحمه الله وايي چې که د کب (ماهی) او چنګاښ څخه پرته نور حیوانات په اوبو یا په کوم بل مایع کې مړه شول نو هغه نجسوي ځکه د هغوی وینه بهېدونکې ده. (الأم للشافعي ج ۱ ص ۱۰). (مغني المحتاج الى معرفة معاني ألفاظ المنهاج ج ۱ ص ۷۸).

(قَوْلُهُ: وَأَمَّا الْمَاءُ الْمُسْتَعْمَلُ فَلاَ يَجُوزُ اسْتِعْمَالُهُ فِي طَهَارَةِ الْأَحْدَاثِ) قَيَّدَ بِالْأَحْدَاثِ؛ لأَنَّهُ يُزِيلُ الْأَنْجَاسَ وَسَوَاءٌ تَوَضَّأَ بِهِ أَوْ اغْتَسَلَ بِهِ مِنْ جَنَابَةٍ فَإِنَّهُ مُسْتَعْمَلٌ وَيُكْرَهُ شُرْبُهُ وَاخْتُلِفَ فِي صِفَتِهِ فَرَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ نَجِسٌ نَجَاسَةً غَلِيظَةً، حَتَّى لَوْ أَصَابَ الثَّوْبُ مِنْهُ أَكْثَرَ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ مَنَعَ الصَّلاَةَ وَهَذَا بَعِيدٌ جِدًّا؛ لأَنَّ الثِّيَابَ لاَ يُمْكِنُ حِفْظُهَا مِنْ يَسِيرِهِ وَلاَ يُمْكِنُ التَّحَرُّزُ عَنْهُ، وَرَوَى أَبُو يُوسُفَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ نَجِسٌ نَجَاسَةً مُخَفَّفَةً كَبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ وَبِهِ أَخَذَ مَشَايِخُ بَلْخِي.

دا قول: (او مستعمله (کارېدلې) اوبه د اوداسه او غسل لپاره د پاکۍ په نیت کارول يې روا نه دي):
مستعملې اوبه يې د "احداث" په قید سره مقیدې کړې، ځکه دا نجاستونه لرې کوي. نو که څوک پدې اوبو اودس وکړي یا د جنابت غسل پکې وکړي، دا اوبه کارېدلې (مستعملې) ګڼل کيږي. د دې اوبو څښل مکروه دي.

د مستعملو اوبو د صفت په اړه اختلاف شوی دی: حسن له امام ابوحنيفه څخه روايت کړی چې دا اوبه نجسې دي د غليظه نجاست په ډول، حتى که د دې اوبو اندازه د درهم نه زياته په جامه ولګي، نو لمونځ پکې نه صحيح کيږي. مګر دا قول ډېر لرې او غير صحيح ښکاري، ځکه چې جامې له دې اوبو د لږ مقدار څخه ساتل ستونزمن دي، او له دې بچېدل ممکن نه دي.

ابو يوسف له امام ابوحنيفه څخه روايت کړی چې دا اوبه نجسې دي، خو د نجاست خفيفه په شان [1]،لکه د هغه حيوان بولې (ميتيازې) چې غوښه يې خوړل کيږي. او د بلخ علماو هم همدا قول اختيار کړی.

---

[1] - **فقهي مسئله:** امام محمد رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله څخه روايت کوي چې چې مستعملې اوبه پاکې دي خو پاکوونکې نه دي (يعنې پاک دي خو د طهارت سبب نه کيږي). دا د امام شافعي رحمه الله هم يو مشهور قول دی.

–امام ابويوسف او امام حسن بن زياد رحمه الله روايت کوي چې دا اوبه ناپاکې دي، خو امام حسن بن زياد رحمه الله وايي چې غليظه نجسې دي (د درهم په اندازه اعتبار لري). امام ابويوسف رحمه الله يې خفيفه نجسې بولي.

–امام زُفَر رحمه الله وايي: که کاروونکی اودس ولري، اوبه پاکې دي؛ او که بې اودسه وي نو پاکې دي خو پاکوونکې نه دي.

–امام مالک رحمه الله وايي: مستعملې اوبه په هر حالت کې پاکې او پاکوونکې دي.

د بلخ او عراق علماوو نظر: –د بلخ مشايخ وايي: د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف رحمهما الله له نظره مستعملې اوبه ناپاکې دي، او د امام محمد رحمه الله له نظره پاکې دي خو پاکوونکې نه دي. –د عراق مشـــايخ وايي: زموږ د علماوو له مخې دا پاکې دي خو پاکوونکې نه دي، حتى ځينو ويلي چې د ناپاکي روايت له امام ابوحنيفه رحمه الله څخه ثابت نه دی. د هغو علماوو دليل چې مســتعملې اوبه پاکې او پاکوونکې ګڼي: اسـتدلال کوي په حديث: «الماء طَهور لا يُنجِّسه شيء...» يعنې اوبه په ا صل کې پاکې او پاکوونکې دي تر هغه چې بدلون پکې نه وي راغلی. همدارنګه د محدث او جنب غړي په شريعت کې په ا صل کې پاک دي، ځکه پيغمبر صلى الله عليه وسلم وويل: «المؤمن لا ينجس». دا چې د جنب سړی خوله، خوله، عرق او لوښي پاک دي، نو هغه اوبه چې د هغه په غړي لګيږي هم ناپاکې کېدلای نه شي.

امام محمد رحمه الله که څه هم پاکې بولي خو اودس پرې نه جوازوي، ځکه: –د اودس کولو لپاره د شرعي عبادت په نيت پاکې مطلقې اوبه شرط دي. –اوبه چې د عبادت په نيت وکارول شي، د امام محمد رحمه الله له نظره پکې د «ثواب د انتقال» له امله يو ډول حکمي خبث منځ ته کيږي، لکه صـــدقه چې د خلکو د ګناهونو وينځل بلل شوي.

د امام زُفَر رحمه الله دليل: په مســتعملو اوبو کې د «حدث» اثر انتقاليږي، نو دا د اودس نه کولو ســبب ګرځي. د هغو دليل چې وايي مســتعملې اوبه ناپاکې کيږي: په حديث کې راغلي: «هيڅوک دې په ولاړو اوبو کې بول نه کوي او په کې دې د جنابت غسل نه کوي.» که مستعملې اوبه ناپاکه نه کېدای، نو په کمې اوبو کې د جنابت د غسل نهی بې معنی وه، ځکه پاک په پاک اچول حرام نه دي، خو د پاکو اوبو نجس کول حرام دي. نو د نهي معنی دا ده چې مستعملې اوبه په لږو اوبو کې نجاست پيدا کوي. د دې احتمال هم رد کوي چې شايد نهی د اوبو ضايع کېدو لپاره وي، ځکه په غسل کې بدن ته يوازې لږې اوبه لګيږي، چې دا دومره نه دي چې اوبه مطلقيت له منځه يوسي. آخر کې وايي: د جنب په بدن کې حقيقي نجا ست نه پرېښودل کيږي، ځکه سنت غسل مخکې له غسل څخه حقيقي نجاست پاکول دي، نو نهی د همدې حکمي ناپاکۍ له امله ده. (بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج ١ ص ٦٦-٦٧).

وَرَوَى مُحَمَّدٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ طَاهِرٌ غَيْرُ مُطَهِّرٍ لِلْأَحْدَاثِ كَالْخَلِّ وَاللَّبَنِ، وَهَذَا هُوَ الصَّحِيحُ وَبِهِ أَخَذَ مَشَايِخُ الْعِرَاقِ وَسَوَاءٌ فِي ذَلِكَ كَانَ الْمُتَوَضِّئُ طَاهِرًا أَوْ مُحْدِثًا فِي كَوْنِهِ مُسْتَعْمَلاً.

(قَوْلُهُ: وَالْمُسْتَعْمَلُ كُلُّ مَاءٍ أُزِيلَ بِهِ حَدَثٌ أَوْ أُسْتُعْمِلَ فِي الْبَدَنِ عَلَى وَجْهِ الْقُرْبَةِ) هَذَا قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ وَقِيلَ هُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ أَيْضًا، وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَا يَصِيرُ مُسْتَعْمَلاً إلَّا بِنِيَّةِ الْقُرْبَةِ لَا غَيْرُ، فَقَوْلُهُ أُزِيلَ بِهِ حَدَثٌ بِأَنْ تَوَضَّأَ مُتَبَرِّدًا أَوْ عَلَّمَ إنْسَانًا الْوُضُوءَ أَوْ غَسَلَ أَعْضَاءَهُ مِنْ وَسَخٍ أَوْ تُرَابٍ وَهُوَ فِي هَذَا كُلِّهِ مُحْدِثٌ

امام محمد رحمه الله له امام ابوحنیفه رحمه الله څخه روایت کړی چې دا اوبه پاکې دي، خو د "حدث" له منځه وړلو لپاره (لکه د اودس او غسل لپاره) کارېدلی نشي، بلکې د سرکې او شیدو په شان دي. او دا قول صحیح دی[1]،او د عراق علماو هم همدا قول اختیار کړی[2].

او دا چې دا اوبه مستعملې ګڼل کېږي، دا فرق نه لري چې هغه څوک چې اودس کوي مخکې طاهر وي که محدث (ناپاک وي)، په هر صورت کې دا اوبه مستعملې بلل کېږي.

دا قول: (مستعملې اوبه هغه اوبه دي چې یا نو د هغه له لارې یو شرعي حدث (اودس یا غسل) لرې کړل شي،او یا د بدن پر غړو د عبادت او تقرب نیت سره استعمال شوې وي): دا د امام ابو یوسف رحمه الله قول دی، او ویل شوي[3]چې دا د امام ابو حنیفه رحمه الله قول هم دی [4].

او امام محمد رحمه الله ویلي: اوبه هغه وخت مستعملې کېږي چې د تقرب نیت (یعنې د عبادت قصد) پکې وي، نه یوازې عادي استعمال.

دا قول «هغه اوبه چې په وسیله یې حدث له منځه یووړل شي»، مطلب یې دا دی چې که یو څوک د یخېدو لپاره اودس وکړي، یا بل چا ته د اوداسه طریقه ور وښیي، یا له بدن څخه خځلې یا خاوره پرې ووینځي، او دی په دې ټولو حالاتو کې محدث (یعني بې‌اودسه) وي، نو دا اوبه مستعملې کېږي.

---

[1] - (مبسوط د امام سرخسي ج ١ ص ٤٦). (تحفة الفقهاء ج ١ ص ٧٨). (الدر المختار مع حاشية ابن عابدين ج ١ ص ١٥٧).

[2] - **فقهي مسائیل:** استعمال شوې اوبه د حدث د پاکۍ لپاره د بیا کارولو وړ نه دي، او همدا د شافعي او حنبلي فقهاوو مشهور قول دی. خو د مالکي مذهب په مشهور نظر کې د کارول شویو اوبو استعمال مکروه ګڼل کېږي، خو د طهارت صحت نه نفي کوي." (المجموع ج ١ ص ١٥٠). (الذخيرة ج ١ ص ١٧٤). (المغني لأبن قدامة ج ١ ص ١٦).

[3] - **فقهي مسائیل:** دا ځینې امام محمد او امام زفر رحمهما الله دي چې د امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف رحمهما الله په قول کې اختلاف لري. (بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج ١ ص ٦٧).

[4] - **فقهي مسائیل:** مستعملې اوبه هغه ټولې اوبه دي چې بې اودسي پرې لرې کړل شوي وي یا پر بدن د ثواب په نیت استعمال شوي وي). ابو نصر الأقطع ویلي چې دا قول د امام صاحب د مذهب صحیح قول دی. (ابن قطلوبغا، علامة الشيخ قاسم بن قطلوبغا المصري الحنفي، التصحيح والترجيح على مختصر القدوري(منشورات:محمد علي بيضون للنشر كتب السنة والجماعة دار الكتب العلمية بيروت- لبنان) ج ١ ص ١٤٢).

وَقَوْلُهُ عَلَى وَجْهِ الْقُرْبَةِ بِأَنْ تَوَضَّأَ وَهُوَ طَاهِرٌ بِنِيَّةِ الطَّهَارَةِ وَيَتَفَرَّعُ مِنْ هَذَا أَرْبَعُ مَسَائِلَ إِذَا تَوَضَّأَ الْمُحْدِثُ وَنَوَى الْقُرْبَةَ صَارَ مُسْتَعْمَلاً إِجْمَاعًا وَإِذَا تَوَضَّأَ الطَّاهِرُ وَلَمْ يَنْوِهَا لاَ يَصِيرُ مُسْتَعْمَلاً إِجْمَاعًا، وَإِذَا تَوَضَّأَ الطَّاهِرُ وَنَوَاهَا صَارَ مُسْتَعْمَلاً إِجْمَاعًا؛ لِأَنَّ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يَصِيرُ مُسْتَعْمَلاً بِأَحَدِ شَرْطَيْنِ إِمَّا أَنْ يَسْتَعْمِلَهُ بِنِيَّةِ الْقُرْبَةِ أَوْ يَرْفَعَ بِهِ الْحَدَثَ.

او د هغه قول: «د تقرب په نیت کارول شوې»، مطلب یې دا دی چې که څوک په داسې حال کې اودس وکړي چې طاهر وي (یعني له حدثه پاک وي)، خو د طهارت نیت یې کړی وي، نو دا اوبه هم مستعملې ګڼل کېږي.

له دې څخه څلور مسئلې څانګې کېږي:

۱- که یو محدث اودس وکړي او د تقرب نیت وکړي، نو دا اوبه مستعملې کېږي، دا خبره د ټولو علماو په اجماع ده.

۲- که یو طاهر (پاک کس) اودس وکړي، خو د تقرب نیت ونه کړي، نو دا اوبه مستعملې نه ګڼل کېږي، دا هم د علماو ترمنځ اتفاقي خبره ده.

۳- که یو طاهر کس اودس وکړي او د تقرب نیت هم ولري، نو دا اوبه مستعملې کېږي، او دا هم اجماعي ده؛ ځکه د امام ابویوسف له قوله سره سم، اوبه مستعملې شي که یو له دوو شرطونو پوره شي:یا دا چې د تقرب نیت ورسره شوی وي، یا دا چې د حدث له منځه وړلو لپاره کارول شوي وي.

وَالرَّابِعَةُ وَهِيَ مَسْأَلَةُ الْخِلَافِ وَهِيَ مَا إذَا تَوَضَّأَ الْمُحْدِثُ وَلَمْ يَنْوِهَا، فَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ يَكُونُ مُسْتَعْمَلاً وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ لَا يَصِيرُ مُسْتَعْمَلاً وَلَوْ كَانَ جُنُبًا وَاغْتَسَلَ لِلتَّبَرُّدِ صَارَ مُسْتَعْمَلاً عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ. وَقَوْلُهُ فِي الْبَدَنِ قَيَّدَ بِهِ؛ لِأَنَّ مَا كَانَ مِنْ غُسَالَةِ الْجَمَادَاتِ كَالْقُدُورِ وَالْقِصَاعِ وَالْحِجَارَةِ لَا يَكُونُ مُسْتَعْمَلاً.

وَكَذَا إذَا غَسَلَ ثَوْبًا مِنْ الْوَسَخِ مِنْ غَيْرِ نَجَاسَةٍ لَا يَكُونُ مُسْتَعْمَلاً وَإِذَا غَسَلَ يَدَهُ لِلطَّعَامِ أَوْ مِنْ الطَّعَامِ كَانَ مُسْتَعْمَلاً؛ لِأَنَّهُ تَقَرُّبٌ قَالَ عليه السلام «الْوُضُوءُ قَبْلَ الطَّعَامِ يَنْفِي الْفَقْرَ وَبَعْدَهُ يَنْفِي اللَّمَمَ» يَعْنِي الْجُنُونَ. وَقِيلَ لِلطَّعَامِ يَصِيرُ مُسْتَعْمَلاً وَمِنْهُ لَا يَصِيرُ مُسْتَعْمَلاً.

۴- څلورمه مسئله هغه ده چې پکې اختلاف دی:که يو محدث (بې‌اودسه) کس اودس وکړي خو د تقرب نيت ونه کړي،نو د امام ابويوسف په نظر دا اوبه مستعملې کېږي،خو د امام محمد په نظر مستعملې نه‌شي.همداراز،که څوک جنب وي او غسل يې د يخېدو يا تازه کېدو لپاره وکړي،نو د امام ابويوسف په نزد دا اوبه مستعملې دي،او دا د امام محمد خلاف قول دی، ځکه هغه دا اوبه مستعملې نه ګڼي.او د عبارت "في البدن" (په بدن کې کارېدلې) قيد راوستل شوی،يعني دا قيد ځکه راوړل شوی چې هغه اوبه چې د بې‌روحه شيانو د مينځلو نه پاتې شي، لکه د ديګونو، لوښو او يا ډبرو مينځلو اوبه –دا مستعملې نه‌شي ګڼل کېدای.

همداراز، که يو څوک له نجاست پرته يوازې د چټلتيا له امله خپل کالي ووينځي،نو دا اوبه مستعملې نه‌ګڼل کېږي.خو که څوک خپل لاسونه د خوړو دپاره يا له خوړو نه مخکې يا وروسته ووينځي،نو دا اوبه مستعملې دي، ځکه دا عمل د الله د تقرب (عبادت) لپاره دی.رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «د خوړو نه مخکې اودس (لاس وينځل) فقر له منځه وړي، او وروسته يې کول جنون (رواني ناروغي) له منځه وړي.»[1].
او ځينو علماو ويلي دي:که لاس د خوړو لپاره ووينځل شي، نو دا اوبه مستعملې دي؛خو که لاس د خوړو نه وروسته ووينځل شي، نو دا اوبه مستعملې نه‌دي.

[1] - **د حديث تخريج:** سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني (المتوفى: ٣٦٠هـ)، المعجم الأوسط (الناشر: دار الحرمين –القاهرة) ج ٧ ص ١٦٤). او په لفظ د «الْوضُوءُ قَبْلَ الطَّعَامِ وَبَعْدَ الطَّعَامِ بَرَكَةُ الطَّعَامِ». المستدرك على الصحيحين (ج ۴ ص ١١٩ د حديث رقم ٧٠٨٢). او په نورو د سننو کتابونو کې لکه (سنن ابو داود کې په ٣٧٥٥ رقم حديث) کې او (سنن ترمذي په ٣٦١۴ رقم حديث). عجلوني په کشف الحفاء کې وايي چې دا حديث «الْوُضُوءُ قَبْلَ الطَّعَامِ يَنْفِي الْفَقْرَ وَبَعْدَهُ يَنْفِي اللَّمَمَ ؛ ويصحح البصر»،په باره کې صغاني ويلي چې دا موضوع ده. (العجلوني، إسماعيل بن محمد العجلوني الجراحي (المتوفى: ١١٦٢هـ)، كشف الخفاء ومزيل الإلباس عما اشتهر من الأحاديث على ألسنة الناس (الناشر: مكتبة القدسي، لصاحبها حسام الدين القدسي – القاهرة، عام النشر: ١٣٥١ هـ) ج ٢ ص ٣٣٦).

(قَوْلُهُ: وَكُلُّ إهَابٍ دُبِغَ فَقَدْ طَهُرَ) الْإِهَابُ الْجِلْدُ الَّذِي لَمْ يُدْبَغْ فَإِذَا دُبِغَ سُمِّيَ أَدِيمًا وَكُلُّ جِلْدٍ يَطْهُرُ بِالدِّبَاغِ فَإِنَّهُ يَطْهُرُ بِالذَّكَاةِ وَمَا لَا فَلَا، وَفِي الْهِدَايَةِ مَا طَهُرَ بِالدِّبَاغِ طَهُرَ بِالذَّكَاةِ وَكَذَا لَحْمُهُ فِي الصَّحِيحِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَأْكُولًا، وَفِي الْفَتَاوَى الصَّحِيحُ أَنَّهُ لَا يَطْهُرُ لَحْمُهُ، وَفِي النِّهَايَةِ إنَّمَا يَطْهُرُ لَحْمُهُ إذَا لَمْ يَكُنْ نَجِسَ السُّؤْرِ ثُمَّ عَلَى قَوْلِ صَاحِبِ الْهِدَايَةِ إنَّمَا يَطْهُرُ لَحْمُهُ وَجِلْدُهُ بِالذَّكَاةِ إذَا وُجِدَتْ الذَّكَاةُ الشَّرْعِيَّةُ بِأَنْ كَانَ الْمُذَكِّي مِنْ أَهْلِ الذَّكَاةِ بِالتَّسْمِيَةِ

دا قول: (او هر څرمن (پوستکی) چې دباغ (پاک) شوی وي، نو هغه پاک ده): د "الإهاب" معنی هغه پوست دی چې لا تر اوسه دباغ شوی نه وي. کله چې دا پوست دباغ شي، نو "أديم" بلل کېږي. د اسلامي فقهې له مخې، د مړو حیواناتو پوستونه د دباغ له لارې پاکېږي، خو دا حکم د هغو حیواناتو پوستونو ته محدود دی چې غوښه یې خوړل کېږي، لکه غوا، پسې، او اوښ. د هغو حیواناتو پوستونه چې غوښه یې نه خوړل کېږي، لکه خنزیر او سپی، د دباغ له لارې نه پاکېږي، ځکه چې دا حیوانات په خپل ذات کې نجس دي.

په "الهداية" [1] کتاب کې راغلي: هغه پوست چې دباغ له لارې پاکېږي، د ذبحې له لارې هم پاکېږي، او د دې حیوان غوښه هم پاکه ده، که څه هم خوړل کېدونکی نه وي. خو په "الفتاوی" کې صحیح نظر دا دی چې د داسې حیواناتو غوښه نه پاکېږي.نو، د پوست پاکوالی د دباغ له لارې ممکن دی، خو د غوښې پاکوالی د حیوان د خوړل کېدو پر بنسټ توپیر لري.

په "النهايه" (فقهي کتاب) کې راغلي: د حیوان غوښه هغه وخت پاکه کېږي، کله چې د هغه خولې پاتې شوني (سُؤر) نجسه وي.وروسته، د صاحب هدايه په قول: د حیوان غوښه او پوستکی د شرعي ذبحې (ذکاة) په وسیله پاکېږي،یعنې ذکاة هغه وخت شرعي بلل کېږي، چې ذبحه کوونکی د ذکاة اهل وي (لکه مسلمان یا اهل کتاب) او د ذبحې پر مهال بسم الله ووایي.

[1] - (الهداية في شرح بداية المبتدي ج ١ ص ١٩).

أَمَّا إذَا كَانَ مَجُوسِيًّا فَلاَ بُدَّ فِي الْجِلْدِ مِنْ الدِّبَاغِ؛ لأَنَّ فِعْلَهُ إماتة لاَ ذَكَاةٌ وَيُشْتَرَطُ أَيْضًا أَنْ تَكُونَ الذَّكَاةُ فِي مَحَلِّهَا وَهُوَ مَا بَيْنَ اللَّبَّةِ وَاللَّحْيَيْنِ وَقَمِيصُ الْحَيَّةِ طَاهِرٌ كَذَا قَالَ الْحَلْوَانِيُّ وَجِلْدُهَا نَجِسٌ لاَ يَطْهُرُ بِالدِّبَاغَةِ؛ لأَنَّهُ لاَ يَحْتَمِلُهَا وَقَوْلُهُ دُبِغَ فِيهِ إشَارَةٌ إلَى أَنَّهُ يَسْتَوِي أَنْ يَكُونَ الدَّابِغُ مُسْلِمًا أَوْ كَافِرًا أَوْ صَبِيًّا أَوَ مَجْنُونًا أَوْ امْرَأَةً وَجِلْدُ الْكَلْبِ يَطْهُرُ بِالدِّبَاغِ عِنْدَنَا.وَقَالَ الشَّافِعِيُّ لاَ يَطْهُرُ وَفِي رِوَايَةٍ أَيْضًا عَنْ الْحَسَنِ بْنِ زِيَادٍ.

که ذبحه کوونکی مجوسي (اورپرست) وي، نو د هغه په ذبحه شوی حیوان کې به پوستکی تر دباغۍ وروسته پاک شي،ځکه مجوسي اهل د حلالې نه ده، بلکې یوازې قصابي عمل بلل کېږي.او دا هم شرط دی، چې ذکاة باید په خپل مشروع ځای کې واقع شي،او هغه ځای دی: د غاړې ګهو ځای؛ یعنې د سینې ترپایه او د زنې ترمنځ (بین اللبة واللحیین).

او د مار هغه پوښ چې له هغه نه وشلیږي، پاک دی، حلواني رحمه الله ویلي دي: د سپي پوستکی نجس دی او په دباغۍ (پاکولو) سره نه پاکیږي، ځکه دا ډول پوستکی دباغۍ تحمل نه لري (یعنې دا عمل پرې اغېز نه لري).

او د فقهي عبارت په دې ټکي کې چې «دبغ فیه» (یعنې پوستکی دباغ شوی و) اشاره ده دې ته چې:د پوستکي دباغول د هر چا لخوا روا دي؛که هغه مسلمان وي، که کافر، که ماشوم، که لیونی، یا که ښځه – فرق نه کوي[1] خو زموږ (حنفي فقهې) له مخې د سپي پوستکی هم په دباغ سره پاکیږي، او امام شافعي رحمه الله ویلي دي چې د پوستکي دباغ پوستکی نه پاکوي[2]. همداسې یوه روایت د حسن بن زیاد څخه هم راغلی دی[3].

---

[1] -نبي کریم ﷺ فرمایلي: «أیمّا إهابٍ دُبِغَ فقد طَهُر» (هر هغه پوستکی چې دباغت ورکړل شي، پاک شو). په دې حدیث کې فعل په صیغهی مجهوله (دُبِغَ) کارول شوی، چې له دې نه دا ا شاره اخیستل کېږي چې: د دباغت کوونکي شخصیت یا صفت ته اعتبار نه دی ورکړل شوی. یعني هر څوک که وي، که مسلمان، کافر، ما شوم، لیونی یا ښځه د هغوی له لوري ورکړل شوی دباغت هم صحیح دی او پو ستکی پاکېږي. که چیرې نبي ﷺ ویلی وای: "إذا دبغَه مسلمٌ فقد طهر" (که مسلمان دباغت ورکړي، نو پاکېږي)، نو دا به د معلوم صیغه وای، او له هغه نه به دا فهمېدل چې: د دباغت کوونکي لپاره د مسلمان شرط لازمي دی. خو چونکې فعل د مجهول په صیغه کې راغلی، دا ښیي چې هدف د دباغت تحقق دی، نه د فاعل شخصیت.

[2] - **فقهي مسئله:** امام شافعي رحمه الله فرمایلي دي: د هغو ځیروونکو حیواناتو پوستکي چې غوښه یې نه خوړل کېږي، که دباغت شوي وي، پاک دي د قیاس له مخې پر مړه شویو پوستکو پرته د سپي او خوګ له پوستکو، ځکه د دوی نجاست د ژوند په حال کې هم ثابت دی. دباغت یوازې هغه پوستکی پاکوي چې ژوندی نجس نه وي، او سپی او خوګ ژوندی نجس دي، نو دباغت یې پاکولی نشيـ د امام مالک رحمه الله په مذهب کې مردار شوي حیوان پوستکی په دباغت کولو سره نه پاکیږي لِقَوْلِهِ -عَلَيْهِ الصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ - «لاَ تَنْتَفِعُوا بِالْمَيْتَةِ بِإِهَابٍ». او د خنزیر (خوګ) جلد د دباغت په واسطه هم نه پاک کیږي ځکه چې خوګ پوستکی نه په دباغت او نه په کوم بل شي پاکېږي، ځکه چې خوګ ذبحه کېدل شرعاً حرام دي. د امام احمد رحمه الله څخه دوه قولونه رانقل شوي: یو قول د امام احمد رحمه الله له خوا دا دی: هغه هر پوستکی چې په ژوند کې پاک وي، که دباغت ورکړل شي، نو پاکېږي. خو د امام احمد یو شمېر اصحابو بل قول کړی دی: یوازې د هغو حیواناتو پوستکی پاکېږي چې غوښه یې د خوړلو وړ وي (مأکول اللحم). دا قول د امام اوزاعي، امام ابو ثور، او امام اسحاق رحمهالله هم دی. د دوی د دلیلونو خلاصه دا ده: له نبي صلی الله علیه وسلم نه روایت دی: «د پوستکي دباغت ورکول یې د ذبحې حیثیت لري» دا معنا لري چې دباغت هغه حیوان ته فایده رسوي چې ذبحه کېدل پرې مشروع وي، یعني د خوړلو حیوان وي. ځکه چې ذبحه د خوړلو حیوان سره مناسبه ده، د نه خوړلو سره نه. دباغت هم د پوستکي له پاکولو څخه یو سبب دی، لکه ذبحه، او ذبحه هم په نه خوړونکو حیواناتو کې تأثیر نه کوي، نو دباغت به هم نه کوي،نو د امام احمد رحمه الله په نزد ځیروونکي حیوانات او غیر مأکول اللحم حیواناتو پوستکی په دباغت سره نه پاکیږي. مناقشه: دا چې نن ورځ د پخوا زمانو غوندې د فقر او غریبي وخت نه دی،نو د احتیاط له مخې دې د خوګ(خنزیر) او سپي پوستکي څخه استفاده ونه شي. (الأم للشافعي ج ۱ ص ۲۲). (الكافي في فقه أهل المدينة ج ۱ ص ۱۶۳). (المغني لابن قدامه ج ۱ ص ۸۷).

[3] - **فقهي مسئله:** د حسن بن زیاد رحمه الله په نزد د سپي پو ستکي هم په دباغت سره نه پاکیږي؛ځکه چې نجس العین ده. (المبسوط للسرخسي ج ۱

وَالدِّبَاغُ نَوْعَانِ حَقِيقِيٌّ كَالشَّبِّ وَالْقَرَظِ وَقُشُورِ الرُّمَّانِ وَأَشْبَاهِ ذَلِكَ وَحُكْمِيٌّ كَالشَّمْسِ وَالتُّرَابِ فَإِنْ عَاوَدَ الْمَدْبُوغَ بِالْحُكْمِ الْمَاءُ فِيهِ رِوَايَتَانِ فِي رِوَايَةٍ يَعُودُ نَجِسًا وَفِي رِوَايَةٍ لَا يَعُودُ نَجِسًا قَالَ الْخُجَنْدِيُّ وَهُوَ الْأَظْهَرُ.

(قَوْلُهُ: وَجَازَتْ الصَّلَاةُ عَلَيْهِ وَالْوُضُوءُ مِنْهُ) وَكَذَا تَجُوزُ الصَّلَاةُ فِيهِ بِأَنْ يَلْبَسَهُ فَإِنْ قِيلَ لَيْسَ هَذَا مَوْضِعَ تَطْهِيرِ الْأَعْيَانِ النَّجِسَةِ فَلِمَ ذَكَرَهُ الشَّيْخُ هُنَا قِيلَ لِأَجْلِ قَوْلِهِ وَالْوُضُوءُ مِنْهُ.

د دباغ دوه ډولونه دي:

۱- حقيقي دباغ لکه شب(يو قسم طبيعي مالگه ده)، قرظ (د يوې ونې د مغزو پوټکی)، د انارو پوټکی او ورته شيان.

۲- حکمي دباغ لکه لمر ( د لمر په واسطه وچول) او خاوره.

که چيرې هغه پوستکی چې دباغ ورکړل شوی وي، بيا پرې اوبه راشي (يعنې لوند شي)[1]، نو پدې کې دوه روايتونه شته: په يوه روايت کې راغلي چې بيا نجس (ناپاک) گرځي، په بله روايت کې راغلي چې نجس نه گرځي. خجندي[2] ويلي خُجندي ويلي دي چې دوهم روايت ـــ يعنې دا چې نجس نه گرځي ـــ دا ښکاره او قوي نظر دی.

دا قول: (او لمونځ پرې جائز دی او له هغه څخه اودس کول هم جائز دي): او همداراز که يې واغوندي لمونځ هم پکې روا دی.که څوک ووايي: دا ځای د ناپاکو شيانو د پاکولو ځای نه دی، نو ولې شيخ دا دلته ذکر کړی؟

نو ځواب دا دی: د هغه د قول لپاره چې وېې ويل: «او له هغه څخه اودس کول هم روا دی»[3].

---

ص ۲۰۳).

[1] - **فقهي مسئله:** دباغ په دوه ډوله ده:۱- دباغ حقيقي :چې د قرظ، شث او عفص طريقو باندې پاکيږي چې د عفص په ذريعه دباغت شوی پو ستکی پاکيږي، او بېرته هېڅکله ناپاک نه گرځي.۲- دباغ حکمي. (الزيلعي، عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدين الزيلعي الحنفي (المتوفى: ۷۴۳ هـــ) ، تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق(الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية - بولاق، القاهرة، الطبعة: الأولى، ۱۳۱۳ هـ) ج ۱ ص ۲۶).

[2] - د الخجندي په لقب په حنفي فقه کې څه نور علماء هم شته. (هدية العارفين لترجمة صاحب الغاية شرح الهداية ج ۲ ص ۱۵۵)، (هدية العارفين ج ۱ ص ۷۸۷، لترجمة عمر بن محمد، ت ۶۹۱ هـ).

[3] - اصلا خو بحث ددې دی چې په څه شي اودس کول روا دي او په څه شي روا نه دي، چې په دې جمله کې د پوستکي څخه په جوړ شوي ژي کې له اوبو څخه د اودس کولو حکم څه دی دا يې مطلوب ؤ، نو وه يې ويل که پوستکی پاک وي نو په هغه کې د اچول شـوو اوبو څخه اودس درسـت دی، او که پوستکی ناپاک وي نو اودس پرې درست نه دی، نو سوال دا پيدا شو چې کوم پوستکی پاک دی او کوم ناپاک نو دا بحث ضمني راغلی دی.

(قَوْلُهُ: إلَّا جِلْدَ الْخِنْزِيرِ وَالْآدَمِيِّ) فِي هَذَا الاسْتِثْنَاءِ دَلَالَةٌ عَلَى طَهَارَةِ جِلْدِ الْكَلْبِ بِالدِّبَاغِ وَقَدْ بَيَّنَّاهُ وَكَمَا يَطْهُرُ جِلْدُهُ بِالدِّبَاغِ فَكَذَا بِالذَّكَاةِ وَإِنَّمَا قَدَّمَ ذِكْرَ الْخِنْزِيرِ عَلَى الْآدَمِيِّ؛ لِأَنَّهُ مَوْضِعُ إهَانَةٍ وَفِي مَوْضِعِ الْإِهَانَةِ يُقَدَّمُ الْمُهَانُ، كَقَوْلِهِ تَعَالَى {لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ} [الحج: ٤٠] ، فَقَدَّمَ الصَّوَامِعَ وَالْبِيَعَ عَلَى الْمَسَاجِدِ لِأَجْلِ ذِكْرِ الْهَدْمِ؛ لِأَنَّهُ إهَانَةٌ الْبِيَعُ جَمْعُ بِيعَةٍ بِكَسْرِ الْبَاءِ وَهِيَ لِلنَّصَارَى وَالصَّوَامِعُ لِلصَّابِئِينَ وَالصَّلَوَاتُ كَنَائِسُ الْيَهُودِ وَكَانُوا يُسَمُّونَهَا بِالْعِبْرَانِيَّةِ صَلَوَاتٍ وَالْفِيلُ كَالْخِنْزِيرِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ لَا يَطْهُرُ جِلْدُهُ بِالدِّبَاغِ وَعِظَامُهُ نَجِسَةٌ لَا يَجُوزُ بَيْعُهَا وَلَا الِانْتِفَاعُ بِهَا وَعِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ لَا بَأْسَ بِبَيْعِ عِظَامِهِ وَيَطْهُرُ جِلْدُهُ بِالدِّبَاغَةِ كَذَا فِي الْخُجَنْدِيِّ.

دا قول: (مگر پوستکی د خنزیر (خوگ) او انسان): په دې استثناء کې د دې خبرې نښه ده چې د سپي پوستکی د دباغ له لارې پاکېږي، او مونږ دا (مسئله) مخکې بیان کړې ده.او څنګه چې د هغه (سپي) پوستکی په دباغ پاکېږي، همدارنګه د حلالولو (ذبحې) له لارې هم پاکېږي.او دا چې د خوګ ذکر د انسان نه وړاندې راغلی، علت دا دی چې دا ځای د سپکاوي دی، او په داسي ځای کې تل هغه څه وړاندې راځي چې سپک ګڼل کېږي، لکه د الله تعالی دا قول:{لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ}[1] نو لومړی یې صوامع (د صابئینو عبادت ځایونه) او بيَع (د نصاراوو کلیساوې) ذکر کړې، بیا یې جوماتونه یاد کړي، ځکه د «هدْم» (ویجاړی) ذکر شوی و، او ویجاړول یو ډول سپکاوی دی.

البيَع د «بيعة» جمع ده، د باء توری پکې زېر لري، او دا د نصاراوو عبادت ځایونه دي.

صوامع د صابئینو دي،صلوات د یهودانو عبادت ځایونه دي، او هغوی به دا په عبراني ژبه "صلوات" بلل.

او فیل هم د خوګ په حکم کې دی، د امام محمد له قوله: د هغه پوستکی په دباغ نه پاکیږي، او هډوکي یې ناپاک دي، نه یې خرڅول جائز دي او نه ترې استفاده روا ده.

خو د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف رحمهما الله له قوله: د فیل د هډوکو خرڅول روا دي، او د هغه پوستکی په دباغ سره پاکېږي، همدا خبره په خُجندي [2]کې راغلې ده.

[1] - قرآن الکریم، سورة الحج، آیت ۴۰.

[2] - فقیه، اصولي عمر بن محمد بن عمر الخبازي، الخجندي، الحنفي چې په اصل کې د خجند چې په ماوراء النهر کې د یوه ښار نوم ده زیږېدلی ده، د ۶۲ کلونو په عمر په (۶۹۱ هـــ) کال کې وفات شوی ده، د تصانیفو څخه یې المغني في اصول الفقه او په الهدایة في فروع الفقه الحنفي باندې یې حا شیې کړې دي. (کحالة الدمشق، عمر بن رضا بن محمد راغب بن عبد الغني کحالة الدمشق (المتوفی: ۱۴۰۸هـــ)، معجم المؤلفین(الناشر: مکتبة المثنی - بیروت، دار إحیاء التراث العربي بیروت) ج ۷ ص ۳۱۵).

(قَوْلُهُ: وَشَعْرُ الْمَيْتَةِ وَعَظْمُهَا طَاهِرَانِ) أَرَادَ مَا سِوَى الْخِنْزِيرِ وَلَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ رُطُوبَةٌ وَرَخَّصَ فِي شَعْرِهِ لِلْخَرَّازِينَ لِلضَّرُورَةِ؛ لِأَنَّ غَيْرَهُ لَا يَقُومُ مَقَامَهُ عِنْدَهُمْ وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ أَنَّهُ كَرِهَهُ أَيْضًا لَهُمْ وَلَا يَجُوزُ بَيْعُهُ فِي الرِّوَايَاتِ كُلِّهَا وَالرِّيشُ وَالصُّوفُ وَالْوَبَرُ وَالْقَرْنُ وَالْخُفُّ وَالظِّلْفُ وَالْحَافِرُ كُلُّ هَذِهِ طَاهِرَةٌ مِنْ الْمَيْتَةِ سِوَى الْخِنْزِيرِ وَهَذَا إذَا كَانَ الشَّعْرُ مَحْلُوقًا أَوْ مَجْزُورًا فَهُوَ طَاهِرٌ، وَإِنْ كَانَ مَنْتُوفًا فَهُوَ نَجِسٌ، وكذا شعر الآدمي، إن كان محلوقا أو مجزوزا فهو طاهر، و إن كان منتوفا فهو نجس[1].

دا قول: (د مردارې ويښتان او هډوکي پاک دي): دده مقصد هغه مړه شوي حيوانات دي چې د خوگ نه پرته وي، او پر هغو باندې لندهوالي (رطوبت) نه وي.او د سختې اړتيا له امله يې دباغگرو ته د خوگ د ويښتو کارولو رخصت ورکړی، ځکه دوی ته بل شی د هغه ځای نه شي نيولی.[2].

خو له امام ابويوسف رحمه الله څخه روايت دی چې هغه دا کار هم دوی ته مکروه گڼلی دی،او د ټولو روايتونو له مخې د خوگ د ويښتو خرڅول جائز نه دي.

د مرغانو بڼکې، وړی، وُبَر (د اوښ يا ځينو وحشي حيواناتو نرم وېښتان)، ښکر، څپلی، سم او نال – دا ټول له مړو حيواناتو څخه پاک دي، خو د خوگ پرته. او دا حکم هغه وخت دی کله چې وېښتان خريیل شوي يا قيچي شوي وي،نو هغه پاک وي. خو که ويښتان ايستل شوي وي (يعنې راښکل شوي وي)، نو هغه ناپاک گڼل کيږي.

[1] - **فقهي مسئله:** د انسان ويښتان که وايستل شي نو ناپاک دي او که ويي خريل نو بيا پاک دي (رد المحتار على الدر المختار ج ١ ص ٢٠٧).

[2] - زموږ په زمانه کې بيا اړتيا ورته نشته، ځکه چې خلک د خوگ د ويښتو پر ځای له ستنو او سوزنونو (مخارز او ابر) څخه استفاده کوي. په البحر کې راغلي: د فقهاوو له څرگندو خبرو داسې ښکاري چې که اړتيا نه وي، يعني که د گنډلو بل بديل موجود وي، نو بيا د خوگ د ويښتو څخه استفاده کول ممنوع دي. (رد المحتار على الدر المختار ج ٥ ص ٧٣).

وَعَنْ مُحَمَّدٍ فِي نَجَاسَةِ شَعْرِ الْآدَمِيِّ وَظُفْرِهِ وَعَظْمِهِ رِوَايَتَانِ فَبِنَجَاسَتِهِ أَخَذَ الْمَاتُرِيدِيُّ وَبِطَهَارَتِهِ أَخَذَ أَبُو الْقَاسِمِ الصَّفَّارُ وَاعْتَمَدَهَا الْكَرْخِيُّ وَهُوَ الصَّحِيحُ

وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ شَعْرُ الْمَيْتَةِ وَعَظْمُهَا نَجِسٌ، وَعِنْدَ مَالِكٍ عَظْمُهَا نَجِسٌ وَشَعْرُهَا طَاهِرٌ

له امام محمد څخه د انسان د وېښتو، نوکونو او هډوکو د ناپاکوالي په اړه دوه روايتونه دي:ماتريدي د نجاست روايت غوره کړی [1]،او ابوالقاسم صفار [2] د پاکوالي روايت غوره کړی،او کرخي هم همدغه (د پاکوالي) روايت ته ترجيح ورکړې، او دا صحيح قول هم همدا دی.[3]

د امام شافعي رحمه الله په نزد د مړي وېښتان او هډوکي ناپاک دي،او د امام مالک رحمه الله په نزد د مړي هډوکي ناپاک دي، خو وېښتان يې پاک دي[4].

[1]- محمد بن محمد بن محمود أبو النصر ــ الماتُريدي د هدايت او دين امام و، هغه لاندې کتابونه تأليف کړي دي: کتاب التوحيد، کتاب تأويلات القرآن، کتاب المقالات، کتاب رد أوائل الأدلة على الكعبي، کتاب بيان وهم المعتزلة، ردّ الأصــول الخمســة د ابو محمد الباهلي په وړاندې، کتاب رد الإمامة د رافضــيانو ځينې اقوالو ته، کتاب مأخذ الشرائع فی أصــول الفقه او نور ګڼ شــمير کتابونه يې هم ليکلي دي. هغه د متکلمينو (علم الکلام علماوو) امام و، او د مســلمانانو د عقيدو تصــحيح کوونکی و. الله تعالی يې د حقې لارې ملاتړ وکړ، نو د حق دين په نصرــت کې يې ســتر رول ادا کړ. فقه يې د ابو بکر احمد الجوزجاني څخه زده کړه، هغه له ابو سليمان الجوزجاني څخه، او هغه له امام محمد (شاګرد د امام ابو حنيفه) څخه. د ماتُريدي نه بيا الحکيم القاضي السمرقندي او د همغه وخت ګڼ فقيهان فقه زده کړه کړې ده. وفات يې په سمرقند کې وشو، د ٣٣٣هــ کال په ترڅ کې. (أحمد بن محمد الأدنه من علماء القرن الحادي عشر (المتوفى: ١١ هـ)، طبقات المفسرين (الناشر: مكتبة العلوم والحكم – السعودية، الطبعة: الأولى، ١٤١٧هـ- ١٩٩٧م) ج ١ ص ٧٠).

[2]- دده فقيه او محدث رحمه الله نوم احمد ده د پلار نوم يې عصمه ده په ابو القاسم الصفّار سره مشهور ده د افغانستان د بلخ ولايت اوسېدونکی و، فقه يې د ابو جعفر الهندواني څخه زده کړه او په (٣٢٦ هــ) کال کې وفات شوی ده. (التقي الغزي، الطبقات السنية في تراجم الحنفية (مصدر الكتاب : موقع الوراق) ج ١ ص ١١٧).

[3]- (المبسوط ج ١ ص ٢٠٣)، (البناية شرح الهداية ج ٣ ص ٤٢٤). (رد المحتار على الدر المختار ج ١ ص ٢٠٧).

[4]- د شــوفعو په نزد د مردار حيوان هډوکي او وېښــتان ناپاک دي، ځکه چې دا ټول هغه څه دي چې ژوند پرې غالب وي (يعنې ژوند پکې داخل وي). د امام مالک رحمه الله په مذهب کې د مردار ټولې برخې نجســې دي مګر هغه څه چې ژوند پکې نه وي، لکه: وېښــتان، وړۍ او پشــم. په دې کې ټول حيوانات برابر دي. د مردار هډوکی او ښکر نجس دي. په حنبلي مذهب کې د مردار حيوان وړۍ او وېښتان پاک دي، خو له امام احمد څخه يو روايت بل هم راغلی چې د وېښتو نجسوالي ته اشاره کوي؛ ځکه وايي: وېښتان هم د حيوان له بدن څخه تغذيه کېږي، نو د حيوان له مړينې سره نجس شي، لکه نور غړي يې. لکن صحيح قول داده چې پاک دي او دليل يې دا قول د رسول الله صلى الله عليه وسلم ده [ أنه قال : لا بأس بمسك الميتة إذا دبغ وصوفها وشعرها إذا غسل ].ژباړه: «د مردار خو شبويي (مشک) که دباغت شي، څه باک نه لري، او همداراز يې وړۍ او وېښتان که ومينځل شي، پاک دي.» (مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج ج ١ ص ٢٣١).

(ابن قاسم وبابن الغرابيلي، محمد بن قاسم بن محمد بن محمد، أبو عبد الله، شمس الدين الغزي، ويعرف بابن قاسم وبابن الغرابيلي (المتوفى: ٩١٨هــ)، فتح القريب المجيب في شرح ألفاظ التقريب (الناشر: الجفان والجابي للطباعة والنشر، دار ابن حزم للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى، ١٤٢٥ هـ - ٢٠٠٥ م) ج ١ ص ٢٨). (التَّمِيمي المازري ، أبو عبد الله محمد بن علي بن عمر التَّمِيمي المازري المالكي (المتوفى: ٥٣٦هـ)، شرح التلقين (الناشر: دار الغرب الإِسلامي، الطبعة: الطبعة الأولى، ٢٠٠٨ م) ج ١ ص ٢٥٥)، (ابن قدامة المقدسي ،عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي أبو محمد، المغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني (الناشر : دار الفكر – بيروت، الطبعة: الطبعة الأولى ، ١٤٠٥) ج ١ ص ٩٥).

وَلَمْ يَذْكُرْ الشَّيْخُ بَيْضَ الْمَيْتَةِ وَلَبَنَه، فَنَقُولُ الدَّجَاجَةُ إِذَا مَاتَتْ وَخَرَجَتْ مِنْهَا بَيْضَةٌ بَعْدَ مَوْتِهَا فَهِيَ طَاهِرَةٌ يَحِلُّ أَكْلُهَا عِنْدَنَا سَوَاءٌ اشْتَدَّ قِشْرُهَا أَمْ لَا؛ لِأَنَّهُ لَا يُحِلُّهَا الْمَوْتُ، وَقَالَ الشَّافِعِيُّ إِنْ اشْتَدَّ قِشْرُهَا فَكَذَلِكَ، وَإِنْ لَمْ يَشْتَدَّ فَهِيَ نَجِسَةٌ لَا يَحِلُّ أَكْلُهَا وَإِنْ مَاتَتْ شَاةٌ فَخَرَجَ مِنْ ضَرْعِهَا لَبَنٌ قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ هُوَ طَاهِرٌ يَحِلُّ شُرْبُهُ وَلَا يَتَنَجَّسُ الْوِعَاءُ وَعِنْدَهُمَا هُوَ طَاهِرٌ فِي نَفْسِهِ؛ لِأَنَّهُ لَا يُحِلُّهُ الْمَوْتُ إِلَّا أَنَّهُ يَتَنَجَّسُ بِنَجَاسَةِ الْوِعَاءِ فَلَا يَحِلُّ شُرْبُهُ، وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ هُوَ نَجِسٌ فَلَا يَحِلُّ شُرْبُهُ.

او شیخ قدوري رحمه لله د مړې مرغۍ د هګۍ او مردار شوي حیوان د شیدو ذکر نه دی کړی، نو موږ وایو:که چېرې چرګۍ مړه شي، او له هغې وروسته تر مرګه یوه هګۍ ترې ووځي، نو هغه هګۍ پاکه ده، او زموږ په مذهب خوړل یې روا دي؛که د هغې پوستکی سخت شوی وي او که نه وي،ځکه په مرګ سره یې هګۍ نه مرداره کیږي[1].

امام شافعي رحمه الله ویلي دي: که د هګۍ پوستکی کلک شوی وي، نو (هګۍ) پاکه ده او که کلک شوی نه وي، نو ناپاکه ده، او خوړل یې روا نه دي[2].

او که یوه میږه مړه شي او له هغې څخه شیدې ووځي، نو امام ابوحنیفه وایي: هغه شیدې پاکې دي، څښل یې جائز دي، او لوښی ترې نه ناپاکه کیږي. خو د امام ابویوسف او امام محمد په نزد: شیدې پخپله پاکې دي، ځکه مرګ یې حراموونکی نه دی،خو دا چې شیدې د لوښي په واسطه ناپاکې شوې وي، نو له همدې امله یې څښل روا نه دي.او د امام شافعي په نزد: دا شیدې ناپاکې دي، نو څښل یې جائز نه دي[3].

[1] - **فقهي مسائیل:** هر هغه شی چې په حیوان کې د ژوند برخه نه وي (یعني روح یا نفس پکې نه وي)، نو مرګ پکې حلول نه کوي، او دا شی د مرګ له امله نجس نه ګڼل کیږي. ځکه د حرمت یا نجاست علت (حلول الموت) پکې نشته، نو حکم به هم نشته. لکه په دغې قاعدې کې: "الحُکمُ یدورُ مع علته وجوداً وعدمًا" یعنې حکم له خپلې علې سره ګرځي، که علت وي، حکم هم وي، که علت نه وي، حکم هم نشته. نو کله چې د مرګ علت (حلول الموت) په هګۍ یا شیدو کې نشته، نجاست هم نشته. (أصول السرخسي ج ٢ ص ١٨٢).

[2] - **فقهي مسائیل:** د شوافعو په نزد د مردارې هګۍ که کلکه شوې وي، نو پاکه ده، او که کلکه نه وي، نو ناپاکه ده. د امام مالک رحمه الله په مذهب کې هګۍ چې له داسې حیوان څخه وځي چې غوښه یې خوړل کیږي پاکه ده. په حنبلي مذهب کې د مردار حیوان هګۍ، که پوستکی یې کلک وي نو پاکه ده او که یې پوستکی کلک نه وي، ناپاکه ده. خو که یې پوسته کلکه وي او له داسې حیوانه وي چې غوښه یې خوړل کیږي، نو پاکه ده. (المليباري ، زين الدين بن عبد العزيز المليباري، فتح المعين بشرح قرة العين (الناشر دار الفكر، مكان النشر-بيروت) ج ١ ص ٨٧)، فقه العبادات على المذهب المالكي ج ١ ص ٣٧). (فقه العبادات على المذهب الحنبلي ج ١ ص ٥٠).

[3] - **فقهي مسائیل:** د صاحبینو رحمهما الله او امام شافعي رحمه الله د اقوالو ترمنځ تفاوت په دې کې ده چې صاحبین رحمهما الله وایي چې شیدې ذاتاً پاکې، خو حکماً د غولانځې سره د تماس له امله ناپاکې ګڼي او امام شافعي رحمه الله یې ذاتاً ناپاکې ګڼي.د امام شافعي رحمه الله په نزد د مردار شوي حیوان شیدې ناپاکې دي. ځکه هغه معنی چې د تحریم (حراموالي) سبب کیږي، همدا شیدې دي. او دا نه شي ویل کېدای چې شیدې د حیوان د مرګ له امله مړې شوې، ځکه شیدې نه مري، خو دا یوازې په داسې ظرف کې دي چې مړ دی. د امام مالک رحمه الله په مذهب کې هم شیدې د مردار حیوان نجسې دي ځکه شیدې د میږې (یا څاروي) له مرګ سره مري. په حنبلي مذهب کې هم د مردار شوې حیواني شیدې نجسې دي، ځکه چې دا یو مایع دی چې له ناپاک ظرف (یعني مړي حیوان) څخه راوتلی. (مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج ج ٣ ص ٤١٥). (الكافي في فقه أهل المدينة المالكي ج ١ ص ٤٤٠). (الكافي في فقه الإمام أحمد ج ١ ص ٥١).

وَإِنْ مَاتَ جَدْيٌ فَمِنْفَحَتُهُ طَاهِرَةٌ يَجُوزُ أَكْلُ مَا فِي جَوْفِهَا سَوَاءٌ كَانَ مَائِعًا أَوْ جَامِدًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَعِنْدَهُمَا إِنْ كَانَ مَائِعًا لَا يَجُوزُ، وَإِنْ كَانَ جَامِدًا وَغُسِلَ جَازَ أَكْلُهُ وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ لَا يَجُوزُ أَكْلُهُ وَالْإِنْفَحَةُ بِكَسْرِ الْهَمْزَةِ وَفَتْحِ الْفَاءِ مُخَفَّفَةً كَرِشُ الْجَدْيِ مَا لَمْ يَأْكُلْ.

(قَوْلُهُ: وَإِذَا) (وَقَعَ فِي الْبِئْرِ نَجَاسَةٌ) أَيْ مَائِعَةٌ كَالْبَوْلِ وَالدَّمِ وَالْخَمْرِ

(قَوْلُهُ: نُزِحَتْ) يَعْنِي الْبِئْرَ وَالْمُرَادُ مَاؤُهَا ذَكَرَ الْمَحَلَّ وَأَرَادَ بِهِ الْحَالَ كَمَا يُقَالُ جَرَى النَّهْرُ وَسَالَ الْمِيزَابُ وَمِنْهُ قَوْله تَعَالَى {وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ} [يوسف: ٨٢]

او که يو وزګړی (د وزې کوچنی بچی) مړ شي، نو د هغه منفيحه (د معدې يوه برخه چې له هغه نه پنير جوړېږي) پاکه ده او څه چې د هغې په منځ کې وي، که اوبه وي يا کلک پنير، نو خوړل يې د امام ابوحنيفه په نزد جائز دي، خو د امام ابويوسف او امام محمد په نزد: که هغه اوبه وي، خوړل يې نه دي جائز.او که کلک وي او ومينځل شي، نو بيا خوړل جائز دي.او د شافعي رحمه الله په نزد: د منفيحې منځ خوړل نه دي جائز[(١)].

الإنفحة: د همزې په زېر او د فاء په فتحه سره، دا د ورى د خېټې يوه برخه ده، تر هغه چې څه يې نوي خوړلي[(٢)].

## د څاه ګانو پاکول کله چې په کې نجاست ولوېږي

دا قول: (کله چې په څاه کې ناپاکه مايع (لکه ادرار، وينه، يا شراب) ولوېږي): څاه به خالي کېږي (مقصود يې د هغې اوبه دي).يعنې ځای ياد شو، خو مقصد حالت و، لکه چې وايي: "د سيند بهېدنه" يا "د ناوې چينه روانه شوه"؛ حال دا چې اصل کې مقصد د اوبو بهېدنه ده، نه د سيند يا ناوې جسم. او له همدې ډول نه د الله تعالى دا قول دى: ژباړه: (له کلي پوښتنه وکړه)[٣]، حال دا چې مراد ورڅخه خلک دی، نه ودانی[(٤)].

---

[١] - **فقهي مسئله:** «وَالْمِنْفَحَةُ وَالْبِنْفَحَةُ»: دا دواړه يو شی دي — هغه مواد چې د يوه شيدې څښونکي ورغومي (کوچني وزې) له خېټې څخه اخيستل کېږي، ژيړ رنګ لري. دا مواد په يوه وړې کې نچوړ شي، نو شيدې ورسره کلکېږي لکه پنير. که چيرې ورغومی واښه وخوري، نو دا مواد بيا د انفحه نه بلکې کرش بلل کېږي.

د «جوهرې» له خوا انفحه ته کرش ويل يوه تېروتنه ده، لکه څنګه چې په قاموس کې واضح شوې ده.

(قوله: على الراجح) — يعنې هغه قول چې د امام ابوحنيفه دی، او که څه هم ما ونه ليدل چې څوک دا قول صراحتاً ترجيح ورکړي، خو ښايي مصنف دا ترجيح د "ملتقى" د مصنف له ترتيب نه اخيستې وي، ځکه هغه قول د امام مقدم کړی او د صاحبينو قول وروسته ذکر شوی، چې دا يې د ترجيح نښه ده.

«انفحه د مړه شوي حيوان که جامد وي او که مايع وي، او شيدې يې، د ذبح شوي حيوان په څېر پاکې دي»

— دا د امام ابوحنيفه قول دی، د امام ابو يوسف او امام محمد وايي که مايع وي، نو خوړل يې روا نه دي؛ او که کلک (جامد) وي او ووينځل شي، نو خوړل يې روا دي، ځکه هغوی وايي: دا مواد د خپل ځای د نجاست له امله ناپاکېږي.

خو موږ وايو: د ژوند په حالت کې هم دا ځای (يعنې خېټه) ناپاک وي، خو بيا هم له دې ځايه راوتلې شيدې پاکې ګڼل کېږي، ځکه شيدې له فَرت (فضله) او وينې څخه راوتلي، خو پاکې دي، نو کله چې ژوندی وي شيدې پاکې دي، همداراز بايد تر مرګ وروسته هم پاکې وي. (رد المحتار على الدر المختار ج ١ ص ٢٠٦).

[٢] - يعنې کله چې خوراک وکړي نو هغه ته بيا منفحة نه ويل کېږي.

[٣] - قرآن الكريم، سورة يوسف، آيت نمبر: ٨٢.

[٤] - مجاز مرسل دی او علاقه يې محليه ده، يعنې د محل او حال ترمنځ اړيکه ده؛ ځکه د کلمې اصلي معنا ځای دی، او مراد ترې هلته اوسېدونکي يا

(قَوْلُهُ: وَكَانَ نَزْحُ مَا فِيهَا مِنْ الْمَاءِ طَهَارَةً لَهَا) فِيهِ إشَارَةٌ إلَى أَنَّهُ يَطْهُرُ الْوَحْلُ وَالْأَحْجَارُ وَالدَّلْوُ وَالرَّشَا وَيَدُ النَّازِحِ.

(قَوْلُهُ: فَإِنْ مَاتَتْ فِيهَا فَأْرَةٌ أَوْ عُصْفُورٌ أَوْ صَعْوَةٌ أَوْ سُودَانِيَّةٌ إلَى آخِرِهِ) إنَّمَا يَكُونُ النَّزَحُ بَعْدَ إخْرَاجِ الْفَأْرَةِ أَمَّا مَا دَامَتْ فِيهَا فَلَا يُعْتَدُّ بِشَيْءٍ مِنْ النَّزَحِ.

(قَوْلُهُ أَوْ سَامٌّ أَبْرَصُ) بِتَشْدِيدِ الْمِيمِ الْوَزَغُ الْكَبِيرُ وَهُمَا اسْمَانِ جُعِلَا اسْمًا وَاحِدًا فَإِنْ شِئْتَ أَعْرَبْتَ الْأَوَّلَ وَأَضَفْتَ إلَى الثَّانِي، وَإِنْ شِئْت بَنَيْتَ الْأَوَّلَ عَلَى الْفَتْحِ وَأَعْرَبْتَ الثَّانِيَ بِإِعْرَابِ مَا لَا يَنْصَرِفُ، وَإِنْ شِئْت بَنَيْتهمَا جَمِيعًا عَلَى الْفَتْحِ مِثْلُ خَمْسَةَ عَشَرَ

دا قول:( د څاه څخه د اوبو ایستل د دې سبب ګرځي چې څاه او د هغې اړوند شیان نور پاک شي): په دې کې اشاره دې ته ده چې د څاه خټه، کاڼي، سطل، رسۍ او د اوبه ویستونکي لاس ټول پاکیږي.

دا قول: (که په څاه کې موږک، کوچنی مرغه، صعوه (یو ډول مرغه) یا سوداني مرغه مړه شي): تر هغه وخته چې موږک لا هم په څاه کې وي، د اوبو ایستنه نه شمیرل کېږي (یعنې اعتبار نه لري). د څاه د پاکولو لپاره د اوبو ایستنه هغه وخت ضروري ده چې موږک له څاه څخه بهر کړل شي.

دا قول: (یا سام ابرص): (سَامٌّ) کلمې د "مِیمِ" له شد سره لیکل شوې ده،سام او ابرص دوه جدا اسمونه دي چې یو ځای د یو اسم په توګه دلته کارول شوي دي: که غواړې،نو اول اسم ته اعراب ورکړه او دویم ته یې مضاف کړه. یا که غواړې،نو اول اسم ته پر فتحه اعراب ورکړه او دویم اسم ته هغه اعراب ورکړه چې د غیرمنصرف کلمې په څیر وي[1]. یا که غواړې،نو دواړه اسمونه په فتحت باندې مبني کړه، لکه څنګه چې په " خَمْسَةَ عَشَرَ " کې ده.[2]

---

موجود کسان/شیان دي. نو د الله تعالی دا قول: {وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ} (یوسف: ۸۲)، یعنې: «د قریې له خلکو پوښتنه وکړه»، دلته قریه د او سېدونکو ځای دی، او مراد ترې خلک دي. نو دا هم مجاز مرسل شو، او علاقه یې محلیه ده، او قرینه دا ده چې په رینښتینې معنا د قریې څخه پوښتنه نشي ـ کېدلی، بلکې د قریې د خلکو پوښتنه مراد ده. (المنهاج الواضح للبلاغة ج ۱ ص ۱۳۷).

[1] - په (أَبْرَصُ) کې د عدم انصراف دوه سببونه دي: ۱- صفت، ۲- وزن فعل چې په وزن د افعل ده. (سید میر شریف، علي بن محمد بن علي الشریف الحسیني الجرجاني المعروف بسید میر شریف (المتوفی: ۸۱٦هـ)، نحو میر = مبادئ قواعد اللغة العربیة(الناشر: مکتبة الفیصل، شاهي جامع مسجد مارکیت، اندرقلعة، شیتاغونغ، الطبعة: الأولی، ۱۴۰۸ هـ = ۱۹۸۷ م) ج ۱ ص ۱۵).

[2] - د «سَامّ أبرص» بناء له دې امله روا ده چې دا مرکب عَلَم دی، او د استعمال له پلوه دوه کلمې(زهرجن او سپین داغ لرونکي) یو مفرد مفهوم لري چې (زهرجن سپین داغ لرونکي) خزنده ده. نحو د استعمال تابع دی، نو دلته دواړه کلمې پر بناء قیاس شوي، لکه عدد مرکب د خمسة عشر.

(قَوْلُهُ: نُزِحَ مِنْهَا مَا بَيْنَ عِشْرِينَ دَلْوًا إلَى ثَلَاثِينَ) الْعِشْرُونَ بِطَرِيقِ الْإِيجَابِ وَالْعَشَرَةُ بِطُرُقِ الِاسْتِحْبَابِ وَهَذَا إذَا لَمْ تَكُنْ الْفَأْرَةُ هَارِبَةً مِنْ الْهِرَّةِ وَلَا مَجْرُوحَةً أَمَّا إذَا كَانَ كَذَلِكَ يُنْزَحُ جَمِيعُ الْمَاءِ، وَإِنْ خَرَجَتْ حَيَّةً؛ لِأَنَّهَا تَبُولُ إذَا كَانَتْ هَارِبَةً وَكَذَا الْهِرَّةُ إذَا كَانَتْ هَارِبَةً مِنْ الْكَلْبِ أَوْ مَجْرُوحَةً يُنْزَحُ كُلُّ الْمَاءِ؛ لِأَنَّ الْبَوْلَ وَالدَّمَ نَجَاسَةٌ مَائِعَةٌ وَحُكْمُ الْفَأْرَتَيْنِ وَالثَّلَاثِ وَالْأَرْبَعِ كَالْوَاحِدَةِ وَالْخَمْسِ كَالْهِرَّةِ إلَى التِّسْعِ وَالْعَشْرِ كَالْكَلْبِ وَهَذَا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ الثَّلَاثُ كَالْهِرَّةِ وَالسِّتُّ كَالْكَلْبِ إلَى التِّسْعِ، وَكَذَلِكَ الْعُصْفُورُ وَمَا فِي مَعْنَاهُ وَأَمَّا فَأْرَتَانِ فَكَفَأْرَةٍ وَاحِدَةٍ بِالْإِجْمَاعِ وَفِي الْهِرَّتَيْنِ يُنْزَحُ جَمِيعُ الْمَاءِ إجْمَاعًا، وَمَا كَانَ بَيْنَ الْفَأْرَةِ وَالْهِرَّةِ فَحُكْمُهُ حُكْمُ الْفَأْرَةِ وَمَا كَانَ بَيْنَ الْهِرَّةِ وَالْكَلْبِ كَالْهِرَّةِ وَهَكَذَا أَبَدًا يَكُونُ حُكْمُهُ حُكْمَ الْأَصْغَرِ

دا قول: (له څاه څخه به د (۲۰-۳۰)د شلو څخه تر دیرشو ډولچې(بوکې)پورې ویستل شي): که په څاه کې موږک ولویږي، نو شل (۲۰) دلوه اوبه به د وجوب له مخې ویستل کېږي، او لس (۱۰) دلوه د استحباب له مخې. دا حکم هغه وخت دی چې موږک د پیشو نه تښتېدلی نوي او نه هم زخمي وي. خو که داسې وي (یعنې د پیشو نه تښتېدلی وي یا زخمي وي)، نو ټولې اوبه به ایستل کېږي، او که مار ترې ووځي، نو هم ټولې اوبه به ایستل کېږي؛ ځکه چې که مار تېښته کوي، نو ادرار کوي. همداراز که پیشو د سپي نه تښتېدلې وي یا زخمي وي، نو هم ټولې اوبه به ایستل کېږي؛ ځکه چې ادرار او وینه دواړه روان نجاستونه دي.

د دوو، دریو، او څلورو موږکانو حکم د یو موږک حکم لري، او پنځه د پیشو په څېر ده، تر نهه پورې همداسې، او لسم د سپي په حکم ده، دا د امام ابو یوسف قول دی.امام محمد وایي: درې موږکان د پیشو حکم لري، او شپږ د سپي حکم لري [1].تر نهه پورې. همداسې د مارغانو لکه عصفور او ورته نور هم دا ډول دي.خو که دوه موږکان ولویږي، نو د یوه موږک په حکم دي، دا د ټولو علماوو په اتفاق دی. او که دوه پیشوګانې ولویږي، نو ټولې اوبه به ایستل کېږي، دا هم د ټولو په اتفاق.

او هر څاروی چې د موږک او پیشو ترمنځ اندازه ولري، هغه به د موږک په حکم وي، او هر هغه چې د پیشو او سپي ترمنځ وي، د پیشو په حکم دی، او همداسې به تل د کوچني (کم ضرر لرونکي) په حکم وي.

---

[1] - **فقهي مسئله:** که چیرته په څاه (کوهي) کې پیشو ولیده او مړه شوه نو بیا به له څلوېښتو څخه تر شپیتو بوکو(ډولچو) پورې وباسل شي او که چیرته سپی په کې ولویږي او مړ شي نو د څاه(کوهي) څخه به ټولې اوبه ویستل کیږي. اختلاف د حیوان د طبع او څښاک پاتې شونو (سؤر) د طهارت یا نجاست له امله دی، چې د څاه د اوبو د نجاست یا طهارت پر حکم اثر کوي. (الهدایة في شرح بدایة المبتدي ۱ ص ۲۵).

وَلَوْ أَنَّ هِرَّةً أَخَذَتْ فَأْرَةً فَوَقَعَتَا جَمِيعًا فِي الْبِئْرِ إنْ كَانَتْ الْهِرَّةُ حَيَّةً وَالْفَأْرَةُ مَيِّتَةً نُزِحَ عِشْرُونَ، وَإِنْ كَانَتَا مَيِّتَتَيْنِ أَجْزَأَهُمْ نَزْحُ أَرْبَعِينَ وَيَدْخُلُ الْأَقَلُّ فِي الْأَكْثَرِ، وَإِنْ كَانَتَا حَيَّتَيْنِ أُخْرِجَتَا وَلَا يُنْزَحُ شَيْءٌ، وَإِنْ كَانَتْ الْفَأْرَةُ مَجْرُوحَةً أَوْ بَالَتْ نُزِحَ جَمِيعُ الْمَاءِ وَهَلْ تَطْهُرُ الْبِئْرُ بِالدَّلْوِ الْأَخِيرِ إذَا انْفَصَلَ عَنْ الْمَاءِ أَوْ حَتَّى يَتَنَحَّى عَنْ رَأْسِ الْبِئْرِ فَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ حَتَّى يَتَنَحَّى عَنْ رَأْسِ الْبِئْرِ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ بِالِانْفِصَالِ عَنْ الْمَاءِ وَفَائِدَتُهُ فِيمَا إذَا أَخَذَ مِنْ مَاءِ الْبِئْرِ بَعْدَ الِانْفِصَالِ مِنْ الْمَاءِ قَبْلَ أَنْ يَتَنَحَّى عَنْ رَأْسِ الْبِئْرِ فَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ نَجِسٌ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ طَاهِرٌ، وَلَوْ نَضَبَ مَاءُ الْبِئْرِ وَجَفَّتْ بَعْدَ وُقُوعِ الْفَأْرَةِ أَوْ غَيْرِهَا قَبْلَ النَّزْحِ ثُمَّ عَادَ لَمْ تَطْهُرْ إلَّا بِالنَّزْحِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ تَطْهُرُ بِالْجَفَافِ حَتَّى لَوْ صَلَّى رَجُلٌ فِي قَعْرِهَا جَازَتْ صَلَاتُهُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ خِلَافًا لِأَبِي يُوسُفَ،

که یوه پیشو موږک ونیسي او دواړه یو ځای څاه ته ولویږي:که پیشو ژوندۍ وي او موږک مړ، نو شل دلوه اوبه به ایستل کیږي. که دواړه مړې وي، نو څلوېښت دلوه به ایستل کیږي، او لږ شمېر د ډېرو په منځ کې داخل دی.

که دواړه ژوندۍ وي، یوازې به راویستل شي، او هیڅ اوبه به نه ایستل کیږي.

که موږک زخمي وي یا یې ادرار کړی وي، نو ټولې اوبه به ایستل کیږي.

د وروستي دلوه (ډول) په اړه اختلاف:که څوک د اوبو له جلا کېدو وروسته اوبه واخلي، خو لا هم دلو د څاه له خولې نه دی پورته شوی، نو: امام ابو یوسف وايي: دا اوبه ناپاکې دي، ځکه دلو لا نه دی لیرې شوی.امام محمد وايي: دا اوبه پاکې دي، ځکه له اوبو نه جلا شوی دی.

که د څاه اوبه وچې شي (نضب): که موږک یا بل نجاست پکې ولویږي، او له نزح (اوبه ایستلو) مخکې وچ شي، بیا راشي:امام ابو یوسف وايي: پاکې نه دي، تر څو چې د نجاست له کبله ټاکل شوې اندازه اوبه و نه ایستل شي.امام محمد وايي: یوازې وچېدل کفایت کوي، او پاکې دي؛ حتی که څوک په هغې کې لمونځ وکړي، صحیح دی.

وَلَوْ نَضَبَ الْمَاءُ وَلَمْ يَجِفَّ أَسْفَلُهَا حَتَّى عَاوَدَهَا الْمَاءُ اخْتَلَفَ الْمَشَايِخُ فِيهِ عَلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ لَا بُدَّ مِنْ النَّزْحِ.

قَالَ فِي الصِّحَاحِ نَضَبَ الْمَاءُ أَيْ غَارَ فِي الْأَرْضِ، وَلَوْ وَجَبَ فِي الْبِئْرِ نَزْحُ عِشْرِينَ فَنُزِحَ عَشْرٌ وَنَفِدَ الْمَاءُ وَنَبَعَ غَيْرُهُ بَعْدَ ذَلِكَ لَزِمَهُمْ عَشَرَةٌ أُخْرَى تَتْمِيمًا لِلْوَظِيفَةِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ.

«وَهَلْ تُشْتَرَطُ الْمُتَابَعَةُ فِي النَّزْحِ أَمْ لَا عِنْدَنَا لَا يُشْتَرَطُ وَعِنْدَ الْحَسَنِ بْنِ زِيَادٍ يُشْتَرَطُ

وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَا يُحْتَاجُ إلَى نَزْحِ شَيْءٍ آخَرَ؛ لِأَنَّهُ لَا يَكُونُ أَشَدَّ حَالًا مِنْ الْكَلْبِ كَذَا فِي الْفَتَاوَى»

که اوبه وچې شي، خو تل نه شي (یعنې لاندې خیشت پاتې وي):بیا پکې اوبه راشي، نو د علماوو ترمنځ اختلاف دی، خو صحیح قول دا دی چې:باید بیا هم نزح وشي (اوبه ویستل شي) – دا د امام محمد په قول.که په څاه کې شل دلوه ایستل لازم وي، خو لس دلوه ایستل شي، او اوبه پای ته ورسي، بیا نوې اوبه راشي:امام ابو یوسف رحمه الله وایي: نورې لس دلوه هم ایستل ضروري دي، تر څو معینه اندازه یې پوره شي. امام محمد رحمه الله وایي: نه، نور نزح نه پکار؛ ځکه دا حالت د سپي له حالت نه بدتر نه دی.

آیا د اوبو ویستلو کې دوام (متابعت) شرط دی؟

زمونږ په مذهب کې شرط نه دی، یعنې کولای شي وقفه راولي. حسن بن زیاد رحمه الله وایي: شرط دی [1]، باید متواتر (په دوام) وي.

خو امام محمد رحمه الله ویلي: د نورو اوبو ایستل اړین نه دي، تر څو دا په څاه کې د سپي د پرېوتو څخه هم شدید نه شي، (او که دا واجب وگرځو نو دا به د سپي له حکم څخه هم سخت شي) همداسې په فتاوی کې راغلي.

[1] - نوم یې حسن بن زیاد، تخلص یې اللؤلؤي الکوفي و، قاضي،فقیه او په حنفي فقه کې صاحب د رایې و، په (۱۹۴هـــ) کال کې د حفص بن غیاث په ځای قاضي شـو او وروسـته یې اسـتعفاء ورکړه، احمد بن عبدالحمید الحارثي یې په اړه وایي چې: چې دده په شـان مې د لوړو اخلاقو څښـتن نده لیدلی او په (۲۰۴هـ) کال کې وفات شو. (سیر اعلام النبلاء للذهبي ج ۹ ص ۵۴۴).

(قَوْلُهُ: بِحَسَبِ كُبْرِ الْحَيَوَانِ وَصِغَرِهِ إلَى آخِرِهِ) الْكُبْرُ بِضَمِّ الْكَافِ وَإِسْكَانِ الْبَاءِ لِلْجُثَّةِ وَكَذَا الصِّغَرُ بِضَمِّ الصَّادِ وَتَسْكِينِ الْغَيْنِ وَأَمَّا بِكَسْرِ الْكَافِ وَفَتْحِ الْبَاءِ وَبِكَسْرِ الصَّادِ وَفَتْحِ الْغَيْنِ فَلِلسِّنِّ وَمَعْنَى الْمَسْأَلَةِ إذَا كَانَ الْوَاقِعُ كَبِيراً أَوْ الْبِئْرُ كَبِيرَةً فَالْعَشَرَةُ مُسْتَحَبَّةٌ، وَإِنْ كَانَا صَغِيرَيْنِ فَالِاسْتِحْبَابُ دُونَ ذَلِكَ وَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا صَغِيراً وَالْآخَرُ كَبِيراً فَخَمْسٌ مُسْتَحَبَّةٌ وَخَمْسٌ دُونَهَا فِي الِاسْتِحْبَابِ.

(قَوْلُهُ: وَإِنْ مَاتَتْ فِيهَا حَمَامَةٌ أَوْ دَجَاجَةٌ أَوْ سِنَّوْرٌ نُزِحَ مِنْهَا مَا بَيْنَ أَرْبَعِينَ دَلْوٍ إلَى سِتِّينَ) إضْعَافًا لِلْوُجُوبِ وَالِاسْتِحْبَابِ فِي الْفَأْرَةِ.

وَفِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ خَمْسُونَ دَلْوًا وَهُوَ الْأَظْهَرُ إضْعَافًا لِلْوُجُوبِ دُونَ الِاسْتِحْبَابِ الدَّجَاجَةُ بِفَتْحِ الدَّالِ عَلَى الْأَفْصَحِ وَيَجُوزُ كَسْرُهَا وَهُوَ شَاذٌّ وَأَمَّا ضَمُّهَا فَخَطَأٌ وَفِي السِّنَّوْرَيْنِ وَالدَّجَاجَتَيْنِ وَالْحَمَامَتَيْنِ يُنْزَحُ كُلُّ الْمَاءِ.

دا قول: (د حيوان د لويوالي او کوچنيوالي په اساس): "الْكُبْرُ" په ضمه د کاف او سکون د باء سره د وجود د لويوالي په معنی دی، او همدارنگه "الصُغْرُ" په ضمه د صاد او سکون د غين سره د وجود د کوچني والي په معنی دی. خو که "الْكبرُ" په کسره د کاف او فتحه د باء سره او "الصغَرُ" په کسره د صاد او فتحه د غين سره وويل شي، نو د عمر او کلونو په معنی دي. د مسئلې معنی دا ده چې که په څاه کې لوېدلی شی لوی وي يا څاه خپله لويه وي، نو لس ډولچې يې ويستل مستحب دي. که دواړه کوچني وي، نو د دې نه لږ مستحب دي. او که يو له دې څخه کوچنی او بل لوی وي، نو پنځه ډولچې مستحب دي او نورې پنځه د استحباب په درجه کې دي.

دا قول: (که په څاه کې کوتره، چرگه، يا پيشو مړه شي، له څاه څخه بايد د څلوېښتو تر شپېتو ډولچو (بوکو) پورې اوبه ايستل کيږي): د وجوب او استحباب په اساس د موږک لپاره ټاکل شوي حد ته زياتوالی ورکړل شوی دی.

په جامع الصغير کې راغلي چې پنځوس ډولچې اوبه به وباسي، او دا څرگنده رأيه ده، چې يوازې د وجوب په اساس زياتوالی دی، نه د استحباب په اساس.

دجاجه (چرگه) په فتحه د دال ويل په فصاحت د کلام کې غوره دی، خو په کسره يې ويل هم جواز لري، که څه هم دا نادره ده. او په ضمه دال ويل تېروتنه گڼل کيږي.

که په يوه څاه کې دوه پيشوگانې، دوه چرگې، يا دوه کوترې مړې شي، د ټولو اوبو ايستل واجب دي.

(قَوْلُهُ: فَإِنْ مَاتَ فِيهَا كَلْبٌ أَوْ شَاةٌ أَوْ دَابَّةٌ أَوْ آدَمِيٌّ نُزِحَ جَمِيعُ مَائِهَا) مَوْتُ الْكَلْبِ لَيْسَ بِشَرْطٍ حَتَّى لَوْ خَرَجَ حَيًّا يُنْزَحُ جَمِيعُ الْمَاءِ وَكَذَا كُلُّ مَنْ سُؤْرُهُ نَجِسٌ أَوْ مَشْكُوكٌ فِيهِ يَجِبُ نَزْحُ الْكُلِّ وَإِنْ خَرَجَ حَيًّا وَمَنْ سُؤْرُهُ مَكْرُوهٌ إذَا خَرَجَ حَيًّا فَالْمَاءُ مَكْرُوهٌ يُنْزَحُ مِنْهُ عَشْرُ دِلَاءٍ وَالشَّاةُ إذَا خَرَجَتْ حَيَّةً وَلَمْ تَكُنْ هَارِبَةً مِنْ السَّبُعِ فَالْمَاءُ طَاهِرٌ وَإِنْ كَانَتْ هَارِبَةً يُنْزَحُ كُلُّ الْمَاءِ عِنْدَهُمَا خِلَافًا لِمُحَمَّدٍ

(قَوْلُهُ: وَعَدَدُ الدِّلَاءِ يُعْتَبَرُ بِالدَّلْوِ الْوَسَطِ الْمُسْتَعْمَلِ لِلْآبَارِ) وَالْمُعْتَبَرُ فِي كُلِّ بِئْرٍ بِدَلْوِهَا فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهَا دَلْوٌ يُتَّخَذُ لَهَا دَلْوٌ يَسَعُ صَاعًا

(قَوْلُهُ: فَإِنْ نُزِحَ مِنْهَا بِدَلْوٍ عَظِيمٍ قَدْرُ مَا يَسَعُ مِنْ الدَّلْوِ الْوَسَطِ وَاحْتُسِبَ بِهِ جَازَ) لِحُصُولِ الْمَقْصُودِ مَعَ قِلَّةِ التَّقَاطُرِ.

دا قول: (که چیرې په څاه کې سپی، پسه، څاروی یا انسان مړ شي، نو ټولې اوبه یې باید وباسل شي): د سپي مړینه شرط نه ده، تردې چې که سپی ژوندی وباسل شي له څاه څخه، ټولې اوبه باید ویستل شي. او همدا ډول هر موجود چې د هغه د څښاک پاتې شونې نجس وي یا په پاتې شونې یې مشکوک وي، له څاه څخه باید ټولې اوبه ویستل شي، حتی که هغه ژوندی له څاه څخه هم ویستل شي. لکن هغه موجودات چې د څښلو پاتې شونې یې مکروه وي،که چیرې ژوندی له څاه څخه ویستل شي،اوبه مکروه کوي او باید لس ډولچې له څاه څخه ویستل شي.

که چېرې مېږه ژوندی له څاه څخه ویستل شي او د وحشي حیوان څخه نوي تښتېدلې، نو اوبه د څاه پاکې دي، خو که تښتېدلې وي، د امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف رحمهما الله په نزد ټولې اوبه یې باید ویستل شي،او امام محمد رحمه الله وایي چې اوبه یې پاکې دي.

دا قول: (د ډولچو (بوکو) شمېر د هغو متوسطو ډولچو (بوکو) په اساس په پام کې نیول کېږي چې د څاګانو لپاره کارول کېږي): په هرې څاه کې د هغې څاه په ډولچې (بوکه) حساب کېږي، که هغه څاه ډولچه ونه لري، نو ورته یوه ډولچه (بوکه) برابره کېږي چې د یوه صاع په اندازه اوبه ونیسي.

او دا قول یې چې وایي:(که له څاه څخه په یوه لویه ډولچې (بوکه) کې دومره اوبه ویستل شي چې د منځنۍ ډولچې (بوکې) د حساب په اندازه وي او د همدې پر بنسټ حساب وشي، نو دا جایز دي): د هدف د ترلاسه کولو لپاره په کمو قطراطو سره.

وَقَالَ زُفَرُ وَالْحَسَنُ بْنُ زِيَادٍ لَا يَجُوزُ؛ لِأَنَّ عِنْدَ تَكْرَارِ النَّزْحِ يَنْبُعُ الْمَاءُ مِنْ أَسْفَلِهَا وَيُؤْخَذُ مِنْ أَعْلَاهَا فَيَكُونُ فِي حُكْمِ الْجَارِي وَهَذَا لَا يَحْصُلُ بِنَزْحِ الدَّلْوِ الْعَظِيمِ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ قُلْنَا مَعْنَى الْجَرَيَانِ سَاقِطٌ؛ لِأَنَّهُ يَحْصُلُ بِدُونِ النَّزْحِ.

(قَوْلُهُ، وَإِنْ انْتَفَخَ الْحَيَوَانُ فِيهَا أَوْ تَفَسَّخَ نُزِحَ جَمِيعُ مَائِهَا صَغِيراً كَانَ الْحَيَوَانُ أَوْ كَبِيراً) وَكَذَا إذَا تَمَعَّطَ شَعْرُهُ الانْتِفَاخُ أَنْ تَتَلَاشَى أَعْضَاؤُهُ وَالتَّفَسُّخُ أَنْ تَتَفَرَّقَ عُضْوًا عُضْوًا وَلَوْ قُطِعَ ذَنَبُ الْفَأْرَةِ وَأُلْقِيَ فِي الْبِئْرِ نُزِحَ جَمِيعُ الْمَاءِ؛ لِأَنَّهُ لَا يَخْلُو مِنْ رُطُوبَةٍ فَإِنْ جُعِلَ عَلَى مَوْضِعِ الْقَطْعِ شَمْعَةٌ لَمْ يَجِبْ إلَّا مَا فِي الْفَأْرَةِ.

(قَوْلُهُ: وَإِنْ كَانَتْ الْبِئْرُ مَعِينًا لَا تُنْزَحُ وَقَدْ وَجَبَ نَزْحُ مَا فِيهَا أَخْرَجُوا مِقْدَارَ مَا كَانَ فِيهَا مِنْ الْمَاءِ) وَفِي مَعْرِفَةِ ذَلِكَ سِتَّةُ أَوْجُهٍ: وَجْهَانِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ أَحَدُهُمَا يُؤْخَذُ بِقَوْلِ أَصْحَابِ الْبِئْرِ إذَا قَالُوا بَعْدَ النَّزْحِ مَا كَانَ فِي بِئْرِنَا أَكْثَرُ مِنْ هَذَا

امام زفر رحمه الله او امام حسن بن زياد رحمه الله وايي چې دا جواز نلري، ځکه کله چې د اوبو د ويستلو کار په غټو ډولچو تکرار شي، اوبه له لاندې برخې څخه راوځي او له پورته څخه اخيستل کيږي، چې دا د جاري اوبو حکم لري. او دا هغه وخت نه ترلاسه کيږي که چيرې په لوی ډولچې يوازې يو يا دوه ځله اوبه کش شي. موږ وايو چې د جاري اوبو حکم لغوه کېږي ځکه چې دا پرته له کشولو څخه هم ترلاسه کيږي.[1]

دا قول: (که حيوان په څاه کې ولوېږي او وروسته عضوې يې وپړسيږي يا غوښې يې ورېژيږي(عضوې يې يو له بل څخه جدا شي)، نو ټولې اوبه بايد له څاه څخه ويستل شي، که هغه حيوان کوچنی وي يا لوی): همدارنگه، که د هغه حيوان ويښتان ورېژيږي، انتفاخ دا معنی لري چې د هغه غړي وپړسيږي او تفسخ دا معنی لري چې غړي يې يو يو جدا شي. که د يوه موږک لکۍ پرې شي او په څاه کې وغورځول شي، ټولې اوبه بايد ويستل شي، ځکه چې دا له رطوبت څخه خالي نه ده. که چيرې د پرې شوي ځای پر سر شمعه يا موم کېښودل شي، نو يوازې د هغه رطوبت به له منځه يووړل شي چې په موږک کې موجود ده.

دا قول: (که چيرې څاه چينه لروکې (پرله پسې رواني) وي او د څاه د ټولو اوبو ايستل واجب وي، نو دومره اوبه به ترې وباسي څومره چې په څاه کې موجودې دي): په دې مسئله کې د اوبو د اندازې معلومولو لپاره شپږ طريقې شته، چې دوه طريقې يې د امام ابوحنيفه رحمه الله له نظره دي:

۱- لومړی دا چې د څاه مالکانو خبره قبوله شي، که هغوی د اوبو ايستلو وروسته ووايي چې زموږ په څاه کې تر دې ډېرې اوبه وې.

---

[1] - هغه څه چې مخالف لوری يې شرط گڼي، يعنې د اوبو بهېدل (جريان)، دا شرط اعتبار نه لري (سـاقط دی). ځکه چې: د څاه اوبه طبعاً له ښـکته پورته راځي، که نَزح وشي يا ونه شي؛ نو دا بهېدنه د نَزح له امله نه ده، بلکې د څاه فطري حالت دی. نو دا ويل سـم نه دي چې بايد حتماً نَزح په تکرار سره وشي تر څو د جاري اوبو حکم پيدا شي؛ اصل دا دی چې ناپاکې اوبه وايستل شي، که دا کار په يو يا دوو لويو ډلو سره هم وشي، نو مقصد پوره کېږي.

وَالثَّانِي يَنْزِلُ الْبِئْرَ رَجُلَانِ لَهُمَا مَعْرِفَةٌ بِأَمْرِ الْمَاءِ وَيَقُولَانِ بَعْدَ النَّزْحِ مَا كَانَ فِيهَا أَكْثَرُ مِنْ هَذَا وَهَذَا أَشْبَهُ بِالْفِقْهِ؛ لِأَنَّ اللَّهَ تَعَالَى اعْتَبَرَ قَوْلَ رَجُلَيْنِ فَقَالَ {يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِنْكُمْ} [المائدة: ٩٥] وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَجْهَانِ أَيْضًا أَحَدُهُمَا يُحْفَرُ حَفِيرَةٌ لِقَدْرِ طُولِ الْمَاءِ وَعَرْضِهِ وَعُمْقِهِ وَتُجَصَّصُ بِحَيْثُ لَا يَنْشَفُ وَيُصَبُّ فِيهَا مَا يُنْزَحُ مِنْهَا حَتَّى تَمْتَلِئَ، وَالثَّانِي يُجْعَلُ فِيهَا قَصَبَةٌ وَيُجْعَلُ لِمَبْلَغِ الْمَاءِ عَلَامَةٌ فَيُنْزَحُ مِنْهَا عِشْرُونَ مَثَلًا ثُمَّ تُعَادُ الْقَصَبَةُ فَيُنْظَرُ كَمْ نَقَصَ فَيُنْزَحُ لِكُلِّ قَدْرٍ مِنْ ذَلِكَ عِشْرُونَ وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ وَجْهَانِ أَحَدُهُمَا مَا فِي الْمَتْنِ وَالثَّانِي مَا بَيْنَ مِائَتَيْنِ وَخَمْسِينَ إلَى ثَلَثِمِائَةٍ وَكَأَنَّهُ بَنَى جَوَابَهُ عَلَى مَا شَاهَدَ فِي آبَارِ بَلَدِهِ وَفَائِدَةُ الْخِلَافِ بَيْنَ مَا فِي الْمَتْنِ وَالْوَجْهِ الثَّانِي أَنَّهُ يُكْتَفَى بِنَزْحِ مِائَتَيْنِ وَعِشْرِينَ عَلَى مَا فِي الْمَتْنِ وَلَا يُكْتَفَى بِهِ عَلَى الْوَجْهِ الثَّانِي.»

٢- دويمه طريقه دا ده چې دوه داسې کسان چې د اوبو په اندازه پوهه لري، څاه ته کښته شي او د اوبو ايستلو وروسته ووايي چې په دې څاه کې تر دې زياتې اوبه وې. دا طريقه د فقهې له مخې ډېر مناسبه ده، ځکه الله تعالى د دوو عادل کسانو شاهدي ته اعتبار ورکړی ده، لکه څنګه چې فرمايي:{يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِنْكُمْ}[1].

د امام ابويوسف رحمه الله له نظره هم دوه طريقې دي:

١- لومړی دا چې څاه د اوبو اوږدوالي، پلنوالي او ژوروالي ته په پام سره يوه کنده د باندې د څاه وکيندل شي،او هغه د ګچ يا بلې ورته مادې په واسطه داسې پوښل شي چې اوبه جذب نه کړي، او بيا د څاه ټولې اوبه په دې کنده کې واچول شي تر څو ډکه شي.

٢- دويمه طريقه دا ده چې په څاه کې اوبه د يوه قصبه يا نل په واسطه اندازه شي. بيا شل ډوله (ډولچې/بوکې) اوبه ترې وايستل شي،او قصبه يا نل بيا په اوبو کې ښکته شي او وکتل شي چې څومره کمي په اوبو کې راغلې ده. د همدې کمی مطابق بيا شل ډوله(ډولچې/بوکې) اوبه اېستل کيږي.

د امام محمد رحمه الله له نظره هم دوه طريقې دي:

١- يوه هغه چې په متن کې ذکر شوې ده.

٢- بله دا چې په څاه کې د اوبو اندازه (٢٠٠-٥٠٠)له دوه سوو تر پنځوسو ډوله (ډولچې/بوکې) پورې وي. دا نظر يې پر هغو څاګانو د مشاداتو پر اساس ده چې هغه په خپل ښار کې ليدلي دي.

په متن کې د ذکر شوې او دويمې طريقې تر منځ توپير دا دی چې د متن له مخې د (٢٢٠) ډوله (ډولچې/بوکې) اوبو ايستلو سره اکتفاء کېدای شي، خو د دويمې طريقې له مخې دا اندازه بسنه نه کوي.

---

[1] - قرآن الكريم، سورة المائدة، آيت نمبر:٩٥.

(قَوْلُهُ: وَإِذَا وُجِدَ فِي الْبِئْرِ فَأْرَةٌ مَيْتَةٌ أَوْ غَيْرُهَا إلَى آخِرِهِ) مَيْتَةٌ بِالتَّخْفِيفِ؛ لِأَنَّ بِالتَّشْدِيدِ يُطْلَقُ عَلَى الْحَيِّ قَالَ اللَّهُ {إِنَّكَ مَيِّتٌ} [الزمر: ٣٠] أَيْ سَتَمُوتُ وَمَا قَدْ مَاتَ يُقَالُ لَهُ مَيْتٌ بِالتَّخْفِيفِ قَالَ الشَّاعِرُ:

وَمَنْ يَكُ ذَا رُوحٍ فَذَلِكَ مَيِّتٌ ... وَمَا الْمَيْتُ إلَّا مَنْ إلَى الْقَبْرِ يُحْمَلُ

(قَوْلُهُ: إذَا كَانُوا تَوَضَّئُوا مِنْهَا) أَيْ وَهُمْ مُحْدِثُونَ

(قَوْلُهُ: وَغَسَلُوا كُلَّ شَيْءٍ أَصَابَهُ مَاؤُهَا) أَيْ غَسَلُوا ثِيَابَهُمْ مِنْ نَجَاسَةٍ، أَمَّا إذَا تَوَضَّئُوا مِنْهَا وَهُمْ مُتَوَضِّئُونَ أَوْ غَسَلُوا ثِيَابَهُمْ مِنْ غَيْرِ نَجَاسَةٍ فَإِنَّهُمْ لَا يُعِيدُونَ إجْمَاعًا كَذَا أَفَادَ شَيْخُنَا مُوَفَّقُ الدِّينِ رحمه الله وَالْمَعْنَى فِيهِ أَنَّ الْمَارَّ صَارَ مَشْكُوكًا فِي طَهَارَتِهِ وَنَجَاسَتِهِ فَإِذَا كَانُوا مُحْدِثِينَ بِيَقِينٍ لَمْ يَزُلْ حَدَثُهُمْ بِمَاءٍ مَشْكُوكٍ فِيهِ وَإِذَا كَانُوا مُتَوَضِّئِينَ لَا تَبْطُلُ صَلَاتُهُمْ بِمَاءٍ مَشْكُوكٍ فِي نَجَاسَتِهِ؛ لِأَنَّ الْيَقِينَ لَا يَرْتَفِعُ بِالشَّكِّ

دا قول: (که په څاه کې مړ موږک یا بل څه وموندل شي): "مَيْتَةٌ" په غړوندي د"ي"باندې ده، ځکه په شد سره دا کلمه د ژوندي لپاره کارول کېږي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: ژباړه:( یعنې ته به مړ شې). هغه څه چې مړ شوی وي، هغه ته په غړوندي د"ي" سره "میت" ویل کېږي. لکه شاعر ویلي دي:ژباړه:هر څوک چې روح لري، هغه مړ دی (په راتلونکي کې به مړ شي)، او ریښتینی مړ هغه دی چې قبر ته وړل کېږي.

دا قول: (که هغوی له دې څخه اودس کړی وي): یعنې دوی په داسې حال کې چې بې اودسه وو.

دا قول: (او هر هغه شی به وینځي چې د هغې څاه اوبه پرې لګېدلي وي): یعنې، هغوی خپل کالي له ناپاکۍ څخه پرېمينځي. خو که هغوی په داسې حال کې اودس وکړي چې لا دمخه په اودس کې وي، یا خپل کالي له داسې اوبو څخه ومينځي چې ناپاکه نه وي، نو د اجماع په اتفاق سره به هغوی اعاده د لمانځه نه کوي. او دا خبره شیخ موفق الدين رحمه الله [1] کړې ده.

د دې مطلب دا دی چې هغه شخص چې شک کوونکی په طهارت او ناپاکي کې وي، نو که هغه په یقین سره بې اودسه وي، د شکمنو اوبو په واسطه به یې حدث (بې اودسي) نه ختمېږي. او که هغه په اودس کې وي، نو د داسې شکمنو اوبو له امله چې ناپاکه ګڼل شوې وي، د هغوی لمونځ نه باطلېږي؛ ځکه یقین په شک سره نه زائلېږي.[2]

[1] - نصر الله بن عين الدولة بن عِيسَى الْعَلامَة أَبُو الْفَتْح موفق الدّين او په ٦۴۴ هـــ کال کې وفات شوی ده. (الجواهر المضية في طبقات الحنفية ج ٢ ص ١٩٩).

[2] - فقهي قاعده: ( ما ثبت بيقين لا يرتفع بالشــك وما ثبت بيقين لا يرتفع إلا بيقين ) دا قاعده دا معنی لري چې: یقین هغه خبره ده چې په پوره باور ثابته وي، او شــک هغه دی چې پکې تردد وي. په فقه کې اصــل دا دی چې یقین په شــک سره نه له منځه ځي؛ ځکه یقین قوي دی او شــک کمزوری. نو هر هغه حالت چې په یقین ثابت شوی وي، یواځې د شک په پیدا کېدو نه بدلېږي، بلکې یقین یواځې د بل یقین په وسیله ختمېږي. یعنې تر څو یقیني دلیل پیدا نه شي، پخوانی یقین پر خپل حال پاتې وي. (خواجه أمين،علي حيدر خواجه أمين أفندي (المتوفى: ١٣٥٣هـــ)، درر الحكام في شرح مجلة الأحكام(الناشر: دار الجيل، الطبعة: الأولى، ١۴١١هـ - ١٩٩١م) ج ١ ص ١١).

وَإِنْ وَجَدَ فِي ثَوْبِهِ نَجَاسَةً مُغَلَّظَةً أَكْثَرَ مِنْ قَدْرِ الدِّرْهَمِ وَلَمْ يَعْلَمْ بِالْإِصَابَةِ لَمْ يُعِدْ شَيْئًا بِالْإِجْمَاعِ وَهُوَ الْأَصَحُّ؛ لِأَنَّ الثَّوْبَ بِمَرْأَى بَصَرِهِ فَلَا بُدَّ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ هُوَ أَوْ غَيْرُهُ فَإِذَا لَمْ يَطَّلِعْ عَلَيْهَا عَلِمَ أَنَّهَا أَصَابَتْهُ لِلْحَالِ بِخِلَافِ الْبِئْرِ؛ لِأَنَّهَا غَائِبَةٌ عَنْ بَصَرِهِ، وَلَوْ وَجَدَ فِي ثَوْبِهِ مَنِيًّا أَعَادَ الصَّلَاةَ مِنْ آخِرِ نَوْمَةٍ نَامَهَا فِيهِ.

(قَوْلُهُ: وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ لَيْسَ عَلَيْهِمْ إعَادَةُ شَيْءٍ حَتَّى يَتَحَقَّقُوا مَتَى وَقَعَتْ) وَكَانَ أَبُو يُوسُفَ أَوَّلًا يَقُولُ بِقَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ حَتَّى رَأَى طَائِرًا فِي مِنْقَارِهِ فَأْرَةٌ مَيْتَةٌ أَلْقَاهَا فِي بِئْرٍ فَرَجَعَ إلَى قَوْلِ مُحَمَّدٍ؛ لِأَنَّهُمْ عَلَى يَقِينٍ مِنْ طَهَارَةِ الْبِئْرِ فِيمَا مَضَى وَفِي شَكٍّ مِنْ نَجَاسَتِهَا الْآنَ فَلَا يَزُولُ الْيَقِينُ بِالشَّكِّ، وَأَبُو حَنِيفَةَ يَقُولُ قَدْ زَالَ هَذَا الشَّكُّ بِيَقِينِ النَّجَاسَةِ فَوَجَبَ اعْتِبَارُهُ وَلِأَنَّ لِلْمَوْتِ سَبَبًا ظَاهِرًا وَهُوَ الْوُقُوعُ فِي الْمَاءِ فَيُحَالُ بِالْمَوْتِ عَلَيْهِ وَعَدَمُ الِانْتِفَاخِ فِي الْمَاءِ دَلِيلُ قُرْبِ الْعَهْدِ فَقُدِّرَ بِيَوْمٍ وَلَيْلَةٍ وَالِانْتِفَاخُ دَلِيلُ التَّقَادُمِ فَقُدِّرَ بِالثَّلَاثِ أَلَا تَرَى أَنَّ مَنْ دُفِنَ قَبْلَ أَنْ يُصَلَّى عَلَيْهِ فَإِنَّهُ يُصَلَّى عَلَى قَبْرِهِ إلَى ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَلَا يُصَلَّى عَلَيْهِ بَعْدَ ذَلِكَ؛ لِأَنَّهُ يَتَفَسَّخُ.

که څوک په خپل لباس کې د درهم په اندازه یا له هغې ډېر شدید نجاست ومومي، خو د هغې د رسېدو په اړه علم ونه لري، نو د اجماع له مخې به یې هیڅ شی تکرار نه وي او دا تر ټولو صحیح نظر دی؛ ځکه چې لباس د هغه د سترګو په وړاندې دی او له دې پرته امکان نه لري چې هغه یا بل څوک پرې خبر نه شي. نو که پرې خبر نه وي، معلومه شوه چې نجاست په همدې وخت کې ور ورسېد، برعکس د څاه له حالت څخه، ځکه چې دا له نظر څخه غایب دی.او که څوک په خپل لباس کې منی ومومي، نو لمونځ به له هغه وخت څخه تکراروي چې په وروستي خوب یې پکې کړي وي.

دا قول(امام ابو یوسف او امام محمد رحمهما الله ویلې دي چې پر هغوی هېڅ شی تکرارول واجب نه دي تر هغه چې په یقین سره ویوهېږي چې نجاست کله واقع شوی دی): امام ابو یوسف په پیل کې د امام ابو حنیفه رحمه الله په نظر و، تر دې چې یې یو مرغه ولید چې د خپل چوچ په خوله کې مړه موږک درلود او هغه یې په یوه څاه کې وغورځاوه. بیا یې د امام محمد رحمه الله نظر ته رجوع وکړه؛ ځکه هغوی په تېرو وختونو کې د څاه د پاکۍ په اړه یقین درلود، او اوس د هغې د ناپاکۍ په اړه شکمن دي. نو یقین د شک له امله نه ختمېږي.

خو امام ابو حنیفه رحمه الله وایي چې دا شک د ناپاکۍ په یقین سره ختم شوی، نو باید هغه په پام کې ونیول شي. ځکه مړه کېدل یو ښکاره لامل لري، او هغه په اوبو کې لوېدل دي. نو د مړه کېدو سبب په همدې پورې تړل کېږي. او که په اوبو کې د مړي بدن انتفاخ (پړسوب) نه وي، نو دا د دې نښه ده چې د مړینې وخت نږدې دی، او دا د یوه ورځ او یوې شپې په اندازه اټکل کېږي. خو که پړسوب موجود وي، نو دا د ډېر وخت د تېریدو نښه ده او درې ورځې یې اټکل کېږي.

آیا نه وینئ چې که څوک د جنازې لمونځ کولو وړاندې ښخ کړل شي، نو تر درې ورځو پورې د هغه پر قبر لمونځ ادا کېږي، خو له درې ورځو وروسته نه ادا کېږي؛ ځکه چې بدن تر هغه وخته فاسدیږي.

(قَوْلُهُ: وَسُؤْرُ الْآدَمِيِّ وَمَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ طَاهِرٌ) السُّؤْرُ عَلَى خَمْسَةِ أَنْوَاعٍ سُؤْرٌ طَاهِرٌ بِالاتِّفَاقِ وَسُؤْرٌ نَجِسٌ بِالاتِّفَاقِ وَسُؤْرٌ مُخْتَلَفٌ فِيهِ وَسُؤْرٌ مَكْرُوهٌ وَسُؤْرٌ مَشْكُوكٌ فِيهِ أَمَّا الطَّاهِرُ فَسُؤْرُ الْآدَمِيِّ وَمَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ وَيَدْخُلُ فِيهِ الْجُنُبُ وَالْحَائِضُ وَالنُّفَسَاءُ وَالْكَافِرُ إلَّا سُؤْرَ شَارِبِ الْخَمْرِ وَمَنْ دَمِيَ فَاهُ إذَا شَرِبَ عَلَى فَوْرِهِمَا فَإِنَّهُ نَجِسٌ فَإِنْ ابْتَلَعَ رِيقَهُ مِرَارًا طَهُرَ فَمُهُ عَلَى الصَّحِيحِ.

وَكَذَا سُؤْرُ مَأْكُولِ اللَّحْمِ طَاهِرٌ كَلَبَنِهِ إلَّا الْإِبِلَ الْجَلَّالَةَ وَهِيَ تَأْكُلُ الْعَذِرَةَ فَإِنَّ سُؤْرَهَا مَكْرُوهٌ فَإِنْ كَانَتْ تُخْلَطُ وَأَكْثَرُ عَلَفِهَا عَلَفُ الدَّوَابِّ لَا يُكْرَهُ، وَأَمَّا النَّجِسُ فَسُؤْرُ الْكَلْبِ وَالْخِنْزِيرِ إلَّا أَنَّ سُؤْرَ الْكَلْبِ خِلَافُ مَالِكٍ فَإِنَّهُ عِنْدَهُ طَاهِرٌ وَيُغْسَلُ الْإِنَاءُ مِنْهُ سَبْعًا عِنْدَهُ عَلَى طَرِيقِ الْعِبَادَةِ لَا عَلَى سَبِيلِ النَّجَاسَةِ.

## د سؤر (د پاتې شونو خوړو او اوبو) حکمونه

دا قول: (د انسان او د هغو حیواناتو پاتې شونې(هغه څه دي چې د خوراک یا څښاک څخه پاتې شي)چې غوښه یې خوړل کېږي، پاکې دي): د پاتې شونو (هغه څه دي چې د خوراک یا څښاک څخه پاتې شي) پنځه ډولونه دي:

۱- بالاتفاق سره پاک پاتې شونې: د انسان او د هغو حیواناتو پاتې شونې چې غوښه یې خوړل کېږي، پاک دي. دلته جنب، حایضه، نفاسه ښځې، او کافر اشخاص شامل دي، پرته له هغو کسانو چې شراب څښلي وي یا د هغوی خوله د وینې له امله ناپاکه شوې وي. که څوک په همدې حالت کې څښاک وکړي، د هغوی پاتې شونې ناپاکې ګڼل کېږي. خو که هغوی څو ځله خپله لاړې تېر کړي، نو د صحیح قول پر بنسټ یې خوله پاکیږي. د هغو حیواناتو پاتې شونې چې غوښه یې خوړل کېږي، هم پاکې دي، لکه د هغو شیدو غوندې.

استثنا: د جلاله اوښانو(یو ډول اوښان دي چې د مردارو او ناپاکو شیانو په خوړلو کې شهرت لري)پاتې شونې یې مکروه دي. هغه اوښ چې ډېر خوراک د وښو څخه کوي او لږ چټلي خوري، نو پاتې شونې یې مکروه نه ګڼل کېږي.

۲- بالاتفاق سره ناپاک پاتې شونې:د سپي او خنزیر پاتې شونې ناپاکې دي استثنا: د امام مالک رحمه الله د مذهب له نظره د سپي پاتې شونې پاکې دي[1]،لکن هغه کاسه او لوښه چې سپی پرې خوله ووهله، باید اوه ځله ومینځل شي،د عبادت په نیت، نه د نجاست د له منځه وړلو لپاره چې د سپي پاتې شونې نجسې دي.

[1] - **فقهي مسئله:** د احنافو سره امام شافعي او امام احمد رحمها الله په نزد هم د سپي پاتې شونې ناپاک دي او دلیل یې د ابوهریره رضي الله عنه څخه دا روایت شوی حدیث شریف ده چې ر سول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي ( طهور إناء أحدكم إذا ولغ فيه الكلب أن يغسله سبع مرات أولاهن بالتراب ). ژباړه: که ستا سو د چا په لو ښې کې سپي خوله ووهله، د هغه پاکوالی دا دی چې اووه ځله یې ووینځي، لومړی ځل به یې په خاوره سره وي او بل دلیل یې داده

(قَوْلُهُ: وَسُؤْرُ الْكَلْبِ وَالْخِنْزِيرِ وَسِبَاعِ الْبَهَائِمِ نَجِسٌ) قَدَّمَ الْكَلْبَ وَالْخِنْزِيرَ لِمُوَافَقَةِ الشَّافِعِيِّ لَنَا فِيهِمَا وَأَخَّرَ السِّبَاعَ لِمُخَالَفَتِهِ لَنَا فِيهَا وَسِبَاعُ الْبَهَائِمِ مَا يَصْطَادُ بِنَابِهِ كَالْأَسَدِ وَالذِّئْبِ وَالْفَهْدِ وَالنَّمِرِ وَالثَّعْلَبِ وَالْفِيلِ وَالضَّبُعِ وَأَشْبَاهِ ذَلِكَ، وَالسُّؤْرُ الْمُخْتَلَفُ فِيهِ هُوَ سُؤْرُ السِّبَاعِ فَعِنْدَنَا هُوَ نَجِسٌ وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ طَاهِرٌ لَنَا أَنَّهَا مُحَرَّمَةُ الْأَلْبَانِ وَاللَّحْمِ، وَيُمْكِنُ الِاحْتِرَازُ مِنْ سُؤْرِهَا فَكَانَ سُؤْرُهَا نَجِسًا كَسُؤْرِ الْكِلَابِ وَالْخَنَازِيرِ،

دا قول: (د سپي، خنزير او داړونکو وحشي ځناورو پاتې شونې نجسې دي): " سپی او خنزير وړاندې کړل شول(په ذکر کې) د دې لپاره چې امام شافعي په دې کې له موږ سره موافق دی، او بيا يې وحشي ځناور وروسته ذکر کړل، ځکه چې امام شافعي په دې کې له موږ سره مخالف دی [1].وحشي ځناور هغه دي چې په غاښونو ښکار کوي، لکه زمری، ليوه، نمر، پړانگ، گيدړه، فيل، گوډری(کفتار) او نور داسې ځناور.

خو د پاتې شونو (سؤر) په اړه اختلاف د وحشي ځناورو په پاتې شونو کې دی. زموږ په نزد دا ناپاک (نجس) دي، او د امام شافعي په نزد پاک دي. زموږ دليل دا دی چې د دوی غوښه او شيدې حرامې دي، او د دوی د پاتې شونو څخه ځان ساتل ممکن دی، نو ځکه د دوی پاتې شونې د سپي او خنزير د پاتې شونو په څېر نجسې دي.

---

چې سپی مردارې غوښې خورې، نو هر کله چې مردارې غوښې خوري نو پاتې شونې يې هم ناپاکې دي.

د امام مالک رحمه الله په نزد د سپي پاتې شونې پاک دي او دليل يې په دغه آيت شريف کې {فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ} [المائدة: ٤] چې کله د سپي په توسط نيول شوی ښکار حلال ده ، حالانکه د سپي په لاړو باندې ککړ شوی هم وي، نو پاتې شونې به يې څنگه ناپاک وي. (فقه العبادات – شافعي ج ١ ص ١٨٣). (بداية المجتهد ونهاية المقتصد ج ١ ص ٣٦). (المغني لابن قدامة ج ١ ص ٣٧).

[1] - **فقهي مسئله:** د امام شافعي او امام مالک رحمها الله په نزد د داړونکو حيواناتو پاتې شونې پاکې دي او دليل يې دا دوه حاديث شريف دي اول يې: عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «سُئِلَ: أَنَتَوَضَّأُ بِمَا أَفْضَلَتْ الْحُمُرُ؟ قَالَ: نَعَمْ وَبِمَا أَفْضَلَتْ السِّبَاعُ كُلُّهَا». دويم يې:(عَن إِسْحَاق بن عبد الله بن أبي طَلْحَة، عَن حميدة بنت عبيد بن رِفَاعَة، عَن كَبْشَة بنت كَعْب بن مَالك -وَكَانَت تَحت ابْن أبي قَتَادَة - " أَن أَبَا قَتَادَة دخل عَلَيْهَا، فَسَكَبت لَهُ وضُوءًا، فَجَاءَت هرة تشرب مِنْهُ، فأصغى لَهَا الْإِنَاء حَتَّى شربت، قَالَت: فرآني أنظر إِلَيْهِ، فَقَالَ: أَتَعْجَبِينَ يَا ابْنة أخي؟ فَقلت: نعم. فَقَالَ: إِن رَسُول الله [ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم ] قَالَ: إِنَّهَا لَيست بِنَجس، إِنَّهَا من الطوافين عَلَيْكُم والطوافات ").

او امام احمد رحمه الله په دې مسئله کې د امام ابوحنيفه رحمه الله سره يو شان نظر لري چې د داړونکو حيواناتو پاتې شونې نجسې دي او دليل يې أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سُئِلَ عَنْ الْمَاءِ، وَمَا يَنُوبُهُ مِنْ السِّبَاعِ؟ فَقَالَ: "إذَا بَلَغَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَنْجُسْ ". وَلَوْ كَانَتْ طَاهِرَةً لَمْ يَحُدَّهُ بِالْقُلَّتَيْنِ، وَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «فِي الْحُمُرِ يَوْمَ خَيْبَرَ: إنَّهَا رِجْسٌ» وَلِأَنَّهُ حَيَوَانٌ حَرُمَ أَكْلُهُ، لَا لِحُرْمَتِهِ، يُمْكِنُ التَّحَرُّزُ مِنْهُ غَالِبًا، أَشْبَهَ الْكَلْبَ؛ وَلِأَنَّ السِّبَاعَ وَالْجَوَارِحَ الْغَالِبُ عَلَيْهَا أَكْلُ الْمَيْتَاتِ وَالنَّجَاسَاتِ، فَتَنَجَّسُ أَفْوَاهُهَا، وَلَا يَتَحَقَّقُ وُجُودُ مُطَهِّرٍ لَهَا، فَيَنْبَغِي أَنْ يُقْضَى بِنَجَاسَتِهَا، كَالْكِلَابِ. (المجموع شرح المهذب ج ١ ص ١٧٢-١٧٣). (شرح التلقين ج ١ ص ٢٣٥). (المغني لابن قدامة ج ١ ص ٣٧).

وَأَمَّا قَوْلُهُ عليه السلام حِينَ «سُئِلَ عَنْ الْمَاءِ يَكُونُ فِي الْفَلَوَاتِ وَمَا يَنُوبُهُ مِنْ السِّبَاعِ وَالْكِلَابِ فَقَالَ لَهَا مَا أَخَذَتْ فِي بُطُونِهَا وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَنَا شَرَابٌ وَطَهُورٌ» فَهُوَ مَحْمُولٌ عَلَى الْمَاءِ الْكَثِيرِ أَلَا تَرَاهُ ذَكَرَ الْكِلَابَ وَسُؤْرُهَا نَجِسٌ بِالِاتِّفَاقِ.

قَالَ فِي النِّهَايَةِ ذَكَرَ مُحَمَّدٌ نَجَاسَةَ سُؤْرِ السِّبَاعِ وَلَمْ يُبَيِّنْ أَنَّهَا نَجَاسَةٌ غَلِيظَةٌ أَوْ خَفِيفَةٌ وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهَا غَلِيظَةٌ وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ خَفِيفَةٌ كَبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ وَأَمَّا السُّؤْرُ الْمَكْرُوهُ فَهُوَ سُؤْرُ الْهِرَّةِ وَالدَّجَاجَةِ الْمُخَلَّاةِ وَسَوَاكِنِ الْبُيُوتِ كَالْفَأْرَةِ وَالْحَيَّةِ وَسِبَاعِ الطَّيْرِ وَهِيَ الَّتِي لَا يُؤْكَلُ لَحْمُهَا كَالصَّقْرِ وَالْبَازِ وَالْعُقَابِ وَالْغُرَابِ الْأَسْوَدِ وَالْحَدَأَةِ وَأَشْبَاهِ ذَلِكَ.

(قَوْلُهُ: وَسُؤْرُ الْهِرَّةِ) أَمَّا كَرَاهَةُ سُؤْرِهَا فَهُوَ قَوْلُهُمَا وَعِنْدَ أَبِي يُوسُفَ لَيْسَ بِمَكْرُوهٍ وَهَلْ كَرَاهِيَتُهُ عِنْدَهُمَا كَرَاهَةُ تَحْرِيمٍ أَوْ تَنْزِيهٍ الصَّحِيحُ أَنَّهَا كَرَاهَةُ تَنْزِيهٍ.

خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه حدیث چې کله له هغه څخه پوښتنه وشوه په اړه د هغه اوبو چې په دښته کې وي او د وحشي ځناورو او سپیو لخوا ښبل کېږي، هغه وفرمایل: 'هغه څه چې دوی په خپلو خېټو کې واچول، هغه د هغوی لپاره دي، او هغه څه چې پاتې شول، زموږ لپاره دي د ښبلو او پاکي لپاره[1]'،دا حدیث د ډېرې اوبو په اړه تعبیرېږي. آیا نه ګورې چې په دې حدیث کې سپي ذکر شوي دي، په داسې حال کې چې د هغوی پاتې شونې د ټولو په اتفاق نجس دي؟

په کتاب 'النهایة' کې ذکر شوي چې امام محمد (شیبانی) رحمه الله د وحشي ځناورو پاتې شونې نجسې ګڼلي، خو دا یې وضاحت نه ده ورکړی چې دا نجاست غلیظه ده او که خفیفه. همدارنګه د امام ابوحنیفه رحمه الله څخه روایت شوی چې دا نجاست غلیظه دی، او د امام ابویوسف رحمه الله څخه روایت شوی چې دا خفیفه ده، لکه د هغه ښاروېو بولې چې غوښه یې حلاله ده.

او د مکروهو پاتې شونو په اړه: دا د پیشو، آزاد ګرځېدونکي چرګ، په کورونو کې د میشتو ځزندې لکه موږک، مار، او د ښکاري مرغانو پاتې شونې دي چې غوښه یې حرامه ده، لکه باز، شاهین، عقاب، تور کارغه، دښتي مرغه او د دې په څېر نور مرغان."

دا قول: (د پیشو پاتې شونې مکروه دي): خو د هغو حیواناتو د پاتې شونو د کراهت په اړه، دا د امام ابوحنیفه او امام محمد رحمهما الله قول دی، او د امام ابویوسف رحمه الله په نزد دا مکروه نه دي. آیا دا کراهت تحریمي لپاره ده یا کراهت تنزیهي؟ صحیح قول دا دی چې دا د کراهت تنزیهي لپاره ده.

[1] - **د حدیث تخریج:** (عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَطَاءٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْحِيَاضِ الَّتِي بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ، فَقِيلَ لَهُ: إنَّ الْكِلَابَ وَالسِّبَاعَ تَرِدُ عَلَيْهَا، فَقَالَ: "لَهَا مَا أَخَذَتْ فِي بُطُونِهَا وَلَنَا مَا بَقِيَ شَرَابٌ وَطَهُورٌ")، انْتَهَى. وَهُوَ مَعْلُولٌ بِعَبْدِ الرَّحْمَنِ. (نصب الراية لأحاديث الهداية ج ١ ص ١٣٦).

